اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ

اَنْوَارُ الشَّمَه

پښتو ژبه کښې دَ الشمه مکمله ښکلې شرحه

تالیف
مولوی محمد زاهد عزیزخیل




مکتبه رحمانیه
محله جنگی قصه خوانی پشاور
091 2550627
0302 6209815



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

دا کتاب pdf کول خالص

دالله (ج)

درضالپاره

دټولو لوستو نکو اوفائده

اخستونکو ددعا فه هیله

النحو في الكلام كالملح في الطعام

انوار الشمه

پښتو شرح الشمه

تالیف: مولوی محمد زاهد عزیز خیل

مکتبہ رحمانیہ

محلہ جنگی پیښور

فون ۲۵۰۶۲۷

بسم الله الرحمن الرحيم

تعریف د علم نحو

زده کړه دا خبره چه د هر شارع فی العلم د پاره لابدی ده له معرفت د امورو ثلثه نه چه- اوّل امر تعریف د هغه علم ده چه په کوم علم کښې شروع کوی او دویم امر موضوع د هغه علم ده چه په کوم علم کښې دا شارع شروع کوی، او دریم امر غرض د هغه علم ده چه دا شارع په کوم علم کښې شروع کوی، نو دد ے دریو امورو معرفت موقوف علیه ده او دا شروع ورباند ے ورموقوف ده، نو وجه لپاره د توقف د شروع تر تعریف د علم پور ے دا ده چه کچرته اول معرفت د علم حاصل نشی په تعریف سره- هنو دا شروع به د ے علم کښې نشی کید ے ځکه چه په وقت د عدم معرفت د علم کښې دا علم مجهول مطلق وی، او دا شروع په د ے علم کښې طلب وی دد ے علم، نو چه معرفت د علم ونشی او شروع په کښې وشی، نو لا زمیږی طلب د مجهول مطلق او طلب د مجهول مطلق باطل وی، ځکه چه توجه د نفس طرف د مجهوله محال ده، نو معلومه شوه چه دا شروع فی العلم موقوفه ده تر معرفت د علم پورې، او وجه لپاره د توقف د شروع تر معرفت د موضوع د علم پور ے دا ده چه دا شروع په یو علم کښې په هغه وخت کښې ممکنه ده چه شارع ته د علم مشروع فیه امتیاز وشی د نورو علومو نه او امتیاز د یو علم د بل علم نه حاصلیږی په معرفت د موضوع سره په د ے شان چه کله معرفت د موضوع د علم وشی چه دد ے

علم دا موضوع دہ او د ھغہ بل علم ھغہ موضوع دہ، نو چہ کلہ د موضوع
کانو پہ مابین کښې امتیاز حاصل شي، نو د دے امتیاز پہ واسطے سرہ
د دے علمونو پہ مابین کښې هم امتیاز حاصلیږی، نو دا شروع پہ
علم کښې موقوفہ دہ تر امتیاز د دے یو علم د بل علم نہ او دا امتیاز د
یو علم د بل علم نہ راځي پہ واسطے د امتیاز د موضوع د یو علم لہ
موضوع د بل علم نہ، او دا امتیاز د موضوع موقوف دہ تر معرفت
د موضوع پورے، نو دا شروع پہ علم کښې هم موقوفہ دہ تر معرفت
د موضوع د علم پورے، او وجہ لپارہ د توقف د شروع تر معرفت
د غرض پورے دا دہ، چہ دا شروع پہ علم کښې پہ ھغہ وقت کښې
ممکنہ دہ لپارہ د نفس ناطقہ چہ دا نفس ناطقہ تصدیق راولی پہ
یوہ فایدہ بانډے لہ فوائدو د علم نہ، ځکہ چہ دا شروع پہ علم کښې
یو ممکن دہ د ممکناتو نہ، او د ممکن وجود او عدم د وارہ مساوی وی
نو یو تہ چہ ترجیح ورکولے شي پہ بل بانډے پہ دیکښې لابدی دہ لہ
مرجح نہ ځکہ کہ چرتہ ترجیح ورکړے شي وجود د ممکن تہ او یا عدم د
ممکن تہ بغیر د مرجح نہ، نو لازم بہ شي ترجیح بلامرجح او ترجیح بلا
مرجح باطل دہ، نو د دے شروع د وجود لپارہ هم لابدی دہ د یو
مرجح نہ او ھغہ مرجح لپارہ د وجود د شروع تصدیق دہ پہ یوہ
فائدہ بانډے د فوائدو د علم نہ، او دا تصدیق پہ یوہ فایدہ بانډے
لہ فوائدو د علم موقوف دہ تر معرفت د غرض د علم پورے، نو
معلومہ شوہ چہ دا شروع پہ علم کښې موقوفہ دہ تر معرفت د
غرض د علم پورے، نو لہ دے وجے نہ چہ دا معرفت د دے درے
امورو موقوف علیہ دہ لپارہ د شروع، نو لہ دے وجے نہ دے

د دیوامورو ته مقدمة العلم ویلے شي، ځکه چه مقدمه د علم عبارت ده له دینه چه مایتوقف علیه الشروع في العلم.

علم باصول یعرف بها احوال اواخر الکلم الثلث من حیث الاعراب والبناء و کیفیة ترکیب بعضها مع بعض

زده کړه دا خبره چه دا مخکښ چه مونږ ذکر کړه دا معرف او تعریف د علم نحو دے، نو مخکښ له وضاحت ددے معرف د علم نحو نه مونږ بیان د معنی لغوی او د معنی اصطلاحی او بیان د اقسامو د معرف کوو. نو معرف په لغت کښې تعریف راوستونکی ته وائی او په اصطلاح کښې دا معرف عبارت ده له دینه: هو ما یحمل علی شئ لافادة تصوره" یعنی معرف د شی عبارت ده له دینه چه حملیږی په شي باندې لپاره د افادې د تصور د هغه شي مثال لکه حیوان چه دا معرف ده لپاره د انسان ځکه چه دا حیوان ناطق حملیږی په انسان باندې لپاره د دے چه په دے حمل سره افاده د تصور ددے انسان وشي، او دے معرف ته قول شارح هم وائی، او قول په لغت کښې وائی مرکب ته او شارح وائی: وضاحت راوستونکی ته او دا معنی لغوی د قول شارح ده او معنی اصطلاحی د قول شارح دا ده: هو ما یحمل علی شئ لافادة تصوره، نو دا معرف او قول شارح متباینان دی په اعتبار د معنی لغوی سره، یعنی د معرف معنی لغوی جدا ده، او د قول شارح معنی لغوی جدا ده، او په اعتبار د معنی اصطلاحی سره مترادفان دی یعنی د معرف او قول شارح معنی یوه ده. او بیا دا معرف په خپل کور کښې په دوه قسمه ده. اول قسم حد ده او دویم قسم رسم ده. او حد په لغت کښې منع ته وائی او په اصطلاح کښې عبارت ده له هغه معرف نه چه مشتمل وی په ذاتیاتو باندې. او رسم په لغت کښې علامه ته وائی او په اصطلاح کښې عبارت ده د هغه معرف نه چه هغه

مشتمل وی په عرضیاتو باندې دشی. او بیا دا حد په خپل کوړکښې په دوه قسمه ده اول قسم حد تام ده او دویم قسم حد ناقص ده. حد تام عبارت ده د هغه حد او معرف نه چه مشتمل وی په جنس قریب د شی باندې او په فصل قریب د شی باندې. مثال لکه حیوان ناطق چه دا حد تام ده پاره د انسان ځکه چه دا حیوان ناطق مشتمل ده په جنس قریب د انسان باندې چه هغه حیوان ده او په فصل قریب د انسان باندې چه هغه ناطق ده او حد ناقص عبارت ده د هغه حد او معرف نه چه مشتمل وی یا په جنس بعید او فصل قریب باندې او یا په فصل قریب باندې فقط مثال لکه جسم ناطق نو دا هم حد ناقص ده ځکه چه مشتمل ده په جنس بعید باندې چه هغه جسم ده او مشتمل ده په فصل قریب باندې چه هغه ناطق ده او بل مثال لکه صرف ناطق، نو دا هم حد ناقص ده ځکه چه دویم صورت د حد ناقص. دا ده چه مشتمل وی په فصل قریب باندې فقط :- او رسم هم په خپل کورکښې په دوه قسمه ده. اول قسم رسم تام ده او دویم قسم رسم ناقص ده. رسم تام عبارت ده د هغه رسم او معرف نه چه مشتمل وی په جنس قریب او خاصه باندې. مثال لکه حیوان ضاحک پاره د انسان نو دا رسم تام ده ځکه چه دا حیوان په کښې جنس قریب ده او دا ضاحک په کښې خاصه ده پاره د انسان. او رسم ناقص عبارت ده د هغه رسم او معرف نه چه هغه مشتمل وی یا په جنس بعید او په خاصه باندې او یا مشتمل وی په خاصه باندې فقط مثال لکه جسم ضاحک نو دا رسم ناقص ده ځکه چه دا جسم په کښې جنس بعید ده او دا ضاحک په کښې خاصه ده. او بل مثال لکه ضاحک نو دا هم رسم ناقص ده. او دے معرف ته تعریف هم وائی. نو مراد له دے تعریف د علم نه معرف د علم ده. او دا

معرف دعلم رسم دہ او حد نہٗ دہ ځکہ چہ حد عبارت دہ لہ هغہ معرف نہ چہ مشتمل وی پہ ذاتیاتو بانډِ او ذاتیات دشی عبارت دے دهغہ امورونہ چہ داخل وی پہ حقیقت او پہ ذات دشی کښں او ذاتیات دعلم دپارہ مسائل او قواعد دعلم دی ځکہ چہ دامسائل او قواعد داخل دی پہ علم کښں نو حدٌ دعلم مخکښں لہ شروع نہ نشی کیدے بلکہ وروستہ د حصول دعلم نہ داحد دعلم ممکن دہ. نو داکوم معرف او تعریف چہ دعلم دپارہ ذکرکولے شی مخکښں لہ شروع نہ نو دارسم دہ لپارہ دعلم نو داشروع چہ پہ علم کښں موقوفہ دہ تر معرفت دعلم پورے پہ معرف او پہ تعریف سرہ مراد لہ دے معرف او تعریف نہ رسم دہ نہٗ حد. نو داتعریف دعلم نحو چہ عبارت وہ لہ دینہ چہ: علم باصول یعرف بھا احوال اواخرالکلم الثلث من حیث الاعراب والبناءِ وکیفیۃ ترکیب بعضھامع بعض: رسم دہ لپارہ دعلم نحو او حد ورتہ نہٗ دہ. او معنی ددے تعریف دادہ: چہ علم نحو عبارت دہ دعلم نہ پہ قواعدو او قوانینو بانډِ چہ پیژندلے شی پدِے قواعدو سرہ حالتونہ داخر د دریو کلماتو چہ هغہ درے کلمات عبارت دی د اسم فعل او حرف نہ او پہ دِے اصولو سرہ پیژندلے شی احوال داخر ددے دریو کلماتو د حیثیت د اعراب او دبناء نہ او هم ارنګہ پہ دِے اصولو سرہ پیژندلے شی کیفیت د ترکیب د بعضو کلماتو د بعضو نورو سرہ. نو پہ دِے علم نحو سرہ دوہ شیان پیژندے شی. اول شئ احوال داخر ددے کلماتو ثلاثہ دَ. او دویم شئے: کیفیت د ترکیب د بعضو کلماتو د بعضو نورو کلماتو سرہ.

تنبیہ: زدہ کړہ داخبرہ چہ یوہ اصطلاح د نحاتو دہ او بلہ اصطلاح داهل منطق دہ پہ حد کښں. نو داهل منطق اصطلاح پہ بارہ کښں د حد مونږ مخکښے ذکرکړہ چہ هغہ داوہ چہ اهل منطق حد عبارت بولی د هغہ معرف نہ چہ مشتمل وی پہ ذاتیاتو بانډِ نو حد پہ دِے معنی سرہ د علم دپارہ نشی راتلے مخکښے

له شروع نه په علم کښ. او اصطلاح د نحاتو دا ده چه حد عبارت ده د تعریف او معرف جامعه مانعه نه یعنی حد هغه تعریف ته وائی چه جامع هم وی افرادو د هغه شی ته چه دا تعریف د چا د پاره وی او مانع وی د دخول د غیر نه. نو په کومو مواضعو کښ چه په دے تعریف د علم بانړے اطلاق د حد شوے وی، مراد ورنه تعریف جامعه مانعه وی او حد نهٔ وی په هغه معنی سره چه کومه معنی ورته اهل منطق ذکرکړیده. نو نسبت په مابین د حد د منطقیانو کښ او د حد د نحاتو کښ عموم خصوص مطلق ده په دے شان چه دا حد د نحاتو اعم مطلق ده او دا حد د منطقیانو اخص مطلق ده نو کوم شے چه حد وی په مذهب د منطقیانو بانړے نو هغه حد وی په مذهب د نحاتو بانړے مثال لکه حیوان ناطق چه دا حد ده په مذهب د منطقیانو بانړے نو دا هم حد ده په نزد د نحاتو بانړے ځکه چه دا حیوان ناطق مشتمل ده په ذاتیاتو د انسان بانړے نو همدارنګ جامع هم ده افرادو د انسان لره او مانع ده له دخول د غیرنه. او هر حد د نحاتو، حد نهٔ ده په مذهب د منطقیانو بانړے ځکه چه دا حیوان ضاحک حد ده په مذهب د نحاتو بانړے ځکه چه دا د شی معرف او تعریف ده چه جامع ده افرادو د انسان ته او مانع ده له دخول د غیرنه او حد نهٔ ده په مذهب د منطقیانو بانړے ځکه چه مشتمل نهٔ ده په ذاتیاتو بانړے. نو دا مخکنے تعریف د علم نحو حد ده په اصطلاح د نحاتو بانړے: ځکه چه دا جامع ده افرادو د نحو ته او مانع ده له دخول د غیرنه او حد نهٔ ده په اصطلاح د منطقیانو بانړے ځکه مشتمل نهٔ ده په ذاتیاتو بانړے ځکه هغه امور چه په دے مخکښ تعریف کښ ذکر دی ذاتیات نهٔ دی د پاره د علم نحو بلکه ورته عرضیات دی.

موضوع د علم نحو: زده کړه دا خبره چه موضوع د علم نحو خاصه

دہ او مقیدہ دہ پہ قید د نحو بانڊې او موضوع العلم عامہ دہ او مطلقہ دہ قیودو نہ او معرفت د مقید موقوف وی تر معرفت د مطلق پورې، نو د موضوع د علم نحو معرفت هم موقوف دہ تر معرفت د موضوع العلم پورې. نو مونږ اول پہ دې مقام کښې تعریف د موضوع العلم کوو او د هغې نہ وروستہ بیا تعریف د موضوع د علم نحو کوو. نو تعریف د موضوع العلم دا دہ چہ: موضوع العلم مایبحث فیہ عن عوارضہ الذاتیة. یعنی موضوع د علم عبارت دہ د هغہ شی نہ چہ پہ دیکښې د هغہ شی د عوارضو ذاتیہ نہ بحث کولې شی مثال لکہ بدن د انسان چہ دا موضوع دہ د پارہ د علم طب ځکہ چہ پہ علم طب کښې بحث کولې شی د صحت او د مرض نہ او دا عوارض ذاتیہ دی د پارہ د بدن د انسان.

تفصیل المقام:- زدہ کړہ دا خبرہ چہ عوارض پہ خپل کور کښې پہ دوہ قسمہ دی اول قسم عوارض ذاتیہ دی او دویم قسم عوارض غریبہ دی، او تعریف د عرض ذاتی دا دہ چہ: العرض الذاتی هو ما یعرض لشئ اما لذاتہ او بواسطة جزئہ او امر یساویہ. یعنی عرض ذاتی عبارت دہ لہ هغہ عرض نہ چہ شی تہ عارضیږی یا لہ وجې د ذات د دې شی نہ او یا لہ وجې د جزء د دې شی نہ او یا لہ وجې د امر نہ چہ هغہ مساوی وی د دې شی سرہ. او تعریف د عرض غریب دا دہ چہ: العرض الغریب هو ما یعرض لشئ اما بواسطة الاخص او بواسطة الاعم العرضی او بواسطة الامر المباین. یعنی عرض عبارت دہ لہ هغہ عرض نہ چہ هغہ شی تہ عارضیږی یا پہ واسطې د اخص سرہ او یا پہ واسطہ د اعم عرضی سرہ او یا پہ واسطہ د امر مباین سرہ. او بیا دا عوارض ذاتیہ پہ خپل کور کښې پہ درې قسمہ دی: اول د عرض ذاتی نہ هغہ عرض دہ چہ عارضیږی لہ وجې د ذات د دې شی نہ بغیر د څہ واسطہ نہ مثال لکہ تعجب نو دا تعجب عرض ذاتی دہ د پارہ د انسان ځکہ چہ دا تعجب انسان تہ عارضیږی

له وجهٔ د ذات دانسان نه بغیرد څه واسطې نه. اودویم قسم د عرض ذاتي هغه عرض ده چه شي ته عارضیږي لهٔ وجهِ دجزء ذ دے شي نه مثال لکه حرکت چه انسان ته عارضیږي له وجهِ د حیوان نه نود حرکت اول حیوان ته عارضیږي او بیا په واسطه د حیوان سره انسان ته عارضیږي او دا حیوان جزء ده لپاره دانسان. اودریم قسم دعرض ذاتي هغه عرض ده چه شي ته عارضیږي له وجه دامرمساوي نه یعني داعرض به معروض ته عارضیږي په واسطه ددا سے امر سره چه داامربه مساوي وي دمعروض ودے عرض سره مثال لکه ضحک چه دا انسان ته عارضیږي په واسطه دمتعجب سره یعني دا ضحک اول عارضیږي متعجب ته او بیا په واسطه دمتعجب سره عارضیږي انسان ته اود ا متعجب مساوي ده د انسان سره ځکه چه په مابین دانسان او د متعجب کښ نسبت د مساوات ده په دے شان چه هر انسان متعجب ده او هر متعجب انسان ده. او بیا عوارض غریبهٔ هم په درے قسمه دي. اول قسم دعرض غریب هغه عرض ده چه شي ته عارضیږي په واسطه داخص سره مثال لکه ضحک چه دا عرضِ غریب ده لپاره د حیوان ځکه چه دا ضحک حیوان ته عارضیږي په واسطه دانسان سره او دا انسان اخص ده د حیوان نه نو دا ضحک عرض ذاتي ده لپاره دَ انسان اوعرضِ غریب ده لپاره د حیوان. او دویم قسم د عرض غریب هغه ده چه شي ته عارضیږي په واسطه داعم عرضي سره مثال لکه حرکت چه عارضیږي ابیض ته په واسطه د حیوان سره نو دا حرکت اول حیوان ته عارضیږي او بیا په واسطه دحیوان سره ابیض ته عارضیږي او دا حیوان اعم عرضي ده اعم ځکه ده چه په مابین دحیوان او دا ابیض کښ نسبت دعموم خصوص من وجهٔ ده نو دا حیوان اعم من وجه ده د ابیض نه او عرضي ځکه ده لپاره د ابیض ځکه چه دا حیوان داخل نهٔ ده په ماهیت او حقیقت دابیض کښ.

او دریم قسم د عرض غریب هغه دی چه شي ته عارضیږي په واسطه د مباین سره مثال لکه حرارت چه عارضیږي ماء ته په واسطه د نار سره نو دا حرارت اول عارضیږي نار ته او بیا په واسطه د نار سره عارضیږي ماء ته او دا نار مباین دی د ماء نه ځکه د نار او د ماء ترمینځ نسبت د تباین کلي دی په دې شان چه د ماء نه صادقیږي په یو فرد د افرادو د نار باندې او د نار هم نه صادقیږي په یو فرد د افرادو د ماء باندې. او په علم کښې بحث کولې شي خو لکن د عوارضِ ذاتیه د موضوع نه او د عوارض غریبه د موضوع نه په کښې بحث نشي کولې.

او موضوع د علمِ نحو دوه شیان دي اول شے کلمه ده او دویم شے کلام دے نو دا کلمه او کلام د دواړه موضوع دي پاره د علمِ نحو او په علم نحو کښې بحث کولې شي د عوارضِ ذاتیه د کلمه او د کلام نه ځکه چه په علم نحو کښې بحث کولې شي د اعراب او د بناء نه او د کیفیت د ترکیب د کلماتو نه او دا ټول د عوارضِ ذاتیه د کلمه او د کلام نه دي. په دې مقام کښې معترض یو اعتراض کوي حاصل د اعتراض دا دی چه معترض وائي چه کلمه او کلام متعدد دي ځکه چه دوه دي نو په دې موضوع د علم نحو کښې تعدد راغلو او تعدد د موضوع مستلزم دی تعدد د علم لره نو بایده چه علم نحو هم دوه علمه شي او حال دا دی چه علمِ نحو یو علم دی. نو له دې اعتراض نه دوه جوابه دي. اول جواب دا دی چه تعدد د موضوع په هغه وخت کښې مستلزم دی تعدد د علم لره چه د دې متعدد امورو چه موضوع وي د علم په مابین کښې امر مشترکه نه وي او په دې مقام کښې د کلمه او د کلام په مابین کښې امر مشترک موجود دے چه هغه لفظ دی ځکه چه کلمه هم لفظ دی او کلام هم لفظ دی نو دا تعدد د موضوع نه دی مستلزم تعدد د علم لره ځکه چه په دې حالت کښې اګرچه صورةً په ظاهر کښې

په حقیقت کښې د اامر مشترک تعدد شته ځکه چه په حقیقت کښې تعدد نشته خو لیکن په لفظ ده موضوع ده لپاره د علم نحو. او دویم جواب دا دے چه مونږ ورته وایو چه تعدد د موضوع په هغه وخت کښې مستلزم وی تعدد د علم لره چه دا امور متعدده په خپل کورکښې یو بل ته احتیاج ونلري په دے شان چه یا به دا احتیاج د جانبینو نه وی او یا به د جانب واحده نه وی او چه کله دا احتیاج موجود وی په مابین د دے امورو کښې نو بیا دا تعدد د موضوع نه ده مستلزم تعدد د علم لره او په دے مقام کښې د دے کلمه او د کلام په مابین کښې احتیاج موجود ده د دواړو طرفونو نه په دے شان چه کلام محتاج ده کلمه ته په ترکیب کښې ځکه چه کلام مرکب وی د کلماتو نه او کلمه هم محتاجه ده کلام ته خو لکن په افاده د معنی کښې ځکه چه تر څو پورے کلمه په ضمن د کلام کښې نه وی راغلی تر هغه پورے پورے کلمه بانے افاده د معنی نشي کیدے. نو هر کله چه د کلمه او د کلام په مابین کښې احتیاج راغلو نو د دوی تعدد نه ده مستلزم تعدد د علم لره.

تنبیه: زده کړه دا خبره چه یوه موضوع د علم ده او یوه موضوع د مسئلہ ده نو موضوع د علم اخص مطلق ده او موضوع د مسئلہ اعم مطلق ده او په مابین د دوارو کښې نسبت د عموم خصوص مطلق ده په دے شان چه موضوع د مسئلہ په خپل کورکښې په څلورو قسمه ده اول قسم د موضوع د مسئلہ دا ده چه دا موضوع د مسئلہ به بعینه موضوع د علم وی مثال لکه: کل جسم طبعی فله حیز طبعی. نو دا یوه مسئلہ ده او د دے مسئلہ موضوع جسم طبعی ده او دا بعینه موضوع د علم حکمت ده او دا مسئلہ هم د علم حکمت طبعی ده. او دویم قسم د موضوع د مسئلہ دا ده چه دا موضوع د مسئلہ به نوع وی لپاره د موضوع د علم مثال لکه الفلك لا یقبل الخرق والالتیام. نو دا یوه مسئلہ ده له مسائلو د علم حکمت طبعی نه او موضوع د دے مسئلہ فلک ده او دا افلاک نوع ده لپاره د موضوع

دعلم حکمت ځکه چه دافلک نوع ده لپاره دجسم طبعی اوجسم طبعی موضوع ده لپاره دعلم حکمت. اودریم قسم دموضوع دمسئله داده چه داموضوع دمسئله به عرض ذاتی وی لپاره دموضوع دعلم مثال ئکه: الحرکة هی الخروج من القوة الی الفعل علی سبیل التدریج. نودایوه مسئله ده له مسائلو دحکمت طبعی نه اوموضوع ددے مسئله حرکت ده اوداحرکت عرض ذاتی ده لپاره دجسم طبعی اوجسم طبعی موضوع ده لپاره دحکمت طبعی. اوڅلورم قسم لپاره دَ موضوع دمسئله داده چه داموضوع دمسئله به نوع وی لپاره د عرضِ ذاتی دموضوع دعلم مثال ئکه: الحرکة المستقیمة تنتهی الی سکون. نودایوه مسئله ده له مسائلو دحکمت طبعی نه اوموضوع ددے مسئله حرکت مستقیمه ده اودا حرکت مستقیمه یوه نوع ده لپاره د مطلق حرکت اودا مطلق حرکت عرض ذاتی ده لپاره دجسم طبعی اودا جسم طبعی موضوع ده لپاره دحکمت طبعی نوله دینه دامعلومه شوه چه هرهغه شے چه موضوع وی لپاره دعلم هغه به موضوع دمسئله جوړیدے شی اودالازمه نۀ ده چه کوم شے موضوع وی لپاره دمسئله هغه دِ موضوع دعلم شی بلکه یوشے به موضوع وی لپاره دَ مسئله اوموضوع به نۀ وی لپاره دعلم ځکه چه موضوع دمسئله کله نوع وی لپاره دموضوع دعلم اوکله ورته عرض ذاتی وی اوکله نوع وی لپاره دِ عرض ذاتی دموضوع دعلم. نو معلومه شوه چه موضوع دمسئله عامه ده اوموضوع دعلم خاصه ده. اومثالونه لپاره ددے څلورو اقسامو دموضوع دمسئله په علمِ نحوکښ داده چه مثال داول قسم دَ موضوع دمسئله مثال ئکه: دا قول دنحاتو چه: الکلمة علی ثلثة اقسام اسم وفعل وحرف. نودایوه مسئله ده له مسائلو دعلمِ نحونه اوموضوع ددے مسئله کلمه ده اودابعینه موضوع ده لپاره دعلم نحو. اومثال ددویم قسم دموضوع دمسئله ئکه دا قول دنحاتو:

الاسم علی قسمین معرب ومبنی نو دا یوه مسئله ده له مسائلو د علم نحو نه. او موضوع دد ے مسئله اسم دہ او دا اسم نوع دہ لپارہ د کلمه او کلمه موضوع ده لپارہ د علم نحو. او مثال دد ریم قسم د موضوع د مسئله لکه: مابه یختلف آخر المعرب نو دا هم یوه مسئله ده له مسائلو د علم نحو نه او موضوع دد ے مسئله اعراب ده او دا اعراب عرضِ ذاتی ده لپارہ د کلمه او کلمه موضوع ده لپارہ د علم نحو. او مثال د څلورم قسم د موضوع د مسئله لکه دا قول د نحاتو: الرفع علم الفاعلیة. نو دا هم یوه مسئله ده له مسائلو د علمِ نحو نه او موضوع دد ے مسئله رفع ده او دا قسم ده لپارہ د اعراب او اعراب عرضِ ذاتی ده لپارہ د کلمه او کلمه موضوع ده لپارہ د علمِ نحو.

غرض د علم نحو: زده کړه دا خبره چه غرض عبارت ده له هغه امرنه چه باعث وی په فاعل باندِ په ایجاد د فعل کښ برابره خبره ده که دا امر فائده مرتبه علی الفعل وی او که نۀ وی. او غایه عبارت ده له هغه امرنه چه دا امر به فائده مرتبه وی په فعل باندِ برابره خبره ده که باعثه وی په فاعل باندِ په ایجاد د فعل کښ او که نۀ وي نو دا غرض اعم من وجه ده د غایه نه چه هغه وجه دا ده چه په غایه کښ دا خبره معتبره ده چه دا غایه به فائده مرتبه وی په فعل باندِ او په غرض کښ دا خبره معتبره نۀ ده بلکه په غرض کښ عموم ده په دِ ے شان چه دا غرض عام ده که فائده مرتبه وی په فعل باندِ او که نۀ وی. نو په اعتبار دد ے وجه سره غرض عام شو د غایه نه او غایه ورته خاصه ده او دا غرض اخص من وجه ده د غایه نه چه هغه وجه دا ده چه په غرض کښ معتبره ده چه دا غرض به باعث وی په فاعل باندِ په ایجاد د فعل کښ او په غایه کښ په اعتبار دد ے وجه سره عموم ده په دِ ے شان چه په غایه کښ دا خبره نۀ ده معتبره چه باعثه وی په فاعل باندِ په ایجاد د فعل کښ بلکه

داغایه عامه ده که باعثه وي په فاعل بانڼ په ایجاد د فعل کښې او که نه وي نو
په اعتبار د دے وجه سره داغرض اخص شو او داغایه اعمه شوه او هر کله
چه غرض هم اعم من وجه شو د غایه نه او وانه اخص من وجه شو او دغه
شان داغایه هم اعم من وجه شوه د غرض نه او ورنه اخص من وجه شوه
نو د دوئ د واړو په مابین کښې نسبت د عموم خصوص من وجه ده او دا دے
مادے غواړي یوه ماده اجتماعی او دوه مادے افتراقی غواړي نو ماده
اجتماعی هغه فائده ده چه مرتبه هم وي په فعل بانڼ او باعثه هم وي په
فاعل بانڼ په ایجاد د فعل کښې، نو دا فائده غرض هم ده ځکه چه باعثه ده
په فاعل بانڼ په ایجاد د فعل کښې او غایه هم ده ځکه چه داغایه مرتبه ده په
فعل بانڼ. او ماده افتراقی د جانب د غرض نه هغه امر ده چه باعث وي په
فاعل بانڼ په ایجاد د فعل کښې او فائده مرتبه نه وي په فعل بانڼ نو دا امر
غرض ده ځکه چه باعث ده په فاعل بانڼ په ایجاد د فعل کښې او غایه نه ده
ځکه چه فائده مرتبه علی الفعل نه ده. او ماده افتراقی د جانب د غایه نه هغه
فائده ده چه مرتبه وي په فعل بانڼ او باعثه نه وي په فاعل بانڼ په ایجاد
د فعل کښې او د دے غرض ته علت غایی هم ویلے شي.

تفصیل المقام: زده کړه داخبره چه علت په څلور قسمه ده. اول قسم علت
فاعلی ده او دویم قسم علت مادي ده او دریم قسم علت صوري ده او څلورم
قسم علت غایی ده. نو د هر معلول دپاره دا څلور علتونه وي. نو علت فاعلی
عبارت ده د هغه علت نه چه هغه خارج وي د معلول نه او بیا ئې سره وجود
د معلول راځي مثال لکه نجار چه علت فاعلی ده لپاره د سریر (کټ) ځکه چه دا
نجار هم خارج ده د ماهیت د سریر نه او وجود د سریر په خارج کښې په دے نجار
سره حاصلیږي. او علت مادي عبارت ده د هغه علت نه چه جزء وي لپاره

د معلول او وجود د معلول په دغه سره حاصلیږي بالقوه نه بالفعل یعنې چه دا علت
مادي موجود شي نو په دغه سره دا معلول بالفعل نشي موجودیدې بلکه په دې
علت کښې استعداد دې وي چه وربانې معلول موجود شي مثال لکه اجزاء
د سریر مکښې د ترکیب نه نو دا نفس اجزاء چه په مابین کښې یې ترکیب نه وي شوې
علت مادي دي لپاره د سریر ځکه چه دوئ کله موجود شي نو په دوي کښې بیا دا
استعداد شته چه وربانې دا معلول چه سریر وه را موجود شي او په دوئ سره
دا معلول چه سریر ده بالفعل نه موجودیږي. او علت صوري عبارت ده د هغه
علت نه چه جزء وي لپاره د معلول او وجود د معلول به په دغه سره حاصلیږي
بالفعل یعنې چه دا علت صوري کله موجود شي نو دا معلول به ورسره موجودیږي
بغیر د څه تاخیرنه مثال د دې علت صوري لکه شکل او صورت د سریر نو دا
صورت او شکل علت صوري ده لپاره د سریر ځکه چه کله دا شکل او صورت
ترکیبي د سریر را موجود شي نو ور سره بالفعل دا سریر را موجودیږي بغیر د
څه تاخیرنه په اعتبار د زمانه سره اګرچه په اعتبار د ذات سره تاخیر وي.
او علت غائي عبارت ده د هغه علت نه چه باعث وي په فاعل بانې یعنې په علت
فاعلي بانې په صدور د معلول کښې مثال لکه جلوس علی السریر چه دا علت
غائي ده لپاره د سریر ځکه چه باعث په نجار بانې دا جلوس علی السریر ده په
ایجاد او صدور د دې سریر کښې او دا علت غائي مقدم وي د معلول نه په
اعتبار د تصور او د وجود ذهني سره او ور نه مؤخر وي په اعتبار د وجود خارجي
سره نو دا جلوس علی السریر هم په تصور کښې مقدم ده په سریر بانې ځکه
چه اول تصور د جلوس کولې شي او بیا د دې جلوس د پاره ایجاد د دې سریر کولې
شي خو لیکن په وجود خارجي کښې بیا دا جلوس مؤخر ده د سریر نه ځکه چه اول
وجود د سریر راځي او د هغه نه را وسته جلوس علی السریر راځي نو غرض او علت

غائی لپاره دعلمِ نحو: صیانة الذهن عن الخطأ اللفظی ده یعنی دا صیانت او۔ تحفظ دذهن غرض او علت غائی ده لپاره دَ علم نحو، نو علم نحو هم یو معلول ده له معلولاتو نه نو ددے دپاره هم څلور علتونه دی اول علت فاعلی ده او دوئم علت مادی ده او دریم علت صوری ده او څلورم علت غایی ده۔ نو علت فاعلی لپاره دعلم نحو مدون ددے علم ده چه هغه حضرت علی کرم الله وجهه ده او له هغهٔ نه وروسته ابو الاسود الدئلی ده او علت مادی لپاره دعلم نحو دا۔ مسائل او قواعد دعلم نحو دی مخکښ لهٔ ترتیب نه ځکه چه دا قواعد ددے علم مخکښ لهٔ ـــــ ترتیب نه جزء دی لپاره ددے علم او وجود دے علم ورباندِ راځی بالقوة ځکه چه کله دا قواعد را موجود شی نو په دوئی سره په دِے حالت د عدم ترتیب کښ علم نحو نهٔ موجود یږی نو لیکن په دوئی کښ دا استعداد شته چه علم نحو ورباندِ موجود شی وروسته له ترتیب نه په دوئی کښ۔ او علت صوری دے پاره دعلم نحو دا ترتیب ده په مابین ددے مسائلو او قواعدو کښ نو دا ترتیب هم جزء ده لپاره دعلم نحو او وجود دعلم نحو په دِے ترتیب او صورت سره راځی بالفعل بغیر د تخیٔ تاخیر زمانی نه او علت غایی لپاره دعلم نحو: صیانة الذهن عن الخطاء اللفظی ده ځکه چه دا صیانت دذهن دخطاءِ لفظی نه باعث ده په دِے علت فاعلی باندِ چه مدون دهٔ په ایجاد ددے علم کښ او دا صیانت دذهن دخطأ لفظی مقدم ده دعلم نحو نه په اعتبار دتصور او دوجود ذهنی سره او ورنه مؤخر ده په اعتبار د وجود خارجی سره۔

تنبیه: زده کړه دا خبره چه علم نحو مرکبه ده له دوه شیانو نه اول شے دا قواعد او مسائل دی، او دوئم شے دا صورت او ترتیب ده په مابین ددے قواعدو او مسائلو کښ نو دا اول شے علت مادی ده او دا دوئم شے علت صوری ده نو دا معلول چه علم نحو ده مرکبه ده له دِے علت مادی او له دِے علت صوری نه

او همدارنګ دا سریر چه موږ ئې کښې په مثال کښې ذکر کړے مرکب دے له علت مادی خپل نه چه هغه اجزاء د سریر دی او له علت صوری نه چه هغه صورت او شکل د سریر دے ۔ الحمد لله الخ: په دے مقام کښې وړه بحثونه دی. اول بحث په بیان د وجه د دا وړلو د تسمیه او د حمد کښې دے په صدر او اول د کتاب کښې ۔ نو په دے مقام کښې معترض اعتراض کوی حاصل د اعتراض دا دے چه معترض وائی چه دا کتاب جوړ شوید دے په علم نحو کښې نو مقصود په دے مقام کښې بیان د مسائلو د علم نحو دے او وضاحت د عواملو دے نو باید چه شارح شروع کړے وے په مقصود کښې او حال دا دے چه شارح په صدر د کتاب خپل کښې ذکر د تسمیه او د حمد کړے نو دا نه دے مګر اشتغال دے په غیر مقصود کښې او شروع دے په غیر مقصود کښې او ترک د شروع دے په مقصود کښې او دا لائق نه دے د شان د شارح سره ۔ نو له دے اعتراض نه شپږ جوابونه ورکول ممکن دی. اول جواب دا دے چه شارح ځکه د خپل کتاب په صدر کښې ذکر د تسمیه او حمد وکړو چه دا کتاب د ده موافق شی د کتاب الله سره ځکه چه د کتاب الله په اول کښې هم تسمیه ذکر ده او ورپسے حمد ذکر ده نو شارح هم د خپل کتاب په اول کښې تسمیه او حمد ذکر کړل ۔ او دویم جواب دا دے چه شارح ځکه په اول د کتاب کښې تسمیه او حمد ذکر کړل چه عمل وشی په هغه دوه حدیثونو باندې چه اول راغلے دے په شان د تسمیه کښې او دویم راغلے دے په شان د حمد کښې ، حدیث د تسمیه دا قول د پیغمبر علیه السلام دے چه : کل امر ذی بال لایبدأ فیه بسم الله الرحمن الرحیم فهو ابتر او اقطع او اجزم ۔ او معنی د دے حدیث دا دے چه پیغمبر علیه السلام فرمائی چه هر هغه امر چه ذی بال وی یعنی خاوند د شان وی یعنی اهتمام کولے شی په شان د دے امر کښې نو دا امر بیا ناقص او نا تمام او قلیل البرکة دے ۔ نو دا حدیث په درې روایتونو سره روایت شوید دے اول روایت کښې لفظ د ابتر راغلے دے او په دویم روایت کښې اقطع راغلے دے او په دریم روایت کښې اجزم لفظ راغلے دے او د

درېیو وارو الفاظو معنی ده قلیل البرکة او ناقص. آو د حمد په باره کښې دا حدیث راغلے ده چه کل امر ذی بال لم یبدأ فیه بحمد الله فهو ابتر. آو دریم جواب دا دے چه شارح ځکه په صدر د کتاب کښې دا تسمیه او حمد راوړے دی چه جریان او تګ وکړے شی په طریقے د سلفو بانډې ځکه چه د سلفو طریقه دا ده چه هغوئ د خپلو کتابونو په اول کښې تسمیه او حمد ذکر کړے دی، نو لپاره د جریان په طریقے د سلفو بانډې شارح هم تسمیه او حمد په اول او صدر د کتاب خپل کښې ذکر کړه. آو څلورم جواب له دے اعتراض نه دا دے چه شارح دا تسمیه او حمد ذکر کړے دی د خپل کتاب په صدر او اول کښے لپاره د دے چه دفع شی وسوسے د شیطان ځکه چه دا جمع کول د قواعدو او دا تصنیف کول مقام د وسوسو د شیطان ده نو لپاره د دفع د دے وسوسو شارح په اول د خپل کتاب کښے دا تسمیه او حمد ذکر کړه. او پنځم جواب له دے اعتراض نه دا دے چه شارح دا تسمیه او حمد د خپل کتاب په دے اول کښے ذکر کړی دی لپاره د طرد یعنی شړلو د شیطان ځکه چه په دے تسمیه او حمد سره د شیطان رجم او طرد حاصلیږی. او شپږم جواب له دے مذکوره اعتراض نه دا دے چه مونږ ورته وایو چه شارح ځکه دا تسمیه او حمد په اول او صدر د خپل کتاب کښے راوړه لپاره د دے چه شارح په دے سره — اذابه د شیطان کوی یعنی په دے سره ویلی کول د شیطان کوی لکه پیغمبر علیه السلام فرمائیلی دی: من قال بسم الله الرحمن الرحیم یذوب الشیطان کما یذوب الرصاص فی النار یعنی چه څوک تسمیه او وائی نو په دے سره شیطان ویلی کیږی لکه تانبه چه څنګه په اور کښې ویلی کیږی. او حاصل د دے ټولو جوابونو دا شو چه مونږ ورته وایو چه دا موافقت د کتاب الله سره او دا عمل په حدیثونو بانډې او دا جریان په طریقے د سلفو بانډې او دا دفع د وسوسو او دا طرد او رجم د شیطان او دا اذابه د شیطان مقصود دی، نو دا اشتغال په دے تسمیه او حمد کښے هم په مقصود کښے ده او په غیر مقصود کښے نه ده، نو اعتراض د معترض دفع ده. خو لیکن په دے دویم جواب

چه نهٔ منم دا بانې یو اعتراض وارد یږی حاصل د اعتراض دا دهٔ چه معترض وائی چه حدیثونو بانې څکه خبره چهٔ ذکر - د تسمیه او حمد سره په اول دکتاب کښے عمل راځی په حدیثونو بانې څکه چه ددے دوه حدیثونو په مابین کښں تعارض دهٔ څکه چه حدیث د تسمیه تقاضا کوی دابتداء او شروع په تسمیه بانې چه شروع د وکړے شی په تسمیه بانې، او حدیث د حمد تقاضا کوی دابتداء او شروع په حمد بانې چه شروع د وکړے شی په اول د کتاب کښے په حمد سره او دا ابتداء امر بسیط دهٔ چه په یو شی ابتداء او شروع وشی نو بیا په هغه بل شی بانې ابتداء او شروع نه راځی، نو دا ابتداء په تسمیه بانې مفوته دهٔ لپاره دابتداء په حمد بانې او همدا رنګ دا ابتداء په حمد بانې مفوته دهٔ د هغې ابتداء چه په تسمیه بانې وی، نو معلومه شوه چه په دواړو د تسمیه او د حمد سره په اول دکتاب کښں عمل نهٔ راځی په حدیثونو بانې بلکه ابتداء به په یو حدیث بانې راځی فقط نهٔ په دواړو بانې. نو له دے اعتراض نه مونږ ځلور جوابه ورکړو. خو لیکن مخکښں له دے جوابونو نه مونږ اول تقسیم دابتداء کوو ځلور و اقسام دی، نو ابتداء په ځلور قسمه دهٔ. اول قسم ابتداء حقیقی دهٔ او دویم قسم ابتداء اضافی بمعنی الاخص دهٔ او دریم قسم ابتداء اضافی بمعنی الاعم دهٔ او ځلورم قسم ابتداء عرفی دهٔ. ابتداء حقیقی عبارت دهٔ د هغه ابتداء نه چه په یو شی بانې ابتداء او شروع وشی په دے شان چه دا شے مقدم ذکر کړے شی د کل ماعدا نه یعنی په هرڅهٔ بانې مقدم کړے شی لکه دا شروع په تسمیه بانې نو دا تسمیه مقدمه دهٔ هم د مقصود نه چه مسائل دی او هم د غیر مقصود نه چه حمد او صلوة دی. او ابتداء اضافی بمعنی الاخص دیته وائی چه یو شے مقدم کړے شی د مقصود نه فقط او د غیر مقصود نه مقدم نهٔ کړے شی مثال لکه دا شروع په حمد بانې نو دا شروع او ابتداء په دے حمد بانې ابتداء اضافی بمعنی الاخص دهٔ څکه چه دا حمد ذکر شویدے مخکښں د مقصود نه فقط څکه چه د تسمیه نه چه هغه غیر مقصوده دهٔ دا حمد وروسته دهٔ. او

ابتداءِ اضافی بمعنی الاعم عبارت دہ لہ هغه ابتداء نه چه په یوشی باندِ شروع وکړے شی پدے شان چه هغه شے مقدم کړے شی په نسبت سره مقصود ته برابره خبره ده که مؤخروی دغیر مقصود نه لکه حمد اوکه مقدم وی په غیر مقصود لکه تسمیه. او ابتداءِ عرفی عبارت ده د هغه ابتداء اوشروع نه چه په عرف کښ ورته ابتداء اوشروع ویلے شی برابره خبره ده که داشے چه دباندِ ابتداء اوشروع شوے ده مقدم وی د هرڅۀ نه اوکه مؤخروی د بعضونه او مقدم وی په بعضو باندِ مثال لکه داشروع اوابتداء په تسمیه او په حمد باندِ نو داابتداء په تسمیه باندِ هم ابتداءِ عرفی ده ځکه چه په عرف کښ ورته ابتداء ویلے شی، او داشروع په حمد باندِ هم ابتداءِ عرفی ده ځکه چه په عرف کښ ورته ابتداء ویلے شی. نو حاصل د اوّل جواب له هغو څلورو جوابونو نه داده چه مونږ ورته وایو چه د اتعارض په مابین د حدیثونو کښ دفع ده په دے شان چه مونږ هغه ابتداء چه ذکرده په حدیث د تسمیه کښ حملوو په ابتداءِ حقیقی باندِ اوشک نشته چه په دے مقام کښ په تسمیه باندِ ابتداءِ حقیقی راغلے ده ځکه چه د اتسمیه مقدمه کړے شوے ده د کل ماعدا نه، او هغه ابتداء چه ذکرده په حدیث د حمد کښ په ابتداءِ اضافی بمعنی الاخص باندِ او شک نشته چه په دے مقام کښ په حمد باندِ ابتداءِ اضافی بمعنی الاخص راغلے ده. اود دویم جواب حاصل داده چه مونږ ورته وایو چه مونږ هغه ابتداء چه په حدیث د تسمیه کښ ذکرده حملوو په ابتداءِ حقیقی باندِ اوشک نشته چه په تسمیه باندِ ابتداءِ حقیقی راغلے ده، نو بنا په اول جواب هم تعارض دفع شو او په دواړو حدیثونو باندِ عمل راغلو او بناء په دویم جواب هم په دواړو حدیثونو باندِ عمل راغلو او تعارض دفع شو، او حاصل د هغه دریم جواب دا ده چه مونږ ورته وایو چه مونږ هغه ابتداء چه ذکرده په حدیث د تسمیه کښے

حملوو په ابتداءِ حقیقی باندِ او شک نشته چه په تسمیه باندِ ابتداءِ حقیقی را غلے دَ او هغه ابتداء چه ذکرده په حدیث دحمد کښې حملوؤ په ابتداءِ عرفی باندِ او شک نشته چه په حمد باندِ په دے کتاب کښے ابتداءِ عرفی را غلے ده، نو بناء په دے جواب هم عمل را غلو په دواړو حدیثونو باندِ او تعارض دفع شو او حاصل دَ غلورم جواب دا ده چه مونږ ورته وایو چه هغه ابتداء چه په حدیث د تسمیه کښے ذکرده هغه هم حملوؤ په ابتداءِ عرفی باندِ او هغه ابتداء چه په حدیث دحمد کښې ذکرده هغه هم حملوؤ په ابتداءِ عرفی باندِ او شک نشته چه په تسمیه او حمد دواړو باندِ په دے عبارت دشارح کښے ابتداءِ عرفی را غلے ده. په دے مقام کښے یوبل اعتراض وارد یږی، حاصل د هغه اعتراض دا ده چه معترض وائی چه د تسمیه هم امرذی بال ده نو باید چه کله په دے کښې شروع کوی، شروع کونکے مخکښې له دیته بله تسمیه ذکر کړی له وجې د تقاضا د حدیث د تسمیه او هغه بله تسمیه بیا امرذی بال ده باید چه کله په هغے کښے شروع کوی د هغے بیا بله تسمیه را اوړی او هغه بیا امرذی بال ده، نو د هغے دپاره به په وخت د شروع کښې بله را اوړی نو تسلسل لازم میږی او تسلسل باطل ده، او دغه شان حمد هم په خپله امرذی بال ده نو باید په وخت د شروع کښې په دے حمد باندِ بل حمد را اوړے شی له وجې د تقاضا د حدیث د حمد نه، او هغه بل حمد بیا امرذی بال ده باید چه د هغه دپاره بل حمد را اوړی، او هغه بل هم امرذی بال ده، نو باید چه د هغه دپاره بل حمد را اوړی، نو دا نئے ده مگر تسلسل ده او تسلسل باطل ده. او جواب له دے اعتراض نه دا ده چه مونږ ورته وایو چه په حدیث د تسمیه کښې دامرذی بال نه تسمیه مستثنی ده، او دغه شان په حدیث دحمد کښے دامرذی بال نه دا حمد مستثنی ده، او قرینه په دے استثناء د تسمیه او حمد باندِ دامرذی بال نه دا مقام ده، نو دا قرینه د مقام دلالت کوی په دے خبره

بانی چه مراد له امرذی بال نه په حدیث د تسمیه کښې هغه امر ده چه غیروی د تسمیه نه او مراد له امرذی بال نه په حدیث د حمد کښې هغه امر ده چه غیروی له حمد نه نو د تسمیه د پاره تسمیه نشی راوړې، او نه د حمد د پاره حمد راوړې شي نو نه لازمیږی تسلسل

دویم بحث په بیان د ترکیب د تسمیه کښې، نو په دې ترکیب د تسمیه کښې دوه احتماله دی، اول احتمال بنا ده په عدم زیادت د باء یعنی چه باء زائده نشی بلکه یا صله شی لپاره د ابتداء او یا لپاره د استعانت شی او یا لپاره د تبرک شی، نو که دا باء صله شی لپاره د ابتداء نو ترکیب به دا سې شی، چه دا باء حرفِ جاره او دا اسم لفظ مضاف او دا الله لفظ موصوف او دا الرحمن ورته صفتِ اول او دا الرحیم ورته صفتِ ثانی او دا موصوف سره د صفتینو خپلو نه مجرور ده لپاره د جار چه هغه باء ده او دا جار سره د مجرور خپل نه متعلق ترابتدأ پورې او دا ابتدأ به مؤخر او پټ شی نو دا ابتدأ صیغه د واحد متکلم ده ضمیر پکښ مستتر ده چه معبر ده په انا سره هغه ورته فاعل فعل سره د فاعل او سره د متعلق خپل نه متعلق ده ترابتدأ پورې، دا فعل سره د فاعل او سره د متعلق خپل نه جمله فعلیه خبریه لفظاً انشائیه معنیً۔ او چه لپاره د تبرک شی، نو بیا به ترکیب دا سې شی، چه دا جار مجرور به متعلق شی ترمتبرکاً مقدر پورې، او دا متبرکاً صیغه د اسم فاعل ده ضمیر په کښې مستتر چه له هغه تعبیر کولې شی په هو سره هغه به ورته فاعل شی، نو دا اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه شبه جمله حال ده د فاعل د ابتدأ نه چه هغه ضمیر مستتر ده په ابتدأ کښې نو ترکیب به دا سې شی چه ابتدأ فعل ضمیر په کښې مستتر ده چه له هغه نه تعبیر کولې شی په "انا" سره هغه ذو الحال او دا اسم فاعل سره د متعلق نه ورته حال او دا ذو الحال سره د حال خپل نه فاعل لپاره د ابتدأ دا فعل سره د فاعل خپل نه جمله فعلیه خبریه لفظاً انشائیه معنیً۔ او که چرته دا باء لپاره د استعانت شی، نو بیا به دا جار مجرور متعلق شی ترمستعیناً مقدر پورې، او دا مستعیناً صیغه د اسم فاعل ده او ض

په کښې مستتر ده هغه فاعل ده ورته او بیا د اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق خپل
نه شبه جمله حال جوړیږي لپاره د فاعل د ابتدأ، نو ترکیب به داسې شي چه ابتدأ فعل
ضمیر پکښې مستتر ده چه ورته تعبیر کولے شي په "انا" سره هغه به ذوالحال شي او دا۔
مستعینا اسم فاعل سره د فاعل او د متعلق خپل نه شبه جمله به ورته حال شي او دا
ذوالحال سره د حال خپل نه فاعل کیږي لپاره د ابتدأ او دا فعل سره د فاعل نه
جمله فعلیه خبریه لفظا انشائیه معنی. نو بناء پدے احتمال اول باندې چه هغه دا ده
چه د باء غیر زائده شي دا ظرف چه د جار مجرور ده، ظرف مستقر ده. او دویم احتمال
په ترکیب د تسمیه کښې دا ده، چه د باء زائده شي په دے شان که ساقط کړے شي
نو څه خلل به نه راځي په اصل معنی کښې، نو بناء پدے احتمال به ترکیب داسې شي
چه د باء زائده ده او دا لفظ د اسم لفظا مجرور له وجې د دے حرف جاره زائده نه
او تقدیرا مرفوع له دے وجې نه چه د مبتدا ده نو دا مضاف او لفظ د الله موصوف
او دا الرحمن ورته صفتِ اول او دا الرحیم ورته صفتِ ثاني ده، او دا موصوف سره
د صفت اول او صفتِ ثاني خپل نه مضاف الیه جوړیږي لپاره د اسم لفظ، او دا
مضاف سره د مضاف الیه خپل نه مبتداء او خبر مقدر او محذوف ده چه هغه دا
قول ده چه "مبدوء به" او دا مبدوء صیغه د اسم مفعول ده او دا باء حرف جاره
ده او دا "ه" ضمیر ورته مجرور محلا ده، او دا جار سره د مجرور خپل نه نائب فاعل
لپاره د دے اسم مفعول، د اسم مفعول سره د نائب فاعل خپل نه شبه جمله خبر
جوړیږي لپاره د مبتداء او دا مبتداء سره د خبر خپل نه جمله اسمیه خبریه لفظا
او انشائیه معنی، نو تقدیر د عبارت به داسې شي چه "اسم الله الرحمن الرحیم مبدوء
به" یعنی د الله تعالی نوم او اسم چه کوم ده ورباندې شروع کړے شي په ابتداء د دے
تصنیف کښې: او دریم بحث په بیان د معنی لغوي او معنی اصطلاحي د حمد کښې: نو
حمد په لغت کښې صفت کردن نه وائي او په اصطلاح کښې عبارت ده له دینه چه:

"هو الثناء باللسان على الجميل الاختياري سواء كان هذا الثناء في مقابلة النعمة اولاً" يعني حمد عبارت دَه له هغې ثناء نه چه هغه وکړے شي په صفاتو اختياريه باندې يعنې په داسے صفاتو باندې چه هغه صفات به په اختيار د محمود کښې وي، برابره خبره که دا ثنا په مقابل د نعمت کښې وي او که د غير نعمت کښې وي، نو له دې معنى اصطلاحي او تعريف د حمد نه دا معلومه شوه چه د حمد مورد خاص دَه، يعنې چه د کوم شي نه وروړاندې وصف وي د حمد کيږي هغه به خاص وي، چه هغه لسان دَه، نو صدور اووروړاندې د حمد د لسان نه کيږي فقط او دا حمد عام دَه په اعتبار د متعلق سره په دې شان چه دا حمد واقع کيږي په مقابله د نعمت کښې او هم په مقابله د غير نعمت کښې.

او شکر په لغت کښې عبارت دَه له دينه چه: "الشكر فعل ينبئ عن تعظيم المنعم بسبب كونه منعما" يعنې شکر عبارت دَه د هغه فعل نه چه هغه به خبرورکوی د تعظيم د منعم نه او دا فعل به شوے وي په سبب د کيدلو د دے کس منعم يعنې دا فعل به دے شاکر کړے وي په مقابله د انعام کښ، نو له دې معنى لغوى د شکر نه دا معلومه شوه چه دا شکر خاص دَه په اعتبار د متعلق سره په دې شان چه د اشکر راځي صرف په مقابله د نعمت کښې، او عام دَه په اعتبار د مورد سره، په دې شان چه وړاندې د حمد هم د لسان نه کيږي او هم د قلب نه کيږي او هم د ارکانو نه کيږي يعنې د جوارحونه. او شکر په اصطلاح کښې عبارت دَه له دينه چه: "الشكر هو صرف العبد جميع ما انعم الله تعالى عليه الى ما خلق لاجله" يعنې شکر عبارت دَه له دينه چه بنده وګرځوي ټول هغه اشياء چه الله تعالى د هغوئ انعام ورباندې کړے وي طرف د هغه کارونو ته چه د کوم کار د پاره دا اشياء پيدا شويدى، مثال لکه اعضاء د انسان الله پاک پيدا کړيدى لپاره د عبادت، نو چه بنده دا اعضاء خپل وګرځوي طرف د هغو افعالو ته چه د کوم افعالو د پاره دا اعضاء پيدا کړے شويدى، چه هغه افعال عبادات دى، چه بيا دے اعضاؤ سره ادا کيږي. او نسبت په مابين د لغوى معنى

دشکر کېنې او د اصطلاحي معنی دحمد کېنې عموم خصوص من وجه ده، نو د دئ
مابېن غواړي يوه ماده اجتماعي چه په هغه ماده کښې به حمد او شکر سره جمع شوي
وي او دوه مادې افتراقي دي چه يوه به ماده افتراقي وي له جانب دحمد نه او
بله به ماده افتراقي وي د جانب دشکر نه، نو ماده اجتماعي به هغه ثناوي چه
په لسان سره وشي او په مقابل د نعمت کېنې وي، نو دې ثناته حمد هم ويلې شي
او ورته شکر هم ويلې شي، حمد ځکه ورته وائي چه دا په لسان سره ده او ورته
شکر ځکه وائي چه په مقابل د نعمت کېنې ده، او ماده افتراقي دجانب دحمد نه
هغه ثنا ده چه هغه وشي په لسان سره، او په مقابله د نعمت کېنې نۀ وي، نو دا
ثنا حمد ده، ځکه چه په لسان سره ده، او شکر نۀ ده ځکه چه په مقابل د نعمت کېنې
نۀ ده. او ماده افتراقي د جانب دشکر نه دا ده چه دا هغه فعل ده چه صادر
شي دلا سو نو نه او دلالت وکړي په تعظيم د منعم په سبب د انعام د دې منعم
نو دا فعل شکر ده ځکه چه په مقابل د نعمت کېنې ده او حمد نۀ ده ځکه چه صادر
او ورود يې د لسان نه نۀ دې شوې. او نسبت په مابين دحمد او مدح کېنې تباين
کلي ده، په دې شان چه دا حمد نۀ صادقيږي په يو فرد دافرادو د مدح بانې او
دغه شان دا مدح هم نۀ صادقيږي په يو فرد دافرادو دحمد بانې. او بيا دا حمد
په خپل کوږ کېنې په څلورو قسمه ده، اول قسم حمد د قديم ده لپاره دقديم نو حمد د
قديم لپاره دقديم دېته وائي چه دا حامد هم قديم وي او دا محمود هم قديم وي
مثال لکه حمد دالله تعالی لپاره دخپل ځان مثال لکه دا قول دالله تع په سورة
فاتحه کښې: الحمد لله رب العلمين الرحمن الرحيم، مالك يوم الدين، نو دا حمد
دقديم ده ځکه چه دا حامد الله پاک ده، او الله پاک قديم ده، او دا حمد لپاره
دا حمد دقديم ده لپاره دقديم. او دويم قسم حمد دقديم ده لپاره دحادث
داحمد د قديم ده ځکه چه محمود دالله پاک ځان ده، او الله پاک په خپله قديم ده نو

په دې شان چه د احامد به قدیم وي او د امحمود به حادث وي، مثال لکه د اقول د الله تعالیٰ په باره د ایوب علیه السلام کښې: نعم العبد، نو د احمد د قدیم ده ځکه چه د احمد د الله ده او الله قدیم ده او لپاره د حادث ده ځکه چه محمود ایوب علیه السلام ده او هغه حادث ده۔ او دریم قسم حمد د حادث ده لپاره د قدیم په دې شان چه د احامد به حادث وي او د امحمود به قدیم وي مثال لکه څو مونږ حمد لپاره د الله تعالیٰ نو د احمد د حادث ده، ځکه چه مونږ حادث یو او لپاره د قدیم ده ځکه چه د امحمود قدیم ده۔ او څلورم قسم حمد د حادث ده لپاره د حادث، په دې شان چه د احامد به هم حادث وي او د امحمود به هم حادث وي مثال لکه حمد د بعضو مونږ لپاره د بعضو نورو، نو په دې صورت کښې د احامد هم حادث ده او د امحمود هم حادث ده۔ په دې مقام کښې اعتراض واردیږي حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائي چه د اتعریف د حمد جامع نه ده خپلو افرادو له دې تعریف د حمد نه دوه اقسام او افراد د حمد خارجیږي چه اول فرد حمد د قدیم ده لپاره د قدیم لکه حمد د الله لپاره د خپل ځان ځکه چه د احمد ثنا باللسان نه ده ځکه چه الله تعالیٰ منزه ده د لسان نه، نو د الله حمد ثنا نه وي په لسان سره ځکه د الله لپاره لسان نشته، او دویم فرد حمد د قدیم ده لپاره د حادث لکه حمد د الله لپاره د عبادو او دا فرد د حمد ځکه خارجیږي چه د احمد د الله په لسان سره نه وي ځکه چه الله د پاره لسان نشته، نو له دې اعتراض نه دوه جوابه دي۔ اول جواب دا ده چه د اتعریف مذکوره د حمد د مطلق حمد د پاره تعریف نه ده بلکه لپاره د خاص ده چه هغه حمد د حادث ده لپاره د حادث او حمد د حادث ده لپاره د قدیم چه دا د واړه افراد د حمد حمد د عبادو ده، نو که چرته هغه مخکښ دوه افراد چه په اعتراض کښې ذکر دي وړانه خارج شي نو څه باک نشته بلکه خارجول ضروري دي۔ او دویم دا ده چه مونږ ورته وایو چه مراد د لسان نه مطلق مبدأ د ثنا

او د اجارحه مخصوصه وي نه نه ده مراد او د الله پاک د پاره مدح او ثناء شته۔ بیا معترض اعتراض کوي حاصل د اعتراض دا دی چه معترض وائي چه دا مخکنی تعریف د حمد جامع نه ده خپلو افرادو ته ځکه چه وي نه حمد د حادث لپاره قدیم خارج شو مثال لکه حمد ځمونږ لپاره د الله پاک ځکه د احمد د الله پاک په صفاتو اختیاري په سره نه وي ځکه چه د الله صفات غیراختیاریه دي، او په اختیار دَ الله کښې نه دي لکه دا خبره ثابته ده په علم کلام کښې، نو له دې اعتراض نه دوه جوابه دي اول جواب دا دی چه مونږ وي ته وایو چه د اصفات د الله اگرچه حقیقة اختیاریه نه دي، خو لیکن هرکله چه دا صفات د الله مبادي دي لپاره د افعالو اختیاریه ؤ نو نازل دي په منزله د اختیاري صفاتو، نو د اصفات د الله حکما اختیاري دي، نو دا فرد د حمد داخل شو په تعریف د حمد کښې نو تعریف د حمد وي جامع شو خپلو افرادو ته، او دوهم جواب دا دی چه مراد ځمونږ له صفاتو اختیاریه نه دا ده چه په اختیار د غیر کښې به نه وي، او دا محمود به په ثبوت د دې صفاتو کښې محتاج نه وي غیر ته برابره خبره ده که په اختیار د محمود کښې وي او که نه وي، او په دې معنی سره د الله صفات اختیاریه دي ځکه چه الله په دې صفاتو خپلو کښې غیر ته نه ده محتاج۔ او شلوېم بحث په بیان د ارکانو د حمد کښې ده، نو ارکان د حمد پنځه دي اول حامد ده، نو حامد هغه ته وائي چه له هغه نه حمد صادریږي او دویم رکن د حمد محمود ده او دا محمود هغه ته وائي چه په هغه باندې حمد واقع کیږي، او دریم رکن د حمد صیغه د حمد ده او دا عبارت ده د هغه لفظ نه چه دلالت کوي په حمد او ثنا باندې، او څلورم رکن د حمد محمود به ده، او پنځم رکن د حمد محمود علیه ده۔ او په فرق کښې په مابین د محمود به او د محمود علیه کښې درې قوله دي، اول قول دا ده چه د محمود به او د محمود علیه په مابین کښې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري ده، په دې شان چه د اصفات حسنه محمود به هم ده او محمود علیه هم ده

نو ددوئ په مابین کښے اتحاد ذاتی دہ، او دا فرق اعتباری په دے شان دہ چه دا صفات حسنه چه موجود وی په نفس الامر کښے او قائم وی تر محمود پورے، نو ورته محمود علیه وائی، او دا صفات حسنه چه ورباندے تلفظ وکړی او مسند یے کړی نو ورته محمود به وائی، نو فرق دا شو، چه دا صفات حسنه په مرتبه د محکی عنه کښے محمود علیه دی او په مرتبه د حکایت کښے محمود به دہ۔ او دویم قول دا دہ چه دا محمود به اعم مطلق دہ او محمود علیه اخص مطلق دہ، په دے شان چه محمود به عبارت دہ د هغو صفاتو نه چه مستند وی محمود ته، او محمود علیه عبارت دہ د هغه صفت حسنه نه چه ور باندے کلمه د علی داخله وی، نو چه کوم شے محمود علیه وی هغه به محمود به ضرورئ ځکه چه په کوم شی باندے کلمه د علی داخله وی، نو هغه به ضرور صفت مسنده وی محمود ته، او دا نه دہ لازمه چه کوم شے محمود به وی، نو هغه دے محمود علیه هم وی بلکه جائزه دہ چه یو شے دے محمود به وی، او محمود علیه دے نه وی لکه هغه صفت چه مستند وی محمود ته، نو دا صفت محمود به دہ او محمود علیه نه دہ ځکه چه په دے صفت حسنه کښے دا جائزه دہ، چه ورباندے کلمه د علی نه وی داخله، نو دا محمود به اعم مطلق دہ، او دا محمود علیه اخص مطلق دہ، او ددواړو په مابین کښے د عموم خصوص مطلق نسبت دہ۔ او دریم قول دا دہ چه په مابین د محمود به او د محمود علیه کښے نسبت د عموم خصوص من وجه دہ، په دے شان چه دا محمود به عبارت دہ د وصف حسنه نه، چه مسند وی محمود ته، او دا محمود علیه عبارت دہ د هغه امر نه چه باعث وی په حامد باندے په حمد ویلو، نو دا درے مادے غواړی او له مادہ اجتماعی دہ او دوه مادے افتراقی دی، او مادہ اجتماعی ددے محمود به او د محمود علیه دا دہ چه زید په عمرو باندے انعام وکړی د اعطاء درہم او بیا د عمرو حمد وکړی د زید په دے اعطاء درہم باندے، نو په دے صورت کښے دا اعطاء درہم محمود به دہ ځکه چه وصف حسنه دہ او مسند دہ محمود ته، او محمود علیه هم دہ ځکه چه د اعطاء

ددې هم باعث، ده په عموم باندې په دې حمد ویلو د نایین کښې، او ماده افتراق د محمود
به او د محمود علیه په دې صورت کښې راځي چه نایین په عموم باندې انعام ددې هم وکړي
او بیا دا زیین حمد وکړي د عموم په علم د نایین باندې، نو په دې صورت کښې دا علم
محمود به ده ځکه چه وصف حسنه ده، او محمود علیه نه ده، ځکه چه دا علم باعث
نه ده په عموم باندې په دې حمد ویلو. نو دا ماده افتراق د ده د جانب د محمود به نه او
دا اعطاء ددې هم محمود علیه ده ځکه چه باعث ده په عموم باندې په دې حمد ویلو.
او محمود به نه ده، ځکه چه دا وصف حسنه نه ده چه مسند وي محمود ته، نو دا
اعطاء ددې هم ماده افتراق ده په دې منعکس صورت کښې د جانب د محمود علیه نه.
آووم بحث په بیان د الف لام د الحمد کښې ده: نو ته دا کوره دا خبره چه الف لام
په لغت کښې کلمه د "ال" ته وائي او په اصطلاح کښې عبارت ده له دینه چه: کلمة یتجلی
بها کلمة اخری: یعنی یوه کلمه ده چه ښائسته کولې شي په دې سره بله کلمه، او بیا
د الف لام په خپل کور کښې په دوه قسمه ده، اول قسم الف لام اسمي ده او دویم
قسم الف لام حرفي ده، الف لام اسمي عبارت ده د هغه لام نه چه په معنی د الذي
سره وي او داخل وي یا په اسم فاعل او یا په اسم مفعول باندې مثال لکه الضارب
نو په دې کښې دا الف لام اسمي ده، چه په معنی د الذي سره ده، نو دا الضارب
په معنی د الذي ضرب سره ده، او بل مثال لکه المضروب نو دا الف لام په معنی د
الذي سره ده، او معنی دا ده چه: الذي ضُرِبَ. او الف لام حرفي عبارت ده د
هغه لام نه چه په معنی د الذي سره نه وي، او دا بیا په خپل کور کښې په دوه قسمه ده
اول قسم الف لام حرفي زائد ده او دویم قسم الف لام حرفي غیر زائد ده، الف
لام زائد عبارت ده د هغه الف لام نه چه په سقوط د هغې سره تخلل نه راځي
او مفید د څه معنی نه وي، او الف لام غیر زائد عبارت ده د هغه الف لام نه چه
په سقوط د هغې سره خلل راځي په معنی کښې او مفید د معنی وي. او بیا د الف

لام زائد په نخپل کوړ کښې په څلوړ قسمه ده، اول قسم الف لام زائد لازم عوضي ده او دویم قسم الف لام زائد لازم غیر عوضي ده، او دریم قسم الف لام زائد غیر لازم عوضي ده، او څلورم قسم الف لام زائد غیر لازم او غیر عوضي ده.

الف لام زائد لازم عوضي عبارت ده د هغه الف لام نه چه په سقوط سره یې خلل نه راځي په معنی کښې او چه لازم وي د کلمه سره او نه منفک کیږي د کلمې نه او عوض به وي د بل شي نه مثال لکه الف لام په "الله" کښې نو د الله په اصل کښې الاله وه، بیا دا دویمه همزه چه په اله کښې ده حذف کړې شوه او دا الف لا عوض کړې شو د دې همزه محذوفه نه نو وړانه "الله" جوړ شو، نو دا الف لام زائد ده ځکه چه مفید د څه معنی نه ده، ځکه چه په "الله" کښې د تعریف په علمیت سره حاصل شو بیا نه په دې الف لام سره، او لازم ده د دې لفظ د الله سره ځکه چه د لفظ د الله علم ده او په اعلامو کښې تغیر نشي کولې، نو که چرته الف لام وړ نه لرې کړې شي نو لازم به شي تغیر په دې علم کښې او دا باطل ده، او دا الف لام د عوض ده ځکه چه عوض راغلې ده د همزې نه، او الف لام زائد لازم غیر عوضي هغه الف لام ته وائي چه په سقوط سره یې څه خلل نه راځي په معنی کښې او لازم وي د کلمه سره او عوض نه وي راغلی د څه شي نه مثال لکه: النجم او الصعق، نو په دې دواړو کلماتو کښې دا الف لام زائد ده، ځکه چه په سقوط د دې سره څه خلل نه راځي په معنی کښې ځکه چه د تعریف چه په دې مخکنو دوه کلماتو کښې موجود ده، دا حاصل ده له وجې د علمیت نه، نه له وجه د الف لام نه، نو دا الف لام زائد ده او لازم ده ځکه چه دا مخکنۍ دواړه کلمې له قبیلې د اعلامو نه دي، نو دا الف لام نشي وړ نه ساقطولې ځکه چه بیا تغیر راځي په دې اعلامو کښې او اعلام محفوظ وي د تغیر نه او عوض نه ده راغلې دا الف لام په دې مخکنو دوه کلمو کښې. او الف لام زائد غیر لازم عوضي دېته وائي چه په سقوط سره یې څه خلل نه راځي په معنی کښې او په دې سره څه معنی نه پیدا کیږي

اولانہم بہ نہ وی د کلمہ سرہ بلکہ وزنہ منفک کیدے بہ شی او عوض بہ ہم اغلے وی دبل شی نہ مثال ئکہ الف لام پہ "الناس" کښے نو دا الف لام زائد دہ ځکہ چہ پہ دے سرہ تعریف نہ دہ حاصل شوے پہ "الناس" کښے بلکہ "الناس" نکرہ دہ او دا الف لام لازم نہ دہ ځکہ چہ "الناس" علم نہ دہ چہ پہ سقوط سرہ خلل راشی پہ معنی کښے بلکہ ورانہ سا قطیدے شی، او عوض دہ د همزہ نہ ځکہ چہ پہ اصل کښے اُناس وہ بیا دا همزہ لرے کړے شوہ، او د هغہ پہ ځائے باندے الف لام راوړے شو، نو ورانہ النّاس جوړ شو، او الف لام زائد غیر لازم غیر عوضی عبارت دہ د هغہ الف لام نہ چہ پہ سقوط سرہ ئے خلل نہ راځی پہ معنی کښے او لازم هم نہ وی او عوض هم نہ وی دبل شی نہ مثال ئکہ: فیا الغلامان اللذان فرا: نو پہ دے الغلامان کښے الف لام زائد دہ ځکہ چہ تعریف پکښے پہ یا حرف نداء سرہ حاصل شوید ے، او لازم نہ دہ د کلمہ سرہ، ځکہ چہ دا الغلامان علم نہ دہ چہ تغیر پکښے پہ سقوط د الف لام سرہ باطل شی، او عوض نہ دہ دبل شی.

او الف لام غیر زائد هم پہ څلور قسمہ دہ: اول قسم الف لام جنسی دہ او دوېم قسم الف لام استغراقی دہ، او دریم قسم الف لام عهد خارجی دہ، او څلورم قسم الف لام عهد ذهنی دہ. الف لام جنسی عبارت دہ د هغہ الف لام نہ چہ پہ هغہ سرہ اشارہ شوے وی جنس او ماهیت د هغہ شی تہ چہ دا الف لام پہ چا باندے داخل شوے وی مثال ئکہ: الرجل خیر من المرأۃ: نو پہ دے "الرجل" کښے دا الف لام جنسی دہ، ځکہ چہ پہ دے الف لام سرہ اشارہ شوید ہ ماهیت او حقیقت د رجل تہ، نہ افراد و د رجل تہ، او دغہ شان پہ المرأۃ کښے هم الف لام جنسی دہ ځکہ چہ پہ دے الف لام سرہ هم اشارہ شوید ہ ماهیت او حقیقت د امرأۃ تہ نہ افراد و د امرأۃ تہ، او حقیقت د رجل دا دہ چہ "من کرمن بنی آدم یتجاوز من حد الصغر الی حد الکبر" یعنی رجل یو من کردہ د اولاد د آدم علیہ السلام نہ چہ

تجاوز کوی د حد د وړوکوټي والی نه حد د غټوالی ته، او حقیقت او ماهیت د امرأة دا ده چه مؤنث من بنات آدم یتجاوز من حد الصغر الی حد الکبر: یعني مونث ده له اولاد او لوړ یا نو د آدم علیه السلام نه چه تجاوز کوی د حد او اندازې د وړکوټ والی نه اندازې د غټ والی ته، نو معنی د مخکنی کلام دا ده، چه حقیقت د رجل غوره ده د حقیقت د امرأة نه، ځکه چه حقیقت د رجل پیدا شوی دے لپاره د نبوت او لپاره د امامت او لپاره د انتظام د حکومت، او حقیقت د ښځې لپاره د دے امورو عظیمه ؤ نه ده پیدا شوے. او الف لام استغراق عبارت ده د هغه الف لام نه چه په هغهٔ سره اشاره شوے وی، ټولو افرادو د هغه شی ته، چه د االف لام په کوم شی باندې داخل شوے وی، مثال لکه دا قول د الله تعالی چه: ان الانسان لفی خسر: نو په دے "الانسان" کښې الف لام لپاره د استغراق ده، او په دے الف لام کښې اشاره ده ټولو افرادو د انسان ته، معنی دا ده چه ټول افراد د انسان په خسران کښې دی، او الف لام عهد خارجی عبارت ده د هغه الف لام نه، چه په هغهٔ سره اشاره شوے وی، یو فرد معین د افرادو د هغه شی ته، چه د االف لام په کوم شی باندې داخل شوے وی، مثال لکه دا قول د الله تعالی: فعصی فرعون الرسول: نو په دے "الرسول" کښې الف لام لپاره د عهد ده، ځکه چه په دے الف لام کښې اشاره ده یو فرد معین د رسول ته چه هغه موسی علیه السلام ده. او الف لام عهد ذهنی عبارت ده، د هغه الف لام نه، چه په هغهٔ سره اشاره شوے وی یو فرد غیر معین افرادو د هغه شی ته، چه د االف لام په کوم شی باندې داخل شوے وی، مثال لکه دا قول د الله تعالی: چه حکایت کوی د یعقوب علیه السلام نه چه: انی اخاف ان یاکله الذئب: نو په دے آیت کښې په دے الذئب کښې الف لام عهد ذهنی ده، او په دے سره اشاره شوې ده یو فرد غیر معین د ذئب ته.

او په دے الحمد کښې چه د االف لام ده په دے کښې څلور احتماله دی: اول احتمال

دادہ چہ داالف لام جنسی شی، اودویم احتمال دادہ، چہ داالف لام استغراق شی اودریم احتمال دادہ چہ د االف لام عہد خارجی شی، اوڅلورم احتمال دادہ چہ داالف لام پہ الحمد کښے لپارہ دعہد ذهنی شی، نوپدے څلورو احتمالاتو کښے دادرے اولنی احتمالات صحیح دی هم لفظاً اوهم معنیً، اوداڅلورم احتمال غیرصحیح دہ هم لفظاً اوهم معنی، نوداول احتمال ځکہ صحیح دہ لفظاً چہ دا الحمد مبتدادہ اوابتداء ئیت پہ هغہ وخت کښے صحیح کیږی چہ داالحمد مبتدا شی اوالف لام جنسی شی، نو بیا داتعریف پیں اکوی پہ الحمد کښے نوداابتدائیت صحیح کیږی، اومعنیً ځکہ دااول احتمال صحیح دہ، چہ پہ دے وخت کښے معنی داکیږی چہ داجنس حمد اوماهیت دحمد ثابت دہ لپارہ د اللہ تعالی اودامعنی مفیدہ دہ دحمد اودمدح. اوداودیم احتمال ځکہ صحیح دہ لفظا، ځکہ چہ پدے الف لام استغراق سرہ شے معرفہ کیږی، اوچہ کلہ معرفہ شی، نوبیا ابتدائیت صحیح کیږی، اومعنیً دادویم احتمال ځکہ صحیح دہ، چہ بناء پہ دے دویم احتمال معنی ددے جملے دحمد داکیږی، چہ ټول افراد دحمد ثابت دی اللہ تعالی لرہ، اودامعنی مفیدہ دحمد اودمدح دہ، اوداددریم احتمال لفظاً ځکہ صحیح دہ، چہ داالف لام کلہ عہد خارجی شی، نوبیا داالحمد معرفہ کیږی، اوچہ کلہ معرفہ شی، نوبیا ابتدائیت صحیح کیږی، اومعنی ځکہ صحیح دہ، چہ بناء پدے دریم احتمال بہ معنی ددے جملہ دحمد داشی، چہ فرد معین دحمد، چہ هغہ د اللہ تعالی حمد دہ لپارہ دخپل ځان ثابت دہ اللہ لرہ، اودامعنی مفید دہ دحمد اودمدح، اومقصود هم پدے مقام کښے پدے جملہ دحمد سرہ افادہ دحمد دہ، اوڅلورم احتمال ځکہ غیرصحیح دہ هم لفظا اوهم معنی، ځکہ چہ الف لام پدے الحمد کښے لپارہ دعہد ذهنی شی، نوبیا پدے سرہ داالحمد نہ معرفہ کیږی بلکہ هغہ اسم چہ ورباندے الف لام عہد ذهنی داخل شوے وی، پہ حکم دنکرہ کښے وی، نوبناء پدے احتمال باندے

ابتدائیت د دے الحمد نهٔ صحیح کیږي، او دا شلویم احتمال معنی ځکه نهٔ دے صحیح چه بنا په دې احتمال بانې معنی د جملہ د حمد دا کیږي، چه یو فرد غیر معین د حمد ثابت ده لپاره د الله، او دا معنی مفیده د مدح او د حمد نهٔ ده. اوشپږم بحث په بیان د تعیماتو ثلثه ؤ کښے ده او د تخصیص واحد ؤ کښے ده: نو اول تعیم په حمد کښے ؤ چه د اهر فرد د افرادو د حمد نه ثابت ده لپاره د الله تعالیٰ، او دویم تعیم په زمان کښے ده په دې طریقے سره، چه د احمد د ازل نه نیولے تر ابده پورے ده، او دریم تعیم د حامد ده، چه د احمد که ځو هر چا وي، نو هغه ثابت ده لپاره د الله تعالیٰ برابره خبره ده که د احامد انسان وي او که فرشته وي او که جن وي، او هغه تخصیص په دې مقام کښے دا ده، چه د احمد ثابت ده صرف الله لره. نو دا اول تعیم چه تعیم د حمد ده فهمیږي د الف لام نه، ځکه چه د االف لام یا لپاره د جنس ده، او یا لپاره د استغراق ده، او بنا په دې دواړو تقدیرونو سره عموم راځي په حمد کښے، او دا دویم تعیم، چه تعیم د زمان ده دا فهمیږي د عدول نه چه د اعدول شوے ده له جملہ فعلیه نه جملہ اسمیه ته، ځکه چه جملہ اسمیه د لالت کوي په دوام بانې، او دا دریم تعیم، چه تعیم د حامد ده، دا فهمیږي له عدمِ ذکر د فاعل نه، ځکه چه د احذف د فاعل په بعضِ اوقاتو کښے لپاره د تعیم د فاعل وي، او په دې مقام کښے هم د اعدمِ ذکر د فاعل، لپاره د تعیم ده، ځکه چه دا لائق ده د دے مقام د حمد سره، او دا تخصیص را فهمیږي له هغه لام نه چه داخل ده په "الله" بانې، ځکه چه یوه معنی د معانی د لام نه تخصیص ده او په دې مقام کښے هم دا لام لپاره د تخصیص ده.

اووم بحث: په بیان د وجه د تقدیم د وصف کښے ده په ذات بانې په دے جملہ د حمد کښے، او په بیان د وجه د دعوه والی د حمد ده په شکر بانې: نو په دې مقام کښے معترض اعتراض کوي، حاصل د اعتراض د اده چه معترض وائي چه: "الله"

ذات دہ او د احمد صرف وصف دہ او مرتبہ د ذات مقدمہ دہ پہ وصف باندِ نو باید چہ لفظ د اللہ شارح مقدم کړے وے او داسے یے ویئلی وے چہ: للہ الحمد: پہ ځائے د الحمد للہ: باندِ، نو لہ دِے اعتراض نہ درے جوابہ دی اوّل جواب دادہ چہ اگرچہ ذات حقدار وی د تقدیم پہ وصف باندِ، خو لیکن چہ کلہ داوصف مختص وی تر ذات پورے، نو بیا جائز دہ تقدیم د دے وصف پہ ذات باندِ او پہ دِے مقام کښے هم داوصف مختص دہ تر د دے ذات پورے نو تقدیم جائز دہ پہ دِے ذات باندِ، او دویم جواب دادہ چہ پہ کوم وخت کښے چہ مقصود پہ بیان سرہ وصف وی او د ذات ذکر وی صرف د تعلق د وصف دپارہ او پہ خپلہ ځۂ مقصود نۂ وی بالذات، نو بیا پہ دِے وخت کښے تقدیم د دے وصف واجب وی پہ ذات باندِ، ځکہ چہ داوصف اگرچہ وصف دہ خو لیکن دا مقصود کړنا یی لے دے، او د ذات اگرچہ ذات دہ خو لیکن دا غیر مقصود دہ، او تقدیم د هغہ شئ چہ مقصود وی واجب دہ پہ هغہ شی باندِ چہ هغہ غیر مقصود وی، او لہ دِے مخکښ اعتراض نہ دویم جواب دادہ چہ د الحمد اگرچہ وصف دہ، او د اللہ" ذات دہ خو لیکن د الحمد مبتدا دہ او د اللہ" ورتہ خبر دہ، او تقدیم د مبتدا واجب دہ پہ خبر باندِ نو ځکہ موئږ داوصف مقدم کړو پہ ذات باندِ او د ذات مؤخر کړو، بیا معترض اعتراض کوی، حاصل د اعتراض دادہ چہ معترض وائی چہ ځۂ وجہ دہ چہ شارح الحمد للہ وویئل او الشکر للہ یے ونۂ ویل، سرہ لہ دینہ چہ شکر ذکر د طرفہ او شکر پہ مقابل د نعمت کښے واجب دہ، نو لہ دِے اعتراض نہ دوہ جوابہ دی، اول جواب دادہ چہ شارح ځکہ حمد وویئلو او شکر یے ونۂ ویئلو، ځکہ چہ د احمد پہ مقابلِ نعمت کښے دہ، چہ هغہ نعمت ذکر کړے شارح پہ دِے دوہ

جملو بانديٖ چه اوله جمله : زين النبيين بحبيبه : ده او دويمه جمله : من على المؤمنين بنبيه : ده، او حمد چه په مقابل د نعمت کښې ذکر شئ د ابعينه شکر وي نو حمد هم شکر ده، نو دا ذکر د حمد په دې مقام کښې دا ذکر د ما هو الانسب ده، او دويم جواب له دې اعتراض نه دا ده چه دا شکر مختص ده تر مقابل د نعمت پورې چه دا واقع کيږي په مقابله د نعمت کښې فقط او الله تعالیٰ لائق ده د حمد مطلقا برابره خبره ده که په مقابل د نعمت کښې وي او که نه وي، او دا حمد له هم دې قبيلې نه ده نو ځکه شارح حمد ذکر کړ او شکر يې ذکر نه کړ.

الذی زين النبيين بحبيبه المصطفیٰ الخ : په دې مقام کښې دوه بحثونه دي اول بحث په بيان د معنی د نبي کښې او په بيان د فرق کښې ده په ما بين د نبي او د رسول کښې : نو د نبي يوه لغوي معنی ده او بله اصطلاحي معنی ده. په معنی لغوي د نبي کښې دوه احتماله دي، اول احتمال دا ده چه نبي مشتق ده د نبوت نه او نبوة ارتفاع والي، نو د نبي معنی ده مرتفع، او دويم احتمال دا ده چه نبي مشتق ده د نبأ ينبأ نه او نبأ ينبأ راځي په معنی د اخبار سره، نو د نبي معنی لغوي شوه مخبر يعني خبر ورکونکې، نو دا "نبي" بنا په احتمال اول بانديٖ ناقص ده، او بنا په دې دويم احتمال نبي "مهموز اللام ده، او معنی اصطلاحي د نبي دا ده : هو انسان بعثه الله الی الخلق لتبليغ الاحكام الشرعية : يعني نبي هغه انسان ده، چه الله را ليږلے وي خلقو ته د تبليغ د احکام شرعيو د پاره. او رسول په وزان د فعول ده په معنی د مفعول سره ده، نو معنی لغوي د رسول مرسل ده، يعني هغه ذات چه ليګلے شوے وي، او د رسول اصطلاحي معنی هم دا ده چه : هو انسان بعثه الله الی الخلق لتبليغ الاحكام الشرعية : يعني رسول هغه انسان ده چه را ليګلے وي الله تعالیٰ د پاره د خلقو ليا ره د تبليغ د احکام شرعيه وُ. او په نسبت کښې په ما بين د نبي او د رسول کښې اختلاف واقع شوے ده په دې شان چه په دې نسبت کښې تحلور مذاهب دي

١ اول مذهب دا دئ چه نسبت په مابين د نبي او د رسول کښې مساوات دے، په دے شان
چه هر فرد د افرادو د رسول نبي دے، او هر فرد له افرادو د نبي نه رسول دے، نو
ليکن په دے مذهب بانديٰ اعتراض واردیږی په دے قول د الله تعالى سره چه: وما
ارسلنا من قبلك من رسول ولا نبي: حاصل د اعتراض دا دے چه معترض وائي
چه په دے آيت کښې د نبي عطف شويدے په رسول بانديٰ او عطف تقاضا د مغايرت
کوی، نو معلوميږی چه د دے دواړو په مابين کښې مساوات او وحدت نشته، او
٢ دويم مذهب دا دے چه نسبت په مابين د نبي او د رسول کښې تباين کلي دے په دے شان
چه د رسول نه صادقيږی په هيڅ فرد د افرادو د نبي بانديٰ، او د نبي هم نه صادقيږی
په هيڅ فرد د افرادو د رسول بانديٰ، ځکه چه په رسول کښې دا شرط دے چه راتګ
به يے کړے وی په شريعت مجدد سره، يعني نوے شريعت به يے دنيا ته راوړے
وی او په نبي کښې دا شرط نشته بلکه په نبي کښې دا شرط دے چه د هٔ سره به نوے
شريعت نهٔ وی بلکه خلقو ته به د شريعت د مخکنی پيغمبر تبليغ کوی، او په دے
مذهب بانديٰ هم يو اعتراض واردیږی په دے قول د الله تعالى سره چه په باره د
اسمعيل عليه السلام کښې يے کړيدے چه وكان رسولا نبيا: نو حاصل د اعتراض دا
چه معترض وائي چه نهٔ منم دا خبره، چه په مابين د رسول او د نبي کښې نسبت د تباين
دے ځکه کچرته دوی په مابين کښې نسبت د تباين وے، نو په يو کس بانديٰ به يے
اطلاق نهٔ کيدے او حال دا دے چه په دے آيت مذکوره کښې په دے يو کس بانديٰ چه
اسمعيل عليه السلام دے اطلاق د رسول هم شوے او د نبي بانديٰ اطلاق د نبي هم
شوے، معلومه شوه چه دا دواړه متباينان نهٔ دی، او په مابين کښې يے نسبت د تباين
٣ نشته، او دريم مذهب دا دے چه د رسول او د نبي په مابين کښې نسبت د عموم
خصوص مطلق دے په دے شان چه رسول اعم مطلق دے او نبي اخص مطلق
دے ځکه چه رسول په انسانانو کښې هم وی او په ملائکو کښې هم وی، او نبي خاص دے

تر انسانانو پورے، او څلورم مذهب دا ده چه په مابین د دے رسول او د نبي کښے
نسبت د عموم خصوص مطلق ده، په دے شان چه دا نبي اعم مطلق ده او دا
رسول اخص مطلق ده، او دا مذهب د جمهورو ده او په عکس د مذهب ثالث سره
ده او د دے جمهورو په خپل کور کښے ورسته له اتفاق نه په دے خبره کښے چه رسول
اخص مطلق ده او نبي اعم مطلق ده، اختلاف واقع شوی ده په دے شان چه
په دے مقام کښے په دریو مذاهبو سره د جمهورو تقسیم شوی دی اول مذهب دا
ده چه دا رسول د دے وجې نه اخص مطلق ده او دا نبي اعم مطلق ده ځکه چه په
رسول کښے دا شرط ده چه ورسره به کتاب وي او نبي عام ده که ورسره وي او
که نه وي، او دویم مذهب دا ده، چه په رسول کښے دا شرط ده چه ورسره به نوے
شریعت وي او په نبي کښے دا شرط نشته، بلکه په نبي کښے عموم ده که شریعت ورسره
وي او که نه وي، او دریم مذهب دا ده چه رسول ځکه اخص مطلق ده او نبي اعم
مطلق ده ځکه چه په رسول کښے دا شرط ده چه ورته به وحي په ذریعه د فرشتے
سره راځي او په نبي کښے دا شرط نه ده بلکه په نبي کښے عموم ده برابره خبره ده
که ورته وحي په ذریعه د فرشتے سره راځي او که له دینه بغیر په بل طریقے سره ورته
راځي، او په دے عبارت د شارح کښے چه نبیین ذکر کړی دي ورنه مطلق انبیاء مراد دي
برابره خبره ده که رسولان وي او نبیان وي ځکه چه پیغمبر علیه السلام زینت
ده لپاره د ټولو انبیاؤ برابره خبره ده که هغوی رسولان وي او که نفس نبیان وي.

اودویم بحث: په بیان د معنی د حبیب کښے ده: نو دا حبیب د فعیل وزن ده
او فعیل وزن کله په معنی د فاعل سره وي لکه نصیر چه د فعیل وزن ده په معنی د ناصر
سره او کله دا فعیل وزن په معنی د مفعول سره وي لکه شهید چه فعیل وزن ده
په معنی د مشهود سره، او په دے عبارت کښے چه دا حبیب ذکر کړی ده په کښے دواړه احتمال
صحیح دي، دا هم جائزه ده چه دا حبیب دے په معنی د محبوب سره وي ځکه چه پیغمبر

علیہ السلام محبوب دے په نیز د الله، او دا هم جائزه ده چه دا جیب دفعیل وزن ده په معنی د فاعل سره وی چه محب دے ځکه چه پیغمبر علیه السلام هم محبت لرلو الله سره: ومن علے المؤمنین بنبیه المجتبیٰ الخ: دا واو په دے مخکښ عبارت کښے لپاره د عطف ده او دا "من" "فعل" وړ عطف ده په مخکښے "زین" فعل باندے نولکه څنګه چه دا زین جمله صله وه لپاره د موصول چه الذی ده، نو دغه شان دا "من" هم صله ده لپاره د موصول، او دلیل په دے خبره باندے چه الله تعالی احسان کړیدے په مؤمنانو باندے په رالیږلو د پیغمبر علیه السلام سره دا قول د الله دے چه: لقد من الله علے المؤمنین اذ بعث فیهم رسولا من انفسهم۔ (ترجمه): ټول تعریفونه او ثناګانے ثابتے دی لپاره د هغه الله، چه ښایسته کړی یے دی ټول انبیاء په حبیب خپل سره چه هغه غوره کړے شوے ده لپاره د نبوت او رسالت او احسان یے کړیدے په ټولو مؤمنانو باندے په رالیږلو د پیغمبر خپل سره، هغه پیغمبر چه غوره کړے شوے ده لپاره د نبوت او د رسالت۔

والصلوٰة والسلام علے رسوله محمد صلی الله تعالی علیه وسلم خیر الوریٰ الخ:- په دے مقام کښے درے بحثونه دی: اول بحث په بیان د وجه د راوړلو د صلوٰة کښے ده، او دوهم بحث لپاره د راوړلو د صلوٰة څلور دلائل دی، درے دلائل نقلیه دی او یو دلیل عقلی دے، اول دلیل نقلی لپاره د راوړلو د صلوٰة دا قول د پیغمبر السلام ده چه: من صلے علی فی کتابه لم تزل الملئکة تستغفرله ما دام اسمی فی ذلك الکتاب او معنی دد حدیث دا ده چه پیغمبر علیه السلام فرمائی چه څوک صلوٰة و وائی په ما باندے په خپل کتاب کښے نو د دے کس د پاره همیشه فرښتے مغفرت غواړی ترڅو پورے چه نوم زما د دے کس په کتاب کښے موجود وی، او دویم دلیل نقلی دا قول د الله ده چه: ان الله وملئکته یصلون علی النبی یا ایها الذین امنوا صلوا علیه وسلموا تسلیما او معنی د دے ایت دا ده چه الله او فرښتے صلوٰة وائی په پیغمبر علیه السلام باندے

چه هغه صلوة دالله دطرفه رحمت ده او دفرشتو دطرفه استغفار ده نو تاسو هم
مومنانو صلوة وایئ په نبی علیه السلام باندې او ورباندې سلام وایئ په سلام
۳) ویلو سره، او دریم دلیل نقلی دا قول د نبی علیه السلام ده چه: خصونی بکرامات
منها اذا ذکرتم الله تعالی فاذکرونی معه بالصلوة: یعنی پیغمبر علیه السلام فرمائي
چه ما خاص کړئ په کراماتو او عزتونو سره چه یو له دې عزتونو نه دا ده چه کله
تاسو الله ذکر کوئ نو ما هم ورسره ذکر کړئ په صلوة سره، او دلیل عقلی چه دا
۴) څلورم دلیل ده دا ده چه مونږ وایو چه دا پیغمبر علیه السلام واسطه ده یعنې
علم او ارسولو کښې د طرفه دالله نه، ځکه چه الله تعالی په اعتبار د مرتبه سره په نهایت
بعد کښې ده د عبد نه ځکه چه د عبد مرتبه ډیره لاندې ده له وجه د کناهونو د عبد نه
نو لپاره دا افاضه د علم دالله پاک د طرف نه په عبد باندې لابدی ده له یو
واسطه نه او هغه واسطه پیغمبر علیه السلام ده او هر کله چه پیغمبر علیه السلام
واسطه شو په افاضه د دې نعمت کښې نو دا پیغمبر علیه السلام منعم مجازی ده
لکه څنګه چه الله پاک منعم حقیقی ده، نو دا صلوة په پیغمبر علیه السلام باندې
ضروری ده لپاره دادا د حق واجبه د پیغمبر علیه السلام، او په دې دریم
دلیل نقلی باندې چه هغه دا حدیث وه چه: خصونی بکرامات منها اذا ذکرتم الله
فاذکرونی معه بالصلوة یو اعتراض واردیږی، حاصل دا اعتراض دا ده چه
معترض وائی چه له دې حدیث نه خو دا معلومیږی چه په کوم ځائی چه دالله
ذکر وکړے شی، نو ورسره د پیغمبر علیه السلام ذکر کول ضروری دی او حال دا
ده، چه په ډیرو مواضعو کښې دالله ذکر شوے وی بغیر د ذکر د پیغمبر علیه السلام
نه نو معلومه شوه چه دا ضروری نه ده چه په کومو مواضعو کښې چه د الله تعالی
ذکر وشی، نو ورسره به د پیغمبر علیه السلام ذکر کولے شی، او جواب له دې
اعتراض نه دا ده چه مونږ وائو وایو چه په دې مځکښې حدیث د پیغمبر علیه السلام

کښې چه دا قضيه ذکر ده چه اذا ذکرتم الله فاذکروني معه بالصلوة ده، قضيه شرطيه مهمله ده او دا تقاضا کوي چه د دے ذکر د الله سره به ذکر د پيغمبر عليه السلام په صلوة سره مقارن وي نو ليکن في الجمله يعني د ا ذکر د پيغمبر عليه السلام لازم دے د الله د ذکر سره په اعتبار د تقاديرو غير معينه د الله د ذکر او دا مهمله صادق قيږي په هغه وقت کښې چه د ا ذکر د پيغمبر عليه السلام لازم شي د الله د ذکر سره په اعتبار د ټولو تقاديرو د ذکر د الله، او همدا رنګه صادق قيږي په هغه وخت کښې هم چه دا ذکر د پيغمبر عليه السلام لازم شي د الله د ذکر سره په اعتبار د بعضو تقاديرو سره نو دا ذکر د پيغمبر عليه السلام اګرچه نه ده شوے په ټولو مواضعو کښې او په ټولو تقاديرو د ذکر د الله، خو ليکن په اعتبار د بعضو تقاديرو د ذکر د الله، ذکر د پيغمبر عليه السلام شوي ده، او دا هم کافي ده لپاره د صدق د دے مخکښې قضيه مهمله شرطيه، دا قضيه چه په دے حديث کښې ده محصوره کليه نه ده چه صدق د دے تقاضا وکړي د لزوم د ذکر د پيغمبر السلام.

تفصيل المقام: زده کړه دا خبره چه قضيه حمليه په اعتبار د موضوع سره په څلور قسمه ده: اول قسم شخصيه ده چه ورته مخصوصه هم وائي او دا هغه قضيه ده، چه موضوع يې جزئي او شخص معين وي مثال لکه زيد کاتب او زيد ليس بکاتب نو د دے دواړو قضيو موضوع جزئي حقيقي او شخص معين ده، د اوله قضيه مثال د موجبه لپاره ده او دويم مثال ده لپاره د سالبه، او دويم قسم قضيه طبعيه ده او د اعبارت ده د هغه قضيه نه چه موضوع د هغې کلي وي او حکم د محمول په حقيقت او ماهيت د موضوع باندې شوے وي، نه په افرادو د موضوع باندې مثال لکه الانسان نوع نو په دے قضيه کښې دا موضوع چه انسان ده کلي ده او دا حکم د نوع په حقيقت د انسان باندې شوي ده چه د انوع ورته محمول ده او په افرادو د انسان باندې دا حکم نه ده شوے، ځکه چه افراد د انسان نوع نه دي بلکه حقيقت

دانسان چه حیوان ناطق ده نوع ده، او دریم قسم قضیه محصوره ده او دا عبارت ده
دهغه قضیه نه چه موضوع دهغه قضیے کلی وی او حکم د محمول په افراد د موضوع
باندِ شوے وی او بیان دافرادو دموضوع شوے وی چه دا حکم یا په کل افرادو ده
او یا په بعضِ افرادو باندِ ده، مثال لکه کل انسانٍ حیوان، نو د دے قضیے موضوع
کلی ده چه انسان ده او دا حکم د محمول چه حیوان ده په حقیقت د انسان باندِ نه
ده شوے ځکه چه حقیقت دانسان حیوان نهٔ ده بلکه حیوان ناطق ده، بلکه دا
حکم په افرادو د انسان باندِ شوے ده، چه دا افراد دانسان حیوان دی او بیان د
افرادو دانسان شوے ده په لفظ د کل سره چه دا محکوم علیه ټول افراد دانسان
دی نهٔ بعضِ افراد، او څلورم قسم قضیه مهمله ده او دا عبارت ده دهغه قضیے نه
چه موضوع دهغے کلی وی او حکم د محمول په افرادو د موضوع باندِ شوے وی، خو
لیکن بیان په د افرادو د موضوع نهٔ وی شوے چه دا حکم په کل افرادو باندِ ده او
که په بعضِ افرادو باندِ ده، مثال لکه الانسان حیوان په دِے تقدیر چه الف لام
په "الانسان" کښے لپاره د عهد ذهنی شی، نو دا موضوع د دے قضیے چه انسان ده
کلی ده او دا حکم د محمول په افرادو د موضوع باندِ شوے ده، په دِے شان چه په دے
قضیه کښے حکم شوے ده چه دا حیوان ثابت ده افرادو دانسان ته برابره خبره ده
که ټول افراد وی او که بعضِ افراد وی، نو په دِے قضیه حملیه کښے دا څلور واړه
اقسام متحقق کیږی، او په قضیه شرطیه کښے دا درے اقسام متحقق کیږی فقط،
چه هغه درے اقسام دا دی چه دا شرطیه په درے قسمه ده، اول قسم شخصیه ده او
دویم قسم محصوره ده او دریم قسم مهمله ده، او هر چه دا قضیه طبعیه ده نو دا
نهٔ متحقق کیږی په قضیه شرطیه کښے، ځکه چه په قضیه طبعیه کښے حکم شوے وی په
حقیقت او طبعیت د موضوع باندِ، او په قضیه شرطیه کښے نهٔ دا طبعیت د موضوع
شته او نهٔ قائم مقام د دے په قضیه شرطیه کښے شته، او بیا دا تقادیر د مقدم

په قضیه شرطیه کښې په منزله د افرادو دي په قضیه حملیه کښې نو شخصیه شرطیه هغې قضیې ته وائي چه په هغې کښې حکم شوے وي په تالي باندې په تقدیر معین د مقدم مثال لکه ان جئتني الیوم اکرمتك، نو په دې قضیه کښې د جئتني مقدم ده او د اکرمتك وړاته تالي ده او په دې قضیه کښې حکم شوې ده په ثبوت د تالي باندې چه اکرام ده په تقدیر معین د مقدم باندې چه هغه د نن ورځې راتګ ده، او قضیه شرطیه محصوره عبارت ده د هغې قضیې نه چه په هغې کښې حکم شوے وي په تالي باندې په ټولو تقادیرو د مقدم باندې او یا په بعضو تقادیرو د مقدم باندې مثال لکه: کلما کانت الشمس طالعة فالنهار موجود، نو په دې قضیه کښې حکم شوې ده په ثبوت د تالي باندې په ټولو تقادیرو د مقدم باندې چه هغه طلوع د شمس ده، او بل مثال لکه: قد یکون اذا کان الشئ حیوانا کان انسانا، نو په دې قضیه کښې حکم شوې ده په ثبوت د تالي باندې چه کون الشئ انسانا ده خو لیکن په اعتبار د بعضو تقادیرو د مقدم باندې، نو دې اولې قضیې ته محصوره کلیه وایي او دے دویمه قضیه ته محصوره جزئیه وایي، او شرطیه مهمله عبارت ده د هغه قضیې نه چه په هغې کښې حکم شوے وي په تالي باندې په اعتبار د تقادیرو في الجمله د مقدم باندې یعني حکم به شوے وي په دې تالي په اعتبار د تقادیرو د مقدم، او د دے تقادیرو بیان به نه وي شوے چه کل تقادیر دي او که بعض تقادیر مثال لکه: اذا کانت الشمس طالعة فالنهار موجود، نو په دې قضیه کښې حکم شوې ده په تالي باندې چه وجود النهار ده په اعتبار د تقادیرو د مقدم باندې چه هغه طلوع د شمس ده او بیان د تقادیرو پکښې نه ده شوے او دا قضیه چه: اذا ذکرتم الله فاذکروني معها الصلوٰة چه ذکر ده په هغه مجلس حدیث کښې قضیه شرطیه مهمله ده ځکه چه په دې قضیه کښې حکم شوې ده په دې تالي باندې چه ذکر د پیغمبر علیه السلام ده په صلوٰة سره په اعتبار د تقادیرو د مقدم باندې چه هغه مقدم ذکر د الله ده خو لیکن په کښې

یعني وجود نهار ده

بیان د تقادیرونه د کا شوے، چه دا ذکر د پیغمبر علیه السلام چه واجب ده دا په اعتبار د ټولو تقادیرو د مقدام واجب ده او که په اعتبار د بعضو تقادیرو د مقدام بانئ واجب ده نو که د پیغمبر علیه السلام ذکر په صلوٰة سره وشي په ټولو تقادیرو د ذکر د الله کښے نو بیا هم دا قضیه مهمله چه ذکر ده په حدیث کښے صادقیږي او که د ذکر د پیغمبر علیه السلام وشي په بعضو تقادیرو د ذکر د الله، نو بیا هم دا قضیه مهمله صادقیږي، او په دے خلوره دلیل بانئ هم یو اعتراض واردیږي حاصل د هغه اعتراض دا ده چه معترض وائي چه تاسو په دے خلوره دلیل کښے چه دلیل عقلي ده دا خبره وکړه چه عبد بعید ده د الله پاک نه نو دا خبره ستاسو مناقض ده دے قول د الله سره چه: ونحن اقرب الیه من حبل الورید، چه موږ د دے ایت معنی دا ده چه الله فرمائي چه زه عبد ته ورنزدے یم د مرئ د رګ نه هم، نو جواب له دے اعتراض نه دا ده چه دا موږ چه وایو چه د الله تعالی نه عبد لرے ده دا په جهت سره ده چه هغه جهت دا ده چه دے بنده سره دا سے اعمال نشته چه په هغو اعمالو سره دے بنده قرب حاصل شي الله ته، او له دے ایت نه چه معلومیږي چه الله تعالی ور قریب ده بنده ته په نهایت قرب سره دا په بل جهت سره ده چه هغه جهت دا ده چه د الله تعالی علم او قدرت هر څه ته ور شامل ده نو الله قریب ده عبد ته په اعتبار د علم او قدرت سره، نو هر کله چه دا قرب او بعد په جهتینو سره شوه نو تناقض ختم شو په مابین د کلام د مستدل کښے او په کلام د الله تعالی کښے.

اوومیم بحث: په بیان د معنی لغوي د صلوٰة کښے ده: نو زه ده کړه دا خبره چه صلوٰة مصدر د مجرد وده او دا مصدر د مجرد و په کلام د عربو کښے مستعمل ده او فعل ماضي او مضارع د دے مجرد و نه دي مستعمل په کلام د عربو کښے، او تصلیة مصدر د مزید وده او دا مستعمل نه ده په کلام د عربو کښے او د دے فعل ماضي او مضارع

چہ صلی یصلی دہ پہ تشدید د عین کلمہ سرہ مستعمل دہ پہ کلام د عربو کښے نو دا مزید پہ عکس د مجرد وی پہ دے شان چہ پہ مجرد و کښے مصدر مستعمل دہ او د افعل نہ دے مستعمل او پہ دے مزید و کښے د افعل مستعمل دہ او د امصدر نہ دہ مستعمل، نو بیا د معنی لغوی حقیقی د صلوٰۃ کښے اختلاف واقع شوید ہ پہ دے شان چہ پہ معنی لغوی د صلوٰۃ کښے شپږ مذاهب دی، اول مذهب دا دہ چہ د صلوٰۃ معنی لغوی دعاده یعنی صلوٰۃ پہ لغت کښے وضع دہ لپارہ د دعاء نو دا دعاء معنی حقیقی د صلوٰۃ دہ، او دوم مذهب دا دہ چہ صلوٰۃ مشترک لفظی دہ پہ مابین د دعا او د رحمت کښے پہ دے شان چہ دا صلوٰۃ یو ځل وضع شوید ہ لپارہ د دعا پہ مستقلہ وضع سرہ، او یو ځل وضع دہ لپارہ د رحمت پہ مستقلہ وضع سرہ نو بنا پہ دے مذهب بانډے دا رحمت هم معنی لغوی د صلوٰۃ دہ او دا دعا هم معنی لغوی د صلوٰۃ دہ، او دریم مذهب دا دہ چہ د صلوٰۃ لغوی معنی ثناءِ کاملہ دہ یعنی پہ لغت کښے صلوٰۃ وضع دہ لپارہ د ثناءِ کامل او څلورم مذهب دا دہ چہ د صلوٰۃ لغوی معنی تعظیم دہ یعنی پہ لغت کښے دا صلوٰۃ وضع دہ لپارہ د تعظیم، او پنځم مذهب دا دہ چہ د صلوٰۃ لغوی معنی عطف دہ او عطف مہربانئ تہ وائی او بیا دا دعا هم یو فرد دہ لپارہ د عطف، او همدا رنګہ دا رحمت هم یو فرد دہ لپارہ د عطف، نو بنا پہ دے مذهب بانډے دا صلوٰۃ مشترک معنوی دہ پہ مابین د دعا کښے او پہ مابین د رحمت کښے پہ دے شان چہ دا صلوٰۃ وضع دہ لپارہ د یو عامہ معنی چہ هغہ عطف دہ او بیا د دے عامہ معنی لاندې دوہ فردونہ دی چہ اول فرد دعاده او دویم فرد رحمت دہ، او شپږم مذهب دا دہ چہ د صلوٰۃ لغوی معنی تحریک د الصلوین دہ یعنی صلوٰۃ پہ لغت کښے وضع دہ لپارہ د حرکت ورکولو کوناټو تہ، نو دا اول مذهب د جمهور دہ او دا شپږم مذهب د ابو علی فارسی او د ابن جنی او د جار الله زمخشری دہ، او دا اول مذهب او دا شپږم مذهب مشهور دی، او دا ارکان مخصوصہ چہ رکوع او سجدہ او قیام او قراءت دی، معنی شرعی د صلوٰۃ دہ او دا

صلوٰة په نسبت سره دِ دے معنی ته منقول شرعی دهٔ۔ اوډریم بحث: په بیانِ دَ نسبت
دَ صلوٰة کښے دهٔ: نورن دهٔ کړه دا خبره، چه دَ صلوٰة د پاره څلور نسبتونه دی اول
نسبت دَ صلوٰة دا دهٔ چه دَ صلوٰة نسبت الله ته وشی، نو چه کله دَ صلوٰة نسبت الله
تعالی ته وشی نو بیا مراد ورنه رحمت وی لکه ویٔلے شی صلوٰة الله معنی رحمة الله
او دویم نسبت دَ صلوٰة دا دهٔ چه دَ صلوٰة نسبت کیږی عبادو ته نو چه کله دَ صلوٰة
نسبت وشی عبادو ته نو مراد ورنه دعا وی، او دریم نسبت دَ صلوٰة دا دهٔ چه دَ
صلوٰة نسبت وشی فرشتوته نو چه کله دَ صلوٰة نسبت وشی فرشتوته نو بیا مراد
ورنه استغفار وی، او څلورم نسبت دَ صلوٰة دا دهٔ چه دَ صلوٰة نسبت کیږی،
وحوشو او طیورو ته، نو چه کله دَ صلوٰة نسبت وُشی وحوشو او طیورو ته نو بیا
مراد ورنه تسبیح او تهلیل وی، او په دِ دے مقام کښے مراد دَ دے صلوٰة نه رحمت
دهٔ ځکه چه دا صلوٰة په دِ دے مقام کښے منسوب دهٔ الله ته په دِ دے شان چه په الصلوٰة
کښے دا الف لام عوض دهٔ دَ مضاف الیه نه چه هغه مضاف الیه لفظ دَ الله دهٔ
نو په اصل کښے صلوٰة الله وهٔ او بیا ورنه دا مضاف الیه حذف شوهٔ او دَ دے
په عوض کښے دا الف لام راوړلے شو، او بیا له دِ دے وجهِ نه منسوب دهٔ الله ته،
چه دا صلوٰة په دِ دے مقام کښے مطلق ذکر دهٔ او شے چه مطلق ذکر شی نو صرف په فردِ
کامل ته کیږی او هغه فرد کامل دَ صلوٰة، دَ الله تعالی صلوٰة دهٔ، نو معلومه شوهٔ
چه صلوٰة منسوب دهٔ الله ته نو مراد به ورنه رحمت وی ځکه چه کله دَ صلوٰة نسبت
وشی الله ته نو مراد ورنه رحمت وی، او په دِ دے مقام کښے معترض اعتراض کوی
حاصل دا اعتراض دا دهٔ چه معترض وائی چه دَ صلوٰة معنی لغوی هر کله چه په معنے
دَ دعا شوهٔ په لغت کښے نو چه کله دَ دعا صله "علی" راشی نو مراد ورنه دَ شر دعا وی
او په دِ دے مقام کښے دَ دے صلوٰة چه معنی دعا دهٔ صله کښے "علی" حرف جاره راغلے
دهٔ نو په دِ دے مقام کښے به هم مراد دَ صلوٰة نه دَ شر دعا شی نهٔ دَ خیر دعا او حال

دا دہ چہ مقصود پہ دے کلام کښے د خیر دعا دہ نۀ د شر د عاء، نو لہ دے اعتراض نہ دوہ جوابہ ورکړے شویدی اول جواب دا دہ چہ "دا علی" چہ صلہ را اشی د دعا نو بیا مراد وی نہ د شر دعا وی پہ ھغہ وقت کښے چہ دا دعا پہ صریحی لفظ سرہ ذکر وی او پہ دے مقام کښے صریحی لفظ د دعا نۀ دہ ذکر بلکہ لفظ د صلوۃ ذکر دہ نو پہ دے وقت کښے اگر چہ۔ صلہ "علے" را اشی نو بیا ھم وی نہ د شر دعا نۀ بلکہ د خیر دعا مراد کیدے شی او دا مقام ھم لہ دے قبیلے نہ دہ، او دویم جواب دا دہ چہ مونږ ورتہ وایو چہ دا اعتراض بہ پہ ھغہ وقت کښے واردیدہ کچرتہ مراد د صلوۃ نہ دعا وے چہ دا معنی لغوی دہ او پہ دے مقام کښے خو مراد وی نہ دعا نۀ دہ بلکہ پہ دے مقام کښے مراد د صلوۃ نہ رحمت دہ او چہ کلہ وی نہ مراد رحمت شی نو بیا پکښے دا قاعدہ نۀ جاری کیږی چہ کومہ قاعدہ معترض پہ خپل اعتراض کښے پہ بارہ د "علے" کښے ذکر کړیدہ۔

وعلی الہ واصحابہ المتادبین بالتقوی الخ: پہ دے مقام کښے پنځہ بحثونہ دی اول بحث پہ بیان د ورود د صلوۃ کښے دہ پہ آل او اھل باندے پہ کتاب کښے: نو معترض اعتراض کوی چہ صلوۃ ویل بغیر د پیغمبر علیہ السلام نہ پہ بل چا باندے بدعت دہ او نا جائز دہ نو بایدہ چہ شارح پہ دے صلوۃ کښے ذکر د آل او د اصحابو نۀ وے کړے، نو لہ دے اعتراض نہ دوہ جوابہ دی اول جواب دا دہ چہ مونږ ورتہ وایو چہ صلوۃ پہ آل باندے رانقل دہ د پیغمبر علیہ السلام نہ چہ ھغہ دا قول د پیغمبر علیہ السلام دہ چہ: من ذکرنی ولم یذکر الی فقد جفانی، معنی دا دہ چہ چا زۀ یاد کړم پہ صلوۃ سرہ څکہ چہ مراد لہ ذکر نہ ذکر پہ صلوۃ سرہ دہ او زما آل یے ذکر نکړو نو دے کس زما سرہ جفا وکړہ نو لہ دے حدیث نہ دا معلومیږی چہ پہ آل باندے صلوۃ ویل پہ تابعداری د پیغمبر علیہ السلام کښے جائز دہ، او دویم جواب دا دہ چہ مونږ وایو چہ نۀ منو دا خبرہ چہ صلوۃ ویل د پیغمبر علیہ السلام

نه بغیر په بل چا بانډِ بدعت ده بلکه صلوٰة ویل د پیغمبر علیه السّلام نه بغیر په بل چا
بانډِ جائز ده او دلیل ورباندِ تعلیم د نبی علیه السلام ده صحابوؓ ته د صلوٰة ویلو د
شان چه صحابو د پیغمبر علیه السلام نه سوال وکړه د دے خبرے چه مونږ په کومه
طریقه سره په تا بانډِ صلوٰة ووایو، نو نبی علیه السلام ورته ووئیل: قولوا اللهم صل
علی محمد و علیٰ آل محمد: له دِے تعلیم نه د امعلومه شوه چه په آل بانډِ صلوٰة ویل
جائز دی په تابعه ارتې د نبی علیه السلام کښے اگرچه په طریقے د استقلال سره ورباندِ
نهٔ ده جائز، او دریم جواب له دِے اعتراض نه دا ده چه مونږ ورته وایو چه نهٔ منو دا
خبره چه صلوٰة ویلِ د نبی علیه السلام نه بغیر په بل چا بانډِ بدعت ده بلکه دا
جائز ده او دلیل ورباندِ دا قول د نبی علیه السلام ده: چه اذا صلیتم علی فعمموا
او معنی د دے حدیث دا ده چه نبی علیه السلام فرمائی چه کله تاسو په ما بانډِ صلوٰة
وایئ نو دا صلوٰة خپل عامه وایئ په دِے شان چه ځما سره ځما په آل او په صحابو بانډِ
هم صلوٰة وایئ، او دا دریم جواب هم جواب ده له هغه اعتراض نه چه وارد یږی
په صلوٰة ویلو بانډِ په آل بانډِ او هم جواب ده له هغه اعتراض نه چه وارد یږی په
صلوٰة ویلو بانډِ په صحابو بانډِ، او دا اول جواب او دویم جواب مختص دی تر هغه
اعتراض پورے چه هغه وارد ده په صلوٰة ویلو بانډِ په آل بانډِ او له دِے دریواړو
جوابونو نه دا معلومیږی چه صلوٰة ویل د نبی علیه السلام نه بغیر په بل چا بانډِ روا
دی خو لیکن په طریقے د تبعیت سره نهٔ په طریقے د استقلال سره-

تفصیل المقام: زده کړه چه په صلوٰة ویلو کښے په غیر د نبی علیه السّلام په بل چا
بانډِ، اختلاف واقع شویده په مابین د دریو مذاهبو کښے، اول مذهب دا ده
چه صلوٰة ویل په غیر د نبی نه په بل چا بانډِ نهٔ په طریقے د استقلال سره جائز دی
او نهٔ په طریقے د تبعیت سره ویل جائز دی، یعنی د اصلوٰة ویل جائز ده په انبیاؤ
بانډِ فقط او لهٔ انبیاؤ نه بغیر په بل چا بانډِ ویل نهٔ دی جائز نهٔ په طریقے د:

استقلال سره او نهٔ په طریقے د تبعیت سره، او دویم مذهب دا دی، چه صلوٰة ویل په غیر د انبیاؤ نه په بل چا باندې هم په طریقے د استقلال سره جائز ده او هم په طریقے د تبعیت سره جائز ده، او دریم مذهب دا دی چه صلوٰة له انبیاؤ نه بغیر په بل چا باندې په طریقے د استقلال سره ناجائز ده په دے شان چه ووائی چه "الصلوٰة علی آله" او یا "الصلوٰة علی اصحابه" په غیر د ذکر د نبی علیه السلام نه، او په طریقے د تبعیت سره یے ویل جائز دی، لکه شارح چه دا صلوٰة ویلے ده په آل او په اصحابو باندې په طریقے د تبعیت سره، ځکه چه شارح اول ځل صلوٰة ویلی ده په نبی علیه السلام باندې او دهغه په تابعدارۍ کښے دهغه په آل او په صحابو باندې یے هم صلوٰة ویلی ده، او راجح او غوره هم دا دریم مذهب ده، چه صلوٰة ویل په طریقے د استقلال سره په غیر د انبیاؤ نه په بل چا باندې ویل ناجائز او په طریقے د تبعیت سره دا صلوٰة ویل جائز دی.

او دویم بحث: په ذکر د کلمه د "علی" حرف جاره کښے ده مخکښے له لفظ د "آل" نه، نو شارح دا کلمه د علی حرف جاره ذکر کړیده مخکښے د لفظ د آل نه، لپاره د دے چه رد راشی په روافضو باندې ځکه چه روافض ذکر د علی کلمه په مابین د نبی او د هغهٔ د آل کښے ناجائز بولی، نو شارح دا کلمه د علی ذکر کړه په مابین د نبی علیه السلام او د آل دهغهٔ کښے، لپاره د رد په دے روافضو باندې، او دلیل لپاره د روافضو په عدم جواز د ذکر د علی کلمه باندې یو حدیث دے چه هغه روافضو ذکر کړیده چه هغه دا دے چه: من فصل بینی وبین آلی بعلی لم ینل شفاعتی، او په بعضو روایتونو کښے په ځائے د "فصل" باندې "فرق" رانقل دے، او په بعضو روایتونو کښے په ځائے د "لم ینل شفاعتی" باندې "فعلیه کذا" لفظ رانقل دے، او معنی د دے حدیث روافض داسے کوی، چه څوک فصل او فرق راولی په مابین زما کښے او زما د آل کښے په "علی" کلمه سره په دے شان چه دا علی کلمه زما او زما د آل ترمینځه

ذکرکړی نو دِے انسان ته به څما شفاعت ونهٔ رسیږی، نو له دِے حدیث نه مونږ
دړے جوابه ورکوو، اول جواب دادہ چه مونږ ورته وایو چه دا حدیث چه تاسو ورې
بانې استدلال کړیں که په عدم جواز د فصل کښے په "علی" کلمه سره موضوعی ده او قابل
د استدلال نهٔ ده ځکه چه استدلال خو په حدیث صحیحه سره کولے شی نه په موضوعی
حدیث سره، او دویم جواب دادہ چه مونږ ورته وایو چه کهٔ چرته دا حدیث صحیح
شی، بیا هم ستاسو د پاره استدلال ورباندې نهٔ صحیح کیږی، ځکه چه استدلال ستا
سو په دِے حدیث باندې په هغه وقت کښے صحیح کیږی چه کهٔ چرته دا "علی" په تخفیف
د "یا" سره وے او مراد ورنه "علی" حرف جارهٔ وے، خو لکن دا "علی" په تشدید د یاء
سره ده او مراد ورنه حرف جاره نهٔ ده بلکه مراد ورنه حضرت علی کرم الله وجهه
ده، ځکه چه دا حرف جاره شی نو بیا په تخفیف سره وی نهٔ په تشدید سره، او
چه هرکله مراد ورنه حضرت علی شی، نو بیا در وافضو د پاره دلیل نشی جوړیدے
ځکه چه بیا معنی د حدیث دا شوه چه نبی علیه السلام فرمائی، چه څوک فرق راولی
څما او څما د آل ترمینځه په دِے شان چه د دوئ نسبت حضرت علی ته وکړی، چه
دوئ د حضرت علی اولاد ده او د نبی علیه السلام اولاد نهٔ ده، نو دِے کس ته به
څما شفاعت ونهٔ رسیږی، نو هرکله چه د دے حدیث معنی دا شوه نو په دِے وقت کښے
د دے حدیث هیڅ مناسبت نشته د ذکر کولو د کلمه د "علی" سره چه حرف جاره دهٔ
نو دا حدیث دلیل نشی جوړیدے لپاره د روافضو، او دریم جواب دادہ اجهٔ کهٔ
ومنو چه دا حدیث صحیح ده او همدا رنګ دا "علی" په تخفیف د "یاء" سره ده او حرف
جاره ده، نو بیا هم دا حدیث ستاسو د پارهٔ دلیل نشی جوړیدے په باره د عدم
جواز د فصل کښے په کلمه د "علی" حرف جاره سرهٔ، بلکه دا حدیث زمونږ د پارهٔ دلیل
ده په جواز د فصل کښے په کلمه د "علی" حرف جاره سره په دِے شان چه د دے حدیث
معنی دادہ چه نبی علیه السلام فرمائی چه څوک فرق وکړی څما او څما د آل ترمینځه

په "علی" کلمه سره په دِے شان چه په ما بانډِ په "علی" کلمه سره حمد ووايي او څما په آل باندِ په "علی" کلمه سره حمد ونهٔ وايي نو دِے انسان ته به څما شفاعت ونهٔ رسيږی، نو له دِے حديث نه دا معلوميږی چه دا راوړل دَ "علی" کلمه مابين دَ نبی عليه السلام کښے او دَ آل دَ هغهٔ کښے ضروری دی، لکه شارح چه دا فصل کړيدے.

او دريم بحث په بيان دَ معنی دَ آل کښے دے: نو په آل کښے دوه خبرے دی اوله خبره په بيان دَ اصل دَ آل کښے دے چه آل په اصل کښے څهٔ شے وه او دويمه خبره په بيان دَ معنی مراده دَ آل کښے دے په دِے مقام کښے، نو دا اوله خبره چه په بيان دَ اصلِ آل کښے ده هغه دا ده چه په دِے آل کښے اختلاف واقع شويدے په دِے شان چه په کښے دوه مذهبه دی، اول مذهب دا دے چه دَ آل په اصل کښے اهل وه او بيا رسته دَ هاء خلاف القياس بدل له کړے شوه په همزے سره نو ورته أَأْل جوړ شو، او بيا دا دويمه همزه بدله شوه په الف سره نو ورته آل جوړ شو، او دا مذهبِ سيبويه دے، او دويم مذهب دا دے چه دَ آل په اصل کښے اول وه، او بيا دا واو بدل شو په الف سره نو ورته آل جوړ شو، نو دا آل اسم مکبر دے، او اسم مصغر په مذهب اول بانډِ اهيل راځی په هاء سره، او په دويم مذهب بانډِ چه مذهبِ کسائی دے اويل راځی په واو سره، او فرق په مابين دَ آل او دَ اهل کښے دا دے چه آل مستعمليږی په اشرافو کښے فقط برابره خبره ده که شرافت دنياوی وی او که شرافت اخروی وی مثال دَ شرافت دنياوی لکه "آل فرعون" ځکه چه فرعون ته شرافت دنياوی حاصل وه او مثال دَ شرافت اخروی لکه "آل موسیٰ" نو موسی عليه السلام ته شرافت اخروی حاصل وه اگرچه ورته شرافت دنياوی هم حاصل وه، او دا "آل" په ارذالو کښے نهٔ مستعمليږی نو "آل الحجام" نشی ويئلے، او اهل عام دے هم په اشرافو کښے مستعمليږی لکه "اهل المدينة" او هم په ارذالو کښے مستعمليږی لکه ويئلی شئ چه "اهل الحجام". او دويمه خبره په بيان دَ معنی مراده دَ آل کښے دے، نو دَ آل

په معنی مراده کښې چه په دې مقام کښې وي، نو څۀ معنی مراده ده اختلاف واقع شویدۀ په دې شان چه پکښې څلور قوله دي، اول قول دا دۀ چه مراد له آل نه ازواج دنبي عليه السلام دي، او دويم قول دا دۀ چه مراد له آل نه آلِ نسبي دنبي عليه السلام دۀ چه هغوي اولاد دحضرت علی دی او اولاد د حضرت عباس دی او اولاد حضرت جعفر دی او اولاد د حضرت عقيل دۀ او اولاد د حارث بن عبد المطلب دی، نو چه څوک له اولادو ددې اشخاصو نه وي، هغوئ ټول ته آل د نبي عليه السلام وائي، برابره خبره ده که دوئ په زمانه د نبي عليه السلام کښې موجود وه، او که وروسته له هغۀ پيدا شوی وی، نو دا قول د پيغمبر عليه السلام آل نسبي دۀ، او دريم قول دا دۀ چه مراد د آل نه فقهاء او مجتهدين دي د دې امت، او څلورم قول دا دۀ چه مراد له آل نه مطلق مؤمنان دي، چه ورته اتباع د پيغمبر عليه السلام وائي، نو بنا په دې څلورم قول به ذکر د اصحاب وروسته د آل نه تخصيص بعد التعميم شي په دې شان چه بنا په دې څلورم قول باندې دا آل عام دۀ هر مؤمن ته ورشامل دۀ، او د اصحاب خاص دي، او دوئ هم په دې آل کښې ور داخل دي نو د دوئ ذکر وروسته د آل نه تخصيص بعد التعميم دۀ او دا تخصيص بعد التعميم شويدۀ لپاره د تنبيه په عظمت د شان د اصحاب باندې۔

او څلورم بحث: په بيان د معنی د اصحاب کښې دۀ: نو نۀ ده کړه دا خبره چه اصحاب جمعه د صاحب ده او صاحب په لغت کښې مطلق ملګري ته وائي او په اصطلاح د شريعت کښې صاحب هغه کس ته وائي چه پيغمبر عليه السلام يې ليدلی وي او يا پيغمبر عليه السلام دا کس ليدلے وي او په دې وقت دليدو کښې دا کس مؤمن هم وي او بيا په دا ايمان نه وفات شوے وي دا کس، نو هغه کس چه ړوند وي يا په خپله، نو دۀ ته هم صاحب وائي ځکه چه دې کس اګرچه پيغمبر عليه السلام نۀ دے ليدلے، خو لکن پيغمبر عليه السلام دۀ لره ليدلے دۀ او په دې صاحب کښې څلورمن هبه دي

اول مذهب دا دهٔ چه په صاحب کېدو دا شرط ده چه پېغمبر علیه السلام سره به یې طول صحبت راغلی وی چه هغه اندازه دا ده چه د شپږ میاشتو نه به کم نهٔ وی، نو کچرته یو کس د پېغمبر علیه السلام سره د شپږ میاشتو نه کم عمر تېر کړو نو په دې مذهب بانې وېرته په اصطلاح د شریعت کښې صاحب نشی وئیلے، او دویم مذهب دا ده چه صاحب کېدو دا شرط ده چه د پېغمبر علیه السلام نه به یې روایت د حدیث کړے وی برابره خبره ده که یو حدیث وی او که ډېر احادیث وی، نو کچرته یو کس روایت د حدیث نهٔ وکړے نو په دې مذهب بانې وېرته صاحب نشی وئیلے په اصطلاح کښې اګرچه دې کس پېغمبر علیه السلام لیدلے وی او ایمان یې وړ بانې راوړے وی او دریم مذهب دا ده چه په صاحب کېدو دا شرط ده چه شرکت به یې کړے وی د پېغمبر علیه السلام سره په جهاد او غزوه کښې، نو کهٔ شرکت یې نهٔ وه کړے ورسره په غزوه او جهاد کښې، نو بناء په دې مذهب بانې دې کس ته صاحب نشی وئیلے په اصطلاح د شریعت کښې، او څلورم مذهب دا ده، چه په صاحب کېدو دا یو شرط هم نهٔ ده معتبر چه کوم شروط په دغه دریوارو مذهبونو کښې معتبر دی، نو چه یو کس پېغمبر علیه السلام لیدلے وی او یا پېغمبر علیه السلام دې کس لره لیدلے وی او دا کس په وقت د لیدلو کښې موصوف وی په وصف د ایمان سره نو وېرته په اصطلاح د شریعت کښې صاحب وائی برابره خبره ده کهٔ دې کس څهٔ روایت د حدیث کړے وی د پېغمبر علیه السلام نه او که نهٔ یې وی کړے، او همدا رنګه برابره خبره ده کهٔ ورسره طول صحبت یې کړے وی او که نهٔ یې وی کړے، دغه شان که ورسره یې شرکت په جهاد کښې کړے وی او که نهٔ یې وی کړے.

تنبیه: ننه ده کړه دا خبره چه یو لفظ د اصحاب ده او بل لفظ د صحابه ده، نو د دې دواړو ترمینځه فرق ده په دوه طریقو سره، اوله طریقه د فرق دا ده چه دا اصحاب جمعه د صاحب ده او دا صحابه مصدر ده او صیغه د مفرد ده په

اصل کښې اوبیا وروسته له دې مصدر ی معنی ته نقل شوې ده او مستعمل شوې ده په ملګرو د پیغمبر علیه السلام کښې، او دویمه طریقه د فرق داده چه د اصحابو اطلاق عام ده هم یې اطلاق کیږی په ملګرو د پیغمبر علیه السلام باندې او هم یې اطلاق کیږی په ملګرو د بل کس باندې، او د اصحابه خاص ده اطلاق یې کیږی په ملګرو د پیغمبر علیه السلام باندې فقط او د بل چا ملګرو ته صحابه نه وائی.

او پنځم بحث: په لفظ د المتادبین بالتقوی کښې ده: نو د المتادبین معنی ده: "الموصوفین" او تقوی عبارت ده له اجتناب د شرک او د معاصی نه یعنی تقوی دې ته وائی چه انسان ځان محفوظ کړی د شرک نه او د معاصی نه، نو معنی د کلام دا شوه چه د اصحابه موصوف دی په تقوی سره، یعنی موصوف دی په دې سره چه ځان ساتی د شرک نه او د معاصی نه، او په دې عبارت د شارح کښې براعة الاستهلال ده په دې شان چه شارح لفظ د المتادبین ذکر کړې ده او د المتادبین لفظ را ماخوذ ده د ادب نه او د ادب اطلاق څنګه چه په علم ادب باندې کیږی، دغه شان د ادب اطلاق په علم نحو باندې هم کیږی ځکه چه د انحو هم د علوم ادبیه نه ده او مقصود په دې کتاب د شارح سره مسائل د علم نحو دی، نو شارح په عبارت خپل کښې داسې لفظ ذکر کړې ده چه هغه دلالت کوی په وروسته مقصود باندې او اشعار کوی په وروسته مقصود باندې، او براعة الاستهلال دې ته وائی، چه مصنف په اول د خپل کتاب کښې داسې لفظ ذکر کړی چه هغه دلالت کوی په وروسته مقصود باندې او اشعار کوی په وروسته مقصود باندې، او د براعة الاستهلال د محسنات معنویه نه ده چه ورنه بحث کوُلے شی په علم بدیع کښې.

حل لغات: الوری: مخلوقات، المتادبین: موصوفین، التقوی: ځان ساتل د شرک او د معاصی نه.

اما بعد: فقد التمس الخ په دې مقام کښې بحثونه دی، اول بحث په لفظ د اما

حرف کښ دہ: نو ن ده کړه دا خبره چه په اما کښے اختلاف ده په مابین دد وو مذهبونو کښے په دے شان چه اول مذهب په "اما" کښے دا ده، چه دا اما حرف ده او په اعلال سره جوړ شویده د "مهما" نه چه دا مهما اسم شرط ده او طریقه د اعلال دا ده چه په دے مهما کښے دا هاء بدله شوه خلاف القیاس په همزه سره نو وړ نه مئما جوړ شو او بیا وړ سته قلب مکانی وکړے شو په مابین ددے همزه کښے او دا اول میم کښے په دے شان چه دا میم د همزے ځائی ته دے وړل شو او دا همزه ددے اول میم ځائی ته راوړے شوه نو وړ نه "امما" جوړ شو او بیا دا میم مدغم شو په میم کښے نو وړ نه "امّا" جوړ شو په تشدید د میم سره، او دویم مذهب په "اما" کښے دا ده چه دا "اما" په اصل کښے مهما نه وه بلکه همدغه اصل ده لیاره د "اما" بلکه دا مهما حذف شوه او "اما" د هغے په ځائی بانے قائم کړے شوه، نو لکن دا دویم مذهب راجح ده د اول مذهب نه ځکه چه اول مذهب مخدوش ده له دے وجے نه چه دا مهما په خپله اسم ده او اما حرف ده او په اعلال سره کلمه د خپل اصل نه نه خارجیږی نو دا نۀ ده مګر خروج د کلمه ده دا اصل خپل نه او دا باطل ده، او په دے مذهب بانے معترض یو اعتراض کوی حاصل د اعتراض د معترض دا ده چه معترض وائی چه دا دویم مذهب باطل ده ځکه چه "اما" حرف ده او "مهما" اسم ده او اسم مستقل ده او حرف غیرمستقل ده نو چه دا "اما" قائم شویده په ځائی د "مهما" بانے نو دا اقامت د غیرمستقل ده په مقام د مستقل بانے او دا باطل ده، او جواب له دے اعتراض نه دا ده چه موږ وړته وایو چه قیام د غیرمستقل په مقام د مستقل بانے اګرچه باطل ده له وجه د قیاس او قاعده نه، نو لکن خلاف القیاس جائزه ده چه دا غیرمستقل قائم شی په مقام د مستقل بانے لکه په "یاء" حرف نداء کښے چه دا حرف ده او غیرمستقل ده نو لکن قائمه شوے ده په مقام د مستقل بانے چه هغه

ادعو فعل دہ او دا قیام دا اما په ځائې د مهما بانډې له همدے قبیلے نه دہ چه غیرمستقل شے قائم شویدہ په مقام د مستقل بانډې، نو تقدیرد عبارت داسے دہ چه: مهمایکن من شئ بعد الحمد والصلوٰۃ فقد التمس، نو بیا په مذهب اول بانډې له دې اماته "اما" جوړ شو په اعلال سرہ او دا یکن فعل شرط سرہ د خپل متعلق نه چه من شئ دہ هم حذف شول او د امضاف الیه د بعد هم حذف شوہ نو وې نه: امابعد فقد التمس جوړ شو، او بناء په دویم مذهب بانډې دا اسم شرط چه مهما دہ هم حذف شوہ او دا فعل شرط سرہ د خپل متعلق نه هم حذف شو او په ځائې ددے اسم شرط او د فعل شرط بانډې دا اما قائم شو، او هم ارنګ د امضاف الیه د بعد هم حذف شوہ نو وې نه امابعد فقد التمس جوړ شو، او معنی ددے شرط دا دہ چه کچرته یو شے د اشیاؤ نه موجود وی وې وسته د حمد او د صلوٰۃ نه نو یقیناً ځما نه التماس کړې بعضو وې ورونړو ځما، او دا شے شرط دہ دَ مصنفینو دَ کتابونو په سر کښے، ځکه چه دا قاعدہ دہ چه کله شرط یقینی وی نو بیا دا جزاء هم یقینی وی ځکه چه شرط ملزوم دہ او جزاء وې سرہ لازم دہ او وجود د ملزوم مستلزم دہ وجود د لازم لرہ ځکه چه وجود د ملزوم په غیر د لازم نه محال دہ او دا شرط مذکورہ چه مصنفین وې او باسی په سر د خپلو کتابونو کښے یقینی دہ نو دا وجود د جزاء به هم یقینی وی او غرض او مقصود د مصنفینو هم یقینی کول د جزاء او د جواب دی، نو په دې مقام کښے هم دا شارح دا جزاء او جواب چه التماس د بعضو وې ورونړو دہ یقینی کول غواړی، نو ځکه یې دا شرط وې او یستلے دہ.

او دویم بحث په بیان د بعد کښے دہ: نو په دې بعد کښے دوہ خبرے دی اوله خبرہ په بیان ددے کښے دہ چه اوّل تلفظ په بعد بانډې چاکړیدہ نو په دې کښے پنځه قوله دی اول قول دا دہ چه اول تلفظ په بعد بانډې داؤد علیه السلام کړیدہ او په قرانکریم کښے چه الله تعالیٰ دداود علیه السلام په باره کښے فرمائې چه: وَاٰتیناہ الحکمة

وفصل الخطاب، مراد له دِے فصل خطاب نه بعضِ مفسرينِ وائي چه د اكلمهٔ "بعد" ده، او دويم قول دا دے چه اول تلفظ په دِے "بعد" بانِ يعقوب عليه السلام كړيدے، او دريم قول دا دے چه اول تلفظ په "بعد" بانِ يعرب بن قحطان كړيدے چه دا دَ عربو يو نيكهٔ وه، او څلورم قول دا دے چه اول تلفظ په "بعد" بانِ كعب بن لوئ كړيدے چه دا د پيغمبر عليه السلام يو نيكهٔ وه، او پنځم قول دا دے چه اول تلفظ په "بعد" بانِ سحبان بن وائل كړيدے، او دويمه خبره په بيان د حالاتو د "بعد" كښے ده:

نو د بعد دپاره حالات دی اول حالت د بعد دا دے چه مضاف اليه ورسره په لفظ كښے ذكر وی، او دويم حالت د بعد دا دے چه مضاف اليه د لفظ نه حذف شوے وی په حذف نسيا منسيا سره، يعني دا مضاف اليه د بعد په د لفظ نه هم حذف شوے وی او په نيت كښے به هم نهٔ وی مراد، او دريم حالت د بعد دا دے، چه دا مضاف اليه د "بعد" د لفظ نه حذف شوے وی او په نيت كښے مراد وی چه دیته حذف منوی وائي، نو دا بعد په دِے اول حالت كښے او په دِے دويم حالت كښے معربه وی ځكه چه د بناء دپاره په دِے دوه حالتو نو كښے څهٔ وجه نشته او اصل په اسماؤ كښے اعراب دے نو ځكه به دا بعد معربه وی یا په حركت سره او هغه حركت به ضمه وی، نو د نفس بناء د پاره وجه دا دے چه دا بعد په دِے دريم حالت كښے مشابه دے د حرف سره چه هغه مبنی الاصل دے په دِے خبره كښے چه لكه څنګه چه حرف محتاج وی په دلالت كولو كښے په خپلو معنو بانِ، نو هم اړنګ دا بعد هم په دِے دريم حالت كښے محتاج دے ضم د ضميمه ته او په حركت سره به ځكه مبنی وی چه دا حركت دلالت وكړی په مضاف اليه محذوفه بانِ ځكه چه سكون دلالت نشی كولے په څهٔ شی بانِ نو ځكه به مبنی وی په حركت بانِ نهٔ په سكون بانِ او دا حركت به ضمه ځكه وی او فتحه او كسره به نهٔ وی ځكه چه دا ضمه قوی ده د فتحه او د كسره نه نو دا ضمه دلالت كوی په مضاف اليه محذوفه بانِ په دلالت قويه سره۔

اودریم بحث: په بیان د فاء د فقه کښې ده: نو دا ده کره دا خبره چه د فاء د پاره شلو
معنی ګانې دی اوله معنی د فاء دا ده چه دا فاء راځی لپاره د تعلیل یعنی دلالت
به کوی په دې خبره باندې چه دا یو شے علت ده لپاره د بل شی مثال لکه: ابشر فقد
اتاك الغوث نو په دې مثال کښې دا فاء لپاره د تعلیل ده ځکه چه دا فاء دلالت
کوی په دې خبره باندې چه دا یو شے چه اتیان د غوث ده علت ده لپاره د بل شی
چه بشارت ده او خوشحالی ده، او دویمه معنی د "فاء" دا ده چه دا فاء راځی لپاره د
تفریع په دې شان چه د دې فاء نه به مخکښې قانون کلی ذکر وی او وروسته به د دې نه
یو مسئله جزئیه ذکر وی چه هغه به وی تفریع وی په دې مخکښې قانون کلی
باندې مثال لکه دا قول د صاحب منار چه د دویم حکم د خاص بیانوی چه: ولا یحتمل
البیان لکونه بینا بنفسه: نو دا حکم د خاص ده او دا یو قانون کلی ده چه حاصل
د دې حکم دا ده چه خاص احتمال د بیان تفسیر نلری ځکه چه دا خاص پخپله واضح
ده او اجمال پکښې نشته، او بیا وروسته صاحب د منار په دې قانون کلی باندې
یو مسئله وی تفریع کړیده په دې قول خپل سره چه: فلا یجوز الحاق التعدیل
بامر الرکوع: او په دې مسئله جزئیه باندې چه کومه فاء وی داخله ده چه "فاء" د فلا
یجوز ده فاء تفریعیه ده، او دریمه معنی د فاء دا ده چه دا فاء کله راځی لپاره د
تفصیل چه دې فاء ته فاء تفصیلیه وائی او دا فاء تفصیلیه هغه فاء ته وائی چه
ماقبل وی نه اجمال وی او مابعد وی نه تفصیل وی مثال لکه: جاءنی القوم فاما
زید فاکرمته، واما عمرا فاهنته: نو په دې مثال کښې دا اوله فاء چه په "فاما
زید" کښې موجوده ده فاء تفصیلیه ده او ماقبل د دې نه اجمال ده چه هغه
جاءنی ده او مابعد وی نه تفصیل ده لپاره د دې اجمال، او څلورمه معنی د فاء
دا ده چه فاء راځی لپاره د جزاء چه دې ته فاء جزائیه وائی، او دا فاء عبارت
ده د هغه فاء نه چه ماقبل وی نه شرط ذکر وی او مابعد وی نه جزاء ذکر وی

اودافاء به دلالت کوی چه د ماقبل ځماسبب ده لپاره د مابعد، نو په دې مقام کښې
یو اعتراض واردیږی په دوه طریقو سره اوله طریقه د اعتراض داده چه معترض
وائي چه د فاء په دې عبارت د شارح کښې چه ذکر ده دا به خالی نه وی یا به لپاره د
تفصیل وی او یا به لپاره د تعلیل وی یا به لپاره د تفریع وی او یا به لپاره د جزاء
وی؟ او دا ځلور واړه شقوق باطل دی وجه لپاره د بطلان د شق اول داده چه
مونږ وایو چه دا فاء لپاره د تفصیل نشی کیدے ځکه چه فاء تفصیلیه مخکښې اجمال
غواړی او په دې عبارت د شارح کښې مخکښې اجمال نشته چه دا ورسته ورته تفصیل
شی، او وجه لپاره د بطلان د دویم شق داده چه مونږ وایو چه دا فاء لپاره د
تعلیل نشی کیدے ځکه چه فاءِ تعلیلیه تقاضا کوی د دے خبرے چه دا یو شے به
علت وی او دا بل به ورته معلول وی، یا به ماقبل د فاء ته علت وی او د مابعد
د فاء نه به ورته معلول وی او یا به د دے عکس وی او په دې عبارت د شارح کښې
نه د ماقبل د فاء علت ده لپاره د مابعد چه د مابعد ورته معلول شی او نه
د دے عکس پکښې شته، او وجه لپاره د بطلان د شق ثالث داده چه مونږ وایو
چه دا فاء لپاره د تفریع نشی کیدے ځکه چه فاء د تفریع تقاضا کوی چه مخکښې
به ورته یو قانون کلی ذکروی او ورسته له دې فاء نه به مسئله جزئیه ذکروی
او هغه ورته تفریع وی په دې قانون کلی باندې او په دې عبارت د شارح کښې ماقبل
د فاء نه قانون کلی نه ده ذکر چه ورسته د فاء نه ورباندې ورته تفریع شی، او وجه
لپاره د بطلان د څلورم شق داده چه مونږ وایو چه دا فاء جزائیه نشی کیدے
ځکه چه فاءِ جزائیه مخکښې وجود د شرط غواړی او په دې عبارت د شارح
کښې مخکښې شرط نه ده موجود، اوله دې اولے طریقے نه جواب ورکړے شوید؟
په اختیار د شق رابع سره، حاصل د جواب داده چه مونږ وایو چه دا فاء
جزائیه ده او مخکښې له دې فاء نه اگرچه شرط نشته خو لکن قائم مقام د

شرط شته چه هغه اماده نو دا اما قائم او نائب دی په ځای د شرط بانیا نو لکه څنګه چه د شرط نه ورسته فاء د جزاء را اوړے شی نو ورسته له دے قائم مقام او نائب نه هم را اوړے شی ځکه چه نائب لره حکم د منوب وی او د ویمه طریقه د اعتراض داده چه معترض وائی چه د فاء د پاره غونډ ځلور معانی دی، چه هغه معانی مونږ مخکښے ذکر کړیدی، نو په دے مقام کښے یا به د فاء نه ټولے معانی مراد وی او یا به ورانه یوه معنی هم نه وی مراد او یا به ورانه بعض معانی مراد وی او دا درے ـــــ واړه شقه باطل دی، ځکه چه که ترنه ورانه ټولے معانی مراد کړے شی نو لازم میږی عموم د مشترک او دا باطل دے، ځکه په وقت د اراده د ټولو معانیو کښے لازم میږی توجه د ذهن په حالت واحده کښے امور متعدده ته او دا باطل ده ځکه چه ذهن بسیط دے توجه نشی کولے امور متعدده ته په حالتِ واحده کښے او که ورانه یوه معنی هم نشی مراد دا هم باطل ده، ځکه چه په دے وقت کښے لازم میږی اهمال د لفظ او اهمال د لفظ باطل ده، ځکه چه دا الفاظ وضعه دی لپاره د افاده د معنی، او که ورانه بعضِ معانی مراد شی نو لازم میږی ترجیح بلا مرجح ځکه چه دا ځلور واړه معانی مساوی دی، نو یوه معنی اخستل او بله نه اخستل نه دی مګر ترجیح بلا مرجح ده او دا باطله ده نو جواب له دے دویمے طریقے د اعتراض نه ورکړے شویدے په اختیار د شق ثالث سره چه مونږ وایو چه له دے فاء نه بعضِ معانی مونږ اخلو چه هغه معنی جزائیت ده په دے شان چه دا فاء مونږ فاءِ جزائیه بولو او ترجیح بلا مرجح نه لازم میږی ځکه چه مخکښے له دے فاء نه اما حرف شرط موجود ده چه قائم مقام ده د شرط نو دا اما قرینه مرجحه ده لپاره د دے چه مراد له دے فاء نه فاءِ جزائیه ده ځکه چه اما حرف شرط تقاضا د جزا د کوی، چه دا ورسته کلام دِ ځما د پاره جزاء وی، نو دا قد التمس به جزاء وی لپاره

ددے اما او کومه فاء چه داخله شي په جزاء باندِ هغه فاء جزائيه وي نوله دِ
فاء نه دا يوه معنى مراد کول نهٔ نو بیا ے معانى ترجيح مع المرجح ده او ترجيح
بلا مرجح نهٔ ده لکه معترض چه په اعتراض کښے ويئلى دى۔

اوڅلورم بحث: په بيان د معنى د التماس کښے ده چه دا مصدر ده لپاره د:
"التمسُ" فعل: نو زر ده کړه د اخبره چه يو امر ده او بل دعا ده او بل التماس ده
او دا درے واړه متحد دى په اعتبار د جنس سره ځکه چه د درے واړو جنس طلب
ده او مختلف دى په اعتبار د فصل سره په دِے شان چه د امر فصل استعلاء
ده او د دعاء فصل خضوع ده او د التماس فصل مساوات ده، نو امر عبارت
ده د هغه طلب نه چه مقارن وى د استعلاء سره يعنى د ا طلب کونکے چه امر ده
ځان به عالى ګنړى د مامور نه برابره خبره ده که په نفس الامر کښے علو د ده ثابته
وى او که نهٔ وى ورته ثابته، نو امر مستلزم ده استعلاء لره او نهٔ ده مستلزم
علو لره، او دعاء عبارت ده د هغه طلب نه چه هغه مقارن وى د خضوع او عاجزى
سره يعنى دا داعى به ځان عاجز ګنړى د مدعو نه، او التماس عبارت ده د هغه
طلب نه چه مقارن وى د مساوات سره يعنى چه دا سائل به ځان مساوى او برابر
ګنړى د مسئول عنه سره، خو لکن دا معنى لغوى د التماس ده، او په عرف د عامو
خلقو کښے دا التماس را نقل شوے ده له دِے لغوى معنى نه معنى د دعاء ته۔

تنبيه: زده کړه دا خبره چه غرض د شارح له امابعد نه تر بتوفيق الرحيم القادر
پورے جواب ورکول دى د دوه اعتراضونو نه، حاصل د اول اعتراض دا ده
چه معترض وائى چه علوم او فنون نحونو هم ډير دى بغير د علم نحو نه نو ځه وجه
ده چه شارح په دِے علم نحو کښے تصنيف وکړو او په بل علم کښے يے ونکړو، او د
دويم اعتراض حاصل دا ده چه معترض وائى چه په علم نحو کښے نحونو هم ډير
کتابونه موجود وه، ولے يے په بل متن او کتاب باندِ شرح ونکړه چه په دِے خاص

متن اوکتاب بانديِ شرح وکړه، او حاصل د هغه جواب چه شارح له دے دواړو اعتراضونو نه ورکړيدے دادے چه شارح وائي چه ما څکه په دے علم نحو کښے تصنيف وکړو او بيا په دے خاص کتاب بانديِ چه نظم د عواملو دے شرح وکړه او په بل کتاب بانديِ مِ ونکړه، څکه چه مانه بعضو هغه کسانو مطالبه او التماس وکړو دَ خبرے چه زۂ شرحه وليکم په دے نظم د عواملو بانديِ او دا نظم د عواملو په علمِ نحو کښے جوړ شويدے نو څکه ما د اتصنيف په علمِ نحو کښے وکړو او په دے خاص متن بانديِ ما شرحه وليکله او په بل متن بانديِ مِ شرحه ونۂ ليکله۔

ترجمه: "امابعد فقد التمس بعض الاخوان عني ان اكتب على نظم العوامل عدة اسطر": کۂ يو شے د اشياؤ نه موجود وي ورپسته د حمد او د صلوة نه نو يقيناً څمانه طلب وکړو بعضو ورونړو څما د دے خبرے چه زۂ وليکم په نظم العوامل بانديِ څۂ کرښے: "يكشف بها اصولها وفروعها وعملها ومدخولها واسمائها فشرعت في اسعاف مرامهم": داسے کرښے چه په هغه کرښو سره وضاحت راشي د اصولو د دے عواملو او د فروعو د دے عواملو او د عمل د دے عواملو او د مدخول دَ دے عواملو او د نومونو د دے عواملو، نو ما شروع وکړه په پوره کولو د حاجت او د مطلوب د دے بعض الاخوان کښے: "مما رايت في الكتب المعتبرة اوسمعت من الاساتذة المشفقة لا من فكري القاصر وذهني الفاتر بتوفيق الرحيم القادر" او داکرښے چه ما ليکلي دي دا څۂ حصه دہ د هغو مسائلو چه هغه مسائل ما ليدلي دي په معتبرو کتابونو کښے او يا مِ هغه مسائل اوريدلي وي د شفقت کونکو استاذانو نه او دا مسائل مانۂ دي ليکلي د فکرِ قاصرِ خپل نه او د سُست او ناقص ذهن نه او داکرښے ما ليکلي دي په توفيق د الله پاک چه د رحم او قدرت خاوند دے۔

تشريح: زما دہ کړه دا خبرہ چه اصول د عواملو هغه عواملو ته وائي چه هغوئ اصل وي په عمل کښے مثال لکه فعل نو دا له قبيلے د اصولونه دہ څکه چه دا اصل دہ

اوفروع دَ عواملو هغه عواملو ته وايي چه هغوئ فرع وي په عمل کښې د بل شي مثال لکه اسم فاعل چه دا فرعه ده لپاره د فعل په عمل کښې او په دې شرحه کښې شارح بيان د څلورو امورو کوي چه اول امر د هغه امورو نه اصول د عواملو دي او دويم امر له دې امورو نه فروع د عواملو دي او دريم امر له دې امورو نه عمل د عواملو ده او څلورم امر له دې امورو نه اسماء او نومونه دي د دې عواملو، او دا څلورم امر هغه مسائل دي چه يا شارح راخستي دي د معتبرو کتابونو نه، او يا يې اورېدلي دي د مشفقو اساتذه وُنه.

بَيَانُ المَعَانِي: زده کړه دا خبره چه ذهن عبارت ده له هغه قوت نه، چه تيار کړې شوې وي لپاره د ادراکاتو تصوريه او د ادراکاتو تصديقيه او توفيق په لغت کښې عبارت ده له جعل اسباب العبد موافقة لمطلوبه: يعني توفيق په لغت کښې عبارت ده له ګرځولو د اسبابو د عبد نه موافق د دې عبد د مطلوب سره، برابره خبره ده که دا مطلوب د عبد خير وي او که شر وي، او په فارسي کښې له همدغه معنى نه تعبير شوې ده په دې الفاظو سره چه التوفيق في اللغة: دست دادن و مدد کردن کسے را بکارے، او توفيق په اصطلاح د شريعت کښې عبارت ده له: جعل اسباب العبد موافقة لما هو خير في حقه عند الله، يعني توفيق په شريعت کښې عبارت ده له ګرځولو د اسبابو د عبد نه موافق لپاره د هغه مطلوب د عبد چه هغه مطلوب خير وي د دې عبد په حق کښې د الله په نزد، او ګرځيدل د اسبابو د عبد موافق کړې شول د مطلوب شر د دې عبد سره نو دېته په شريعت کښې خذلان وايي، نو توفيق شرعي اخص ده د توفيق لغوي نه، ځکه چه په توفيق شرعي کښې دا قيد لګيدلې ده چه دا مطلوب به خير وي او په توفيق لغوي کښې ورسره دا قيد نشته.

حل لغات: نظم: په لغت کښې جمع اللؤلؤ فی السلک ته وائي او په اصطلاح کښې نظم خلاف د نثر ته وائي او په دې مقام کښې دا اصطلاحي معنی مراده ده او اسطر جمع د سطر ده او سطر معنی ده کرښه او د: یکشف مصدر کشف را اخلی او کشف وضاحت ته وائي او اسعاف: پوره کول د حاجت ته وائي او مرام: معنی ده: مطلوب او د حررتها مصدر تحریر را اخلی، او د تحریر معنی ده لیکل، او قاصر معنی کوتاه، او فاتر: معنی سُست.

شعر ـــ

بعد تحمید خداوند و درود مصطفیٰ ـــ نعت آل پاک پیغمبر رسول مجتبیٰ

(ترجمه): پس له حمد د الله پاک نه او پس له درود نه په پیغمبر علیه السلام باندې او پس له صفت او مدح د آل د پیغمبر علیه السلام نه.

اقول: ابتدأ الناظم بعد قوله: بسم الله الرحمن الرحیم بحمد الله للوجهین غرض د شارح له دې عبارت نخپل نه جواب ورکول دي د یو اعتراض نه چه حاصل دهغه اعتراض دا ده چه معترض وائي چه ناظم وروسته د تسمیه نه شروع کړې د الله پاک په حمد باندې او یکار دا وه چه ناظم شروع کړې وې په مقصود کښې، چه بیان د عواملو ده، نو له دې اعتراض نه شارح دوه جوابه ورکړي دي اول جواب یې ورکړیده په دې عبارت نخپل سره: اما اداء للشکر الواجب الی آخره، او حاصل د دې جواب دا ده چه شارح ورته وائي چه ناظم څکه شروع وکړه په حمد باندې ورسته د تسمیه نه څکه چه دا نظم د عواملو او علم په دې عواملو باندې د الله له طرفه یو نعمت ده او شکر د نعمت اداء کول واجب دي نو لپاره د اداء د دې شکر واجبه ناظم په سر د نخپلو اشعارو کښې حمد راوړیده، او دویم جواب ورنه ئې ورکړه په دې قول نخپل سره کړیده چه: او لئلا یکون مخالفا للتنزیل الی آخره: او حاصل د دې جواب دا ده چه ناظم د تسمیه نه وروسته د اشروع په حمد باندې له دې یو رجوع نه کړیده او له واجه دا ده چه مخالفت د دې د کتاب را انشي د کتاب الله سره

ځکه چه په کتاب الله کښې ورا وسته د تسمیه نه حمد ذکر دے نو کچرته ناظم ورا وسته د تسمیه نه حمد نه وے ذکر کړے نو لازم شوے به وه مخالفت د کتاب الله او دغه شان که دا حمد یې نه وے راوړے نو لازم شوے به وه مخالفت د حدیث نه چه هغه په شان د حمد کښې راغلے دے، او دغه شان که حمد یې نه وے راوړے ورا وسته د تسمیه نو لازم شوے به وه مخالفت د طریقے د سلفونه ځکه چه د هغوئ طریقه دا ده چه ورا وسته د تسمیه نه هغوئ شروع کړیده په حمد کښې، نو چه کله ناظم دا حمد راوړو ورا وسته د تسمیه نه او ورا بانډې یې شروع وکړه نو دا رساله د ناظم موافقه شوه، هم د کتاب الله سره او هم په دے سره موافقت راغلو د حدیث سره یعنی ورباندې عمل راغلو او همدارنګ موافقت راغلو د طریقے د سلفو سره.

والعلم بحقائقها الخ: غرض د شارح له دے عبارت خپل نه جواب ورکول دی دیو اعتراض نه چه هغه په شارح بانډې وارد یږی حاصل د هغه اعتراض دا ده چه معترض وائی چه نه منم دا خبره چه دا نظم د عواملو نعمت دے چه دا حمد ئے په مقابل کښې شکر واقع شی او حاصل د جواب دا ده چه مراد زمونږ دا نه دے چه دا نفس نظم نعمت دے بلکه دا علم په حقائقو د عواملو بانډې نعمت دے او شکر نشته په نعمت توب د دے علم کښې.

فان قیل: لیس ههنا اداء للشکر الواجب الخ: دا دے کړه دا خبره چه دا اعتراض وارد دے په هغو ممکنو دوه جوابونو بانډې چه کوم دوه جوابه شارح په اقول عبارت سره ورکړی وه له اعتراض مقدر ته نه، نو حاصل د دے اعتراض دا ده چه معترض وائی چه نه منم دا خبره چه په راوړو د حمد سره اداء د شکر واجبه وشوه، او دغه شان نه منم دا خبره چه په دے حمد راوړو سره خروج وشو د مخالفت د امور ثلثه نه چه کتاب الله او حدیث او طریقه د سلفو ده ځکه چه دا قول د ناظم چه بعد تحمید خداوند اخبار دے د حمد نه او عین حمد نه دے، نو له دے اعتراض نه شارح

دوه جوابه ورکړیدی اول جواب یې ورکړیده په دې عبارت خپل سره: قلنا الاخبار عن الحمد حمد الخ او حاصل ددې جواب داده چه نه منم داخبره چه اخبار عن الحمد حمد نه ده بلکه اخبار عن الحمد بعینه حمد ده نو دا جواب د شارح منع ده په دې شان چه په دې عبارت کښې شارح منع کړې ددې خبرې نه چه اخبار عن الحمد عین حمد نه ده.

کما ان الاخبار عن الحسنات حسنات الخ: غرض د شارح په دې عبارت کښې تائید پیش کول دی لپاره ددې مخکښې جواب په دې شان چه شارح وائي چه د اخبار عن الحمد نظیر ده د اخبار عن الحسنات او اخبار عن الحسنات بعینه حسنات دی او دلیل ورباندې دا قول د پیغمبر علیه السلام ده چه من اخبر عن الحسنات فهو کفاعلها" او معنی ددې حدیث داده چه پیغمبر علیه السلام فرمائي چه هغه څوک چه خبر ورکړي د حسناتونه نو داکس په شان د کونکي ده ددې حسناتو، نو معلومه شوه چه داخبر د حسناتونه بعینه حسنات دی نو هرکله چه د حسناتو دا حکم شو چه اخبار ددې حسناتونه هم حسنات دی نو دا حمد نظیر ده لپاره د حسناتو نو ددې حکم به هم داوي چه اخبار عن الحمد به حمد وي ځکه چه کوم حکم دیو نظیر د پاره وي هم هغه حکم د پاره د هغه بل نظیر هم وي، او دویم جواب ددې

اصل اعتراض نه په دې عبارت خپل سره کړیده چه: والاخبار عن الشئ انما یکون ترجمة البتة الخ: او دا دویم جواب د شارح تسلیمي ده په دې شان چه په دې جواب کښې شارح تسلیم ددې خبرې کړیده چه اخبار عن الحمد عین حمد نه وي او حاصل ددې جواب داده چه منم چه اخبار عن الحمد حمد نه وي خو لکن دا خبر دیو شي نه ترجمه وي لپاره ددې شي او بیان وي لپاره د هغه شي کوم شے چه په قلب کښې موجود وي، نو په دې مقام کښې هم اول ناظم په قلب کښې حمد د الله تعالی کړیده او بیا ورسته له دې حمد نه خبر ورکړیده په لسان سره نو دا په قلب

کښې چه کوم شے موجود دے دا حمد دے او دا په لسان چه کوم شے جاري شوي دے د اخبار عن الحمد دے نو دے ناظم اګرچه په لسان باندې حمد د الله تعالیٰ نهٔ دے کړے، خو لکن په قلب باندې یې حمد د الله پاک کړے دے او حمد عام دے هم په لسان کیږي او هم په قلب باندې کیږي نو هر کله چه د ناظمؒ حمد صادر شوے اګرچه په قلب باندې صادر شوے دے نو اداء هم د شکر واجبه حاصله شوه او نه وجه هم وشوه د مخالفت د امور ثلثه نه چه کتاب الله او سنت او طریقه د سلفو ده۔

والتحمید مصدر من باب حمد الخ: په دې عبارت کښې غرض د شارح تفتازانيؒ: کول دي لپاره د تحمید په دې شان چه شارح وائي چه دا تحمید مصدر دے د باب تفعیل نه ماضي یې حمّد راځي په تشدید د میم سره او مضارع یحمّد راځي په تشدید د میم سره، او په دې تعریف باندې معترض اعتراض کوي حاصل د اعتراض دا دے چه معترض وائي چه دا تحمید په خپله هم مصدر دے نو د دے تعریف په مصدر سره باطل دے ځکه چه دا تعریف دے په خپل نفس او تعریف د شي په خپل نفس سره باطل دے بداهة، نو له دې اعتراض نه دوه جوابه ورکړے شوي دي، اول جواب دا دے چه مراد د تحمید نه لفظ د تحمید دے او مراد له دې تحمید نه مصدر نهٔ دے اګرچه ورباندې مصدر صادقیږي او مراد له مصدر نه مصدر دے نو په دې مقام کښې تعریف د لفظ د تحمید شوي دے په مصدر سره او دا تعریف د غیر دے په غیر سره او تعریف د شي نهٔ دے په خپل نفس سره، او دویم جواب له دې اعتراض نه دا دے چه مونږ ورته وایو چه مراد له تحمید نه هم مصدر دے خو لکن دا جزئي دے له جزئیاتو د مصدر نه او مراد له مصدر نه دا مطلق مصدر دے او کلي دے نو دا تعریف د جزئي دے په کلي سره، نو دا تعریف د شي نهٔ دے په خپل نفس سره بلکه تعریف د جزئي دے په کلي سره۔

توله د درود مصطفی حاصله یعنی د درود مصطفی عطف علیٰ قوله تحمید خداوند الخ
نه ده کړه دا خبره چه دا د درود مصطفی معطوف ده په تحمید خداوند او دا
قاعده ده چه معطوف په حکم د معطوف علیه کښ ده نو د تحمید نه مخکښ
لفظ د بعد ذکر ده نو دے د درود سره چه معطوف ده هم د سره لفظ د بعد
وی نو معنی د عبارات دا شوه چه د او وسته د حمد د الله پاک نه او د او وسته
له د درود نه په مصطفی بانډِ او په دے عطف بانډِ یو اعتراض وارد یږی،
حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه نه منم دا خبره چه د درود عطف
ده په تحمید بانډِ ځکه چه عطف تقاضا د حرف عاطف کوی او په دے مقام
کښ حرف عاطف نشته، اوله دِے اعتراض نه دوه جوابه دی اول جواب د اه
چه مونږ د ته وایو چه دا قاعده چه په عطف کښ لابدی ده د حرف عاطف
نه خاصه ده تر لسان عربی پورے یعنی چه په لسان عربی کښ یو شے عطف
شی په بل شی بانډِ نو په هغه کښ لابدی ده د حرف عاطف نه او دا شعر د
قبیلے د لسانِ فارسی نه ده نو په دیکښ دا عطف تقاضانهٔ کوی د حرفِ عاطف
او دویم جواب له دِے اعتراض نه دا ده چه مونږ د ته وایو چه دا خبره
صحیح ده چه عطف تقاضا کوی د حرف عاطف په هر لسان کښ خو لکن په دِے
شعر کښ دا حرف عاطف محذوف ده لپاره د رعایت د سجع۔

والمراد من الله د و د الرحمة الخ: غرض د شارح په دِے عبارت کښ جواب د
کول دی دیو اعتراض نه چه هغه وارد یږی په دِے مقام کښ په طریقے د
استفسار سره، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه د درود د عبارت
ده د صلوٰة نه او د صلوٰة دپاره دوه حقیقی معنے دی اوله معنی حقیقی لغوی
ده چه هغه دعاء ده او دویمه معنی حقیقی د صلوٰة معنی حقیقی شرعی ده، چه
هغه ارکان مخصوصه دی، نو چه عبد ته نسبت د صلوٰة وشی نو کله د ته مراد

دا اوله معنی حقیقی وی مثال لکه "نصلی علی محمد" او کله مراد ورنه ارکان مخصوصه وی لکه "نرید صلی" ای ادی الارکان المخصوصة، او چه کله نسبت د صلوٰۃ الله ته وشی نو بیا ورنه دا حقیقی معنی اخستل محال دی اونه اوله حقیقی معنی ورنه اخستل جائزدی چه دعاء ده ځکه چه دعاء محاله ده په حق د الله تع کښ اونه ورته دویمه حقیقی معنی اخستل جائزدی بلکه په دے حالت کښ به ورنه مجازی معنی اخستے شی او علاقه په مابین د معنی حقیقی او د دے معنی مجازی کښ سببیت ده ځکه چه مراد له معنی حقیقی نه دا اوله معنی ده او هغه سبب ده او د ا مجازی معنیٰ چه رحمت ده، نو معترض وائی چه په دے مقام کښ د صلوٰۃ نه کومه معنی مراده ده او صلوٰۃ چاته ور منسوب ده، او حاصل د جواب دا ده چه په دے مقام کښ د ا دروړ چه عبارت ده د صلوٰۃ نه منسوب ده الله پاک ته ځکه ورنه مراد درود او صلوٰۃ د الله ده او مراد ورنه مجازی معنی ده چه هغه رحمت ده او افاضة الخیر ده.

قوله مصطفی اصله مصتفی بالتاءِ فقلبت التاء طاء بناء علی القاعدة الخ: په دے مقام کښ د شارح دوه غرضونه دی اول غرض د شارح بیان د اصل د مصطفی ده په دے شان چه دا مصطفی په اصل کښ مصتفی وه او دویم غرض د شارح بیان د اعلال ده په مصطفی کښ په دے شان چه په دے مصطفی کښ اعلال د اسے شوے ده چه دا تاء د مصتفی بدله شوه په طاء سره نو ورنه مصطفی جوړ شویده او دا اعلال مبنی ده په یو قاعده بانډې چه هغه قاعده دا ده چه کله دا تاء د باب افتعال واقع شی وروسته د یو د حروف مستعلیه مطبقه نه نو بیا دا تاء بدلولے شی په طاء بانډې په طریقه د وجوب سره او په دے مصطفی کښ هم دا تاء د باب افتعال ده ځکه چه مصتفی صیغه د اسم مفعول ده د باب افتعال نه او دا تاء واقع شویده وروسته د صاد نه او صاد د حروفِ مستعلیه مطبقه نه ده نو له دے وجه نه دا تاء بدله شوه په طاء بانډې نو ورنه مصطفی جوړ شو، او د ابدلول د تاء

ځکه واجب دی ځکه چه تاء د حروف منخفضه نه ده او په مابین د حروف منخفضه او حروفِ مستعلیه مطبقه کښې تضاد ده نو د اصاد او تاء جمع کیدل جمع د متضادین ده نو ځکه دا تاء بدل کولے شي په طاء سره او دا طاء د حروفو مستعلیه مطبقه نه ده نو د دے جمع کیدل ثقل نه پیدا کوي په لسان بانډې په خلاف د جمع کیدلو د تاء د صاد سره، او په دے اعلال بانډې معترض یو اعتراض کوي حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائي چه هرکله چه په مصطفیٰ کښې اجتماع د متضادینو لاغلے ده نو دا اجتماع لکه ځنګه چه دفعه کولے شي په بدلولو د تاء سره په طاء بانډې نو هم دا رنګ دا اجتماع ختمیږي د دے په عکس سره، چه عکس عبارت ده په دے مقام کښې له دینه چه دا صاد بدل شي په طاء سره او یا په یو بل حرف سره نو ولے عکس او نکړے شو نو جواب له دے اعتراض نه دا ده چه موږ وایو چه دا عکس نه کوو ځکه چه تاء حرفِ زائد ده او حرف زائد لائق دد ے وي چه تغیر او تصرفات پکښې وشي په خلاف د صاد په دے شان چه صاد حرف اصلي ده۔

تنبیه:- زه ده کړه دا خبره چه حروف مستعلیه عبارت دی له دے حروفو نه "صغطظ خقق" نو په دے حروفو کښې داخلو او لنی حروف مستعلیه مطبقه دی چه اول صاد ده او دویم ضاد ده او دریم طاء ده او څلورم ظاء ده، او دا دریمے حروفِ مستعلیه دی فقط چه اول پکښې خاء ده او دویم غین ده او دریم قاف ده

معناه پاک کړده شده من الصفات الذمائم الخ: غرض د شارح په دے عبارت کښې بیان د معنی د مصطفیٰ ده چه معنی د مصطفیٰ دا ده چه هغه ذات چه پاک کړے شوے ده د بدو صفاتو بشریه نه او بیکاره اخلاقو انسانیه نه یعني له بدو صفاتو نه به پاک وي او هم دا رنګ د بیکاره اخلاقو نه به پاک وي، نو ضروري به موصوف وي په صفات حسنه سره او په اخلاقِ محموده سره ځکه چه ارتفاع د نقیضینو باطل ده او ځینے علماؤ د علم لغت معنی د مصطفیٰ په برګزیده سره کړیده یعني مصطفیٰ معنی هغه

کس او ذات چه غوره کړے شوے وی نو د ا پیغمبر علیه السلام هم غوره کړے شوی په مابین د انسانانو کښې لپاره د نبوت او رسالت۔

قوله نعت آل پاک هوایضا عطف علی قوله تحمید الخ: غرض د شارح په دے عبارت خپل کښې بیان د معطوف علیه د نعت آل پاک ده نو شارح وائی چه دا نعت آل پاک هم عطف ده په تحمید باندې نو دا نعت آل پاک به هم داخل وی لاندې د "بعد" نه لکه څنګه چه تحمید داخل ده ځکه چه معطوف په حکم د معطوف علیه کښې وی نو معنی د عبارت د ناظم دا شوه چه ورسته له نعت او صفت د آل پاک د پیغمبر علیه السلام نه په دے مقام کښې یو اعتراض واردیږی حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه څه وجه ده لپاره د ناظم چه د نعت ذکر کړے او صفت یے ذکر نکړو او دواړه معنی یوه ده او جواب له دے اعتراض نه دا ده چه دا صفت مستعملیږی هم په مدح کښې او هم په ذم کښې او دا نعت مستعملیږی په مدح کښې فقط او مقصود د ناظم په دے مقام کښې مدح د آل ده او دا نعت صریح ده په مدح کښې نو ځکه ناظم دا نعت ذکر کړو او صفت یے ذکر نه کړو ځکه چه صفت غیر صریح ده په مدح کښې ځکه چه په صفت کښې هم احتمال د مدح شته او هم پکښې احتمال د ذم شته۔

ثم الآل علی قسمین نسبی وهو اولاد علی و جعفر الخ: غرض د شارح په دے عبارت خپل کښې جواب ورکول دی د یو اعتراض نه چه هغه واردیږی په مصنف باندې چه ناظم ده، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه مصنف ولے مخالفت وکړو د عامو مصنفینو نه په دے شان چه هغوی په صلوة کښې ذکر د صحابه کړیدے، او مصنف نه ده کړے، او حاصل د جواب دا ده چه مراد له آل نه چه په کلام د مصنف کښې ذکر ده آل حسبی ده او آل حسبی په هر مؤمن باندې صادقیږی نو دا صحابه هم داخل دی په آل کښې نو په کلام د مصنف کښې هم اصحاب ذکر دی په ضمن د آل کښې نو مصنف مخالفت نه ده کړے د نورو مصنفینو نه۔

تشریح: زده کړه دا خبره چه آل په څېل کوړ کښې په دوه قسمه دے اول قسم آلِ نسبي دے او آل نسبي عبارت دے د هغه خلقو نه چه په هغوئ باندې صدقات واجبه حرام وي چه هغوئ اولاد د حضرت علي او د حضرت جعفر او د حضرت عقيل او د حضرت حمزه او د حضرت عباس او د حارث بن عبد المطلب دي او خلفاءِ اربعه دي نو په دے کسانو باندې صدقه واجبه حرامه ده او دوئ ته آل نسبي د پيغمبر عليه السلام وائي، او دويم قسم آل حسبي دے چه ورته آل نسبتي هم وائي او آل حسبي عبارت دے د هغو خلقو نه چه هغوئ باندې دا قول د پيغمبر عليه السلام صادقيږي چه كل تقي ونقي فهو آلي، يعنې هر متقي انسان زما آل دے او مراد له تقي او نقي نه په دے حديث کښې مطلق مؤمن دے او مراد هم په دے عبارت د مصنف کښې په مذهب د محققينو باندې مطلق مؤمنان دي په دے مقام کښې معترض يو اعتراض کوي حاصل د اعتراض دا دے چه معترض وائي چه تقي عبارت دے د هغه کس نه چه هغه ځان ساتي د شبهاتو نه نو له دے مخکښې حديث نه دا معلوميږي چه آل حسبي د پيغمبر عليه السلام به اتقياء وي فقط او فساق به آل نه وي ځکه چه فاسق ته تقي نشي وئيلے او نه ورباندې تعريف د تقي صادقيږي ځکه چه فاسقان ځان نه ساتي د شبهاتو نه او حال دا دے چه دا فساق هم داخل دي په آل حسبي د پيغمبر عليه السلام کښې او جواب له دے اعتراض نه دا دے چه مراد له تقوی نه هغه تقوی من الشرک ده نو متقي هغه انسان ته وائي چه ځان په ساتي د کفر نه نو د اتقی صادقيږي په فساقو باندې نو دا فساق نه خارجيږي د آل نه.

قوله رسول على وزن فعول في اللغة بمعنى فرستاده شده وفي الشريعة الخ: غرض د شارح په دے عبارت څېل کښې معنی لغوي د رسول او معنی اصطلاحي شرعي د رسول بيانول دي، نو رسول فعول وزن دے په لغت کښې فرستاده شده ته وائي يعنې هغه کس ته وائي چه ليګل شوے وي، او معنی اصطلاحي شرعي د رسول

داده چه: هومن نزل علیه الوحی والملک برؤیة اومن غیر رؤیة: یعنی رسول عبارت ده د هغه انسان نه چه په هغه باندې وحی نازله شوې وي او ور باندې فرښته رانازله شوې وي برابره خبره ده که دا فرښته دې رسول لیدلې وي او که نه.

واما ما جاء فی تعریفه وهو انسان بعثه الله الخ: غرض د شارح په دې عبارتِ نقل کښې جواب ورکول دي دیو اعتراض نه، حاصل د اعتراض داده چه معترض وایي چه څه وجه ده لپاره د عدول او د تجاوز د شارح د تعریف مشهور نه د رسول نه چه هغه داده چه: هو انسان بعثه الله تعالی لتبلیغ الاحکام الشرعیة معه کتاب متجدد او معنی د دې تعریف داده چه رسول عبارت ده د هغه انسان نه چه الله تعالی رالیږلی وي خلقو ته لپاره د تبلیغ د احکامو د شریعت او ورڅه سره به نوې کتاب هم وي، او حاصل د جواب داده چه وجه لپاره د عدول د دې تعریف مشهور نه داده چه دا تعریف مشهور مخدوش ده په دې شان چه له دې تعریف نه دا معلومیږي چه په رسول کښې دا شرط ده چه ور سره به متجدد کتاب وي او حال داده چه اولاد د ابراهیم علیه السلام رسولان وه او ور سره نوې کتاب نه وه، نو لکن د اجواب د شارح مخدوش ده په دې شان چه مونږ ورته وایو چه دا کتاب چه شرط ده په رسول کښې مراد ور نه هغه کتاب ده چه په نزول کښې به متجدد وي برابره خبره ده که له دینه مخکښې نازل شوې وي او که نه وي، او کوم رسول به چه وفات شو نو د هغه نه به ورسته چه کوم پیغمبران او رسولان راغلو نو ور باندې به بیا هغه کتاب رانازل شو، نو د اولاد د ابراهیم علیه السلام سره هم نوې کتاب وه اگرچه ور سره اصالةً نه وه خو لکن په طریقې د میراث سره د پلار نه ورته پاته وه چه هغه ابراهیم علیه السلام ده نو د اولاد د ابراهیم علیه السلام سره کتاب متجدد وه چه هغه تجدد د په اعتبار د نزول سره وه.

ولو اکتفی بقوله لتبلیغ احکام الشریعة الخ: غرض د شارح بیان د منشاء د مخدوشیت

دا په دې شان چه شارح وائي چه منشا او علت لپاره د مخدوشیت ددې تعریف مشهور دا لفظ د "معه کتاب متجدد" دا په دې شان چه دا مخدوش والی له وجه ددې خاص لفظ نه راغلی دې او که لېرې کړې شي نو دا لفظ د "معه کتاب متجدد" حذف شي، نو بیا دا تعریف سالم پاتې کیږي په دې شان چه بیا له دې تعریف نه اولاد د ابراهیم علیه السلام نه خارجیږي ځکه چه دا باقي تعریف په اولاد د ابراهیم علیه السلام باندې صادقیږي، او جواب له دې کلام د شارح نه دا دا چه مونږ ورته وایو چه لېرې کړه دا لفظ مذکوره ـ ورنه حذف شي نو بیا فرق نه حاصلیږي په مابین د رسول او د نبي کښې او حال دا دا چه ددې دواړو ترمینځه فرق شته په دې شان چه نبي اعم مطلق دې، او رسول اخص مطلق دې او ددې دواړو ترمینځه نسبت د عموم خصوص مطلق دې.

قوله مجتبی اسم مفعول من باب الافتعال الخ: په دې عبارت کښې د شارح درې غرضونه دي اول غرض د شارح بیان د صیغې د مجتبیٰ دې چه دا مجتبی صیغه د اسم مفعول ده د باب افتعال نه او دویم غرض د شارح بیان د معنی لغوي د مجتبی دې، نو شارح وائي چه مجتبیٰ برګزیده د عالم ته وائي یعنې هغه کس ته وائي چه هغه غوره کړې شوې وي په ټول عالم کښې، او دریم غرض د شارح اقامت د دلیلونو دې په ثبوت د وصف د مجتبی باندې لپاره د پیغمبر علیه السلام، نو شارح دوه دلیلونه قائم کړیدي په ثبوت د وصف د مجتبی باندې لپاره د پیغمبر علیه السلام اول دا حدیث دې چه: انک مختار الرسل وامتک مختار الامم نو دا حدیث قدسي دې او د الله پاک کلام دې او په دې حدیث کښې الله پاک پیغمبر علیه السلام ته خطاب کړیدې چه ته په ټولو رسولانو کښې غوره رسول یې او ستا امت په ټولو امتونو کښې غوره امت دې، او دویم دلیل د ایت دې چه: "وانک لعلی خلق عظیم" او معنی ددې ایت دا دې چه الله تعالیٰ خطاب کوي پیغمبر علیه السلام ته چه پیغمبره! ته یقینا په لوئې اخلاقو باندې موصوف یې او متلبس یې خو لکن په دې دویم دلیل باندې چه ایت دې معترض اعتراض کوي چه دا ایت مثبت

نۀ ده لپاره د مدعی ځکه چه له دې ایت نه خو صرف دا خبره معلومیږی چه د پیغمبر علیه السلام لوئ اخلاق دی او دلالت کوی په ثبوت د خلق عظیم باندې لپاره د پیغمبر علیه السلام او دلالت نکوی په دې خبره باندې چه پیغمبر علیه السلام مختار ده په مابین د ټول عالم کښې او مختار ده د ټول عالم نه، او جواب له دې اعتراض نه دا ده چه موږ وایو چه له دې ایت نه اګرچه په اعتبار د مطابقت سره دا معلومیږی چه پیغمبر علیه السلام ته خلق عظیم ثابت دی خو لکن په طریقې د التزام سره دلالت کوی په دې خبره باندې چه دا پیغمبر علیه السلام مختار او ممتاز ده په مابین د ټول عالم کښې ځکه چه هرکله دا خبره ثابته شوه چه پیغمبر علیه السلام په لوئ اخلاقو باندې موصوف ده نو له دې نه دا ضرور لازمیږی چه دا پیغمبر علیه السلام به مختار وی په نیز د الله ځکه چه محبت د الله د چا سره په اندازه دا عمالو د هغه کس سره وی نو هرکله چه د پیغمبر علیه السلام اخلاق لوئ دی نو له دې وجه نه به ضرور د الله تعالی سره محبت وی او مختار به وی په نیز د الله تعالی۔

تنبیه: دا ده کړه دا خبره چه په دې ایت کښې لفظ د خلق په ضمه د "خاء" سره او په ضمه د لام سره ده او دا جمع ده او مفرد د دې را ځی په ضمه د خاء سره او په سکون د لام سره نو په جمع کښې دا وسط حرف متحرک ده په ضمه سره او په مفرد کښې دا وسط حرف ساکن ده او تعریف د خلق چه مفرد شی دا ده چه: الخلق هی ملکة تصدر عنها الافعال الحمیدة بسهولة: یعنی دا یوه ملکه ده یعنی کیفیت راسخه ده چه له دیته صادریږی افعال محموده په سهولت سره، او په خلق عظیم د پیغمبر علیه السلام کښې درې قوله دی، اول قول دا ده چه خلق عظیم د پیغمبر علیه السلام عمل بالقران وو، او دویم قول دا ده چه خلق عظیم د پیغمبر علیه السلام "جود بالکونین والتوجه الی خالقهما" ده، یعنی — خلق عظیم د پیغمبر علیه السلام عبارت ده له سخا او جود د پیغمبر علیه السلام نه هم په دنیا کښې او هم په اخرت کښې او توجه د هغوی

وه الله ته چه خالق دے لپاره د دنیا او د آخرت، جو د پیغمبر علیه السلام په دنیا کښې دا وه چه خلقو ته یې هدایت کاوه طرف د دین او د نجات ته، او په آخرت کښې جود د پیغمبر علیه السلام دا ده چه شفاعت به کوی د خپل امت او په حوض کوثر باندې به اوبه تقسیموی خلقو ته، په دې مقام کښې یو اعتراض واردیږی حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه د اخلق موصوف دے او د اعظیم وړته صفت دے په دې آیت مذکوره کښې او حال دا ده چه د اخلق جمعه ده او د اعظیم مفرد ده نو مطابقت فوت ده په مابین د موصوف او د صفت کښې په جمعیت او افراد کښې، او سره له دینه چه مطابقت په مابین د موصوف او د صفت کښې شرط ده، او له دې اعتراض نه دوه جوابه وړاکړے شوی دی اول جواب دا ده چه د اخلق مفرد ده او جمعه نه ده موصوف هم مفرد ده او صفت هم مفرد ده، نو مطابقت موجود ده په مابین د موصوف او د صفت کښې، او دویم جواب دا ده که منو ده ومنو چه د اخلق جمعه ده خو لکن جمعه په تاویل د جماعة سره وړ نه مفرد مؤنث جوړیږی، نو هر کله چه د اخلق وړ سته د تاویل نه مفرد مؤنث شو، نو د اعظیم وړته صفت ده ځکه چه مطابقت موجود شو په مابین د موصوف او د صفت کښې، په دې شان چه دواړه مفرد دی، خو لکن بیا معترض اعتراض کوی، حاصل د اعتراض دا ده چه له دې تاویل نه وړ سته اگرچه مطابقت راغلو په افراد کښې، خو لکن په تذکیر او تانیث کښې د مطابقت نه شته، ځکه چه په دې وقت کښې د اخلق مؤنث ده او د اعظیم مذکر ده او حال دا ده چه مطابقت په تذکیر او تانیث کښې هم شرط ده په مابین د موصوف او د صفت کښې، نو جواب له دې اعتراض نه دا ده چه منو وړته وایو چه د اعظیم فعیل وزن ده په دیکښې مذکر او مؤنث برابر او مساوی وی په دې شان چه د مذکر دپاره هم صفت راځی او د مؤنث دپاره هم صفت راځی۔

(((شعر)))

هست مدح خسرو غازی معزالدین حسین
جامی دین آفتاب معدلت ظلِ خدا

(ترجمه): یعنی وراسته له حمد او صلوة نه ده مدح د بادشاه چه غازی ده او عزت ورکونکے ده اهل دین لره چه علماء دی او نوم د دے بادشاه حسین ده او دا بادشاه حامی ده لپاره د دین یعنی محافظ ده لپاره د دین او لمر ده لپاره د عدل او رحمت د الله ده.

وانما الحق المدح بهما للامر الاستحسانی الخ: غرض د شارح په دے عبارت خپل کښ جواب ورکول دی د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه څه وجه ده ناظم لره چه ده ملحق کړیده مدح د سلطان، د حمد او صلوة سره، او حاصل د جواب دا ده چه دا الحاق د مدح د بادشاه د حمد او صلوة سره لپاره د امر استحسانی دی، یعنی دا داوهال د مدح امر مستحسن ده په دے شان چه لابدی ده لپاره د مسلم چه دعا وکړی بل مسلم ته او بیا خاصکر بادشاه ته چه عادل وی، نو له دے وجه نه دا مدح د بادشاه چه په کښ دعاء موجوده ده لپاره د بادشاه امر مستحسن ده، او وجه لپاره د استلزام د مدح دعاء لره په دے وجه بانې ده، چه هرکله چه ده د بادشاه مدح وکړه په صفاتو حمیده سره، نو له دے صفاتو نه علت د استحقاق د ثواب معلومیږی، او هرکله چه علت د ثواب معلوم شئ نو دا داسے ده لکه مطالبه د ثواب د الله نه لپاره د دے بادشاه.

قوله: خسرو لفظ عام یطلق علی کل امام الخ: نا ده کړه دا خبره چه د خسرو لپاره دوه معانی دی، اول معنی لغوی د خسرو ده نو معنی لغوی د خسرو دا ده چه د خسرو معنی ده "صاحبِ تامین" یعنی خاوند د نامکے، او له دے اولنئ معنی نه را نقل شویده دویمے معنی ته، چه دویمه معنی د خسرو دا ده چه خسرو لقب ده لپاره د بادشاهانو د فارس، او بیا وراسته له دے دویمے معنی نه په خسرو کښ

عموم وشو په دې شان چه خسرو د هرې علاقې بادشاه ته ویئلی شي برابره خبره ده که هغه بادشاه د فارس وي او که د بل ځائې وي، نو دا عموم چه په کښې راغلو چه خسرو مطلق بادشاه ته ویئلی شي نو دا د ړ یمه معنی ده یعنې د خسرو او دا خسرو په اصل کښې کسرې وه نو دا کسرې فارسي لفظ ده اوله دې نه عربي لفظ خسرو جوړ شوے ده نو له دې وجه نه ویئلی شي چه خسرو معرب د کسرې ده یعني دا خسرو عربي کړے شوے ده د کسرې نه.

تشریح: ن ده کړه دا خبره چه اسم په درې قسمه ده اول قسم ته عَلَم ویئلی شي او دا عبارت ده د هغه اسم د انسان نه چه په وقت د ولادت کښې ورته مور او پلار متعین کړے وي مثال لکه عمر چه دا علم ده یعنې د خلیفه ثاني او دویم قسم اسم کنیه ده او دا عبارت ده د هغه اسم نه چه هغه مصدر وي یا په "ابن" سره لکه ابن عباس یعنې د هغه معین صحابي چه عبد الله بن عباس ده او یا مصدر وي په "اب" باندې لکه ابوحفص یعنې د خلیفه ثاني، او لقب عبارت ده د هغه اسم نه چه هغه به دلالت کوي په مدح باندې مثال لکه فاروق چه دا لقب ده یعنې د خلیفه ثاني، او دا فاروق دلالت کوي په مدح باندې چه خلیفه ثاني فرق ورکوونکے ده په مابین د حق او د باطل کښې، او بل مثال لکه "تابط شرا" نو دا یو اسم ده یعنې د یو سړي مخصوص د سړي بو او دا اسم دلالت کوي په ذم باندې، نو دا خسرو لفظ هم په اصل کښې لقب وه یعنې د بادشاهانو د فارس او بیا ورسته په کښې تعمیم وشو په دې شان چه د دې خسرو اطلاق په هر بادشاه باندې کیږي، او دا خسرو علم نه ده یعنې د معین بادشاه بلکه هر بادشاه ته خسرو ویئلی شي لکه دا "رجل" لفظ او دا "فلان" لفظ، نو د رجل اطلاق هم په هر کس باندې کیږي، او همدا رنګ د فلان اطلاق هم په هر کس باندې کیږي. او دا "خسرو" نظیر ده یعنې د "قیصر" په دې شان چه لکه څنګه چه "قیصر" لقب ده

په اصل کښې لپاره د بادشاهانو د روم، نو دغه شان د خسرو هم په اصل کښې لقب ده لپاره د بادشاهانو د فارس، او فارس نوم ده لپاره دیو ولایت په ایران کښې او فارس دا نوم ده لپاره دیو کس چه هغه فارس بن بهلول بن سام بن نوح ده او دے ښارته ځکه فارس وائي چه دا ښار په تصرف او ملکیت د دے فارس بن بهلول کښې وه، او بیا په دے فارس کښې څلور ښارونه دي چه اول شیراز ښار ده او دویم اصفهان ښار ده، او دریم کرمان ښار ده او څلورم یزد ښار ده، او د اقیصر چه لقب ده لپاره د بادشاهانو د روم په اصل لغت کښې یې معنی دا ده چه قیصر هغه ماشوم ته وائي چه مور د هغه مړه شي او دا ماشوم وروسته د مرګه د مور نه پیدا شي، او دا لقب له دے وجه نه لپاره د بادشاهانو د روم جوړ شوې ده، ځکه چه اول بادشاه د روم پیدا شوے وه وروسته د مرګ د مور خپل نه، نو ځکه د ا"قیصر" لقب جوړ شو لپاره د دے بادشاهانو.

قوله: غازی من باب غزا یغزو غزاء وغزوة الخ: نه ده کړه دا خبره چه یو لفظ د غازی ده په زاء سره چه دا صیغه د اسم فاعل ده او ماضی د دے غزی راځي او مضارع یغزو راځي او مصدر غزاء هم راځي او غزوة هم راځي نو دا په معنی د جهاد کونکی سره ده په لغت کښې او بیا دا غازی په زاء سره په شریعت کښې په دوه قسمه ده اول غازی حقیقي ده او دا هغه غازی ته وائي چه محاربه او جګړه وکړي د خپل نفس او شیطان سره، او دویم قسم غازی عرفي ده او دا عبارت ده د هغه غازی نه چه جګړه وکړي د کفارو سره او د هغو خلقو سره چه هغوئ مخالفت کوي د پیغمبر علیه السلام د شریعت نه، او دویم لفظ د"غاذی" ده په ذال سره او معنی د دے د قوت موندونکے ده او دا مشتق ده د غذا یغذ و غذاء نه کښې چه غازی ذکر ده، مراد ورنه په "زاء" سره ده.

او غذاء وائي طاقت موندلو ته، نو غاذی معنی طاقت موندونکے، او په دے کلام

حلّ لغات: نو دہ کړه داخبره چه ابطحي چه ذکر دہ په کلام د شارح کښې صفت دہ پاره د پیغمبر علیه السلام او د ابطحي معنی داده منسوب بسوئے ابطح، او ابطح یو ځای دے چه په مابین د مکه او د طائف کښې دے او پیغمبر علیه السلام ته ځکه ابطحي وائي، ځکه چه پیغمبر علیه السلام د مکه اوسیدونکے وو چه وائی ته د ابطح نزدے وو۔

قوله: معز الدین: هو لفظ مرکب الخ: نو دہ کړه داخبره چه د امعز الدین لفظ مرکب دہ، چه مرکب شوید لہ دوه کلمو نه چه اوله کلمه یکښې لفظ د معز دہ چه دا مضاف دہ او دویم لفظ په کښې الدین دہ چه دا مضاف الیه دہ، او د امعز اسم فاعل صیغه دہ د باب اکرم یکرم نه چه باب افعال دے او د امعز په اصل کښې معزز وو دوه زاء ګانے په کښې موجود دے وے او قاعده د ادغام وائی ته متوجه ځکه چه یکښې دوه حرفونه د یو جنس جمعه شوے وو نو د اوله زاء مدغمه شوه په دویمه زاء کښې نو وائی ته معز جوړ شو، نو معنی د عبارت داشوه چه د اباد شاه عزت ورکونکے دہ دین ته، ځکه چه معز په معنی د عزت ورکونکی سره دہ نو هر کله چه د معز الدین معنی عزت ورکونکے شوه، نو په دے باندې یو اعتراض واردیږی چه هغه شارح رانقل کړیدہ په دے عبارت نجیل سره چه: **فان قیل: الاعزاز لایتصور الا فی المحسوس والدین لیس بمحسوس الخ:** او حاصل د دے اعتراض داده چه معترض وائی چه عزت محسوس شی ته ورکولے شی او دین خو عبارت دہ د مسائلو نه او قواعدو نه او دا غیر محسوس دی نو دین ته عزت ورکول نه متصور کیږی، نو معنی د معز الدین غیر صحیح دہ، او له دے اعتراض نه شارح جواب په دے عبارت نجیل سره ورکړیدہ چه: **قلنا هذه العبارة بحذف المضاف الخ:** او حاصل د جواب داده چه مونږ وائی ته وایو چه د اعبارت په حذف د مضاف سره دہ چه هغه مضاف لفظ د اهل دہ، نو تقدیر د عبارت داسے شو چه معز اهل الدین

او مراد له اهل الدین نه علماء دی او علماء محسوس دی نو د دوی نه عزت و ر کول متصور دی ځکه چه دوئ محسوس دی۔

قوله: حسین هو اسم محض للسلطان الخ: نه ده کړه داخبره چه د احسین نوم د ه لپاره د هغه بادشاه چه د اناظم یے مدحه کوی او د احسین اسم مصغر ده لپاره د حسن او د احسن مکبر ده او د اتصغیر یا لپاره د تعظیم ده او یا لپاره د تشفیق ده لکه څنګه چه حسین نوم د پیغمبر علیه السلام نوسی ته کیښودل شوی ده لپاره د تعظیم دده او لپاره د تشفیق دده۔

حل لغات: نه ده کړه داخبره چه سبط وایی نوسی ته او مراد د امام السبط نه امام حسین ده۔

قوله: حامی الدین: وهو ایضا مرکب من کلمتین الخ: نه ده کړه داخبره چه د احامی الدین هم لفظ مرکب ده لکه څنګه چه معز الدین لفظ مرکب ده، او د احامی صیغه د اسم فاعل ده د باب د حمی یحمی حمایة او د احمی یحمی د باب د ضرب یضرب نه ده لکه رمی یرمی چه څنګه د ضرب یضرب نه ده او حمایت اعانت او امداد ته وایی، او په دے "حامی الدین" باندې هم اعتراض وارد یږی چه کوم اعتراض په "معز الدین" باندې واردیده، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وایی چه د حامی الدین معنی نه ده صحیح، ځکه چه معنی دا ده چه دا بادشاه امداد کونکی ده دین سره او امداد د محسوس شی سره کیږی او کوم شے چه غیر محسوس وی د هغه په باره کښ تصور د امداد نشی کیدے، او له دے نه هم هغه جواب ده کوم جواب چه د معز الدین د اعتراض نه شوے وه، نو حاصل د جواب دا ده چه موږ وایو چه د "حامی الدین" عبارت په حذف د مضاف سره ده چه هغه مضاف لفظ د اهل ده، نو تقدیر د عبارت دا سے شو چه "حامی اهل الدین" او مراد له اهل الدین نه علماء دی، نو په وقت د تقدیر د مضاف کښ معنی دا جوړیږی چه دا بادشاه امداد

کونکے ده د علماؤ سره او امداد د دے علماؤ سره منصوص ده ځکه چه علماء له قبیلے د، محسوساتو نه دی، او دین په لغت کښې مصدر ده د دان یدین نه نو دان ورته ماضی ده او یدین ورته مضارع ده او دینا مصدر ده، او معنی لغوی د دین انقیاد، او تابعداري ده، او اصطلاحی شرعی معنی د دین دا ده، چه دا دین نوم او علم ده بیاره د هغه احکامو چه کوم نازل شوے وی د الله له طرف نه په پیغمبر علیه السلام نو معنی اصطلاحی شرعی د دین احکام منزله علی النبی دی، او په دے مقام کښې مراد له دین نه چه مصدر ده، د مفعول معنی مراد ده چه دین معنی ده هغه احکام چه منقاد ده وی یعنی د هغوئ د پاره انقیاد او تابعداری شوے وی.

قوله: 'افتاب معدلت الافتاب علم الشمس بالفارسیة والمعدلة مصدر میمی الخ' نو ده کړه دا خبره چه 'افتاب نوم ده لپاره د لمر په فارسئ ژبه کښې' او معدلت مصدر میمی ده، او مصدر میمی عبارت ده د هغه مصدر نه چه په سر کښې ئے میم حرف وی او معنی به ئے د مصدر وی نو دا معدلت هم مصدر میمی ده ځکه چه په دے سر کښې ئے میم ذکر ده او دا عدل ضد د ظلم ده په دے شان چه عدل، او معدلت عبارت ده له تسویه نه بین الخصوم یعنی عدل دیته وائی چه د جګړه کونکو تر منځه مساوات قائم کړے شی او یو ته ناحقه ترجیح ورنکړے شی په بل بانډې لکه څنګه چه ظلم عبارت ده له عدم التسویه بین الخصوم نه یعنی ظلم دیته وائی چه د جګړه کونکو تر منځه مساوات قائم نکړے شی بلکه یو ته ناحقه ترجیح ورکړے شی په بل بانډې، په دے مقام کښې معترض اعتراض کوی 'حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه ناظم تشبیه ورکړے ده د عدل د بادشاه د شمس سره نو دا عدل د بادشاه مشبه ده او دا شمس مشبه به ده او دا قاعده ده چه مشبه مقدم کولے شی په مشبه به بانډې، نو باید چه په دے مقام کښې هم ناظم دا معدلت او عدل مقدم کړے وے او دا شمس ئے مؤخر کړے وائے او حال دا ده چه ناظم

شمس مقدم کړیده چه مشبه به دهٔ او جواب له دے اعتراض نه دا ده چه مونږ وايو چه دا مشبه دلته لپاره دیو ضرورت مقدمه کړے شویده چه هغه ضرورت سجع او وزن ده څکه چه کچرته دا معدلت مقدم کړی په آفتاب باندې بیا سجع او وزن نه برابریږی او د ضرورت دپاره تقدیم د مشبه به جائز ده په مشبه باندې بیا معترض اعتراض کوی، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه په تشبیه کښې لابدی ده دا داة د تشبیه نه او په دے مقام کښې اداة د تشبیه نشته او جواب له دے اعتراض نه دا ده چه اداة د تشبیه په هغه وقت کښې راوړلے شی چه په کوم وقت کښې دا مشبه مقدم وی په مشبه به باندې او په دے مقام کښې دا مشبه مؤخر ده د مشبه به نه او په وقت د تاخیر کښې اداة د تشبیه راوړل نه دی ضروری

نا ده کړه دا خبره چه په دے شعر د ناظم کښې په اعتبار د ظاهر سره تشبیه د بادشاه ورکړے شویده د شمس سره، خو لکن په حقیقت کښې تشبیه د معدلت د بادشاه ورکړے شویده د شمس سره، نو دا مخکښې دوه اعتراضه چه مونږ ذکر کړل دا بناء ده په حقیقت باندې او دا وړسته عبارت د شارح چه راروان دے چه پکښې ناظم تشبیه ورکړیده د بادشاه د شمس سره دا بناده په ظاهر باندې۔

شبّه النّاظم السّلطان فی العدل بالشمس الخ: غرض د شارح په دے عبارت نچیل کښې جواب ورکول دیو اعتراض، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه تاسو چه تشبیه ورکړیده د بادشاه د شمس سره، نو دا وجه د شبه په مابین د بادشاه او د شمس کښې څه شے ده؟ او حاصل د جواب ^(دا ده)^ چه وجه د شبه په مابین د بادشاه او د شمس کښې یا استواء علی کل شئ ده په دے معنی سره چه لکه څنګه چه شمس په ټولو باندې یو شان رڼا کوی دغه شان د بادشاه دا عدل هم یو شان ده هم لپاره د غنی او هم لپاره د فقیر او څه تفاوت پکښې نشته، او یا وجه د شبه ظهور ده په دے معنی سره چه لکه څنګه چه دا شمس هر چا ته یو شان ظاهر دی

نو د غه شان دا عدال دبادشاه هم هرچاته يو شان ظاهر ده او هرچاته ور شامل ده

قوله ظل خدا كناية عن الرحمة لقوله عليه الصلوة والسلام السلطان العادل ظل الله تعالى الخ: غرض د شارح په دے عبارت نقل كښ جواب وركول دى، د يو اعتراض نه، حاصل دا اعتراض داده چه معترض وايي چه بادشاه ته "ظل خدا" ويئيل باطل دى له دوه وجهونه اوله وجه داده چه ظل عرض ده او دا بادشاه جوهر ده نو د ے ظل نشي جوړيدے، او دويمه وجه داده چه ظل لپاره د جسم وى، او الله منزه ده له جسم توب نه، نو د الله د پاره جسم راتلل باطل دى، او جواب له دے اعتراض نه داده چه دا اعتراض په هغه وقت كښ وارديږي كه چرته مراد له ظل نه په دے مقام كښ حقيقي معنى د ظل وے چه ورانه سورے وايي خو لكن په دے مقام كښ مراد له ظل نه دا حقيقي معنى نه ده بلكه مراد ورنه معنى كنايه ده چه هغه رحمت ده لكه څنګه چه په دے قول د پيغمبر عليه السلام كښ چه: السلطان العادل على الخلق ظل الله تعالى: مراد له ظل نه دا معنى كنايه ده چه رحمت ده، نو هركله چه مراد له ظل نه رحمت شو نو په بادشاه بانديے اطلاق صحيح ده ځكه چه عادل بادشاه رحمت وى په خلقو بانديے د الله تعالى د طرف نه۔

وخدا اعلم لن انه تعالى بالفارسية جائز الاطلاق الخ: دا دوه كړه دا خبره چه په دے مقام كښ دوه لفظونه دى يو لفظ "د خدا" ده او دويم لفظ "د خداوند" ده، او د دے دواړو الفاظو اطلاق جائز ده په الله بانديے په اجماع د علماؤ سره يعنى د علماؤ اجماع قائمه شويده په دے خبره بانديے چه الله ته "خدا" ويل هم جائز دى او "د خداوند" ويل هم جائز دى، او د دے دواړو لفظونو په مابين كښ فرق دا ده چه د خدا اطلاق په غير الله بانديے مطلقا باطل ده برابره خبره ده كه بغير د اضافت نه وى لكه ديو كس په باره كښ وويئيل شي چه "خدا" او كه سره د اضافت وى لكه ديو كس په باره كښ دو يئيل شي "خدا خانه" په دے معنى سره چه دا

فلان کس د دے کور مالک دہ، او هر چه لفظ "خداوند" دہ نو د دے اطلاق په غیر الله باندې په وخت د عدم اضافت کښې باطل دہ مثال لکه دا سے وویل شي په باره د یو کس کښې، چه دا فلان "خداوند" دہ، او په وخت دا اضافت کښې د دے "خداوند" اطلاق جائز دہ په غیر الله باندې په دے شان چه بیا یو کس ته "خداوند" وویلې شي چه کله دا "خداوند" یو شي ته مضاف وي لکه چه مرا علی دی په دے تکړه د شعر کښې چه: مصرعه: ؎

خداوند خانه خداوند ما است

نو په دے مصرعه کښې "خداوند" ته مراد انسان دہ خو لکن دا "خداوند" مضاف دہ لفظ "خانه" ته، نو حکم یې اطلاق په غیر الله باندې شوے دہ، نو په دے مقام کښې یو اعتراض وارد یږي چه هغه دا دہ چه اسماء د الله تعالی توقیفي دي او اطلاق به په الله باندې د هغه اسماؤ کولے شي چه د کوم اسماؤ جواز موجود وي په شرع کښې او وارد شوي وي په شریعت کښې، او "خدا" لفظ نه دہ مسموع او هم دارنګ د دے "خدا" لفظ د اطلاق د جواز د پاره څه دلیل هم نشته، نو په دے مخکښې عبارت سره جواب ورکړے شوله د دے اعتراض ته په دے شان چه دلیل د پاره د جواز د اطلاق د دے "خدا" لفظ په "الله" باندې اجماع د علماؤ دہ په دے شان چه د علماؤ اجماع قائمه دہ په جواز د اطلاق د دے لفظ په الله باندې، او د "خدائ" لفظ اګر چه په شریعت کښې حقیقةً نه دہ مسموع، خو لکن دا "خدا" ترجمه دہ د پاره د الله لفظ، او "الله" لفظ مسموع دہ په شریعت کښې، نو دا "خدا" لفظ هم حکماً مسموع دہ، نو اطلاق په الله باندې صحیح دہ.

وهو في الاصل خوداى الخ: غرض د شارح په دے عبارت نقل کښې بیان د اصل د "خدا" دے په دے شان چه دا "خدا" په اصل کښې "خوداى" وه، او معنی د خوداى موجود بن اته دہ یعنی چه موجود وي په اعتبار د خپل ذات سره په دے شان،

چه پدے وجود خپل کښ به نه وی محتاج غیرته، او بیا دا وسته له دے خدای نه واو او بیا حذف کړے شوه لپاره د تخفیف نو وا نه خدا "جوړ شو، او له دے وجه نه چه معنی د "خدا" موجود بذاته ده نو د الله لفظ ترجمه په خدا سره کولے شی.

((شعر))

برخلائق واجب و بربنده زاده فرض عین

چون دعائے شاهزاده سال و مه صبح و مساء

معنی د دے شعر داده چه ناظم وائی چه د امدح د بادشاه په عامو خلقو بانڈے واجب ده او په ما بانڈے فرض عین ده لکه څنګه چه دعاء لپاره د شهزاده، چه ذدے بادشاه څوئ ده په عامو خلقو بانڈے واجب ده او په ما بانڈے فرض عین ده په ټولو اوقاتو کښ، نو ناظم په دے خپل کلام کښ د امدح د بادشاه مشابه کړیده د دعا د څوئ ذدے بادشاه سره په دے شان چه لکه څنګه چه دعا کول لپاره د څوئ د بادشاه په عامو خلقو بانڈے واجب ده او په ما بانڈے فرض عین ده په ټولو اوقاتو کښ نو دغه شان د امدح د بادشاه هم په عامو خلقو بانڈے واجب ده او په ما بانڈے فرض عین ده.

ثم الواجب علی ثلثة اقسام شرعی وهوالذی الخ: غرض د شارح په دے عبارت خپل کښ جواب ورکول دی د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض داده چه معترض وائی چه واجب خو عبارت ده له هغه حکم نه چه مکلف به ګنهګار یږی په ترک د هغه حکم بانڈے، نو هر کله چه د واجب معنی دا شوه، نو اطلاق د واجب په مدح د سلطان بانڈے نه ده صحیح، ځکه چه په ترک ذدے مدح سره هیڅ ګناه نه راځی نو دا خبره نه ده صحیح چه مدح د بادشاه واجبه ده په ټولو خلقو بانڈے، او حاصل د جواب داده چه واجب په خپل کور کښ په دے قسمه دی اول قسم واجب شرعی دی، او دا عبارت ده له هغه حکم نه چه د هغه په ترک سره مکلف ګنهګار یږی

مثال لکه وتر مونځ او لکه اضحیه یعنی قربانی، نو دا د واړه واجب شرعی دی، ځکه چه دَدے دواړو په ترک سره هم مکلف ګنهګار یږی، او دویم قسم واجب استحسانی دی او دا عبارت ده له هغه حکم نه چه کول د هغهٔ مستحسن وی یعنی کول به یے ښهٔ وی او په ترک سره به څهٔ ګناه نهٔ لازمیږی مثال لکه قعود علی رکتین، نو دا قعود په دِے طریقے مذکوره سره امر حسنه ده اګرچه په ترک سره مکلف نهٔ ګنهګاریږی، په دِے شان چه دا عبد په مجلس کښ قعود وکړی له طریقے مذکوره نه بغیر په بله طریقه سره، او دریم قسم واجب عقلی ده، او دا عبارت ده د هغه حکم نه چه د دے حکم د مخالف نه به عقل احتراز کوی او ځان به ساتی مثال لکه بول کول اسفل مکان ته، نو دا واجب عقلی ده ځکه چه د دے مخالف بول کول دی اعلیٰ مکان ته، او دَدِے نه عقل احتراز کوی، ځکه چه بول وکړے شی اعلیٰ مکان ته نو هغه په انسان باندِ بیرته راځی او انسان ګنده کوی، او مراد له واجب نه د ناظم په دِے مقام کښ واجب استحسانی ده او واجب عقلی ده او شک نشته چه د بادشاه مدح په خلقو باندِ واجبه ده په وجوب استحسانی او په وجوب عقلی سره، او مراد له واجب نه واجب شرعی نهٔ ده، چه اعتراض وارد شی، او په دِے مقام کښ په دِے تعریف د واجب عقلی باندِ دوه اعتراضه وارد دی، حاصل د اول اعتراض دا ده چه معترض وایی چه واجب عقلی نو هغه ته وایی چه هغه واجب شوی وی په مقتضیٰ د عقل سره، او کوم شے چه واجب وی په مقتضیٰ د عقل سره د هغهٔ نه عقل احتراز نکوی، او له دِے اعتراض نه جواب دا ده چه موږ وایو چه په دِے عبارت د شارح کښ لفظ د مخالف مقدر ده نقل یرد عبارت د شارح دا ده چه وهو الذی یحترز العقل عن مخالفه، او دویم اعتراض دا ده چه معترض وایی چه دا بول مکان اعلیٰ ته په مثال کښ ذکر کول نهٔ دی صحیح، ځکه چه دا بول کول اعلیٰ مکان ته واجب نهٔ دی بلکه واجب بول کول

دی اسفل مکان ته، او جواب له دے اعتراض نه داده چه مونږ وئیلی ته وایو
چه د امثال د واجب نه ده بلکه د امثال د مخالف د واجب ده نو اعتراض دفع شو

واما الدعاء بسلامة الایمان الخ: غرض د شارح په دے عبارت کښې جواب ورکول دی د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض داده چه معترض وائی چه د مدح او د دعاء په مابین کښې هیڅ فرق نشته په وجوب کښې، نو لکه څنګه چه دعاء نه واجب شرعی وی بلکه جائز دی نو دغه شان مدح نه هم واجب شرعی وی بلکه جائز دی، او جواب په دے طریقه د منع سره ورکړے شوے ده، حاصل د جواب دا ده چه نه منو دا خبره چه مدح په شان د دعاء ده په وجوب شرعی کښې بلکه دا دعاء واجب شرعی ده او دا مدح واجب استحسانی او واجب عقلی ده.

قوله: بر بنده فرض عین: الفرض علی نوعین فرض عین وفرض کفایة الخ نادا کړه دا خبره چه فرض په لغت کښې قطع ته وائی او په اصطلاح کښې عبارت ده د هغه حکم نه چه په هغه باندې زیادت او نقصان نشي کولے او ثابت به وی په داسے دلیل سره چه په هغه دلیل کښې به څه شبهه نه وی، او بیا دا فرض په خپل کور کښې په دوه قسمه ده اول قسم فرض عین ده او دویم قسم فرض کفایه ده فرض عین عبارت ده د هغه حکم نه چه په اداء د یو کس سره به ذمه د باقی کسانو نه فارغیږی، مثال لکه صلوة او زکوة، نو دا صلوة چه په کوم کس باندې لازم ده نو چه یو کس یے اداکړی، د باقی ذمه نه فارغیږی بلکه هر سړے به یے جدا جدا اداء کوی، او همدا رنګ زکوة چه په کوم کسانو باندې فرض ده چه هغوئی خاوندان د نصاب دی په اداء کولو د یو کس سره د هغه باقی کسانو ذمه نه فارغیږی بلکه دا هر کس چه ورباندې لازم وی جدا جدا به یے اداء کوی، او فرض کفایه عبارت ده د هغو فرضونو نه چه هغه په اداء کولو د یو کس سره ساقطیږی او د باقی کسانو ذمه به ورنه فارغیږی مثال د دے لکه

صلوة جنازه او همدارنګ هغه جهاد چه دښمن غلبه نه وي کړي، نو دا جنازه او همدارنګ دا جهاد دواړه فرضِ کفایه دي چه یو کس یې اداء کړي نو د باقي کسانو ذمه فارغیږي، او چه کله دښمن غلبه وکړي نو بیا دا جهاد فرضِ عین جوړیږي په هر کس باندې اداء کول لازم دي او دیو کس په اداء کولو سره د باقي کسانو ذمه نه فارغیږي، او بیا دا فرضِ عین چه اول قسم ده د فرضو په خپل کوټ کښې په دوه قسمه ده، اول قسم فرضِ عین حقیقي ده او دویم قسم فرضِ اعتباري ده، فرضِ عین حقیقي عبارت ده د هغو فرضونه چه هغه یا ثابت شوے وي، په کتاب الله سره او یا ثابت شوے وي په حدیثِ نبوي سره او مراد له حدیث نبوي نه مطلق حدیث نه ده بلکه هغه حدیث ده چه متواتر وي او وصول یې یقیني وي پیغمبر علیه السلام ته، او فرضِ عین اعتباري عبارت دی د هغو فرضونه چه دې کس چه فاعل د دې فرضو وي په ځان باندې لازم کړے وي بغیر د لزوم د شریعت نه، مثال لکه منن وراتت، نو دا منن ورات یعني نذر ونه په انسان باندې د الله له طرفه نه اولاً نه وي لازم بلکه دې انسان په ځان باندې په خپله لازم کړے وي.

والمراد ههنا هن الا الحقيقي الخ: غرض د شارح په دې عبارت خپل کښې جواب ورکول دی دیو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائي چه مراد د فرض نه په دې کلام د ناظم کښې فرضِ عین حقیقي دی ځکه چه دا متبادر دی د فرضونه چه کله مطلق ذکر شي، او فرضِ عین خو ثابت وي په دلیل سره دلیل ورته وي، او په دې مقام کښې د دې مدح دپاره خوشحاله دلیل نه شته چه دا فرض ده په ناظم باندې لپاره د سلطان، او حاصل د جواب دا ده چه دا اعتراض به په هغه وقت کښې وارد یدلو کچیرته مراد د فرض نه فرضِ عین حقیقي وے، او په دې مقام کښې مراد ورنه فرضِ عین اعتباري ده او فرض

اعتباري ځکه دليل نۀ غواړي، او د امدح د بادشاه ځکه فرضِ عين اعتباري ده ځکه چه د الله تعالی شکر فرضِ عين حقيقي ده، ځکه چه الله تعالی منعم حقيقي ده په دې ناظم باندې نو له دې وجه نه د اشکر د الله تعالی په دې ناظم فرضِ عين حقيقي شو او د اشکر د بادشاه په ناظم باندې فرضِ عين اعتباري ده ځکه چه دا بادشاه منعم مجازي ده نو ناظم شکر دَدې بادشاه اداء کوي په مدح باندې نو دا مدح په دې ناظم باندې فرضِ عين اعتباري ده، او د بادشاه د طرف نه په دې ناظم باندې دا انعام شوے وه چه دا ناظم د هم مجلسو د بادشاه نه وه او دَ وزيرانو د بادشاه نه وه.

بدانکه مراد از بنده اگر عبد الله باشد چنانچه الخ: غرض د شارح په دې عبارت کښې له بدان نه نيولې تر حکايت پورې دوه توجيهات بيانول دي په کلام دَ ناظم کښې، دَ دې دپاره چه کلام د ناظم دروغ نه خارج شي په دې شان، چه ناظم په دې شعر کښې په ځان باندې اطلاق د بنده کړيده، نو له دينه متوهم توهم کوي چه مراد په له بنده نه غلام وي، نو له دې کلام نه دا معلوميږي چه دا ناظم غلام ده لپاره د بادشاه او حال دا ده چه دا ناظم غلام نۀ وه لپاره د بادشاه بلکه هم مجلسه وه د بادشاه او وزير وه د بادشاه، نو شارح دوه توجيهات کوي لپاره د کلام د ناظم چه دا توهم دکښ ب دده په کلام کښې کيږي چه دا وهم دفعه شي، حاصل د اولنۍ توجيه دا ده چه مراد له بنده نه په دې کلام د ناظم کښې غلام نۀ ده بلکه مراد ورنه عبد الله ده يعني بنده د الله او متبادر هم ورنه هم غم ده، ځکه چه دَ دې بنده اضافت نۀ ده شوے کوم شي ته، نو له دې نه معلوميږي چه مراد په ورنه عبد الله وي، ځکه چه بنده مطلق ذکر شي نو مراد ترې عبد الله وي په عرف دعامو خلقو کښې، نو چه کله مراد ورنه عبد الله شو، نو په کلام د ناظم کښې بيا هيڅ کذب نۀ راځي، او دويمه توجيه دا ده چه مراد له بنده

نه غلام ده لکه متن اول په السنه د عوامو کښې هم دا معنی ده په دے شان، چه بنده ذکرشی نو عوام ورته غلام اخلی، نو که چرته دا ناظم غلام وے په حقیقت کښې لپاره د بادشاه، نو بیا هم څه اشکال نه راځی، او دوهم توجیه حاصل داده چه که چرته دا ناظم غلام او رقیق نه وے لپاره د بادشاه، نو بیا چه دے ځان ته بنده د بادشاه وائی، مراد به ورنه مجازی معنی وی او چه کله موږ ورته مجازی معنی واخلو چه هغه تابعدار ده نو بیا هم په کلام د ناظم کښې څه دروغ او کذب نه راځی، په دے شان چه معنی به داشی چه د ا ناظم وائی چه بنده د بادشاه معنی تابعدار د بادشاه یم۔

حکایت: دی ترغیب الصلوة اوریده که روزے وزیر الخ: غرض د شارح د نقل کولو د دے حکایت نه تائید کول دی لپاره د دے چه د بنده اطلاق په غلام باندې کیږی او معنی او ترجمه د دے حکایت داده، چه یوه ورځ د هارون الرشید یو وزیر د امام ابی یوسف ترمخ ګواهی ورکړه په یو حادثه او معامله کښې او امام ابو یوسف د هغه ګواهی رد کړه، نو هارون الرشید پتوس وکړو د امام ابو یوسف نه چه څه وجه ده لپاره د رد کولو د ګواهئ د وزیر نو امام ابو یوسف ورته ووئیل چه یوه ورځ زه او ته په یو مجلس کښې ناست وو، او تا دے وزیر خپل ته د یو کار حکم وکړو، او ده درته په جواب کښې ووئیل چه زه ستا بنده یم، نو دا کلام د دے وزیر به خالی نه وی له دوه وجهونه، یا به دے صادق وی په خپله خبره کښې او ربښتیا به دے ستا غلام وی، نو بیا خو د غلام ګواهی نا منظوره ده، او یا به دا وزیر کاذب وی په دے خپله خبره کښې، نو که چرته کاذب وی په دے شان چه دا وزیر ربښتیا ستا وزیر نه وی، نو بیا خو د کاذب ګواهی هم نا منظوره ده او مردوده ده، نو هارون الرشید امام ابو یوسف ته ووئیل، چه که زه ګواهی کوم نو دا به قبوله شی؟ نو امام ابو یوسف ورته اُووئیل چه نه، ستا ګواهی هم نه ده

قوله، نو هارون الرشید وویل چه حماد کواهي ولې مردوده ده نو امام ابو یوسف وویل چه ته تارك الجماعة یې په وقت د جمعه کښې جمع ته نه حاضریږې نو هارون الرشید وویل چه زهٔ خود مسلمانانو په کارونو کښې مشغول یم نو ځکه جمعه ته نهٔ حاضریږم، نو امام ابو یوسف وویل چه لا طاعة للمخلوق فی معصیة الخالق، یعنی نشته طاعت او تابعداري د پاره د مخلوق په هغه شي کښې، چه د الله تعالی نه په هغه شي کښې معصیت او نافرماني راځي، نو له دینه وروسته هارون الرشید حکم وکړو چه حماد کوره په مخکښې د مسجد جوړ شي چه زهٔ یکښې په جمع سره مونځ کوم.

تنبیه: زده کړه دا خبره چه د امام ابو یوسف اسم مخصه یعقوب وه او د والد نوم یې ابراهیم وه او ابو یوسف اسم کنیه دده ده او دې د خلافتِ بنو عباسو قاضی القضاة وه او دهٔ درې یو بادشاهانو په زمانه کښې قضاوت کړیدهٔ چه اول بادشاه مهدي وه او دویم هادي عباسي وه او دریم هارون الرشید وه، او هارون الرشید به د امام ابو یوسف ډیر زیات عزت کولو او چه کله قاضي شو نو هره ورځ به یې دوه سوه رکعته نفل کول، او دهٔ د امام ابو حنیفه د علومو زیات اشاعت کړې وه په زمکه باندې، او د وفات تاریخ یې د اده سنه ۱۸۲ یعنی یو سل دوه اتیا هجري کښې وفات شوی ده (تاریخ ابن خلکان)

ومکوره چه د دین امام بیني امام دین چه بې طمع وخدا اترس بود ومن وتوچه: یعنی ابو یوسف څومره خدا اترس او له الله نه هیریدونکی وه او حما او ستاخهٔ حالت ده یعنی چه په امام ابو یوسف کښې څومره خدا اترسي او عدم طمعه موجوده وه، نو هغه په ما او تاکښې نشته.

اللهم ارزقنا اتباع الحق بحرمة اهل الحق من انبیائك واولیائك صلوة الله علی نبینا وعلیهم اجمعین: په دې عبارت کښې شارح توسل بالذات الفاضل

کړے نو داشارح متوصل دہ یعنی وسیلہ نیونکی دہ او داذوات فاضلہ چہ د اھل
حق چہ انبیاء او اولیاء دی متوصل بہ دی یعنی پہ دوئ سرہ وسیلہ نیول شوی
او معنی د عبارت دادہ چہ اے خدایا پاکہ مونږ تہ ډیر انصیب کړے تابعداری د حق
پہ سبب د حرمت او د عزت د اھل حقو بانډ چہ ھغوئ ستا انبیاء او اولیاء دی
او د اللہ تعالی لہ طرفہ ډیر حمتونہ دِ وی پہ پیغمبرانو مونږ بانډ او پہ دِے ټولو
انبیاء او اولیاء بانډ۔

ترکیب: پہ دِے مقام کښں درے عربی جملے ذکر دی ، اولہ جملہ د اقول دہ:
لا طاعۃ للمخلوق فی معصیۃ الخالق : او ترکیب د دے جملہ داسے دہ چہ "لا" حرف
نفی جنس او د اطاعۃ منصوب دہ او اسم دہ لپارہ د دے لا نفی جنس ، او پہ
للمخلوق کښں د الام حرف جارہ دہ او لفظ د مخلوق مجرور دہ او د اجار او مجرور
متعلق دی ترجائزۃ مقدرا پورے نو تقدیر د عبارت داسے دہ: لا طاعۃ جائزۃ
للمخلوق فی معصیۃ الخالق ، او بیا د اجائزۃ مرفوع دہ او صیغہ دہ لپارہ د اسمِ
فاعل او ضمیر پہ کښں مستتر دہ چہ لہ ھغہ نہ تعبیر کیږی پہ "ھی" سرہ او راجع دہ
طاعۃ تہ ھغہ فاعل نو د اسم فاعل سرہ د فاعل او سرہ د متعلق خپل نہ خبر دہ
لپارہ د لا نفی جنس او د "فی" پہ معصیۃ الخالق عبارات کښں حرف جارہ دہ او د
لفظ د معصیۃ مضاف دہ لفظ د الخالق تہ او د امضاف سرہ چہ مضاف الیہ خپل نہ
مجرور کیږی لپارہ د جار چہ "فی" دہ جار سرہ د مجرور خپل نہ متعلق دہ ترکائنۃ
مقدر پورے ، او کائنۃ صیغہ د اسم فاعل دہ ضمیر پکښں مستتر دہ چہ لہ ھغہ نہ
تعبیر کولے شی پہ "ھی" سرہ ھغہ وراتہ فاعل دہ اسم فاعل سرہ د فاعل او سرہ
د متعلق خپل نہ شبہ جملہ حال جوړیږی د اسم د لا نفی جنس نہ چہ ھغہ لفظ دَ
طاعۃ دہ ، نو د الانفی جنس سرہ د اسم او د خبر او د حال د اسم خپل نہ جملہ
اسمیہ خبریہ دہ۔ او دویمہ جملہ پہ دِے عبارت د شارح کښں دا دہ چہ اللّٰھمّ

ارنا قنا اتباع الحق بحرمة اهل الحق من انبيائك واوليائك: اوترکیب د دے جمله داسے دہ چه د اللهم په اصل کښ یا الله دہ او په یا الله کښ د یاء حرف نداء دہ اوقائمه دہ په مقام د "ادعو" فعل بانې، او ادعو صیغه د واحد متکلم دہ او ضمیر پکښ مستتر دہ چه له هغه نه تعبیر کولے شي په انا سره او د لفظ د الله دا مفعول جوړیږي لپاره د دے ادعو فعل او د افعل سره د فاعل او سره د مفعول نه جمله فعلیه انشائیه نداء دہ، او تقدیر د عبارت داسے دہ چه ادعوالله او یا د یا الله لفظ کثیر الاستعمال وہ او تقاضا د تخفیف یے کوله نو داوړه نه حذف شوہ لپاره د حصول د تخفیف او د دے په عوض کښ میم راوړے شو په اخر کښ نو دانه اللهم جوړ شو، او د ارنا قنا صیغه د امر حاضر دہ او ضمیر په کښ مستتر دہ چه له هغه نه تعبیر کولے شي په انت سره هغه ورته فاعل دہ او د "انا" ضمیر د متکلم مع الغیر مفعول اول دہ لپاره د دے فعل او د لفظ د اتباع مضاف دہ او الحق لفظ ورته مضاف الیه دہ او د امضاف سره د مضاف الیه نه، مفعول ثاني دہ لپاره د دے مخکښ فعل چه ارنا قنا دہ، او د باء په بحرمت لفظ کښ حرف جار دہ او د لفظ د حرمت مضاف دہ لفظ د اهل ته او د لفظ د اهل مضاف دہ لفظ د الحق ته، نو دا مضاف چه اهل لفظ دہ سره د مضاف الیه نه چه الحق دہ لفظ د مبین دہ او موصوف دہ، او د امن په من انبیائك و اولیائك کښ بیانیه دہ او حرف جار دہ او د لفظ د انبیاء مضاف دہ او د "ك" ضمیر د مخاطب ورته مضاف الیه دہ او د امضاف سره د مضاف الیه نه معطوف علیه جوړیږي او د واؤ په واولیائك کښ لپاره د عطف دہ او د لفظ د اولیاءِ مضاف دہ او د "ك" ضمیر مخاطب ورته مضاف الیه دہ او د امضاف سره د مضاف الیه نه معطوف جوړیږي او د امخکښ معطوف علیه سره د معطوف نه مجرور جوړیږي لپاره د جار او د جار سره د مجرور نه

الثابتین صیغه داسم فاعل ده او
نه تعلق نیسي تر الثابتین مقدر پورې اود
ضمیر پکښې مستتر ده چه له هغه نه تعبیر کیږي په "هم" سره هغه وړ ته فاعل جوړیږي
اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق خپل نه صفت جوړیږي لپاره د موصوف
چه اهل الحق ده اود اموصوف سره د صفت خپل نه مضاف الیه جوړیږي لپاره
د مضاف چه حرمت ده او دا مضاف سره د مضاف الیه خپل نه مجرور ظرف
لغو جوړیږي او تعلق نیسي ترازنا قنا فعل پورې او دا فعل سره د فاعل او سره
د مفعولینو خپل نه او سره د متعلق خپل نه جمله فعلیه انشائیه جواب جوړیږي
لپاره د ندا او دا ندا سره د جواب خپل نه جمله فعلیه انشائیه جوړیږي.
او دا یمه جمله په عبارت د شارح کښې دا قول ده چه: صلوات الله علی نبینا و
علیهم اجمعین: ده، او ترکیب د دې جملې دا سې ده چه لفظ د صلوٰة چه جمع ده
د صلوٰة مضاف ده لفظ د الله ته او دا لفظ د الله وړ ته مضاف الیه ده او دا
مضاف سره د مضاف الیه خپل نه مبتدا جوړیږي، او "علی" حرف په علی نبینا
کښې حرف جاره ده او دا لفظ د "نبي" مضاف ده او دا "نا" ضمیر د متکلم وړ ته مضاف
الیه ده او دا مضاف سره د مضاف الیه خپل نه مجرور کیږي لپاره د جار او دا
جار سره د مجرور خپل نه معطوف علیه جوړیږي او واو په "وعلیهم" کښې حرف
عاطف ده او دا "علی" پکښې حرف جاره ده، او دا "هم" ضمیر د غائب مؤکد ده او دا
"اجمعین" لفظ وړ ته تاکید معنوي ده، او دا مؤکد سره د تاکید خپل نه مجرور
کیږي لپاره د جار چه "علی" ده او دا جار سره د مجرور خپل نه معطوف کیږي
په هغه محکښې معطوف علیه باندې او دا معطوف علیه سره د معطوف خپل نه
ظرف مستقر تعلق نیسي ترثابتة مقدر پورې او دا "ثابتة" صیغه داسم فاعل
ده او ضمیر پکښې مستتر ده چه له هغه نه تعبیر کولے شي په "هي" سره او لفظ د
صلوٰة ته راجع ده، دا اسم فاعل سره د فاعل او د متعلق خپل نه شبه جمله

خبر کیږی لپاره د مبتداء او دا مبتداء سره د خبر خپل ته جمله اسمیه خبریه لفظاً او انشائیه معنی جوړه یږی.

قوله: چون د دعاءِ شهزاده کلمه چون نا ئده او دا دهاالمصنف لمجرد الوزن و:
الدعاء فاعل قوله واجب: د الفظ د چون په دے شعر کښ زائد ده او دا اوږے شوی ده لپاره د مجرد جوړ ولو د وزن او د الفظ د دعاء په دے مخکښ شعر کښ فاعل ده لپاره د دے قول د ناظم چه واجب ده.

قوله: شاهزاده لقب الحسین واشار الناظم الی هذا اللفظ لیحصل له اعلی المرتبة والدرجة یعنی انه من ارباب اعلی النسب لا من حقارته کذا قیل: او دا شاهزاده لفظ لقب ده لپاره د حسین چه بادشاه ده او د الفظ د شاهزاده چه مصنف ذکر کړو او دا ته یے اشاره وکړه لپاره د دے چه دے بادشاه ته اعلی مرتبه حاصله شی په دے شان چه دا بادشاه چه حسین ده د اعلی نسب نه ده په دے شان چه د بادشاه نا ویٔ ده نو دا وچت نسب نه ده او د حقیر نسب نه نهٔ ده نو لکه څنګه چه دے بادشاه دے نو همدارنګ د دهٔ پلار هم بادشاه ده او دا اول احتمال ده په معنی دَ دے شعر کښ نو بناء په دے احتمال چه دا چون زائد شی او د الفظ د دعاء فاعل شی لپاره د واجب نو معنی به دا شی چه دا دعاء دَ بادشاه د پاره په عامو خلقو بانې واجب ده او په بنده زاده چه مراد وا نه دا ناظم ده فرض عین ده په ټولو اوقاتو کښ، نو بناء په دے احتمال دَ دے شعر هیڅ تعلق نشته د مخکښ شعر سره او دا احتمال په نیز د شارح بانې غیر صحیح ده، او شارح دوېم احتمال ته صحیح وئیلی دی.

والصحیح انه شبه مدح الحسین بوجوب دعاءِ ابنة الذی الف لاجله النظم وکلمة چون بمعنی کاف التشبیه ولیست بزائدة کما وقع والقصیدة المفرحة الارواح فی تحفة القادریة فی مدح غوث الثقلین محی الدین ابی محمد عبد

القادر الجیلانی: شارح وائی چہ صحیح احتمال دادہ چہ دِے ناظم تشبیہ وہ کریدہ دِدے مداح د حسین چہ بادشاہ دہ د وجوب د دعاء د خُوئی د دُہ سرہ ھغہ خُوی دِدُہ چہ ناظم د انظم لپارہ د دے خُوی د بادشاہ جوړ کړیدہ او د اکلمہ د چون پہ دِے مخکښ شعر کښ چہ موجودہ دہ لپارہ د تشبیہ دہ او د امدح د بادشاہ چہ حسین دہ مشبہ دہ او د ادعاء لپارہ د خُوی د دُہ مشبہ بہ دہ او د اچون اداۃ د تشبیہ دہ او بناء پہ دِے احتمال مراد لہ شهزادہ نہ بادشاہ نۀ دہ بلکہ مراد وہ نہ خُوی د بادشاہ دہ او د اچون لپارہ د تشبیہ وہ اُخی لکہ وہ اغلے دہ پہ یو بیت د یوے قصیدہ کښ چہ ھغہ قصیدہ موجودہ دہ پہ تحفہ قادریہ کښ چہ د ا تحفہ قادریہ کتاب ثابت دہ پہ مداح د عبد القادر جیلانی کښ، نو بناء پہ دِے احتمال بہ معنی د دے شعر داسی شی چہ د امدح د بادشاہ پہ عامو خلقو باندِ واجبہ دہ او پہ بندہ زادہ باندِ چہ زۀ یم فرضِ عین دہ لکہ څنګہ چہ دعاء لپارہ د خُوئی د بادشاہ پہ عامو خلقو باندِ واجبہ دہ او پہ بندہ زادہ باندِ چہ زۀ یم فرضِ عین دہ، نو بناء پہ دِے احتمال باندِ فاعل لپارہ د واجب مدح دہ چہ ھغہ ذکر دہ پہ مخکښ شعر کښ نو د دے شعر تعلق شتہ د مخکښ شعر سرہ بناء پہ دِے احتمال باندِ، او ھغہ بیت چہ پہ کښ کلمہ د چون وہ اغلے دہ لپارہ د تشبیہ د اقول د شاعر دہ

کردہ ام پرواز بر گلزار کویت چون ہزار

چون پرم سنگِ جفا بشکست اکنون چون پرم

نو پہ دِے شعر کښ د ااول "چون" لپارہ د تشبیہ دہ او د ادویم "چون" لپارہ د شرط دہ او د ادریم "چون" لپارہ د استفہام دہ، نو د ا "چون" پہ معنی د کاف د تشبیہ ھم راځی او لپارہ د استفہام ھم وہ اُخی او لپارہ د شرط ھم وہ اُخی، او د ا خبرہ چہ د ا "چون" کلمہ راځی لپارہ د دریو معنا گانو من کورہ دہ ھم پہ نصاب الصبیان کتاب



کښې او هم په دې شعر کښې ځکه چه په دې شعر کښې د اول چونګ راغلې ده لپاره د تشبیه او د دویم چونګ راغلې ده لپاره د شرط او د دریم چون راغلې ده لپاره د استفهام۔

فعلی هذا یکون المعنی: بعد حمد خداوند و درود مصطفی هست مدح خسرو غازی معزالدین حسین که حامی الدین وافتاب معدلت و ظل رحمت خدا تعالی است الخ:

په دې عبارت کښې غرض د شارح بیان د معنی د دې شعر ده، بنا په دې دویم احتمال سره نو شارح د دې شعر د معنی بیانولو سره بیان د معنی د هغه مخکښې شعر هم کوی، نو حاصل د معنی د دواړو شعرونو بناء په دې احتمال ثانی سره په دې دویم شعر کښې دا ده چه ناظم وائی چه وروسته د حمد د الله تعالی نه او د درود د مصطفی نه مدح د هغه بادشاه ده چه د هغه لقب خسرو هم ده او معز الدین هم ده او نوم د هغه حسین ده چه هغه تحفظ کونکې او امداد کونکې د دین ده او دا لمرده د عدل او رحمت د الله تعالی ده په خلقو او رعیت خپل باندې، نو د دې بادشاه د امدح په عامو خلقو باندې واجبه ده او په ما باندې فرض عین ده لکه څنګه چه دعاء کول لپاره د خوی د دې بادشاه په عامو خلقو باندې واجبه ده او په ما باندې فرض عین ده، نو حاصل د تشبیه چه په دې شعر کښې موجوده ده دا ده، چه شاعر وائی چه دا وجوب د مدح د بادشاه په عامو خلقو باندې داسې ده لکه وجوب د دعاء لپاره د خوی د دې بادشاه، نو دا وجوب د مدح مشبه ده او دا وجوب د دعاء مشبه به ده، او دا فرضیت د مدح د بادشاه په ما باندې داسې ده لکه فرضیت د دعاء لپاره د خوی د دې بادشاه، نو دا فرضیت د مدح د بادشاه مشبه ده او دا فرضیت د دعاء لپاره د خوی د دې بادشاه مشبه به ده نو په دې مقام کښې دوه تشبیه ګانې دی، اوله تشبیه په مابین د وجوب د مدح

او د وجوب د دعاء کښې ده په دې شان چه دا وجوب د مدح مشبه ده او دا وجوب د دعاء مشبه به ده، او دویمه تشبیه په مابین د فرضیت د مدح او د فرضیت د دعاء کښې ده، په دې شان چه دا فرضیت د مدح مشبه ده او دا فرضیت د دعاء مشبه به ده، او مراد له وجوب نه وجوب عقلي او وجوب استحساني ده، او مراد له فرض نه، فرضِ اعتباري ده.

حل لغات: قصیده: مجموعه د اشعارو ته ویلې شي، چه بعضِ علماء وائي چه اقل مقدار به اووه اشعار وي، او بعضِ علماء وائي چه اقل مقدار به یې لس اشعار وي.

او دا قصیده مشتق ده د قصد نه او دې قصیده ته ځکه قصیده وائي چه د دې هم د تجوید قصد کړې وي شاعر، او یا دا قصیده ماخوذه او مشتقه ده د: "اقتصدت الکلام" نه او د اقتصدت الکلام معنی ده "اقطعته" یعني دا کلام مې قطع کړو، او دې قصیدې ته هم ځکه قصیده وائي چه دا هم یوه حصه د کلام منظوم وي، چه قطع کړې شوې وي د ما قبل نه،

او د ا تاء په قصیده کښې یا پاره د نقل ده د وصفیت نه اسمیت ته په دې شان چه معنی وصفي د دې قصیدې ذات مقصوده ده که چرته دا ماخوذه شي د قصد نه، او یا معنی مقطوعه ده که چرته دا ماخوذه شي د اقتصدت الکلام نه.

او معنی اسمي د دې قصیدې مجموعه د اشعارو ده، او دا قصیده را نقل شوې ده له دې معنی وصفي نه معنی اسمي ته، او دا "تاء" دلالت کوي په نقل د دې قصیدې له دې معنی وصفي نه معنی اسمي ته، او دا نقل معنی مجازي د "تاء" ده ځکه چه معنی حقیقي د "تاء" تانیث ده، نو هر کله چه په قصیده کښې دوه مذهبه شول، اول مذهب دا شو، چه قصیده مجموعه د اشعارو ته وائي چه اقل مقدار د هغوئ به اووه وي، نو چه کومه مجموعه له دې اووه اشعارو نه کمه وي

بلکه په شپږ واویاله دے نه په کمو بانڼ مشتمله وی تر دوه اشعاره وبانڼ، نو دے مجموعه نه بناء په دے مذهب بانڼ قطعه ویلی شی، او دویم مذهب په قصیده کښې دا شوچه قصیده هغه مجموعه د اشعاره ته وائی، چه اقل مقدار به یے لس وی، نو بناء په دے مذهب بانڼ هغه مجموعه د اشعاره چه پکښې دلسو نه کم اشعار موجود وی، تر دوه اشعاره پورے وره ته قطعه ویلی شی.

قوله: سال ومه صبح ومساء: اشارة الی الدعاء بطریق الاستغراق الخ: غرض د شارح په دے عبارت نقل کښې جواب ورکول دی دیو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دہ چه معترض وائی چه سال کال ته وائی مه میاشتے ته وائی او صبح سهار ته وائی او مساء مابنام ته وائی، او دا سال په دے ټولو بانڼ مشتمل دہ نو ذکر د دوئ ورسته د سال نه مستدرک دہ، او حاصل د جواب دا دہ چه دا سال اگرچه په دوئ بانڼ مشتمل دہ، خو لکن د دوئ ذکر ورسته د سال نه لپاره د دے دہ چه ناظم په ذکر د دوئ سره اشاره کوی استغراق ته په دعاء کښې په دے شان چه ناظم وائی چه دا دعاء لپاره د دوئ د بادشاه په عامو خلقو بانڼ همیشه واجبه دہ او په ما بانڼ همیشه فرض دہ.

((شعر))

نصرت وفتح وظفر اقبال وجاه وسلطنت

بادباقی مرترا تا هست امکان بقا

ترکیب: د دے شعر ترکیب دا سے دہ چه دا لفظ د نصرت سره د معطوفاتو خپلو نه مبتداء دہ، او دا باد باقی تر اخره پورے ورته خبر دہ، او شارح معنی د نصرت په مدد سره کړیده او معنی د فتح یے په کشادن کارهائے مغلق شد کړیده، یعنی د سختو کارونو حل کیدل، او معنی د اقبال یے په مخ کښې راتلو د بخت سره کړیده، ځکه چه مراد له دولت نه بخت دہ، او معنی د جاه یے په مرتبه

سره کړیږه او معنی د سلطنت یې په بادشاهئ سره کړیږه، نو معنی د شعر دا یې جوړیږئ چه د انصرت او فتح او ظفر چه معنی یې شارح په غلبه علی الاعداء سره کړیږه یعنی غلبه په دشمنانو باندې، او د اقبال او د اجاه او سلطنت د باقی وی ستا د پاره بادشاه! چه تر څو پورې وی امکان د بقا او د تړ وند تیرولو په دنیا باندې یعنی تر قیامته پورې دې د اامور مذکوره باقی او ثابت وی تا لره د بادشاه نو دا شعر جمله د عائیه ده۔

تنبیه:- نو ده کړه دا خبره چه په دې شعر د ناظم کښې چه امکان ذکر ده پکښې درې احتماله دی اول احتمال دا ده چه مراد له دې امکان نه امکانِ خاص ده او دویم احتمال دا ده چه مراد له دې احتمال نه امکان عام مقید بجانب الوجود ده، او دریم احتمال دا ده چه مراد له دې امکان نه امکانِ عام مقید بجانب العدم ده۔

امکانِ خاص عبارت ده له دینه چه د شي نۀ وجود ضروری وی او نۀ عدم ضروری وی بلکه ضرورت سلب وی هم د جانب د وجود نه او هم د جانب د عدم نه، او چه د کوم شي وجود او عدم علی السویه وی، یعنی نۀ یې وجود ضروری وی او نۀ عدم ضروری وی، نو دې شي ته ممکن خاص وائی، مثال لکه: زید نو "د نایی" نۀ وجود ضروری دې او نۀ یې عدم ضروری ده بلکه ضرورت سلب ده هم له وجود "د نایی" نه او هم له عدم "د نایی" نه،

او امکانِ عام مقید بجانب الوجود عبارت ده له سلب د ضرورت د عدم نه سره د تعمیم نه په وجود د شي کښې، په دې شان چه ضرورت به سلب وی له عدم د شي نه او د اعدم به نۀ وی ضروری، بیا برابره خبره ده، که وجود ضروری وی او که نۀ وی ضروری، نو ممکن عام مقید بجانب الوجود هغه شي ته وائی چه د هغه شي عدم نۀ وی ضروری، برابره خبره ده که وجود یې ضروری وی او که نۀ

وي ضروري، نو دا امکان عام مقيد بجانب الوجود ورشامل دی هم واجب ته چه الله تعالی دی او هم ممکن ته چه نيد دی، ځکه چه د الله تعالی هم عدم نه دی ضروري او د نورو هم عدم نه دی ضروري، اگرچه بيا وجود د واجب ضروري دی، او وجود د نورو نه دی ضروري.

او امکان عام مقيد بجانب العدم عبارت دی له دينه چه د شي وجود نه وي ضروري بيا برابره خبره ده که عدم يې ضروري وي او که نه وي ضروري، او ممکن عام مقيد بجانب العدم هغه شي ته وائي چه د هغه شي وجود نه وي ضروري برابره خبره ده که عدم يې ضروري وي او که نه وي ضروري، نو په امکان عام مقيد بجانب الوجود کښ تعميم په جانب د وجود کښ وي او په امکانِ عام مقيد بجانب العدم کښ تعميم په جانب د عدم کښ وي، او دا امکان عام مقيد بجانب العدم هم ور شامل دی ممتنع ته لکه شريک الباري او هم ور شامل دی ممکن خاص ته لکه نورو ځکه چه د شريک الباري هم وجود نه دی ضروري، او د نورو هم وجود نه دی ضروري، اگرچه بيا د شريک الباري عدم ضروري دی او د نورو عدم هم نه دی ضروري، او په دے عبارت د ناظم کښ امکان مضاف دی بقاء ته او مراد له بقاء نه وجود د عالم دی، او دا وجود، د عالم ممکن دی په امکانِ خاص سره ځکه چه نه د دے وجود "هست" ضروري دی او نه يې "نيست" ضروري دی، نو هر کله چه دا بقاء د عالم ممکنه شوه په امکانِ خاص بانِدِ، نو په دے بقاء بانِدِ هم اطلاق د ممکن خاص صحيح دی، او هم ور بانِدِ اطلاق د ممکن عام مقيد بجانب الوجود صحيح دی، او هم ور بانِدِ اطلاق د ممکن عام مقيد بجانب العدم صحيح دی، نو دا امکان چه "بقاء" ته مضاف دی مراد هم دغه يوه معنی اخستل صحيح دی په طريقے د بدليت سره ځکه چه دا بقاء ممکنه خاصه هم ده او ممکنه عامه مقيده بجانب الوجود هم ده، او ممکنه عامه مقيده بجانب العدم هم ده.

او د صیغة المخاطب وهي مرترا بناء علی ان اللائق الخ: غرض د شارح په دعبارت نه پیل کښې جواب ورکول دي دیو اعتراض نه حاصل د اعتراض دا دی چه معترض وائي چه څه وجه ده چه ناظم صیغه د مخاطب چه "مرترا" ده اختیار او غوره کړه په مقام د مدح او دعاء کښې او صیغه د غائب چه "مراو" ده ذکر نکړه؟ او حاصل د جواب دا دی چه ناظم صیغه د مخاطب غوره کړه ځکه چه لائق د حالت د حامد سره دا ده چه دا محمود ځان ته حاضر کړي په وقت د حمد ویلو کښې، ځکه چه کله دا محمود حاضر وي، نو بیا په دې حامد بانډې توهم کاذب څوک نکوي، په خلاف د غیبوبت د محمود نه، په دې شان چه په دې حالت د غیبوبت د محمود کښې توهم د کذب او دعدم مطابقت ده د مدح د واقع سره کیږي.

کما وقع في خطبة علي کرم الله تعالی وجهه حیث قال الخ: غرض د شارح په دې عبارت کښې بیان د مؤید ده د پاره د دې خبرې چه په مقام د مدح کښې صیغه د مخاطب راوړې شي، او د دې د پاره یې په تائید کښې خطبه د حضرت علي کرم الله وجهه پیش کړې ده، په دې شان چه په دې خطبه کښې حضرت علي دا سې لفظ ذکر کړې چه هغه دلالت کوي په خطاب بانډې چه هغه "ك" ضمیر د مخاطب ده په "لك" کښې او معنی د دې قول د حضرت علي کرم الله وجهه چه "لك الحمد والمنة" دا ده چه الله پاکه! ستا د پاره حمد یعنی ثناء ده او ستا د پاره احسانات دي، په عبادو بانډې چه تا ورباندې کړي دي.

ویجوز ان یقال "مروا" علی صیغة الغائب بناء الخ: په دې عبارت د شارح کښې غرض د شارح بیان د صحت د صیغې د غائب ده په دې شان چه په دې مقام د صیغ د مخاطب بانډې راوړل د صیغ د غائب چه هغه "مروا" ده هم جائز ده او دا راوړل د صیغ د غائب له دې وجې نه صحیح دي، ځکه چه ګرځول د محمود حاضر او مخاطب عدم ادب ده په شان د محمود کښې، او د ګرځول د غائب په

مقام د حمد کښ ادب دے، نو په دے راوړلو صيغے د غائب کښ ادب حاصليږي
نو لپاره د محافظت په ادب باندې جائز دي راوړل د صيغے د غائب په ځاى او مقام
د صيغے د مخاطب باندې، نو چه صيغه د مخاطب شي، د شعر ترجمه به دا وي چه دا
امور مذکوره چه نصرت او فتح او ظفر او اقبال او جاه او سلطنت دې هميشه
د پاره باقي وي بادشاه! ستا د پاره ترڅو پورے چه امکان د بقا وي، او چه
صيغه د غائب شي، نو بيا به ترجمه او معنى د شعر دا شي، چه دا امور مذکوره دې
د بادشاه د پاره باقي وي، ترڅو پورے چه امکان د بقا وي او د ژوندي پاته کيدلو
وي په دنيا کښ۔

اعلم انه يجوز ان يکون المخاطب في الجملة الدعائية الخ:

ياده کړه دا خبره چه اعلم راځي لپاره د څو معناګانو، اوله معنى د "اعلم" دا ده
چه د "اعلم" راوړے شي لپاره د ايقاظ او د تنبيه د مخاطب، او دويمه معنى د
"اعلم" دا ده چه راوړے شي لپاره د تحقيق د مقام، او دريمه معنى د "اعلم" دا ده
چه "اعلم" راوړے شي لپاره د اعتراض او جواب، چه وروسته به ورنه اعتراض
هم ذکروي او ورنه به جواب هم ذکروي، او څلورمه معنى د "اعلم" دا ده، چه
"اعلم" راوړے شي لپاره د سوال او اعتراض فقط په دے شان چه وروسته
به د "اعلم" نه سوال او اعتراض موجود وي فقط، او جواب به مقدر وي او پنځمه
معنى د "اعلم" دا ده چه "اعلم" راوړے شي لپاره د جواب فقط، په دے شان
چه د دے "اعلم" نه به وروسته جواب ذکروي فقط، او اعتراض او سوال به مقدر
وي، او په دے مقام کښ د "اعلم" راوړے شوے لپاره د دے پنځمه معنى په دے
شان چه وروسته ورنه جواب ذکر دے، او اعتراض او سوال مقدر دے، او د
وروسته عبارت جواب دے لپاره د دے اعتراض مقدر، نو حاصل د اعتراض
دا ده چه معترض وائي چه په دے مخکښ اشعار وکښ د دوه کسان ذکر دي چه

یو بادشاہ دہ چہ حسین دھغۂ نوم دہ او بل کس دھغۂ خوی دہ چہ ھغہ یہ شهزادہ لفظ سرہ ذکر شوین دہ، نو مخاطب پہ دِے جملہ د عائشہ کښِ دا بادشاہ دہ او کہ دا نہ وِل د بادشاہ دہ چہ شاھزادہ دہ، نو دا اعتراض د معترض پہ طریقے د استفسار سرہ دہ چہ معترض استفسار کوی د دے خبرے چہ مخاطب پہ دِے دعا د ناظم سرہ تَوک دہ، او ھغہ جملہ د عائشہ دا قول د ناظم دہ چہ "باد باقی مرترا تا ھست امکان بقا" او حاصل د جواب دا دہ چہ مخاطب پہ دِ جملہ د عائشہ سرہ بناء پہ احتمال ثانی چہ ھغہ دا وہ چہ کلمہ د "چون" لپارہ د تشبیہ شی او مراد لہ شاھزادہ نہ وی د بادشاہ شی ھم دا بادشاہ دہ چہ "اب" یعنی پلار دہ ھم مخاطب کیدے شی او دغہ شان د "ابن" یعنی نہ وی د بادشاہ ھم مخاطب کیدے شی، پہ طریقہ د بدلیت سرہ، او بناء پہ احتمال او تاویل اوّل باندِ چہ ھغہ دا وہ چہ دا کلمہ د "چون" زائدہ شی او مراد لہ شاھزادہ نہ بادشاہ شی، بیا مخاطب پہ دِے جملہ د عائشہ سرہ د "اب" دہ چہ بادشاہ دہ فقط ځکہ چہ بنا پہ دِے احتمال سرہ تعرض نۂ دہ شوے ذکر د شاھزادہ تہ۔

((شعر))

عامل اندر نحو صد باد چنین فرمودہ است
شیخ عبدالقاھر جرجانی پیر ھدی۔

ترجمہ او معنی د دے شعر دا دہ، چہ ناظم وائی چہ عوامل پہ علم نحو کښِ تَل دی لکہ ځنگہ چہ پہ دِے باندِ قول کړیدہ شیخ عبدالقاھر جرجانی چہ د ھدایت پیر دہ یعنی عبدالقاھر جرجانی دا وئیلی دی، چہ عوامل پہ علم نحو کښِ تَل دی، پہ دِے شعر باندِ یو اعتراض واردیږی، حاصل د اعتراض دا دہ چہ معترض وائی چہ پہ عبدالقاھر جرجانی باندِ اطلاق د پیر ھدی نۂ دہ صحیح، ځکہ چہ وډیے لفظ اطلاق پہ ھغہ چا باندِ کول صحیح دی چہ پہ ھغۂ پسے

اقتداء کولے شي په علومو دینیه کښې او عبدالقاهر جرجاني پسے اقتداء نشي کولے په علومِ دینیه کښې، ځکه چه دا عبدالقاهر جرجاني دَ متعصبو "معتزلو" نه ده بلکه اکثر امامان د علمِ نحو دَ "معتزلو" نه دي لکه سیبویه او اخفش او ابن جني او ابو علي الفارسي او علامه جار الله زمخشري صاحب کشاف !!

او حاصل دجواب دا ده، چه دِے عبدالقاهر جرجاني ته چه پیرهدي ویُل شویدي، دا په دِے اعتبار سره وَه ته ویُل شویدي، چه پیرهدي هغه کس ته ویُلي شي، چه په هغه پسے اقتداء کولے شي، یا په علومِ دینیه کښې چه مراد وَره نه علمِ حدیث او علمِ تفسیر او علمِ فقه او علم اصول الفقه دي، او یا په هغو علومو کښې، چه غیر وي له دِے علومو منکورو ه ونه، او شک نشته چه په دِے عبدالقاهر جرجاني پسے اقتداء کولے شي په "علمِ نحو" کښې او په دِے عبدالقاهر باندِ ائمه د علمِ نحو ختم شویدي، او دا آخري امام دَ علمِ نحو ده.

قوله: عامل: هو في اللغة المؤثر و في الاصطلاح ما يوجب كون آخر الكلمة على وجه مخصوص من الاعراب والبناءِ الخ: غرض دشارح په دِے عبارت خپل کښې بیان د معنی لغوي او د معنی اصطلاحي د "عامل" ده، په دِے شان چه "عامل" په لغت کښې مؤثر ته وایي، یعنی "عامل" هغه شي ته ویُلي شي، چه هغه اثر کوي په غیر کښې.

او "عامل" په اصطلاح د نحاتو کښې عبارت ده له هغه شي نه، چه هغه بنه کړه وي آخر د کلمه لره په یوه وجه مخصوصه باندِ د اعراب نه او یا د بناء نه برابره خبره ده که دا کلمه اسم وي لکه "زید" او که فعل وي لکه "یضرب" چه صیغه د فعل مضارع ده، او دغه شان دا "عامل" عام ده که لفظ وي لکه عوامل لفظیه مثال لکه حروفِ جاره او که غیر لفظ وي لکه عواملِ معنویه چه موجود

دی په مبتداء او خبر کښې او په فعل مضارع کښې په حالت د رفع کښې، نو د اعامل اخر د کلمه ګرځوي په یوه وجه مخصوصه د اعراب باندې په دې شان چه د اعراب د پاره ځلور وجې دی، اوله وجه او قسم د اعراب رفعه ده، او دویمه وجه او قسم د اعراب نصب ده، او دریمه وجه او قسم د اعراب جر ده او څلورمه وجه او قسم د اعراب جزم ده، نو دا رفعه او نصب دواړه عام دی هم اسم ته او هم فعل ته، یعنی په اسم باندې هم د ا دواړه راځی مثال لکه: جاءنی زیدٌ او رایت زیداً او لکه یضربُ او لن یضربَ، او دا جر خاص ده تر اسم پورې، په اسم باندې راځی فقط مثال لکه مررت بزیدٍ، او دا جزم مختص ده تر فعل پورې مثال لکه "لم یضربْ".

نو عامل کله کلمه ته رفعه ورکوی او کله ورته نصب ورکوی او کله ورته جر ورکوی، او کله ورته جزم ورکوی. په دې تعریف د "عامل" باندې معترض یو اعتراض کوی، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی چه دا ذکر د بناء په دې تعریف د "عامل" کښې نه ده صحیح، ځکه چه له ذکر د بناء نه په تعریف د عامل کښې دالازمیږی چه دا بناء هم په اسم کښې او یا په فعل کښې حاصلیږی په عامل سره، او حال دا ده چه بناء په عامل سره نه وی ثابته بلکه بناء په کلمه کښې راځی په وقت د عدم وجود د "عامل" کښې او جواب له دې اعتراض نه دا ده چه مونږ ورته وایو چه دا ذکر د بناء چه، په تعریف د عامل کښې شوی ده دا د پاره د موافقت د اعراب شوی ده، په دا شان چه بناء ضد ده د پاره د اعراب او په دې مخکښې تعریف د "عامل" کښې هر کله چه اعراب من کوره ده، نو د ا بناء یې هم ورسره ذکر کړه، د پاره د موافقت د اعراب، اګر چه دا بناء په خپله نه ده مقصوده، ځکه چه بناء په "عامل" سره نه حاصلیږی.

وهذا التعریف تعریف لمطلق العامل سواء کان من دواخل الخ: غرض د

شارح په دې عبارت کښې جواب ورکول دی د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دے چې معترض وائي چې شارح تا مخالفت کړے دے د تعریف مشهور د عامل نه چې کوم تعریف مشهور دے او مذکور دے په کتب معتبره د علم نحو کښې لکه کافیه د علامه ابن حاجب، چې هغه تعریف مشهور دا دے چې: العامل مابه یتقوم المعنی المقتضی للاعراب، او شارح تا دا تعریف مشهور د ذکر نکړو بلکه تعریف غیر مشهور د دې ذکر کړو چې هغه دا دے چې: مایوجب کون آخر الکلمة علی وجه مخصوص من الاعراب والبناء، او مخالفت د مشهور نه په قوت د خطاء کښې وي، او حاصل د جواب دا دے، چې هغه تعریف چې مشهور دے او علامه ابن حاجب ذکر کړے دے، تعریف دے لپاره د عامل د اسم، او دا تعریف چې شارح ذکر کړے دے په دې مقام کښې تعریف د مطلق عامل دے، او مقصود هم په دې مقام کښې تعریف د مطلق عامل دے، نه د عامل د اسم فقط، نو دا مخالفت په قوت د خطاء کښې نه دے.

تشریح: زده کړه دا خبره چې معنی مقتضی للاعراب امور ثلثه دی اول امر فاعلیت دے، نو دا فاعلیت هم یو امر دے چې مقتضی دے د اعراب په دې شان چې د فاعلیت معنی په کوم اسم باندې ثابته شي، نو بیا دا معنی تقاضا د جریان د اعراب کوي، په دې اسم باندې لپاره د دے چې دا اعراب دلالت وکړي په دې معنی باندې چې فاعلیت دے، او دا اعراب چې د فاعلیت تقاضا کوي رفع ده مثال لکه: "جاءني زید" نو په دې ترکیب کښې دا زید فاعل دے او په دیکښې معنی د فاعلیت موجود ده او دا اعراب چې په "زید" باندې راغلے چې رفعه ده دا له وجه د تقاضا د فاعلیت نه پکښې راغلې ده، او دا رفعه دلالت کوي په فاعلیت د "زید" باندې.

او دویم امر مفعولیت دے، نو دا مفعولیت هم یوه معنی مقتضی للاعراب ده

په دې شان چه د امفعولیت په کوم اسم کښې موجود شي نو هغه اسم به منصوب وي
او ورباندې به اعراب د نصب جاري شوې وي او دا نصب به دلالت کوي په مفعولیت
د دې اسم باندې مثال لکه "رأیت زیدًا" نو دا زید مفعول به دے لپاره د رأیت فعل
او د امفعولیت د زید "تقاضا کوي د اعراب چه هغه به نصب وي، او دا نصب دلالت
کوي په مفعولیت د زید باندې چه دا زید مفعول به دے لپاره د "رأیت" فعل.
او دریم امر اضافت دے نو دا اضافت هم یوه معنی ده چه تقاضا کوي د اعراب چه
هغه اعراب جر دے، نو چه دا اضافت په کوم اسم کښې حاصل شي نو دا اسم به
ضرور مجرور وي او دا جر به دلالت کوي په مضاف الیه د دې اسم باندې مثال لکه
"غلام زید" نو په دې زید کښې اضافت دے او دا اضافت تقاضا کوي د اعراب
چه هغه اعراب جر دے، او دا جر "زید" دلالت کوي په دې خبره باندې چه دا
زید مضاف الیه دے لپاره د مضاف چه هغه غلام دے.
نو حاصل د معنی د عامل د اسم چه علامه ابن حاجب ذکر کړې ده دا ده، چه
"عامل" عبارت دے د هغه شي نه چه په هغه سره به په اسم کښې هغه معنی حاصلیږي
چه هغه تقاضا کوي د اعراب نو دا جاء په "جاءني زید" کښې عامل دے ځکه چه په دې
جاء سره په "جاءني زید" کښې فاعلیت حاصل شوې دے، او دا رأیت په "رأیت زیدًا"
کښې هم عامل دے ځکه چه په دې رأیت سره په زید کښې مفعولیت حاصل شوې دے
او دا باء حرف جار دے په دې مثال کښې چه "مررت بزید" دے عامل دے ځکه چه په
دې باء سره په دې زید کښې اضافت حاصل شوې دے په دې شان چه دا مررت
هم په اصل کښې مضاف دے او دا زید مضاف الیه دے اګرچه ورباندې په عرف د
نحاتو کښې د مضاف او مضاف الیه اطلاق نشي کولے.
او وجه لپاره د اختصاص د دې تعریف تر عامل د اسم پورې دا ده چه له دې
تعریف نه دا معلومیږي چه عامل عبارت دے د هغه شي نه چه هغه د امعنی

مقتضی للاعراب حاصلوی په شی کښې او د امعانی حاصلیږی په اسم کښې فقط نه په فعل کښې، نو د اعامل به هم د اسم وی، نو معلومه شوه چه د اتعریف مشهور د عامل تعریف د عامل د اسم ده نه د مطلق عامل

په دے مقام کښې معترض اعتراض کوی چه د امعنی مقتضی للاعراب یوه معنی ده چه قائمه به وی تر اسم پورے، نو د امعنی صفت ده لپاره د اسم نو هر کله چه دا معنی صفت ده لپاره د اسم، نو د دے ذکر په تعریف د عامل کښې نه ده صحیح ځکه چه د اتعریف د شی ده په صفت د امر مباین سره، ځکه چه اسم امر مباین د عامل نه او د اتعریف باطل ده.

او جواب له دے اعتراض نه داده چه مونږ وایو چه مونږ تعریف د عامل په معنی مقتضی للاعراب سره نه ده کړے بلکه تعریف د عامل په "یتقوم به" سره شویده او د امعنی مقتضی للاعراب له متعلقا تو د "یتقوم" نه ده، ځکه چه د افاعل ده لپاره د دے "یتقوم" او یتقوم به په معنی د "یحصل به" سره ده، او د امعنی صفت ده لپاره د عامل" ځکه چه په واسطه د عامل" سره د امعنی مقتضی للاعراب په اسم کښې حاصلیږی، نو په [illegible] مقام کښې تعریف د شی شوی ده چه عامل" ده په خپل صفت سره چه هغه "یتقوم به" ده او د اتعریف جائز ده.

قوله: اند ا نحو: هو فی اللغة جاء علی تسعة معانٍ الخ:

نه ده کړه د اخبره چه معنی لغوی عبارت ده د هغه معنی نه چه واضع د لغت د لفظ د کومے معنی د پاره وضعه کړے وی مثال لکه "اسد" چه د الفظ واضع د لغت وضعه کړیده لپاره د "حیوان مفترس" چه وراته زمرے وائی، او په دے معنی لغوی کښې چه کله لفظ مستعمل شی نو دے لفظ ته حقیقت لغوی وائی، او دے معنی ته معنی حقیقی لغوی وائی۔

تفصیل المقام: نه ده کړه د اخبره چه یو مشترک ده او بل منقول ده او بل

حقیقت دہ او بل مجازی دہ، او دوئ په مابین کښې دا سے فرق دہ، چه مشترک هغه لفظ ته وائی چه معنی ګانے ئې ډیرے وی او د هرے معنی د پاره وضعه کړے شوی وی، مثال لکه لفظ د عین چه دد ے د پاره متعدد د ے معانی دی څکه چه یوه معنیٰ عین چینه ده او بله معنی د عین د لمر سترګه ده او بله معنی د عین سره زر دی او بله معنی د عین کعبه ده او بله معنی د عین جاسوس ده او د الفظ "عین" د عین د هرے معنی د پاره وضعه شوې ده په مستقله وضع سره، په دے شان چه لحاظ د مناسبت نۀ ده شوے په مابین د معانی کښې په وقت د وضعه کښې، او دا سے هم نۀ ده چه له یوے معنی نه دا لفظ را نقل شوے وی دویمے معنی ته.

او منقول عبارت ده د هغه لفظ نه، چه معانی یې ډیر یاتے وی خو لکن د هرے معنی د پاره په جدا جدا وضع سره نۀ وی وضعه، بلکه د یوے معنی لپاره وضعه وی او دویمه معنی کښې مستعمل شوے وی له وجهٖ د وجود د مناسبت نه په مابین د اوله معنی کښې او دویمه معنی کښې، خو لکن دا استعمال به په دے دویمه معنی کښې مشهور شوے وی، او په اوله معنی کښې به استعمال ترک شوے وی په دے شان چه دا لفظ ذکر شی مجرد له قرائنو د اولے معنی نه او له قرائنو د دویمے معنی نه، نو ذهن به تبادر کوی د دویمے معنی ته، نو دے لفظ ته منقول وائی او دے اولے معنی ته چه معنی موضوع له ده منقول عنه وائی، او دے دویمے معنی ته منقول الیه وائی.

او بیا دا منقول په اعتبار د ناقل سره په څلور کوری کښې په درے قسمه ده اول قسم: منقول عرفی ده او دویم قسم د منقول: منقول شرعی ده او دریم قسم د منقول: منقول اصطلاحی ده.

منقول عرفی: عبارت ده د هغه لفظ نه چه د اولے معنی نه دویمه معنی ته عرف عام را نقل کړے وی، مثال لکه "دابة" نو دابة اوله معنی ده: "ما یدب علی الارض"

یعني دابه هغه شی ته وایي چه هغه په ځمکه باندې تلل کوي، نو په دې معنی سره هر حیوان دابه ده برابره خبره ده که هغه انسان وي او که نور انواع حیوانیه وي او له دې معنی نه عرف عام ته انقل کړه دویمه معنی ته چه هغه حمار او فرس ده نو دا استعمال د دابه په حمار او فرس کښې مشهور شویده او استعمال په اوله معنی کښې ترک شویده په دې شان چه دابه ذکر شي مجرده له قرائنو نه نو ذهن تبادر کوي دویمه معنی ته.

او منقول شرعي: عبارت ده د هغه منقول نه چه دا لفظ له اوّلې معنی نه دویمه معنی ته اهل شرع ته انقل کړې وي، مثال لکه صلوة، نو د دې اوله معنی دعا ده او دویمه معنی ارکانِ مخصوصه دي، او لهٔ دې اوّلې معنی نه اهل شرع چه الله تعالی ده ته انقل کړیده دویمه معنی ته په دې شان چه "صلوة" ذکر شي مجرد لهٔ قرائنو نه، نو ذهن تبادر کوي دې منقول الیه ته چه دویمه معنی ده.

او منقول اصطلاحي: عبارت ده د هغه منقول نه چه هغه د اولې معنی نه دویمه معنی ته یو خاص قوم ته انقل کړې وي، چه هغوئ به اهل شرع نهٔ وي، مثال لکه لفظ د اسم، نو دا اسم په لغت کښې وضعه ده لپاره د علو، ځکه چه اسم په اصل کښې "سمو" وه په مذهب د بصریانو باندې، او "سمو" علو ته وایي، او له دې معنی نه یو خاص قوم چه نحات دي دا اسم نقل کړو دویمه معنی ته چه: کلمة تدل علی معنی الی اخره، نو په دې منقول اصطلاحي کښې دې اوّلې معنی ته چه معنی موضوع له ده معنی لغوي وایي، او دې دویمې معنی ته چه منقول الیه ده معنی اصطلاحي وایي، نو دا لفظ لپاره د معنی اصطلاحي نهٔ وي وضعه بلکه ورته نقل شوې وي.

او حقیقت او مجاز عبارت دي د هغه لفظ نه چه د هغهٔ معاني زیاتې وي، او د یوې معنی د پاره وضعه وي فقط، او په دویمه معنی کښې مستعمل شوې ئي

له وجه د وجود د مناسبت نه په مابين د اوله معنی کښی او په مابين د دويمې معنی کښی، نو لکن د استعمال به په دويمه معنی کښی نه وی مشهور شوے او د اوله معنی به نه وی ترک شوے بلکه د الفظ به کله په اوله معنی کښی مستعمليږی او کله به په دويمه معنی کښی مستعمليږی، او چه کله د الفظ ذکر شی مجرد له قرائنونه نو ذهن به تبادر کوی اولے معنی ته، او د دويمه معنی به مراد کولے شی د لفظ نه په وقت د وجود د قرينه کښی په دے دويمه معنی بانډی، نو د الفظ چه کله مستعمل شی په اوله معنی کښی، وائی ته حقيقت وائی، او دے اولنئ معنی ته حقيقی معنی وائی، او چه کله مستعمل شی په دويمه معنی کښی، نو دے لفظ ته مجاز وائی او دے دويمې معنی ته معنی مجازی وائی.

او د مجاز او د منقول په مابين کښی درے فرقه دی، اول فرق دا دے چه په منقول کښی دے معنی موضوع له ته معنی حقيقی وائی په عرف او اصطلاح د اهل العلم کښی، او په مجاز کښی دے معنی موضوع له ته معنی حقيقی نه وائی.

او دويم فرق دا دے چه په منقول کښی معنی موضوع له متروکه وی او په مجاز کښی مستعمله وی.

او دريم فرق دا دے چه په وقت د ارادے د معنی د منقول کښی چه هغه معنی عبارت ده له منقول اليه نه احتياج نه وی قرينے ته او په وقت د ارادے د معنی مجازی کښی احتياج وی قرينے ته.

او شارح په دے مقام کښی د نحو د پاره نه معانی لغويه ذکر کړيدی، په دے شان چه شارح وائی: الاول بمعنی القصد کنحوت نحوا ای قصدت قصدا: يعنی اوله معنی په دے معانی تسعه کښی د نحو د پاره "قصد" ده، يعنی نحو مصدر دے او معنی لغوی يے "قصد" ده لکه و ئيلی شی چه "نحوت نحوا" نو د دے معنی ده: "قصدت قصدا" يعنی ما قصد وکړو په قصد کولو سره، او ترکيب د دے مثال

داسې ده چې د "کاف" په معنی د "مثل" سره ده او "نحوت" فعل ماضي ده، ضمير يکښې بارز ده چې هغه "تاء" ده او هغه ورته فاعل او "نحوا" مفعول مطلق ده لپاره دَ: "نحوت" فعل سره د فاعل خپل نه او سره د مفعول مطلق خپل نه جمله فعليه خبريه مفسر، او دا "اي" حرف تفسير، او دا "قصدت" فعل ماضي ده او دا ضمير يکښې د واحد متکلم فاعل کيږي لپاره د فعل او دا "قصدا" منصوب ده او مفعول مطلق ده لپاره د "قصدت" او دا فعل سره د فاعل او سره د مفعول مطلق نه جمله فعليه خبريه تفسير جوړيږي لپاره د مفسر، او دا مفسر سره له تفسير خپل نه، خبر جوړيږي لپاره د مبتداء محذوف چې هغه مثاله ده، نو "مثال" لفظ مضاف او دا "ک" ضمير يکښې مضاف اليه ده، مضاف سره د مضاف اليه نه مبتداء جوړيږي او دا مبتدأ سره د خبر خپل نه جمله اسميه خبريه مثال جوړيږي د مخکښې مثل د پاره.

والثاني بمعنى المثل نحو رأيت رجلا نحوك: اي مثلك:

او دويمه معنی د "نحو" دا ده چې "نحو" راځي په معنی د "مثل" سره مثال لکه: "رأيت رجلا نحوك" نو په دې مثال کښې چې دا لفظ د "نحو" ذکر کړده، مراد ورنه "مثل" ده، نو معنی د دې کلام داسې ده چې ما اوليدو سړے چې ستا په "مثل" باندې ده.

او ترکيب د دې عبارت داسې ده چې دا لفظ د "نحو" مضاف او دا "رأيت" فعل، "تاء" ضمير ورته فاعل، او دا لفظ د "رجلا" موصوف او دا لفظ د "نحو" مضاف او دا "ک" ضمير ورته مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه خپل نه مفسر، او دا "اي" حرف تفسير او لفظ د "مثل" مضاف او دا کاف ضمير ورته مضاف اليه، دا مضاف سره د مضاف اليه خپل نه تفسير کيږي لپاره د مفسر، دا مفسر سره د تفسير خپل نه صفت کيږي لپاره د موصوف چې "رجلا" ده، او دا موصوف سره د صفت خپل نه مفعول به کيږي لپاره د "رأيت"، دا فعل سره د فاعل او سره د مفعول به خپل نه جمله فعليه خبريه، مضاف اليه کيږي لپاره د مضاف

چه هغه لفظ د نحوت ده دا مضاف سره د مضاف الیه نه خپل خبر کیږي لپاره د مبتداء چه مثاله ده او مقدر ده، مبتداء سره د خبر خپل نه جمله اسمیه خبریه مثال کیږي لپاره د ممثل۔

والثالث بمعنی الصَّرف کنحوت بصری الیک ای: صرفت بصری الیک:

او دریم معنی لغوی د نحو "صرف" ده یعني یو شے گرزول یو طرف ته مثال لکه: "نحوت بصری الیک" نو په دے مثال کښې د "نحوت" فعل ده او معنی یې صرفت ده او مصدر د دے نحو دی ځکه چه د هغه معنی ده "صرف" نو معنی د دے کلام د اسره چه ما خپل نظر ستا طرفته در وگرزولو، او ترکیب د دے مثال دا سے ده چه دا کاف په معنی د "مثل" سره ده او دا "نحوت" فعل ده او دا تاء ضمیر بارز دی ته فاعل ده، او دا لفظ د بصر مضاف ده او دا یاء ضمیر د متکلم وی ته مضاف الیه ده، او دا مضاف سره د مضاف الیه خپل نه مفعول به کیږي لپاره د "نحوت" او دا "الی" په الیک کښې حرف جاره ده او دا "کاف" ضمیر د مخاطب وی ته مجرور ده، او جار سره د مجرور خپل تعلق نیسي تر "نحوت" فعل پورے، او دا فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او سره د متعلق خپل نه جمله فعلیه خبریه مفسر او دا "ای" حرف تفسیر، او دا "صرفت" فعل او دا تاء ضمیر بارز ده وی ته فاعل، او لفظ د "بصر" مضاف او دا یاء ضمیر د واحد متکلم وی ته مضاف الیه ده، مضاف سره د مضاف الیه خپل نه مفعول به کیږي لپاره د "صرفت" فعل، او دا الی حرف جاره ده او دا کاف ضمیر وی ته مجرور ده، او دا جار سره د مجرور خپل نه تعلق نیسي تر "صرفت" فعل پورے، او دا فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او سره د متعلق خپل نه جمله فعلیه خبریه تفسیر جوړیږي لپاره د مفسر چه هغه مخکښې جمله ده، او دا مفسر سره د تفسیر خپل نه خبر جوړیږي لپاره د مبتداء محذوف چه مثاله ده، او دا مبتداء سره د خبر خپل نه جمله اسمیه خبریه مثال جوړیږي لپاره د ممثل۔

والرابع بمعنى الجانب نحو سرت الى نحوِ دارِ فلانٍ اى جانب دار الخ:

او څلورم معنى له دِے معانى تسعه نه "جانب" ده په دِے شان چه "نحو" په لغت کښے وضعه ده لپاره د جانب او جانب معنى طرف دشى مثال لکه "سرت الى نحو دار فلان" نو په دِے مثال کښں دالفظ د "نحو" چه ذکر ده په معنى د "جانب" سره ده نو معنى د کلام دا ده چه زه لاړم طرف او جانب د کور د فلانى ته۔

او ترکیب د دے مثال داسے ده، چه دالفظ د "نحو" مضاف ده، او "سرت" فعل ده او دا تاء ضمير بارز وى ته فاعل ده او دا "الى" حرف جاره ده او دالفظ د "نحو" چه په معنى د جانب سره ده مضاف ده دا رلفظ نه او دا "دار" لفظ مضاف ده فلان ته نو دا مضاف چه دار ده سره د مضاف اليه څپل نه چه "فلان" ده، مضاف اليه کيږى لپاره د مضاف چه لفظ د "نحو" ده او دا مضاف سره د مضاف اليه څپل نه مجرور کيږى لپاره د جار چه "الى" ده، او دا جار سره د مجرور څپل نه مفسر کيږى او دا "اى" حرف تفسير ده، او دالفظ د جانب مضاف ده "دار" ته او دا دار مضاف ده "ه" ضمير ته، نو دا مضاف سره د مضاف اليه څپل نه مضاف اليه کيږى لپاره د مفسر، او دا مفسر سره د تفسير څپل نه ظرف لغو تعلق نيسى تر "سرت" فعل پورے، او دا فعل سره د فاعل او سره د دے متعلق څپل نه جمله فعليه خبريه مضاف اليه کيږى لپاره د مضاف چه "نحو" ده، او دا مضاف سره د مضاف اليه څپل نه خبر کيږى لپاره د مبتداء محذوف چه هغه "مثاله" ده، او دا مبتداء سره د خبر څپل نه جمله اسميه خبريه مثال کيږى لپاره د ممثل۔

※ د مضاف چې جانب ده مضاف [illegible] لپاره

والخامس بمعنى النوع نحو اكلت ثلاثة انحاءٍ من الطعام اى ثلاثة انواع منه

پنځم معنى لغوى د دے معانى تسعه نه د "نحو" نوع ده، په دِے شان چه دا "نحو" په لغت کښں وضعه ده لپاره د "نوع" او د قسم مثال لکه: اكلت ثلثة انحاءٍ من الطعام: نو په دِے مثال کښں دا "انحاء" جمعه د نحو ده، او معنى د نحو "نوع" او "قسم"

نو معنی د انحاء اقسام او انواع دی، نو معنی د کلام دا ده چه ما ونخوړل درے اقسام د طعام۔

او ترکیب د دے عبارت دا سے دہ چہ لفظ د "نحو" مضاف دہ، او دا "اکلت" فعل دہ او دا لفظ د "ثلثة" مضاف دہ او دا "انحاء" لفظ مضاف الیه دہ او دا مضاف سره د مضاف الیه خپل نہ ذوالحال دہ، او دا "من" حرف جارہ دہ او دا "الطعام" ورته مجرور دہ، او دا جار سره د مجرور خپل نہ تعلق نیسی تر "کائنة" "مقدر پورے" او دا کائنة صیغه د اسم فاعل دہ او ضمیر پکښں مستتر دہ چہ لہ هغه نه تعبیر کوئے شی په "هی" سره او "ثلثة" ته راجع ده هغه فاعل ده لپاره د دے اسم فاعل، او دا اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق خپل نہ شبه جمله حال کیږی لپاره د دے ذوالحال، او دا ذوالحال سره د حال خپل نہ مفسر دہ او دا "ای" حرف تفسیر دہ، او دا لفظ د "ثلثة" مضاف دہ او دا انواع لفظ ورته مضاف الیه دہ، او دا مضاف سره د مضاف الیه خپل نہ ذوالحال کیږی، او دا "من" حرف جار دہ، او دا "ه" ضمیر مجرور ورته مجرور محلاً دہ، او دا جار سره د مجرور خپل نہ تعلق نیسی تر "کائنة" "مقدر پورے"، او دا کائنة صیغه د اسم فاعل دہ او ضمیر پکښں مستتر دہ چہ لہ هغه تعبیر کوئے شی په "هی" سره او دے "ثلثة" ته راجع ده هغه ورته فاعل دہ، او دا اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق خپل نہ شبه جمله حال کیږی لپاره د ذوالحال، ذوالحال سره د حال خپل نہ تفسیر کیږی لپاره د مفسر، او دا مفسر سره د تفسیر خپل نہ مفعول به کیږی لپاره د "اکلت" او دا اکلت فعل سره د فاعل او سره د مفعول به خپل جمله فعلیه خبریه مضاف الیه کیږی لپاره د مضاف چہ هغه "نحو" دہ، او دا مضاف سره د مضاف الیه خپل نہ خبر کیږی لپاره د مبتداء محذوف چہ هغه "مثاله" دہ، او دا مبتداء سره د خپل خبر نہ جمله اسمیه خبریه مثال کیږی لپاره د ممثل

والسادس بمعنی المقدار نحو جاء فی الجیش نحو هم الف ای مقدارهم الف:

اوشپږ: مه معنی لغوی د نحوله دِے معانی تسعه نه "مقدار" ده په دِے شان چه دا نحو په لغت کښ وضعه ده لپاره د "مقدار" او مثال د دے لکه: "جاء فی الجیش نحو هم الف" نو په دِے مثال کښ دا "نحو" لفظ په معنی د مقدار سره ده نو د نحوهم معنیٰ ده مقدار د هم، او معنیٰ د دے کلام دا ده چه ماته راغے فوج، چه هغوئ مقدار د زر کسان وه، یعنی دا فوج مشتمل وه په زر کسانو باندِے۔

او ترکیب د دے مثال داسے ده: چه دالفظ د "نحو" مضاف ده او دا "جاء" فعل ده او دانون وقایه ده او دا یاء ضمیر واحد متکلم مفعول به ده لپاره دَ دِے "جاء"، او دا "الجیش" موصوف ده او دالفظ د "نحو" مضاف ده، او دا "هم" ضمیر د غائب وراته مضاف الیه ده، او بیا دا مضاف سره دَ دِے مضاف الیه نښل نه مبتداء جوړیږی، او دالفظ د "الف" وراته خبر جوړیږی، او بیا دا مبتداء سره د دے خبر نښل نه مفسر جوړیږی، او دا "ای" حرف تفسیر ده او دالفظ د مقدار مضاف ده، او دا هم لفظ وراته مضاف الیه ده، او بیا دا مضاف سره د مضاف الیه نښل نه مبتداء جوړیږی، او دالفظ د "الف" وراته خبر جوړیږی، او دا مبتداء سره د خبر نښل نه جمله اسمیه تفسیر جوړیږی لپاره د مفسر او دا مفسر سره د تفسیر نښل نه صفت جوړیږی لپاره د موصوف او دا موصوف سره د صفت نښل نه فاعل کیږی لپاره د فعل چه "جاء" ده او دا فعل سره د فاعل نښل نه او سره د مفعول به نښل نه، جمله فعلیه خبریه مضاف الیه کیږی لپاره د مضاف چه لفظ د "نحو" ده، او دا مضاف سره د مضاف الیه نښل نه خبر کیږی لپاره د مبتداء محذوف چه "مثاله" ده، او دا مبتداء سره د خبر نښل نه جمله اسمیه خبریه مثال کیږی لپاره د ممثل۔

والسابع بمعنی القبیلة نحو نظرت الی نحو بنی تمیم ای قبیلتهم: اووَمه

معنی له دے معانی تسعه د نحونه قبیله ده په دے شان چه دا نحو په لغت کښې وضعه ده لپاره د قبیلے او قوم، نو په دے مثال کښې چه نظرت الی نحو بنی تمیم کښې دا نحو په معنی د قوم او قبیله سره ده په دے شان چه مراد له نحونه قبیله ده او معنی ددے مخکښې کلام دا ده چه ماوکتل او نظر مے وکړو قبیلے د بنی تمیم ته.

او ترکیب ددے مثال دا سے ده چه دا لفظ "نحو" مضاف ده، او دا "نظرت" فعل ده او دا تاء ضمیر د مخاطب ورته فاعل ده او دا "الی" حرف جاره ده او دا نحو مضاف ده لفظ "بنی" ته او دا بنی لفظ مضاف ده "تمیم" لفظ ته، او دا مضاف چه بنی ده سره د مضاف الیه نه چه لفظ "تمیم" ده مضاف الیه کیږی لپاره د مضاف چه هغه لفظ "نحو" ده، او دا مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور کیږی لپاره د جار او دا جار سره د مجرور نه مفسر کیږی، او دا "ای" حرف تفسیر ده او دا لفظ "قبیله" مضاف ده او دا لفظ "هم" ورته مضاف الیه ده، او دا مضاف سره د مضاف الیه نه تفسیر کیږی لپاره د مفسر، او دا مفسر سره د تفسیر نه ظرف لغو تعلق نیسی تر "نظرت" فعل پورے، او دا فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه مضاف الیه کیږی لپاره د مضاف چه "نحو" ده، او دا مضاف سره د مضاف الیه نه خبر کیږی لپاره د محل وقف مبتدا چه هغه "مثاله" ده او دا مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه مثال کیږی لپاره د ممثل.

والثامن بمعنی الصیانة کما نقل اذا جاء النحویون یوم القیمة فیقال فی حقهم من جانب الله تعالی یا ملائکتی نحوهم من النار کما نحوا کلامی عن الخطاءِ ای صونوهم کما صانوا کلامی عن الخطاءِ الخ:

او اتمه معنی لغوی ددے معانی تسعه نه صیانت ده، په دے شان چه نحو په لغت کښې وضعه ده لپاره د صیانت، او صیانت عبارت ده له تحفظ د ذهن نه

نو په دې محکښې مقوله کښې چه را نقل شوې ده د نحاتونه د "نحوهم" پکښې فعل ده او مصدر ددې "نحو" راځي او د نحوهم معنی ده "صونوهم" نو د نحو معنی ده: ميانت، او معنی ددې محکښې مقوله دا ده چه کله د قيامت په ورځ بانې علماء د علم نحو راشي ميدان د محشرته، نو د الله له خوا به فرښتو ته دا حکم وشي چه د دې علماؤ د علم نحو تحفظ او ساتنه وکړئ دا اور د جهنم نه لکه څنګه چه دوئ څما کلام چه "قرآن" ده ساتلے ده د خطاء نه.

او ترکيب ددې محکښې مثال داسے ده، چه د "اذا" حرف شرط ده او د "جاء" فعل ده او "النحويون" ورته فاعل ده او د الفظ د "يوم" مضاف ده او "القيمة" لفظ ورته مضاف اليه ده او دا مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول کيږي لپاره د فعل چه "جاء" ده او دا فعل سره د فاعل او سره د مفعول فيه نه جمله فعليه خبريه شرط، او دا فاء په "فيقال" کښې جزائيه ده او "يقال" فعل مجهول ده او "في" په "في حقهم" کښې جاره ده او "حق" لفظ مضاف ده او "هم" ضمير ورته مضاف اليه ده، او دا مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور کيږي لپاره د جار او دا جار سره د مجرور نه نائب فاعل جوړيږي لپاره ددې فعل مجهول، او "من" حرف جاره ده او "جانب" لفظ مضاف ده او د الفظ د "الله" ذوالحال ده او دا "تعالى" فعل ماضي ده، او ضمير پکښې مستتر ده چه له هغه نه تعبير کيږي په "هو" سره او راجع ده لفظ د "الله" ته او دا فاعل ده ددې فعل، او دا فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه حال ده لپاره د ذوالحال، او دا ذوالحال سره د حال نه مضاف اليه ده لپاره د مضاف چه هغه لفظ د "جانب" ده، او دا مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور کيږي لپاره د جار چه "من" حرف جار ده او دا جار سره د مجرور نه ظرف لغو تعلق نيسي ته "يقال" فعل مجهول پورې، او دا فعل مجهول سره د نائب فاعل نه او سره د متعلق نه

جمله فعليه خبريه قول جوړېږي، او د ياء حرف نداء په "يا ملائكتي" كښې قائمه ده په مقام د "ادعو" فعل باندې، او د "ادعو" صيغه د واحد متكلم فعل مضارع معلوم ده او ضمير پكښې مستتر ده چه تعبير وړ نه كولے شي په "انا" سره هغه ورته فاعل ده لپاره د دے "ادعو" فعل، او د لفظ د "ملائكة" مضاف ده او د ياء ضمير د واحد متكلم ورته مضاف اليه ده، او د مضاف سره د مضاف اليه نه خپل نه مفعول به جوړېږي لپاره د "ادعو" فعل، او د فعل سره د فاعل او سره د مفعول به خپل نه جمله فعليه انشائيه نداء جوړېږي، او د "انحوهم" صيغه د امر ده او ضمير پكښې مستتر ده، چه تعبير وړ نه كولے شي په "انتم" سره او هغه فاعل ده لپاره د دے فعل چه صيغه د امر ده، او د "هم" ضمير د غائب ورته مفعول به ده او د "عن" حرف جاره ده او د "الناس" لفظ ورته مجرور ده او د جار سره د مجرور خپل نه تعلق نيسي تر "انحوا" فعل پورې، او د "كاف" په "كما" كښې په معنى د مثل سره ده او حرف جاره ده، او د "ما" مصدريه ده، او د "انحوا" فعل ده او د واؤ ضمير د جمع فاعل ده لپاره د "انحوا" فعل، او د لفظ د "كلام" مضاف ده او ياء ضمير د واحد متكلم ورته مضاف اليه ده، او د مضاف سره د مضاف اليه خپل نه مفعول به جوړېږي لپاره د "انحوا" فعل، او د "عن" حرف جاره ده او د لفظ د "الخطاء" ورته مجرور ده او د جار سره د مجرور خپل نه تعلق نيسي تر "انحوا" فعل پورې، او د فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او سره د متعلق خپل نه جمله فعليه په تاويل د "ما" مصدريه سره ورته مفرد جوړېږي او مجرور كيږي لپاره د جار چه "كاف" ده، او د جار سره د مجرور خپل نه تعلق نيسي تر "انحوا" فعل پورې، او د "انحوهم" فعل سره د فاعل او سره د مفعول به او سره د متعلق اول خپل نه چه "عن الناس" ده او سره د متعلق ثاني خپل نه چه "كما انحوا كلامي عن الخطاء" ده، جمله فعليه انشائيه مفسر جوړېږي

او دا "ای" حرف تفسیر دہ او دا "صونوا" فعل دہ او دا "واؤ" ضمیر پکښې چہ موجود دہ فاعل دہ لپارہ ددې فعل، او دا "هم" ضمیر ورتہ مفعول بہ دہ، او دا "کاف" پہ معنی د "مثل" سرہ دہ حرف جارہ دہ، او دا "صانوا" فعل دہ، او دا "واؤ" ضمیر ورتہ فاعل دہ، او دا لفظ د کلام مضاف دہ او دا "یاء" ضمیر د واحد متکلم ورتہ مضاف الیہ دہ او دا مضاف سرہ د مضاف الیہ ځېل نہ مفعول بہ دہ لپارہ د "صانوا" فعل او دا "عن" حرف جارہ دہ او دا "الخطاءِ" ورتہ مجرور دہ، او دا جار سرہ د مجرور ځېل نہ تعلق نیسی تر "صانوا" فعل پورې، او دا "صانوا" فعل سرہ د فاعل او سرہ د مفعول بہ او سرہ د متعلق ځېل نہ پہ تاویل د "ما" مصدریہ سرہ چہ سر کښې موجود دہ مفرد جوړیږی او مجرور کیږی لپارہ د جار چہ "کاف" دہ او دا جار سرہ د مجرور ځېل نہ تعلق نیسی تر "صونوا" فعل پورې او دا "صونوا" فعل سرہ د فاعل او سرہ د مفعول بہ او سرہ د متعلق ځېل نہ جملہ فعلیہ تفسیر جوړیږی لپارہ د مفسر، او دا مفسر سرہ د تفسیر ځېل نہ جملہ فعلیہ انشائیہ جواب جوړیږی لپارہ د "نداء" او دا نداء سرہ د جواب ځېل نہ مقولہ جوړیږی لپارہ د قول چہ "فیقال فی حقهم من جانب اللّٰہ" دہ او دا قول سرہ د مقولې ځېل نہ جزاء او جواب جوړیږی لپارہ د شرط، او دا شرط سرہ د جواب ځېل نہ خبر دہ لپارہ د مبتداءِ محذوفہ چہ "مثالہ" دہ او دا مبتداء سرہ د خبر ځېل نہ جملہ اسمیہ مثال کیږی لپارہ د ممثل۔

والتاسع بمعنی الاعراض کقول الفقہاءِ ثم یتنحی عن ذلک المکان ای یعرض عنہ: او نہمہ معنی د دې معانی تسعہ د "نحو" نہ "اعراض" دہ پہ دې شان چہ دا "نحو" پہ لغت کښې وضعہ دہ لپارہ د "اعراض" نو پہ دې مثال مں کوم چہ کښې د "یتنحی" فعل دہ او مصدر د مجرد د دې "نحو" راځی، او د "یتنحی" معنی دا دہ چہ دا کس پہ اعراض کوی، نو د "نحو" معنی "اعراض" دہ، او د دې کلام معنی دا شوہ

چه فقهاء وائي چه کله يو کس په مکان کښ د خپو نه بغير د نورو واندامونو غسل کړي نو بيا به له دے مکان نه داکس اعراض کوي، ورته لرے کيږي به او په دے امکان کښ به خپے مينځي.

او ترکيب ددے کلام داسے دے چه داکاف په کقول الفقهاءِ "کښ په معنی دمثل سره دے او د الفظ "قول" مضاف دے او د "فقهاء" لفظ مضاف اليه دے، او دامضاف سره د مضاف اليه نه قول جوړيږي، او د "ثم" حرف عاطف دے او معطوف عليه ددے په کتابونو د علم الفقه کښ ذکر دے، او د "يستنجی" فعل دے او ضمير په کښ مستتر دے چه تعبير ورته کيږي په "هو" سره او هغه راجع دے مغتسل ته او فاعل دے لپاره ددے فعل، او "عن" حرف جاره دے او د "ذٰلك" اسم اشاره دے، او د "المکان" ورته مشار اليه دے، او د اسم اشاره سره د مشار اليه نه مجرور دے لپاره د جار، او د جار سره د مجرور نه تعلق نيسي تر دے "يستنجی" فعل پورے، او د "يستنجی" فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه مفسر دے، او د "أي" حرف تفسير دے، او د "يعرض" فعل مضارع معلوم دے، او ضمير پکښ مستتر دے چه تعبير ورته کولے شي په "هو" سره او ور راجع دے مغتسل ته فاعل دے لپاره ددے فعل، او د "عن" حرفِ جاره دے، او د "ه" ضمير ورته مجرور دے، او د جار سره د مجرور نه تعلق نيسي تر "يعرض" فعل پورے، او د فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه جمله فعليه خبريه تفسير دے لپاره د مفسر، او د مفسر سره د تفسير نه جمله اسميه خبريه مقوله دے لپاره د قول، او د قول سره د مقوله نه جمله فعليه خبر دے لپاره د مبتداء محذوف چه "مثاله" دے او د مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه مثال جوړيږي لپاره د ممثل نو د دانه معاني چه ذکرشوے معاني لغويه د "نحو" دي، يعني "نحو" په لغت کښ

وضعه ده لپاره د دے معنا گانو نو دا "نحو" په نسبت سره د دے معانیو ته مشترک ده ځکه چه دا معنی گانے ډیرے دی، او د هرے معنی د پاره په جدا جدا وضعه سره وضعه ده.

او معنی اصطلاحی د "نحو" دا ده چه: "علم باصول یعرف بها احوال اواخر الکلم الثلث من حیث الاعراب والبناءِ وکیفیة ترکیب بعضها مع بعض"، یعنی نحو په اصطلاح کښ عبارت ده د هغه نه چه دا علم په داسے شوے دی په څه قواعدو باندے چه په دے قواعدو سره به پیژندلے شی احوال د اخر د دریو کلمو چه اسم او فعل او حرف دی، د حیثیت د اعراب او د بنا نه، چه کوم قسم په د دوی کښ معرب دی او کوم قسم په د دوی کښ مبنی دی، او د غه شان په دے قواعدو سره به پیژندلے شی کیفیت د ترکیب د بعضو کلماتو د بعضو نورو سره، نو دے معنی ته معنی اصطلاحی د "نحو" وائی.

او د دے معنی اصطلاحی مناسبت د مخکنو ټولو معانیو سره نشته بلکه دا تتمه معنی سره یے مناسبت ده فقط، ځکه چه اتمه معنی لغوی د "نحو" صیانت او تحفظ ده او په دے علم نحو سره هم تحفظ د ذهن راځی د هغے خطائی نه چه کومه خطائی واقع کیږی په لفظ د کلام د عربو کښ.

نو دا اصطلاحی معنی د علمِ نحو چه من کوره ده سبب ده او د الغوی معنی چه صیانت او تحفظ ده وره ته مسبب ده، نو د لغوی معنی او اصطلاحی معنی په مابین کښ علاقه د سببیت او د مسببیت ده، نو دا "نحو" لفظ مشترک هم ده خو لکن په نسبت سره هغو معانی تسعه ته ځکه چه د هرے معنی د پاره په لغت کښے په جدا وضع سره وضعه ده، نو دا نحو مخکښ له نقل نه د دے معنی اصطلاحی ته مشترک وه یعنی موبز د الفظ د "نحو" نه وه نقل کړے له د دے معنی لغوی نه چه صیانت ده معنی اصطلاحی ته چه علم من کوره ده، نو دا نحو لفظ مشترکه

وه په مابین د دے معنی گانو کښی او کله چه مونږ دالفظ د نحو را نقل کړو له دے مخکښی معنی لغوی نه معنی اصطلاحی ته، نو ورا ته منقول وایی، نو لکن دا منقول اصطلاحی ده ځکه چه د اولے معنی نه دویمے معنی ته یو خاص قوم را نقل کړیده چه هغوئ نحات دی۔

نو په منقول کښی دا شرط ده چه د ټولو معانیو د پاره به نهٔ وی وضعه، بیا برابره خبره ده که د یو دے معنی د پاره وضعه وی لکه لفظ د صلوة چه مخکښی یے ذکر تیر شوی ده، او که د ډیرو معانیو د پاره۲ په لغت کښی نهٔ ده وضع، ځکه چه دا علم منا کوره چه معنی اصطلاحی د علم نحو ده دالفظ د نحو ورا ته نهٔ ده وضعه اگرچه د هغو نورو معانیو د پاره وضعه ده۔

او چه کله دا منقول وضعه وی لپاره د ډیرو معانیو، نو دا شرط نهٔ ده چه د دے معنی اصطلاحی چه دیته دالفظ را نقل شوے وی مناسبت دِ وی د دے ټولو معنی گانو سره بلکه چه د بعضو سره مناسبت وی دا کافی ده لپاره د نقل دَ دِے لفظ مثال لکه هم دغه لفظ "د نحو"، نو دا په لغت کښی لپاره د دے نهو معنا گانو وضعه ده، او د دے معنی اصطلاحی مناسبت نشته د دے ټولو معانیو سره بلکه په دِے معنا گانو کښی د دے اتمه معنی سره مناسبت ده فقط۔

تشریح: نا ده کړه دا خبره چه په دِے مخکښی عبارت د شارح کښی چه لفظ "د ملائکة" ذکر ده دا جمع د ملك ده په فتح د میم سره او د لام سره، او د دے ملك په اصل کښی اختلاف واقع شوی ده، په دِے شان چه د دے په اصل کښی د۲وه مذهبه دی، اول مذهب دا ده، چه دا ملك په اصل کښی "ملأك" وه یعنی اول میم ده پکښی او بیا په دویمه مرتبه کښی لام ده او بیا همزه ده، او د۱ همزه پکښی زائده ده لکه څنگه چه په "شمائل" کښی چه جمع د شمال ده کسرلاسس ته وایی دا همزه زائده ده، او بیا د "ملأك" نه دا همزه حذف شوه، نو

۲ وضعه وی لکه لفظ د نحو چه د نورو معانیو د پاره

وړانه ملک جوړ شو، او بنا په دې مذهب باندې دا ملک مشتق ده د ملک نه په کسره دميم او په سکون د لام سره، او مناسبت لفظي ظاهر دی، ځکه چه په دواړو کښې يو قسم حروف موجود دی، او مناسبت معنوي دا ده چه دا ملک په کسرې د ميم سره او په سکون د لام سره يکښې شدت وی، او يکښې قوت وی، نو همدا رنګ په دې "ملک" کښې په فتحه د ميم او د لام سره هم قوت او شدت وی، ځکه چه فرشته قوي جسم ده او خاوند د لوئ قوت ده.

او دويم مذهب دا ده چه دا ملک په اصل کښې "مألک" وه په دې شان چه په اول موضع کښې په ميم ده او موضع ثاني کښې يکښې همزه ده، او بيا وروسته وړانه لام ده او بيا وروسته قلب مکاني وشو، په مابين د لام او د همزه کښې په دې شان چه د الام وړاندې شو او ځائ د همزه ته راوړې شو، او دا همزه د لام ځائ ته يوړل شوه، نو وړانه "ملأک" جوړ شو، او بيا دا همزه وړانه حذف شوه نو وړانه "ملک" جوړ شو.

نو بنا په دې مذهب باندې دا همزه يکښې اصلي ده، او دا ملک را مشتق ده د "الوکت" نه او الوکت وايي رسالت ته، او دا لوکت په تجله صيغه د مصدر ده او په دې ملک کښې دوه احتماله دی، يا صيغه د ظرف ده معنی ځائ د رسالت او اطلاق يې په فرشتې باندې له قبيلې د اطلاق د ظرف نه ده په مفعول باندې ځکه چه دا فرشته موضع د رسالت نه ده بلکه مرسل وی د الله تعالی له طرفه انبياؤ ته، او يا دا "ملک" مصدر ده، په معنی د رسالت سره ده او په دې فرشته باندې چه اطلاق شوی ده دا په دې طريقې سره شوی ده، چه دا مصدر په معنی د مفعول سره ګرځولی ده، په دې شان چه دا "ملک" معنی د دې د رسالت ده او په معنی د "مرسل" سره ګرځول شوی ده.

او په حقيقت د دې "ملائکه" کښې اختلاف واقع شوی ده په مابين د حکماؤ

کیږي او په مابین د متکلمینو کښې وراسته له دینه چه د دوئ اتفاق ر اغلے ده په دے خبره باندې چه د ملائکه ذوات قائمه بانفسها دي په دے شان چه د متکلمینو مذهب داده چه د ملائکه اجسام لطیفه دي او ځان بدلوي په مختلفو اشکالو سره، او دوئ استدلال کړیدہ په دے خبره باندې چه دا فرشتے چه انبیاؤ ته راغلی دي هغوئ لیدلي دي۔

او د حکماؤ مذهب داده چه د ملائکه جواهر مجرده دي، یعني جواهر دي، نو لکن مجرد دي د"هیولیٰ" نه او د صورت جسمي نه او مرکب نهٔ دي له هیولی، او صورت جسمي نه لکه څنګه چه نفوس ناطقه جواهر مجرد دي، خو لکن د ملائکه مخالف دي د نفوس ناطقه نه په اعتبار د حقیقت سره او د ملائکه اکثر دي له نفوسِ ناطقه نه هم په اعتبار د علم سره او هم په اعتبار د قوت سره۔

او بیا د ملائکه په نڅپل کور کښې تقسیم شویدي دوه اقسامو ته اول قسم هغه فرشتے دي، چه د هغوئ کار تسبیح ویئل دي فقط، او دویم قسم هغه فرشتے دي، چه هغوئ مقرر کړے شویدي لپاره د تدبیر د امور او له اسمانه زمکے ته چه وحي وړل دي، او د غه شان قبض د ارواحو وغیر ذلک امور دي

او د امعنیٰ اصطلاحي د نحوه شارح ذکر کړیده په دے عبارت نڅپل سره

وفی الاصطلاح: علم باصول یعرف بها احوال اواخر الکلم الثلث من حیث الاعراب والبناءِ وکیفیة ترکیب بعضها مع بعضٍ:

نو په دے تعریف کښې د الفظ د"علم باصول" جنس دہ، هم ور شامل ده علم نحو ته، او هم نورو علومو ته، او د ا"یعرف بها احوال" لفظ فصل اوّل ده په دے تعریف کښې، او په دے فصل سره هغه علم خارج شو له تعریف د علم نحو نه، چه په هغه علم سره ذات د کلمه پیژندلے شي لکه علم صرف په دے شان، چه په دے علم صرف سره ذات د کلمه پیژندلے شي، او دغه

شان په دے اول قید سره د تعریف د علم نحو نه هغه علم خارج شو، چه په هغه سره معنی د کلمه پېژندلے شی، مثال لکه علم منطق، په دے شان چه په دے علم منطق سره معنی د کلمه پېژندلے شی، نو په دے اول قید او فصل سره د تعریف د علم نحو نه، علم صرف او علم منطق خارج شول۔

او د الفظ چه "اواخر الکلم الثلث" دا فصل ثانی دا په دے تعریف د علم نحو کښی، او په دے فصل سره د تعریف د علم نحو نه هغه علم خارج شو، چه په هغه سره حاصلیږی معرفت د اول او د آخر د کلمه، یعنی چه ورباندې حالت د اول د کلمه معلومیږی، او ورباندې حالت د آخر د کلمه معلومیږی لکه علم لغت، نو په دے علم لغت سره معلومیږی حالت د اول د کلمه چه ورباندې په کوم حرکت وی، او ورباندې معلومیږی حالت د وسط د کلمه چه په دے وسط باندې په کوم حرکت وی۔

او هم دا رنګ په دے دویم فصل سره د تعریف د علم نحو نه هغه علم خارج شو، چه په هغه سره نه حاصلیږی احوال د اواخر د کلماتو ثلثه بلکه چه په هغه علم سره به حاصلیږی معرفت د احوالو د افعالو د مکلفینو، چه هغه احوال عبارت دی له صحت او فساد، او حل او حرمت نه، مثال لکه "علم فقه" چه په دے سره حاصلیږی، معرفت د احوالو د افعالو د مکلفینو، نو په دے دویم فصل سره د تعریف د علم نحو نه هم علم لغت خارج شویده او هم علم فقه خارج شویده۔

او د "من حیث الاعراب والبناءِ" لفظ دریم فصل دا په تعریف د علم نحو کښی، او په دے فصل سره د تعریف د علم نحو نه، هغه علم خارج شو، چه په هغه سره حاصلیږی معرفت د احوالو د آخر د کلماتو ثلاثه، نو لکن نه له حیث د اعراب او د بناء نه بلکه له حیثیت د قافیه نه، مثال لکه "علم القوافی" نو په دے

علم القوافی سره حاصلیږی معرفت د احوالو د اخرد کلماتو ثلاثه لکن نه په حیثیت د اعراب او د بناء نه بلکه له حیثیت د قافیه نه، نو په دے دریم فصل سره د تعریف د علمِ نحو نه علم القوافی خارج شویده۔
او د الفظ چه "وکیفیة ترکیب بعضها مع بعض" ده څلورم فصل ده په دے تعریف د علمِ نحو کښ، او په دے فصل سره هغه علم خارج شو چه په هغه سره حاصلیږی معرفت د کیفیة د مفرد نه معرفت د کیفیت د ترکیب، لکه علمِ صرف، نو په دے سره نه حاصلیږی معرفت د کیفیت د ترکیب د بعضو کلماتو د بعضو نورو سره، بلکه په دے علم صرف سره حاصلیږی معرفت د کیفیت د مفرد چه دا په کوم وزن بانے ده۔
نو په دے څلورم فصل سره هم علمِ صرف خارج شو، د تعریف د علم نحو نه لکه څنګه چه په اول سره دا علم صرف، د تعریف د علم نحو نه خارجیږی.

قوله صد باشد چنین فرموده است هذا عند سیبویه وذهب الاخفش الی انها احد ومائة والخلاف الخ

نه ده کړه دا خبره چه په شمار د عواملو کښ اختلاف واقع شویده په مابین د سیبویه او د اخفش کښ په دے شان چه سیبویه وائی، چه عوامل سل دی، او دے ناظم هم په دے مقام کښ قول د سیبویه غوره کړیده، او وئیلی یے دی، چه "عامل اند ر نحو صد باشد".
او د اخفش مذهب دا ده، چه دا عوامل یو سل او یو دی، یعنی یو د پاسه سل عوامل دی، او د دوئ دواړو ترمینځه اختلاف په عواملو معنویه کښ واقع شویده، په دے شان چه په مذهب د سیبویه بانے عواملِ معنویه دوه دی، یو په مبتداء او خبر کښ ده، او دویم په مضارع کښ ده په حالتِ رفعی کښ، نو دا مضارع په حالت رفعی کښ معرب وی په عامل معنوی

سره مثال لکه "نه یں یضرب" نو په دے مثال کښې، دا مضارع معربه دہ او مرفوع دہ، او دا رفع ورته حاصله شویدہ په عامل معنوی سرہ.

او په مذهب دا خفش بانی عوامل معنویه درے دی، اول په مبتدا او خبر کښې دہ، او دویم په مضارع کښې دہ په حالت رفعی کښې، او دریم په توابعو کښې دہ، یعنی دا توابع چه عبارت دی له نعت او معطوف او بدل او تاکید او عطف بیان نه معرب دی په عواملو معنویه سرہ.

نو په عوامل لفظیه کښې د سیبویه او د اخفش اتفاق دہ، چه عوامل لفظیه دوہ کم نُه سل دی، او په عوامل معنویه کښې اختلاف دہ، سیبویه وائی، چه عوامل معنویه دوہ دی، او اخفش وائی، چه عوامل معنویه درے دی، نو د اخفش په مذهب بانی غونه عوامل یو سل او یو جوړیږی، یعنی یو باسه سل جوړیږی، او په مذهب د سیبویه بانی سل جوړیږی فقط.

ولما کان قول سیبویه اظهر عند الناظم اعتمد بقوله الخ:
غرض د شارح په دے عبارت خپل کښې جواب ورکول دی د یو اعتراض نه حاصل د اعتراض دا دہ، چه معترض وائی چه هرکله عوامل په نیزد، د اخفش بانی یو سل او یو دی، نو بیا ولے ناظم دا وئیل چه "صد باشد" بلکه باید چه دا وئیلی وے چه "یک صد یک" یعنی چه عوامل یو دپاسه سل دی، او حاصل د جواب دا دہ چه د اخفش په نیزد اگرچه عوامل یو سل او یو دی، خو لکن د ناظم په نیزد قول د سیبویه اظهر دہ، نو ځکه دا وئیل چه "صد باشد" او دا قول د سیبویه یے غوره کړو، او قول د اخفش یے غوره نه کړو.

انما اضاف العوامل الی الشیخ لئلا تکون مجهولة المصنف ولئلا تخرج عن درجة القبول الخ: غرض د شارح په دے عبارت خپل کښې جواب ورکول

دی دیوا عکاس نه، حاصل د اعتراض دا دہ چہ معترض وائی چہ دد سلو عواملو اضافت او نسبت ولے وکړو عبد القادر جرجانی ته، او دا سے ووئیل چنین فرمودہ است شیخ عبد القاهر جرجانی پیرهدی) او حاصل د جواب دادہ، چہ دا اضافت او نسبت ددے عواملو ناظم چہ کړیدہ شیخ ته دا دوہ وجهو نه یے کړیدہ، اوله وجه دادہ چہ دا عوامل مجهول نشی په اعتبار د مصنف سرہ، یعنی کۀ ددے عواملو نسبت یے نۀ وے کړے شیخ عبد القاهر ته، نو بیا به دا نۀ وہ معلومه، چہ ددے عواملو مصنف څوک دہ، او چہ کله یے اضافت او نسبت ددے عواملو وکړو، عبد القاهر ته، نو ددوی مصنف معلوم شو، چہ عبد القاهر دہ، نو په اعتبار د مصنف سرہ دوی مجهول نشو بلکه معلوم شوہ، نو لپارہ د حصول د علم په مصنف ددے عواملو بانډے نسبت او اضافت ددے عواملو یے وکړو، عبد القاهر ته، چہ دا عبد القاهر مصنف ددے عواملو دہ۔

او دویمه وجه دادہ، چہ دا اضافت ددے عواملو ناظم عبد القاهر جرجانی ته لپارہ ددے وکړو، چہ دا عوامل ددر چه د قبول نه خارج نشی، ځکه چہ په دے اضافت او نسبت سرہ دا عوامل دا خلیږی په حیز د قبول کښے او وړ بانډے اعتماد پیداکیږی له وجہ د مصنف نه، نو ددے دوہ وجهو نه ناظم اضافت او نسبت ددے عواملو وکړو، "عبد القاهر جرجانی ته۔

قوله جرجانی پیرهدی اصله گرگانی ابدلت الکاف بالجیم وهذا قیاس مطرد فی کلام العرب منها لجام الخ: نۀ دہ کړہ دا خبرہ چہ دا جرجانی په اصل کښے گرگانی لفظ دہ، نو دا گرگانی عجمی لفظ دہ، او دا جرجانی په لفظ دہ، په اصل کښے گرگانی وہ، چہ کله له دے عجمی ژبے نه عربی ته راوړے شوہ، نو وړانه "جرجانی" جوړ شو، په دے شان، چہ دا د واړہ کافونه، چہ

په ګرګانی کښې موجود دی په جیم باندې بدل شو، نو وروسته جرجانی جوړ شو، نو دا جُرجانی معرب دګرګانی ده یعنی معرب کړے شوے دګرګانی ده، او کاف بدلول په جیم سره یوه عامه قاعده ده په کلماتو د معربو کښې، چه له همدغه قبیلے نه لجام هم ده، چه دا په اصل کښې لګام وه او عجمی لفظ ده، او بیا دا کاف بدل شو په میم سره، نو وروسته لجام جوړ شو.

او دغه شان دا "نرجس" هم په اصل کښې نرګس وه، او بیا دا کاف بدل شو په جیم سره نو وروسته نرجس جوړ شو، او دا لجام معرب د لګام ده او دا نرجس معرب د نرګس ده.

او بیا دے جرجانی معنی ده منسوب جرجان ته، او دے عبد القاهر ته ځکه جرجانی وائی چه دے د "جرجان" علاقے اوسیدونکے وه.

او بیا په دے جرجان کښې درے احتماله دی، اول احتمال دا ده چه جرجان یوه قریه ده د قریو د شیراز نه، او دویم احتمال دا ده، چه دا جرجان یوه قریه ده له قریو د "اشتر اباذ" نه، او دریم احتمال دا ده چه دا جرجان یوه قریه ده له قریو د "خوارزم" نه.

"""(شعر)"""

معنوی از وی دو باشد جمله دیگر لفظی اند

باز لفظی شد سماعی و قیاسی ای فتا

معنی ددے شعر دا ده چه ناظم وائی چه دا سل عوامل اول په ځپل کوټ کښې په دوه قسمه دی، یو قسم یکښې عوامل معنویه دی، او دویم قسم یکښې عوامل لفظیه دی، او دا عوامل معنویه دوه عوامل دی او له دے نه بغیر دا نور ټول چه دوه کم سل عوامل دی لفظیه دی، او بیا دا لفظیه په ځپل کوټ کښې په دوه قسمه دی، اول قسم سماعی دی، او دویم قسم

قیاسي دي۔ په دې شعر باندې دوه اعتراضه وارد دي، اول اعتراض دا دی چه معترض وايي چه ولې ناظم دا عوامل معنویه مقدم کړه په ذکر کښې په عوامل لفظیه باندې، او حال دا دی چه مفهوم د عاملِ معنوي عدمي دی لکه ولاسته ذکر د دې د مفهوم راروان دی، او مفهوم د عاملِ لفظي وجودي دی، او وجودي اشرف وي له عدمي نه، نو دا عاملِ لفظي هم اشرف دی د عامل معنوي نه نو باید چه دا عاملِ لفظي یې مقدم کړې وې په ذکر کښې۔

او همدارنګ عوامل لفظیه کثیر دي، او عوامل معنویه قلیل دي، او العزة للتکاثر، نو باید چه دا عواملِ لفظیه مصنف مقدم کړي وې له وجې د تکاثر نه، او جواب له دې اعتراض نه دا دی چه موږ وایو ته وایو چه، دا عواملِ معنویه قلیل دي، نو دا په منزله د "جزء" دي، او دا عواملِ لفظیه کثیر دي او دا په منزله د "کل" دي، او جزء طبعا مقدم وي په کل باندې، نو ځکه ناظم د اعوامل معنویه مقدم کړه په عواملِ لفظیه باندې، لپاره د دې چه دا ذکر موافق شي د طبع سره۔

او دویم اعتراض دا دی چه معترض وايي چه ناظم ولې دا عوامل سماعیه مقدم کړه په عواملِ قیاسیه باندې، او حال دا دی چه مفهوم د عواملو قیاسیه وجودي دی، او مفهوم د عواملو سماعیه عدمي دی، او وجودي اشرف وي له عدمي نه، نو باید چه دا عوامل قیاسیه مقدم کړي په عواملِ سماعیه باندې، له وجه د شرافت د عواملِ قیاسیه؟

او جواب له دې اعتراض نه دا دی، چه دا عوامل سماعیه ناظم مقدم کړي د عوامل قیاسیه نه له دوه وجهونه، اول وجه دا دی چه دا عوامل سماعیه کثیر او نهایات دي، د عوامل قیاسیه نه، او عزت لپاره د کثیر وي، نو د وجه د کثرت نه دا عوامل سماعیه یې مقدم کړه په عواملِ قیاسیه باندې، او دویمه

وجه دا ده چه په دے عوامل سماعیه کښې عموم دے او په عوامل قیاسیه کښې خصوص ده په دے شان چه عوامل سماعیه هم په اسماء باندې داخلیږی او هم، په افعالو باندې داخلیږی، یعنی په دواړو کښې عمل کوی، په خلاف د عوامل قیاسیه په دے شان چه دا په اسماؤ کښې عمل کوی فقط نه په افعالو کښې، او عام حق د تقدیم وی په خاص باندې، نو ځکه دا عوامل سماعیه مقدم شو په عوامل قیاسیه باندې.

والاوّل مایدرك فی القلب ولا یتلفظ به كما فی المبتداء والخبرحیث وجد الرفع فی اٰخرهما والرفع اثر فلا بد له من وجود المؤثر الخ: په دے عبارت سره شارح تعریف د عامل معنوی کوی، چه عامل معنوی هغه عامل ته وائی، چه د هغه ادراک کولے شی په قلب کښې، یعنی په زړه کښې ورباندې علم راوستے شی او تلفظ به ورباندې نشی کولے.

نو په دے تعریف او مفهوم د عامل معنوی کښې دوه قیدونه دی، اول قید دا ده چه "مایدرك فی القلب"، او دا قید وجودی ده، او معنی دا ده چه عامل معنوی ديته وائی چه د هغه ادراک کولے شی په قلب او زړه کښې، خو لکن ورباندې تلفظ به نشی کولے، او مثال لکه عامل د مبتداء او د خبر نو دا عامل چه په مبتدا او خبر کښې موجود ده، د ده ادراک کولے شی په قلب کښې، ځکه چه په اٰخر د مبتداء او د خبر کښې رفعه موجوده ده، او دا رفعه یو اثر ده او د هر اثر دپاره لابدی وی د مؤثر نه، نو ضروری په دے کښې به مؤثر او عامل د دے رفع موجود وی ځکه چه وجود د اثر محال ده بغیر د مؤثر نه، او هرکله چه دا مؤثر د دے رفعه په دے مبتداء او خبر کښې په لفظ کښې نه وه موجود، نو ضروری دا مؤثر او عامل به معنوی وی.

او دویم قید په دے تعریف د عامل کښې "ولا یتلفظ به" ده، او دا قید عدمی

دہ نو هرکله چه مفهوم د عامل معنوی مرکب شو د وجودی او عدمی نه نو دا ټول مفهوم به هم عدمی وی، ځکه چه نتیجه تابع داخس ارذل وی۔

والثانی مایدرک فی القلب ویتلفظ به۔

او غرض د شارح په دے عبارت خپل کښې تعریف د عامل لفظی دہ په دے شان چه عامل لفظی عبارت دہ له دینه چه "مایدرک فی القلب و یتلفظ به" یعنی عامل لفظی عبارت دہ د هغه عامل نه چه د هغے ادراک هم کولے شی په قلب کښې یعنی په زړه کښې وربانډې علم هم راوستلے شی، او د غه شان تلفظ وربانډې هم کولے شی۔ نو په دے تعریف او مفهوم د عامل معنوی کښې دوہ قیده ونه ذکر دی اول قید "مایدرک فی القلب" دہ، او معنی د دے قید دا دہ، چه عامل معنوی هغه ته وائی، چه د هغے ادراک کولے شی په قلب کښې یعنی په زړه کښې وربانډې علم راوستے شی، مثال لکه "مررت بزید" نو دے ځاے کښې دا جر یو اثر دہ او د هر اثر دپاره لابدی وی د یو مؤثر نه، نو ضروری د دے جر دپاره به هم یو مؤثر وی، او دا معنی دہ دپاره د ادراک فی القلب۔

او دویم قید په دے تعریف او مفهوم د عامل لفظی کښې "یتلفظ به" دہ او معنی د دے قید دا دہ، چه عامل لفظی دیته وائی چه په هغه باندې به تلفظ کیږی او په دے "مررت بزید" کښې هم عامل "باء" حرف جاره دہ، او په دے "باء" حرف جاره باندې تلفظ کولے شی۔

فالاول مایسمع من العرب ولا یقاس علیه شئ آخر الخ:

په دے عبارت سره شارح تعریف د عامل سماعی کوی، په دے شان، چه عامل سماعی عبارت دہ د هغه عامل نه، چه د هغه سمع شوی وی د عربو نه، یعنی د عربو نه به سماع شوے وی د عمل د دے عامل، خو لکن وربانډې بل شئ نشی ورقیاسولے، مثال لکه "باء" حرف جاره په "مررت بزید" کښې، نو دا "باء"

حرف جاره په مرېت بزیں کښ عامل سماعي ده، ځکه چه ددې دعمل سمعه دَ عربونه شوېده او په دې حرف بانې بل داسې لفظ چه دهغې مناسبت وي دَدې باء سره نشي ورا قیاسولې، نوکه د باء سره یو حرف مناسب راشي او هغه بچله د حروف جاره نه نه وي، نو هغه به په دې باء بانې نشي ورا قیاس کولې په عمل کولو کښ، په دې شان چه دا باء چه عمل دجر کوي، دا عمل مونږ هغه حرف ته هم ورا کړو۔

والثاني مایسمع من العرب ویقاس علیه شئ اٰخر الخ: او شارح په دې عبارت خپل سره تعریف د عاملِ قیاسي کوي، په دې شان چه عامل قیاسي عبارت ده د هغه عامل نه چه د هغه دعمل سمعه هم شوې وي د عربونه او ورا بانې بل شئ هم ورا قیاس کولې شي، مثال لکه "فعل" نو دا فعل عاملِ قیاسي ده ځکه چه ددّه دعمل سمعه هم شوېده د عربونه او دغه شان ورا بانې شئ اٰخر هم ورا قیاس کولې شي، مثال لکه "یضرب" چه دا فعلِ مضارع ده او ددّه دَعمل سماع شوېده د عربونه، او په دې بانې اسم فاعل ورا قیاس کړې شوېده په دې شان چه کوم عمل دا "یضرب" فعل کوي نو هغه عمل اسم فاعل چه "ضارب" ده هم کوي.

فان قیل مابال الناظم حیث قسم اللفظي الی السماعي والقیاسي واهمل المعنوي مع انه ایضا لایخلو عنها الخ: حاصل ددې اعتراض دا ده چه معترض وائي چه څه وجه ده لپاره د ناظم چه عاملِ لفظي یې تقسیم کړو سماعي او قیاسي ته او د اعاملِ معنوي یې نه ده تقسیم کړې دې دُوه اقسامو ته او حال دا ده چه دا عاملِ معنوي به هم نه وي خالي له دې دوه قسمونه، په دې شان چه دا عاملِ معنوي به هم یا سماعي وي او یا به قیاسي وي. او له دې اعتراض نه شارح دوه جوابه ورا کړیدي، اول جواب یې ورا کړیده په دې عبارت خپل سره:

قلنا تقسیم القسم تقسیم المقسم فیکون المعنوی داخلا الخ: او حاصل دَ دے جواب دادہ، چہ دا تقسیم دعاملِ معنوی دوہ اقسام و تہ اگر چہ صراحۃً نہ دہ شوے، خو لکن ضمناً شوید ہ، پہ دے شان چہ ناظم داعاملِ لفظی تقسیم کرپی سماعی او قیاسی تہ او دا لفظی یو قسم دہ لپارہ د مطلقِ عامل چہ دا مطلق عامل مقسم دہ نو ھر کلہ چہ پہ دے عاملِ لفظی کبنں تقسیم وشو، چہ دا یو قسم دہ نو پہ واسطہ دَ دے قسم سرہ چہ عاملِ لفظی دہ تقسیم را اُحی پہ مطلقِ عامل کبنں چہ ھغہ مقسم دہ، ځکہ چہ تقسیم د قسم دا تقسیم د مقسم دہ او ھر کلہ چہ دا مقسم چہ مطلقِ عامل دہ تقسیم شو سماعی او قیاسی تہ، او دا مطلقِ عامل وی شامل دہ عاملِ معنوی تہ ھم، نو پہ واسطہ د دے مقسم سرہ چہ مطلقِ عامل دہ دا قسم چہ عاملِ لفظی دہ ھم تقسیمیږی دوہ اقسام و تہ، نو دا معنوی ھم داخل دہ پہ دے سماعی او قیاسی کبنں، نو دا ھم وشاتہ تقسیم دہ خو لکن دا جواب ضعیف دہ، ځکہ چہ پہ دے مقام کبنں چہ دا مطلق عامل چہ مقسم دہ چہ تقسیمیږی سماعی او قیاسی تہ، نو دا مطلق بہ موجود او متحققُ وی پہ ضمن د عاملِ لفظی کبنں، او دا مطلقِ عامل بہ نہ وی موجود پہ ضمن د ھغہ بل خاص کبنں چہ عامل معنوی دہ، نو دا تقسیم دَ مطلقِ عامل پہ ضمنِ دعامل لفظی کبنں چہ شوید ہ نہ دہ مستلزم تقسیم د دے خاص قسم تہ چہ عاملِ معنوی دہ، نو دا اعتراضِ منکور ہ نہ دفع کیږی پہ دے محکبنں جواب بانڈے

او دویم جواب لہ دے اعتراضِ منکورہ نہ شارح ورکریں ہ پہ دے عبارت نیل سرہ چہ:

او لان المعنویۃ لیس لها تقسیم بل هی قیاسیۃ الخ: او حاصل دَ دے جواب دا دہ چہ شارح ورتہ وائی چہ ناظم ځکہ تقسیم د عاملِ لفظی وکرو دے دوہ قسمونو تہ او د عاملِ معنوی تقسیم یے ونکړو دے دوہ قسمونو تہ، ځکہ چہ پہ عاملِ

معنوي کښې دا تقسيم نهٔ جاري کيږي، ځکه چه عواملِ معنوي قياسي دي فقط او سماعي يکښې نشته ځکه چه دا عامل چه په مبتداء او خبر کښې موجود دهٔ معنوي دهٔ او د امبتداء او خبر لاندې ديوے قاعدې ته داخل دي، نو دواړو د عامل د عمل سماع د عربو نه شوې ده، او په دے عامل باندې د نورو قياس کول صحيح دي، په دے شان چه په کوم ځائے کښې چه مبتداء او خبر موجود وي، نو د معنوي حالت به وي باندې هم وي قياس وي، په دے شان چه په هغوئ کښې به هم عمل، عاملِ معنوي کړے وي.

او دغه شان د دے مضارع عامل په حالت رفعي کښې هم قياسي دهٔ او دا مضارع داخله دهٔ لاندې د قاعدې نه او هغه قاعده چه د امبتداء او خبر په کښې داخل دي دا قول دهٔ چه کل فاعل مرفوع، نو په دے کل فاعل مرفوع کښې د امبتداء او خبر داخل دي چه دواړه به هم مرفوع وي.

خو لکن په دے باندې يو اعتراض وارديږي، حاصل د اعتراض دا دهٔ چه معترض والي چه د امبتداء او خبر نهٔ دي داخل په دے قاعده مذکوره کښې ځکه چه په دے قاعده مذکوره کښې حکم شوے ده په افرادو د فاعل باندې په مرفوعيت سره چه د اټول افراد د فاعل به مرفوع وي او د امبتداء او خبر له قبيلے د فاعل نه نهٔ دي؟

او جواب له دے اعتراض نه دا دهٔ چه مونږ وايو چه مراد له فاعل نه چه ذکر دهٔ په دے مخکښې قاعده کښې عام دهٔ که حقيقةً فاعل وي، او که حکماً فاعل وي، او د امبتداء او خبر هم فاعل دي حکماً، نو دواړه داخل دي په دے مخکښې قاعده کښې.

او هغه قاعده چه مضارع پکښې داخله دهٔ، هغه دا دهٔ چه "الفعل المضارع اذا كان خاليا عن الناصب والجازم يكون مرفوعا" يعني هغه فعل مضارع

چه خالی وی د عاملِ ناصبه نه او د عاملِ جازمه نه نو د امضارع به مرفوع وی

او د ده المصنف لمجرد محافظة القافیة الخ : غرض د شارح په دے عبارت

خپل کښې جواب ورکول دی دیو اعتراض نه ، حاصل د اعتراض داده چه معترض

وائی چه ذکر د "ای فتا" لفظ په دے شعر سابقه کښې مستدرک او بلافائدے

ده ، ځکه چه مقصود په دے مخکښې شعر کښې تقسیم د عامل ده لفظی او

معنوی ته ، او بیا تقسیم د عاملِ لفظی ده سماعی او قیاسی ته ، او دا مقصود

ادا کیږی بغیر د "ای فتا" لفظ نه ، نو ذکر د ای فتا په دے مقام کښې مستدرک

ده او اشتغال ده په غیر مقصود کښې ، نو باید چه ناظم د الفظ مذکوره

نه وے ذکر کړے په دے شعر مذکوره کښې ؟

او حاصل د جواب داده ، چه د امقصود چه تقسیم ده اګر چه حاصلیږی ،

په دے باقی الفاظو او عبارت سره ، او د ای فتا لفظ سره یے ځه دخل نه

شته په دے تقسیم کښې ، خو لکن د ا ای فتا لفظ راوړے شوی ده لپاره د

محافظت د وزن د دے شعر ، نو فائده په ای فتا لفظ کښې محافظت د وزن

د دے شعر منکوره ده ، نو ذکر د دے لفظ په دے مخکښې شعر کښې بلافائدے

او مستدرک نه ده بلکه فائده پکښې شته چه محافظه د وزن ده ۔

((شعر))

زان نود و یک دان سماعی هفت دیگر بر قیاس

آن سماعی سیزده نوع است بی روی وریا

معنی او ترجمه د دے شعر داده چه ناظم وائی چه له دے سلو عواملو نه

یو دیپاشه ۹۱ نوی عوامل سماعی دی ، او اووه عوامل پکښې قیاسی دی او

دا سماعی په خپل کور کښې په دیارلس نوعو باندې تقسیم شوی دی ۔

وانما خص المصنف الانواع فیها لان نوعیة العوامل السماعیة انما

نکون باتحادِ العمل الخ: غرض د شارح په دے عبارت کښې بیان د علت دے، پاره ددے خبرے، چه په عوامل سماعیه کښې دیارلس نوع دی، او له دے نه زیات او کم نهٔ دی۔
نو حاصل ددے علت چه شارح بیان کړیده هغه دادے چه شارح وائی چه اتحاد د نوع راځی په سبب د اتحاد د عمل سره، یعنی چه د کومو حروفو نوع عمل یو وی یعنی متحد وی په عمل کولو کښې نو د هغو حروفو نوع به هم یوه وی، نو اتحاد د عمل مستلزم دے اتحاد د نوع لره، نو په کوم حروفو کښې چه اتحاد موجود دی په اعتبار د عمل سره، یعنی عمل د دوی یو وی، نو د دوی ترمینځه به ضرور اتحاد موجود وی په اعتبار د نوع سره، یعنی نوع به یے هم یوه وی۔
او په کومو حروفو کښې چه اختلاف وی په اعتبار د عمل سره، نو د هغوی په ما بین کښې به اختلاف موجود وی په اعتبار د نوع سره، نو په دے حروف جارّه کښې اتحاد فی العمل موجود دے په ولس حروفو کښې، یعنی دا ولس حروفونه عمل د جر کوی، په دے شان چه خپل مدخول ته جرور کوی، نو د دوی نوع هم یوه شوه چه نوع اوّله دے۔
او په حروف نداء کښې اتحاد موجود دے په عمل کښې په وَه حروفو کښې، په دے شان، چه ددے وَه حرفونو عمل نصب ورکول دی، نو دا وَه حرف هم یوه نوعه وګرزول شوه، چه دویمه نوعه ده له دے دیارلس انواعونه۔
او په حروف مشبه بالفعل کښې اتحاد موجود دے په اعتبار د عمل سره په شپږ حرفونو کښې، په دے شان چه دوی نصب ورکوی اسم ته او رفع ورکوی خبر ته، نو دا هم نوعه جوړه کړے شوه چه دا دریمه نوعه ده په دے دیارلس نوعو کښې۔ او په "ما ولا" کښې چه دا دواړه مشابه دی د "لیس" سره اتحاد موجود دے په عمل کښې په مابین ددے دوه حرفونو کښې چه یو ما حرف دے او دویم حرف

دہ په دے شان چه دوئ اسم خپل ته رفعه ورکوی او خبر خپل ته نصب ورکوی نو ددے دواړه يوه نوعه وګرزول شوه چه دا څلورمه نوعه ده۔

او په حروف ناصبه کښې چه نصب ورکوی فعل مضارع ته اتحاد موجود ده په مابين د څلورو حرفونو کښې په اعتبار د عمل سره چه هغه څلور حروف "ان" ده په فتحه د همزه سره او "لن" ده او "کی" ده او "اذن" ده، په دے شان، چه ددے څلورو واړو حرفونو عمل نصب ورکول دی فعل مضارع ته، نو ددوئ نوعه هم يوه وګرزول شوه چه هغه پنځمه نوعه ده په دے ديارلس [۱۳] انواعو کښې، او په دے حروف جازمه کښې اتحاد موجود ده په اعتبار د عمل سره چه هغه جزم ورکول دی فعل مضارع ته نو دا غونې پنځه حروف دی، نو هر کله چه دوئ متحد دی په اعتبار د عمل سره، نو دوئ جدا نوعه وګرزول شوه چه دا شپږمه نوعه ده له دے ديارلس انواعونه، او شپږ حروف عبارت دی له ان او لم او لما او لام امر او لا نهی نه، دا حروف جزم ورکوی فعلِ مضارع ته او په دے اسماءِ شرطو کښې چه من او متی او مهما او انی او ای او اذما او حيثما او ما ده او اينما ده، نو دا اسماءِ عامله دی او متحد دی په عمل کښې چه هغه عبارت ده له جزم ورکولونه فعلِ مضارع ته، نو هر کله چه ددوئ ترمينځه اتحاد موجود ده په اعتبار د عمل سره، نو دوئ هم يوه نوعه وګرزول شوه چه دا اوومه نوعه ده له دے ديارلس [۱۳] انواعونه۔

او په احد عشر عدد کښې نيولے تر تسعة وتسعون پورے او په کم کښې او په کاين کښې او په کن اکښې اتحاد موجود ده په عمل کښې چه هغه اتحاد دا ده، چه اتول نصب ورکوی اسم مکبر ته بنا بر تميز، نو دا هم يوه نوعه وګرزول شوه، دا اتمه نوعه ده له دے ديارلس [۱۳] انواعونه، او دا څلور عوامل دی قسطے دا اسم نه دی، او له يکښې "احد عشر" نه نيولے تر "تسعة وتسعون"

پورې ده او دویم کم ده او دریم کاین ده او څلورم کناده.

او په دې اسماءِ افعالو کښې اتحاد موجود ده په عمل کښې په نهه[۹] اسماءِ افعالو کښې، چه شپږ نصب ورکوی اسم ته او درې رفعه ورکوی اسم ته، نو هرکله چه دوئ کښې اتحاد موجود ده په عمل کښې، نو ددوئ جدا نوعه وګرځول شوه چه دا نهه[۹] نوعه ده له دې دیارلس انواعونه.

او په افعالِ ناقصه کښې اتحاد موجود ده په اعتبار د عمل سره، په دې شان چه دوئ مبتداء ته رفع ورکوی چه هغه ته اسم د افعالِ ناقصه وائی او خبر ته نصب ورکوی، چه هغه ته خبر د افعالو ناقصه وائی، نو هرکله چه ددوئ په ما بین کښې اتحاد موجود ده په اعتبار د عمل سره، نو دوئ جدا نوعه وګرځول شوه، چه دا لسمه نوعه ده له دې دیارلس[۱۳] انواعونه، او دا افعالِ ناقصه دیارلس افعال دی په مذهب د اخفش بانڊِ، او په مذهب د سیبویه بانڊِ ددوئ دیارلس نه څه حد نشته.

او په افعالِ مقاربه کښې اتحاد موجود ده په اعتبار د عمل سره، چه هغه عبارت ده له دینه، چه دوئ اسم خپل ته رفعه ورکوی، او خبر خپل ته نصب ورکوی، نو ددوئ نوعه هم متحد ه شوه، له وجې د اتحاد د عمل د دوئ او د څلور افعال دی، او ددوئ نوعه یوولسمه[۱۱] نوعه ده له دې دیارلس[۱۳] انواعونه.

او په افعالِ مدح او ذم کښې اتحاد موجود ده په عمل کښې چه هغه داده چه دوئ رفعه ورکوی اسم ته بنابر فاعلیت، نو هرکله چه دوئ متحد دی په اعتبار د عمل سره، نو ددوئ نوعه هم متحد ه کړې شوه، چه دا دولسمه[۱۲] نوعه ده په دې دیارلس انواعو کښې، او عدد او شمار ددې افعالو، اربعه ده یعنی د څلور افعال دی، چه ور ته افعالِ مدح او ذم وائی، ځکه چه بعض په ملاح

بانې دلالت کوی او بعضې په ذم بانې دلالت کوی.

او په افعال الیقین والشک کښې اتحاد موجود دے په اعتبار د عمل سره په دې شان چه دوئ دوه اسمونو ته نصب ورکوی بنا بر مفعولیت، په دې شان چه د اول اسم به وړاته مفعول اول وی، او د دویم اسم به ورته مفعول ثانی وی، او دوئ غونې شپږ افعال دی، او دویته افعالِ قلوب هم وائی لکه څنګه چه وړاته افعال الیقین والشک وائی، نو هر کله چه د دوئ په ما بین کښې اتحاد موجود دے په اعتبار د عمل سره، نو دوئ جُب انوعه وګرځول شوه، چه د دوئ دا نوعه د یارلسمه نوعه ده له دې دیارلسو انواعو نه.

نو حاصل د علت د انحصار دانواعو د عواملو سماعیه په دې دیارلسو انواعو کښې دادے، چه د اتحاد د نوع مرتب دے په اتحاد د عمل بانې، نو په کومو عواملو کښې چه اتحاد موجود دے، په اعتبار د عمل سره، نو د هغوئ په ما بین کښې اتحاد په اعتبار د نوع سره هم موجود دے.

او د کومو عواملو په ما بین کښې چه اختلاف موجود دے په اعتبار د عمل سره نو د هغوئ په ما بین کښې به اختلاف وی په اعتبار د نوع سره.

خو لکن په دې علت د انحصار بانې دوه اعتراضه وارد دی، اول اعتراض حاصل دادے، چه معترض وائی چه هر کله اتحاد فی العمل مستلزم دے اتحاد فی النوع لره، نو بایئ چه د افعالِ ناقصه او افعالِ مقاربه یوه نوعه وګرځول شی، ځکه چه د افعالِ ناقصه هم اسم ته رفع ورکوی، او خبر ته نصب ورکوی، او د افعالِ مقاربه هم اسم ته رفعه ورکوی او خبر ته نصب ورکوی، او حال دادے چه افعالِ ناقصه جدا نوعه ګرځول شویده او افعالِ مقاربه جدا نوعه ګرځول شویده؟

او جواب له دې اعتراض نه دادے، چه مونږ وړته وایو چه د اتحاد مجرد

فی العمل نۀ دہ مستلزم، اتحاد د نوعِ لرہ، او همدارنگ د مجرد اتحاد فی العمل نۀ دہ معتبر په اتحاد د نوعه کښې بلکه لپاره د اتحاد د نوعِ شرط دهٔ سره له اتحاد د عمل نه اتحاد په مدخول کښې، یعني چه کله د عواملو په مابین کښې اتحاد موجود شي په عمل کښې هم او په مدخول کښې هم، نو بیا د دے عواملو په مابین کښې اتحاد موجود وي په نوعه کښې، په دے شان چه د دوی نوعه به یو وي، او د دے افعالِ ناقصه او افعالِ مقاربه په مابین کښې اگرچه اتحاد موجود دہ په اعتبار د عمل سره، خولکن د دوی په مابین کښې اتحاد نشته، په مدخول کښې، ځکه چه مدخول د افعالِ ناقصه مبتداء او خبر دی، خولکن د اخبر به په غالبو اوقاتو کښې جمله نۀ وي بلکه غیر به وي د جملے نه په دے شان چه یا به مفرد وي او یا به مرکب ناقص وي، اگرچه په طریقے د قلت سره د اخبر د دوی جمله هم راځي۔

او د افعالِ مقاربه مدخول هم مبتداء او خبر دی، خولکن د اخبر د دوی به په غالبو اوقاتو کښې جمله وي، اگرچه په طریقے د قلت سره غیر وي دَ جملے نه نو معلوم شوه، چه د دوی په مدخول کښې اتحاد نشته په دے شان چه مدخول د افعالِ ناقصه به هغه خبر وي، چه هغه به په غالبو اوقاتو کښې جمله نۀ وي، او مدخول د افعالِ مقاربه به هغه خبر وي، چه هغه به په غالبو اوقاتو کښې جمله وي۔

نو هر کله چه د دوی په مابین کښې اتحاد په عمل کښې مفقود شو، نو د دوی په مابین کښې ځکه نشته په نوعه کښې، بلکه د افعالِ ناقصه د پاره جُدا نوعه وضعه کړے شویده، او د افعالِ مقاربه د پاره جدا نوعه وضعه کړے شویده۔ او دویم اعتراض دا دہ، چه معترض وائي چه په مابین د حروفِ جازمه او د کلماتو د شرط کښې چه اسماءِ شرط دی، اتحاد موجود دہ په عمل

کښې چه هغه جزم ورکول دی فعل مضارع ته، نو بايد چه دوئ يو نوعه کړل شي، او حال دا ده چه دوئ جدا جدا نوع گرځول شويدي؟

اوله دې اعتراض نه جواب داده چه مونږ ورته وايو چه لکه څنګه چه اتحاد النوع د پاره اتحاد فی العمل شرط ده، نو دغه شان د اتحاد النوع د پاره اتحاد فی الذات هم شرط ده، په دې شان چه د اعوامل کله متحد شي په اعتبار د ذات سره، نو بيا به د دوئ نوعه هم متحده وي، او چه کله اتحاد نه وي په اعتبار د ذات سره، نو بيا به اتحاد په نوعه کښې هم نه وي، او په مابين د حروف جازمه او د کلماتو د شرط کښې اتحاد نشته په اعتبار د ذات سره ځکه چه حروف جازمه له قبيلې د حرف نه دی، نو د دوئ ذوات حروف دی او کلمات د شرط، له قبيلې د اسماؤنه دی، نو د دوئ ذوات اسماء دی، نو هر کله چه د دوئ په مابين کښې اتحاد مفقود ده په اعتبار د ذات سره، نو د دوئ په مابين کښې ځکه اتحاد نه ده او وسټل شوې په اعتبار د نوع سره، بلکه د حروف جازمه د پاره جدا نوعه وضعه کړې شوې ده، او د کلماتو د شرط د پاره جدا نوعه وضعه کړې شوې ده.

او دريم اعتراض داده چه معترض وايي چه اسماء عدد په درې قسمه دی

اول قسم هغه اسماء عدد دی، چه د هغوئ تميز به مجرور وي او جمعه به وي او دا اسماء له "ثلاثة" نه نيولې تر "عشرة" پورې ده.

او دويم قسم هغه عدد ده، چه د هغوئ تميز به منصوب وي او مفرد به وي او دا اسماء عدد له "احد عشر" نه نيولې تر "تسعة وتسعون" پورې دی.

او دريم قسم هغه اسماء عدد دی، چه د هغوئ تميز به مجرور وي او مفرد به وي، او دا لکه مائة او الف سؤل اوله دې نه په پورته، نو د دې اسماء عدد تر مينځه اختلاف موجود ده، په اعتبار د عمل سره، نو بايد چه د دوئ

درې نوع جوړې شوې وې ځکه چه د اول قسم عمل د جر په جمعه کښې کوي او د دوېم قسم عمل د نصب په مفرد کښې کوي، او د دریم قسم عمل د جر په مفرد کښې کوي، او حال دا دے چه د دوئ یوه نوعه جوړه کړې شویده؟

او جواب له دې اعتراض نه دا دے، چه مونږ وړاندې وایو چه مراد له اتحاد العمل نه اتحاد دے په اعتبار د تقاضا اصلي سره، او په دې اسماءِ عدد کښې هم د ا ټول اسماءِ عدد متحد او متفق دي په اعتبار د تقاضا اصلي سره، په دې شان چه دا ټول تقاضا د نصب کوي په مدخول خپل کښې، ځکه چه وړاندې له دوئ نه چه کوم اسم ذکر وي، هغه د دوئ دپاره تمیز وي، او تمیز د منصوباتو نه دے، نو دوئ په اعتبار د تقاضا اصلي سره متحد دي په عمل کښې، او بیا د عارض دوجه نه معمول د اول قسم ته جر ورکړې شویده، او دغه شان معمول د دریم قسم ته هم جر ورکړې شویده، او د دوېم قسم په خپله تقاضا اصلي باندې پاتې کړې شویده، چه هغه نصب د معمول دے.

نو هر کله چه د دے دریواړو اقسامو د اسماءِ عدد کښې اتحاد موجود وو په عمل کښې، نو ځکه د دوئ دپاره یوه نوعه وضعه کړې شویده چه هغه اتمه نوعه ده، او په دې نوعه کښې وړاندې سره "کم او کاین" او "کذا" هم شریک شویدي۔

تنبیه: ښ دا کېږه دا خبره چه له دې مخکښې دریو اعتراضاتو جوابونه نه دا معلومیږي، چه د اتحاد فی النوع دپاره درې شرطونه دي، اول شرط اتحاد فی الذات دے، یعنې چه کوم عوامل متحد وي په اعتبار د ذات سره نو هغه به یوه نوعه وي، او د دوئ په مابین کښې به اتحاد وي یا په نوعه کښې، او دوېم شرط اتحاد فی المدخول دے، په دې شان چه کوم عوامل متحد وي په مدخول کښې، نو هغه به متحد وي په اعتبار د نوع سره، او دریم شرط اتحاد

في العمل ده، يعنې چه کوم عوامل متحد وي په اعتبار د عمل سره نو د هغوئ نوعه په هم واحده وي، نو په دې مقام کښې معترض اعتراض کوي، حاصل د اعتراض داده، چه معترض وائي چه هر کله لپاره د اتحاد في النوع درې شرطونه دي نو بیا څه وجه ده چه شارح دا دویم شرط ذکر کړو، چه اتحاد في العمل ده، او دا اول او دریم شرط یې نکړو ذکر، نو دا نه ده مگر ترجیح بلامرجح ده؟
او جواب له دې اعتراض نه داده چه مونږ وایو چه، دا اول شرط او دریم شرط مشهور وه، نو له وجې د شهرت نه شارح نکړو ذکر، او دا دویم شرط غیر مشهور وه، نو ځکه شارح دا ذکر کړو!!

قوله بل روئ ورايا اي من غير رعاية نوع الخ: غرض د شارح په دې عبارت نقل کښې، بیان د معنی د دې قول د ناظم ده چه "بل روئ ورايا" ده، نو دا قول د ناظم چه "بل روي ورايا" ده جواب ده له یو اعتراض نه، چه هغه په دې مقام کښې وارديږي، حاصل د اعتراض داده چه معترض وائي چه د سماعي دپاره دیارلس نوعو راتلل باطل دي، ځکه چه د اسماعي پنځله نوع ده لپاره د لفظي، او لفظي وروته جنس ده، نو هر کله چه د اسماعي پنځله نوعه ده نو دا دپاره نور انواع راتلل باطل دي، ځکه چه د نوع دپاره نوع نشي راتلې، نو د دې سماعي تقسیم دیارلس انواعو ته باطل ده، او حاصل د جواب داده چه ناظم وروته وائي چه د اسماعي چه مونږ تقسیم کړه دې دیارلس اقسامو ته دا تقسیم په دې اعتبار سره ده، چه مونږ پکښې لحاظ د نوعیت د لفظي نه کوو، یعنې دې سماعي ته نوعه نه وایو، بلکه دا تقسیم په دې اعتبار سره ده، چه د اسماعي مونږ ملحوظ کړو په لحاظ د جنس سره، په دې شان چه جنس یې بولو، نو هر کله چه د اسماعي جنس شو، نو د دې تقسیم، لانواعو ته صحیح ده، ځکه چه د جنس دپاره انواع راتلې شي. او شارح چه دا عبارت

کومه معنی ذکرکړیده د هغې حاصل دادی، چه شارح وائی چه معنی د کلام ناظم داده، چه دا انواع د عواملِ سماعیه دیارلس دی بغیر د لحاظ او د رعایت د نوعیت د سماعی نه، او له دې مخکښې اعتراض نه یو بل جواب هم ممکن دی، چه حاصل د هغه جواب داده، چه مونږ ورته وایو چه سماعی نوعه شی، نو د نوعیت د دې سماعی ځنې منافات نشته د دې خبرې سره چه لاندې دې ورته انواع راشی، ځکه چه دا سماعی نوعه ده، خو لکن نوع اضافی ده او د نوعِ اضافی لاندې انواع راتلے شی، مثال لکه حیوان چه دا نوعه اضافی ده او لاندې ورته انواع شته، چه حمار او بقر او انسان دی، نو دا سماعی هم نوع اضافی ده، نو د دې لاندې انواع راتلل جائز دی، او د نوع حقیقی لاندې نوع راتلل باطل دی، مثال لکه "انسان" چه دا نوعِ حقیقی ده، نو لاندې ورته افراد دی، چه زید او عمرو او بکر او خالد وغیره لک دی، او دا جزئیات دی او انواع نه دی، نو کله چه ورته دا سماعی نوع حقیقی وے، نو بیا به دا اعتراض وارد وه، او حال داده چه دا سماعی نوع اضافی ده. نو د دې لاندې انواع راتلل جائز دی!!

النوع الاوّل: دا اوله نوعه ده له دیارلس انواعونه، او په دې اوله نوع کښې بیان د حروفِ جاره شویده، چه دا حروف جاره غونډې ولس حروف دی۔ !!!

""" شعر """

نوعِ اوّل هفده حرف جر بود میثران یقین

کاندرین یک بیت آمد جمله بے چون وچرا

با وتا وکاف ولام واو ومنذ ومذ خلا

ربّ حاشا من عدا فی عن علیٰ حتیٰ اِلیٰ

معنی او ترجمه د دے شعر داده، چه حروفِ جاره ولس دی په طریقے د:

یقین سره بغیر د څه شک نه، او په دے حروف جاره کښې یو شعر دے اعلٰے د
بغیر د څه منع نه، چه اول حرف با دہ او دویم حرف تاء دہ، او دریم حرف
کاف دہ او څلورم حرف لام دہ، او پنځم حرف واؤ دہ، او شپږم حرف مذ
دہ، او وم حرف منذ دہ، او اتم حرف خلا دہ، او نهم حرف رب دہ او لسم
حرف حاشا دہ، او یوولسم حرف من دہ، او دولسم حرف عدا دہ، او دیارلسم
حرف فی دہ، او څوارلسم حرف عن دہ، او پنځلسم حرف علی دہ او شپاړسم
حرف حتی دہ، او ولسم حرف الی دہ۔ نو دا اولس ۱۷ حروف، حروفِ جاره دی۔

واعلم انها علی ثلاثة اضرب بالنظر الی ذواتها الخ:
غرض د شارح په دے عبارت خپل کښې تحقیق د مقام دہ، په تقسیم د حروف
جاره سره درے اقسام وته، په دے شان چه دا حروف جاره په اعتبار د ذات
خپل سره په درے قسمه دی، اول قسم هغه حروف جاره دی، چه هغوئ
حروف دی فقط، په ټولو احوالو کښې، او دویم قسم هغه حروف جاره دی
چه په بعضِ اوقاتو کښې به حروف وی، او په بعضِ اوقاتو کښې اسماء وی
او دریم قسم د دے حروف جاره هغه حروف دی چه هغوئ به په بعضو
اوقاتو کښې حروف وی، او په بعضو اوقاتو کښې به افعال وی۔
نو دا اول قسم نهه حروف دی، او دویم قسم پنځه حروف دی، او دریم
قسم درے حروف دی۔
اویل غرض د شارح په دے مخکښې عبارت خپل کښې، جواب ورکول دی
دیو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دہ چه معترض وائی چه دا کاف او
عن او علی او مذ او منذ د حروفِ جاره نه شمارل نه دی صحیح، ځکه چه دا اسماء
دی، او دغه شان شمارل د خلا او د عدا او د حاشا د حروف جاره نه نه دی
صحیح، ځکه چه دا درے واړه افعال دی؟ او حاصل د جواب دا دہ، چه دا اول

بیٔ حروف چه مونږ د حروف جاره نه شمارلی دی دا په هغو حالاتو کښې چه دوئ حروف وی، او په ټولو حالاتو کښې دانهٔ دی شمارل شوی د حروف جاره نه، او دغه شان دا دړے حروف چه مونږ شمارو د حروف جاره نه دا په بعضو حالاتو کښې مونږ د حروف جاره نه شمارو، چه په کومو حالاتو کښې دوئ حروف وی، او مطلقاً دوئ د حروف جاره نه مونږ نهٔ شمارو بلکه په هغو حالاتو کښې چه دوئ افعال وی، بیا دوئ مونږ د حروف جاره نه شمارو۔

واعلم ان العوامل اللفظية السماعية على ثلاثة الخ: غرض د شارح له دے اعلم نه نیولے تر ولما کان الحروف کثیرة پورے دوه امور دی اول امر تحقیق د مقاد ده په تقسیم د مطلق عوامل لفظیه سماعیه سره، او دویم امر: توطئه او تمهید ده هغه جواب ته، چه کوم وروسته راروان دے۔

نو حاصل د تقسیم د عواملِ سماعیه دا دے، چه عوامل سماعیه په خپل کوټ کښے په درے قسمه دی، اول قسم هغه عواملِ لفظیه سماعیه دی، چه هغوئ به افعال وی، او دا افعال اصل دی په عمل کښې له دے وجه نه چه دا وضعه دی لپاره د عمل، او دویم قسم اسماء دی، او دریم قسم حروف دی او دا اسماء او حروف فرع دی په عمل کښې لپاره د فعل، ځکه چه دا حروف او اسماء یا عمل کوی له وجهِ د مشابهت نه د فعل سره، او یا له وجهِ د سماع د عربو نه او بیا دا حروف په خپل کوټ کښې په شپږ انواعو سره تقسیم شوی دی، چه اوله نوعه حروف جاره دی، او دویمه نوع حروف تنبیه دی او دریمه نوع حروف النفی دی، او څلورمه نوع حروف ناصبه دی، او پنځمه نوع حروف جازمه دی، او شپږمه نوع حروف مشبه بالفعل دی!!

او اسماءِ عامله په خپل کوټ کښې دریو انواعو ته تقسیم شوی دی، اوله نوع

اسماء الافعال دی، او دویمه نوع اسماء العدد دی، او دریمه نوع اسماءِ متضمنه لمعنی الشرط دی!!

او دا افعالِ عامله په څلور ګوړا کښې تقسیم شوی دی څلوره و نوعو ته، اوله نوع افعال قلوب دی، او دویمه نوع افعال ناقصه دی، او دریمه نوع افعال مقاربه دی، او څلورمه نوع افعال المدح والذم دی، او دا حروف اول ذکر شوی دی، او دا اسماء په دویمه مرتبه کښې ذکر شوی دی، او دا افعال په دریمه مرتبه کښې ذکر شوی دی.

ولما کان الحروف کثیرة الانواع فلذا قدمها الخ: غرض د شارح په دې عبارت نخېل کښې جواب ورکول دی د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دی چه معترض وائی چه څه وجه ده چه ناظم حروف مقدم کړی دی، په اسماءِ عامله باندې او په افعالِ عامله باندې، سره د عدم استقلال د حرف نه او سره د استقلال د اسم او د فعل نه، نو حقدار د تقدیم دا اسماءِ عامله او افعالِ عامله دی؟

او حاصل د جواب دا دی، چه ناظم دا حروف عامله څکه مقدم کړه په اسماءِ عامله او په افعالِ عامله باندې، څکه چه دا حروف کثیر دی، او عزت لپاره د تکاثر وی نو هر کله چه په دې حروفو کښې تکاثر راغلو نو په دوی کښې عزت را غلو، او د دې وجه د دې عزت نه دوی مقدم کړے شول!!

ثم الحروف علی نوعین منها ما یدخل علی شیئین الخ: غرض د شارح په دې عبارت نخېل کښې جواب ورکول دی د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دی چه معترض وائی چه دا حروف اول په دوه قسمه دی، اول قسم هغه دی چه په دوه شیانو باندې داخلیږی لکه حروف مشبه بالفعل، او بل قسم هغه حروف دی چه په یو شی باندې داخلیږی، او بیا دا حروف چه په یو شی باندې داخلیږی

پخپل کوم کښې په دوه قسمه دي، اول قسم هغه حروف دي، چه په اسم باندے داخليږي، او دويم قسم هغه حروف دي، چه په فعل باندې داخليږي، او بيا هغه حروف چه په اسم باندې داخليږي، په خپل کوم کښې په دوه قسمه دي اول قسم هغه دي، چه د هغوئ عمل اتفاقي ده، او دويم قسم هغه ده، چه هغوئ عمل اختلافي ده، نو معترض وائي، چه څه وجه ده، چه ناظم هغه حرف چه په يوشي باندې داخليږي مقدم کړو په هغو حروفو باندې چه هغه په دوه شيانو باندې داخليږي، او بيا هغه حروف، چه په اسم باندې داخليږي مقدم کړو په هغه حروفو باندې، چه په فعل باندې داخليږي، او بيا هغه حروف يے مقدم کړه، چه عمل يے اتفاقي وي، د هغه حروفونه، چه عمل يے اختلافي وي چه دا حروف چه عمل يے اتفاق ده، حروف جاره، او هغه حروف چه عمل يے اختلافي ده حروف ندا دي، او هغه حروف چه په دوه شيانو باندې داخليږي حروف مشبه بالفعل دي، او هغه حروف چه په فعل باندې داخليږي، حروف ناصبه او حروف جازمه دي ؟

او حاصل د جواب دا ده چه، هغه حروف چه په يوشي باندې داخل وي او هغه شے اسم وي، دا يے ځکه مقدم کړو، په هغه حروفو باندې، چه داخل وي په شي باندې، او هغه شے فعل وي، او يا داخل وي په دوه شيانو باندې، ځکه چه دا اسم اصل ده په نسبت سره فعل ته، نو دا عامل د دے اسم هم اصل ده لره فعل ته، دا حروف يے ځکه مقدم کړيدي، په هغه حروفو باندې چه مدخول يے فعل وي، او يا مدخول يے دوه شيان وي !!

نو په دے عبارت کښې شارح صرف وګياره د تقديم د دے حروفو، چه داخل وي په اسم باندې، بيان کړيده، او د دے دپاره يے وجه نه ده بيان کړے، چه دا حروف داخل وي، په دوه شيانو باندې، نو د دے دپاره وجه دا ده، چه دا حروف

چه مدخول یې یوشې وي او هغه اسم وي ځکه مقدم کړو، په هغو حروفو بانډې چه مدخول یې دوه شیان وي، ځکه چه دا دے اول قسم د حروفو مدخول هرکله چه یو اسم ده او مدخول د دے دویم قسم د حروفو دوه شیان دي، نو دا مدخول د اول قسم حروفو په منزله د جزء ده، او مدخول د دویم قسم حروفو په منزله د کل ده، او جزء طبعاً مقدم وي په کل بانډې، نو ځکه دا حروف چه داخل وي په یوشي بانډې او هغه اسم وي مقدم شو په هغه حروفو بانډې چه هغوئ داخل وي په دوه شیانو بانډې!!

او بیا هغه حروف چه عمل د هغوئ اتفاقي وي لکه حروف جاره دا مقدم کړے شو، له دے وجې نه چه د دوئ په عمل کښې اتفاق موجود ده، په هغه حروفو بانډې چه د هغوئ په عمل کښې اختلاف موجود ده، ځکه چه اتفاق اصل ده له اختلاف نه، نو له دے وجې نه ناظمؒ اول حروف جاره ذکر کړل، او بیا ورسته یې حروف نداء ذکر کړیدي، او بیا د هغوئ نه وروسته یې حروف مشبه بالفعل ذکر کړیدي، او بیا یې حروف نواصب ذکر کړیدي، چه هغوئ نصب ورکوي فعل مضارع ته، او بیا یې حروف جوازم ذکر کړیدي، چه دا جزم ورکوي فعل مضارع ته، او بیا دا حروف نواصب یې مقدم کړیدي په حروفو جوازمو بانډې، ځکه چه نواصب نصب ورکوي، او دا نصب حرکت ده، او دا جوازم جزم ورکوي، او جزم سکون ده، او حرکت قوي ده د سکون نه، او [سکون] ضعیف ده، او ضعیف متاخر ده د قوي نه، نو دا حروفِ نواصب چه مؤثر او مفید دي لپاره د دے نصب هم مقدم کړے شویدي په حروفِ جوازم بانډې، چه هغوئ مفید او مؤثر دي د دے ضعیفا چه سکون ده!!

وفي بعض النسخ او را د المشبهة [الحروف] بالفعل الخ: غرض د شارح په دے مقام کښې را د کول دي په یوه نسخه بانډې، نو په دے مقام کښې دوه نسخې دي اوله

نسخه داده، چه دا حروف مشبه بالفعل وړ وسته ناظم ذکر کړیدی، او دا نسخه شارح راخستے ده او دا شرحه هم دد ے موجود ے نسخے په ترتیب باندِ روانه ده او دویمه نسخه داده، چه دا حروف مشبه بالفعل پکښ وړ وسته د حروف جاره نه ذکر دی، او دا اعتراض شارح په دِ ے دویمه نسخه باندِ کړیده، حاصل دد ے اعتراض داده، چه ذکر دد ے حروف مشبه بالفعل وړ وسته د حروفِ جاره نه باطل ده، ځکه چه ددوئ مدخول دوه شیان دی، نو بایډ چه دوئ وروسته ذکر کړ ے شوی و ے، د هغو حروفو نه، چه د هغوئ مدخول یو شے وی، چه هغه "حروف نداء" دی، او حروف نواصب او حروف جوازم دی!!

اوله دِ ے اعتراض مذکوره د شارح نه دوه جوابه ورکړ ے شویدی، اول جواب حاصل داده، چه ددوئ مدخول هر کله چه دوه شیان شو، نو په دِ ے وقت کښ دا مدخول ددوئ قوی ده، ځکه چه دوه شیان قوی وی د یو شی نه، نو له وجه د قوت د مدخول دد ے حروفو مشبه بالفعل نه په اعتبار د مدخول سره دوئ راوړ ے شوید ی وړ وسته له حروف جاره نه، او مقدم کړ ے شوی دی په دِ ے نوړ و حروفو باندِ!!

او دویم جواب حاصل داده، چه موږ ورته وایو، چه په دِ ے نسخه کښ غلطی واقع شویده د کاتب نه، په دِ ے شان چه دا حروف مشبه بالفعل یے راوړیدی وړ وسته د حروف جاره نه اگرچه مقام داده چه په آخر کښ راوړ ے شی، نو دا اوّل جواب منعی ده، په دِ ے شان چه په دِ ے جواب کښ منع دد ے خبر ے شویده چه دا راوړل د حروف مشبه بالفعل وړ وسته د حروف جاره نه په غیر د محل کښ دی، په دِ ے شان چه دا خبره منع کړ ے شوه چه نه منم، چه ددوئ راوړل په غیر د محل کښ دی، او دا دویم جواب تسلیمی ده، په دِ ے شان چه جواب وړ کړ ے شویده، چه زهٔ منم چه دد ے حروف مشبه بالفعل راوړل

ورسته له حروف جاره نه په غیر د محل کښ دی، نو لکن دا سهو د کاتب ده چه دوئ به ذکر کړیدی وی وسته د حروف جاره نه !!

فاذا عرفت هذا فاعلم ان الحروف الجارة حروف بذواتها لا اسماء ولا افعال

وعددها سبعة عشر حرفا عند الجمهور الخ: نو دغه کړه داخبره چه د فاعلم عبارت نه نیولے تر "وحروف المعاني" عبارت پورے د شارح ځلور غرضونه دی اول غرض د شارح بیان د ذواتو ددے حروفو دہ، او دویم غرض بیان د اختلاف دہ، چه هغه واقع شوید ہ په عدد ددے حروفو کښ په مابین د جمهور او د اخفش کښ، او دریم غرض بیان د مدخول ددے حروفو دہ، او ځلورم غرض، بیان د نومونو ددے حروفو دہ!

نو ذوات ددے حروفو شارح بیان کړیدی په دے عبارت خپل سره چه: "ان الحروف الجارة حروف بذواتها" یعنی دا حروف جاره په اعتبار د ذواتو خپلو سره حروف دی، یعنی د دوئ ماهیت او ذات حرف دہ، او دوئ اسماء هم نه دی او دغه شان افعال هم نه دی په اعتبار د ذات سره !

او په دے بانډې معترض اعتراض کوی، چه حاصل د اعتراض دا دہ، چه معترض وائی چه ستاسو په کلام کښ تناقض دہ، ځکه چه دا کلام ستاسو مناقض دہ د هغه مخکښ کلام ستاسو سره، چه هغه دا وه، چه "خمسة منها تارة حروف و تارة اسماء وثلاثة منها تارة حروف وتارة افعال"، نو ددے کلام سابقہ ستاسو نه دا معلومیږی، چه بعضے په دے حروف جاره کښ په بعضو حالاتو کښ حروف وی، او په بعضو حالاتو کښ اسماء وی، او دغه شان بعضے نور په دے حروف جاره کښ په بعضے حالاتو کښ حروف وی، او په بعضے حالاتو کښ افعال وی! او له دے کلام ستاسو نه دا معلومیږی، چه دا ټول حروف جاره حروف دی او اسماء هم نه دی، او افعال هم نه دی؟

او جواب له دې اعتراض نه دا دهٔ چه مونږ وايو چه دې حروفو ته چه مونږ په دې مقام کښې حروف وئيلي دي، نو دا حرفيت د دوئ په اعتبار د ذات سره دهٔ يعنې دوئ په اعتبار د ذات سره حروف دي، او په هغه محکښ کلام کښې چه مونږ وئيلي دي چه بعضِ د دوئ نه په بعضِ اوقاتو کښې اسماء وي او افعال وي، نو دا اسميت او فعليت چه دوئ ته عارضيږي، دا په اعتبار د عارض سره دهٔ، نو دوئ په اعتبار د ذات سره حروف دي، او دوئ چه اسماء او يا افعال جوړيږي دا له وجه د عارض نه وي، نو تعارض دفع شو، په مابين د کلامينو کښې، او بيان د اختلاف چه هغه واقع شوی دهٔ په عدد او شمار د حروف جاره کښې، شارح بيان کړی دهٔ په دې عبارت نخپل سره چه "وعدد ها سبعة عشر حرفا عند الجمهور، واما عند صاحب الکافية الى آخره" يعنې په عدد او شمار د دې حروف جاره کښې اختلاف واقع شوی دهٔ، په مابين د جمهور و کښې او په مابين د صاحب الکافيه کښې چه علامه ابن الحاجب دهٔ، په دې شان چه په مذهب د جمهور و بانديې عدد او شمار د دې حروف جاره ولس دي، او په مذهب د صاحب الکافيه بانديې اتلس دي، په دې شان چه په مذهب د صاحب الکافيه بانديې واو د "رب" هم د حروفِ جاره نه دهٔ!

او په دې بانديې معترض اعتراض کوي، حاصل د اعتراض دا دهٔ چه معترض وائي چه د دې حروف جاره شمار په دې مقام کښې ذکرکول مستدرک دي ځکه چه د دوئ عدد شارح په محکښ کښې ذکرکړې دهٔ، په دې قول نخپل سره چه "ففي الحروف الجارة يوجد اتحاد العمل في سبعة عشر حرفا فجعلت نوعا"؟

او جواب له دې اعتراض نه دا دهٔ، چه شارح اگرچه محکښ بيان د د عدد، د دې حروف جاره کړی دهٔ، خو لکن په دې مقام کښې چه بيا ذکرکړی دهٔ هدا له وجه د بيان د اختلاف نه په دې حروف جاره کښې، په دې شان چه په دې حرف

جاره کښې اختلاف واقع شوی دے، نو په دے مقام کښې مقصود له ذکر د دے حروف جاره نه بیان د اختلاف دے د دوئ په عدد کښې، او مقصود د بیان د عدد د دوئ نه دے، ځکه چه د دوئ عدد مخکښې بیان شوی دے، نو هیڅ استدراک نشته، ځکه چه دا دویم ذکر د دے عدد د حروف جاره لپاره د بیان د اختلاف دے په عدد د دوئ کښې، نو دا ذکر مفید شو د فائده چه هغه بیان الاختلاف دے په عدد د دوئ کښې!

او په دے واؤ د رب کښې اختلاف واقع شوی دے، په مابین د سیبویه او د اخفش کښې، په دے شان چه سیبویه وائی، چه دا "واؤ" "بنفسه جر نه ورکوی مدخول خپل ته په اعتبار د خپل ذات سره بلکه ورو وسته له دے واؤ د "رب" نه "رب" مقدر وی، او دا جر په حقیقت کښې هغه "رب" ورکوی، نو بنا په مذهب د سیبویه بانې دے واو د رب ته حرف جاره ویئل په طریقے د مجاز سره دی!

او مذهب د اخفش دا دے چه دا واؤ د رب پخپله په اعتبار د خپل ذات سره جر ورکوی خپل مدخول ته، او په دے جر ورکولو د دۀ کښې هیڅ حاجت نشته تقدیر د رب ته ورو وسته له دے واؤ د "رب" نه، نو بنا په مذهب د اخفش بانې دے واؤ د رب ته حرف جاره ویئل حقیقت دی او مجاز نه دی، ځکه چه دا واو د رب پخپله حرف جاره دے، په دے مذهب د اخفش بانې!!

او بیان د مدخول د دے حروف جاره شارح کړے دے په دے عبارت سره چه "ومدخولها اسم حقیقة کزید او تاویلا نحو قام زید لیصلی" یعنی مدخول د دے حروف جاره به اسم وی، برابره خبره ده که حقیقة اسم وی مثال لکه زید په دے ترکیب کښې چه "المال لزید" نو په دے مثال کښې دا لام حرف جاره دے، او داخل شوی دے په زید بانې، او دا "زید" اسم دے حقیقة!

او یا به دا مدخول د دے حروفو اسم وی تاویلاً نه حقیقة، مثال لکه

"قام زید لیصلی" نو په دې مثال کښې دالام په لیصلی کښې حرف جاره دے او دا
یصلی صورةً فعل دے او اسم نۀ دے، خولکن تاویلاً اسم دے ځکه چه وروسته
له دې لام نه "ان" مصدریه مقدره ده، چه تقدیر د عبارت داسې دے چه "قام
زید لان یصلی" نو له دې یصلی فعل نه په واسطه د "ان" مصدریه سره صلوٰة
جوړیږی، ځکه چه دا ان مصدریه مدخول خپل مؤول کوی په تاویل د مصدر
او مفرد سره، نو دا "یصلی" تاویلاً اسم دے، ځکه چه له دې نه وروسته تاویل
نه وی نو اسم جوړیږی، او دا مدخول د دې حروفو به ځکه اسم وی، ځکه
چه دا حروف جاره وضعه دی لپاره د افضاء د فعل خپل مدخول ته، یعنی
دوئی راکش کوی مدخول خپل ته فعل، مثال لکه "مررت بزید" نو په دې
مثال کښې دا باء حرف جاره ده، او دې باء افضاء د مررت کړیده دے زید
ته، نو د دوئی مدخول به ضروری اسم وی، ځکه چه کۀ د دوئی مدخول فعل شی
نو لازم به شی افضاء د شی لپاره د خپل نفس، ځکه چه په دې وقت کښې به
دوئی ماقبل فعل راکش کوی هغه فعل ته، چه کوم فعل د دوئی مدخول وی
او افضاء د فعل، فعل ته باطله ده۔
په دې مقام کښې معترض یو اعتراض کوی، حاصل د هغه اعتراض دا دے
چه معترض وائی چه څۀ حکمت دے په دې خبره کښې، چه تاسو وروسته له هغه
لام جاره نه چه په فعل بانډې داخل شوے وی "ان" مصدریه مقدره وئی؟
او جواب له دې اعتراض نه دا دے، چه موږ وایو چه دالام د حرف جاره
نه دے، او دا نۀ داخلیږی مګر په اسم بانډې، نو د خول د دې لام حرف جاره
په فعل بانډې په هغه وقت کښې جائز دے، چه په دې فعل کښې تاویل د اسم
وکړے شی، او دا تاویل په فعل کښې په واسطه د "ان" مصدریه سره کولے
شی، نو حکمت په تقدیر د "ان" مصدریه کښې وروسته له لام جاره نه تاویل

دے فعل دہ پہ اسم سرہ۔

او بیان د نومونو د دے حروف جارہ شارح کړیدے پہ دے عبارت سرہ چہ "واسماؤها الحروف الجارة ويقال لها حروف الاضافة وحروف الربط الى آخره" یعنی د دے حروفو ټولو نومونہ دی، اول نوم دا دے چہ دوی تہ حروف جارہ وائی، او وجہ د تسمیہ یے راروانہ دہ، او دویم نوم دا دے چہ دوی تہ حروف الاضافت وائی، او وجہ د تسمیہ یے دا دہ، چہ دوی د افعالو او د شبہ افعالو معنا ګانے راسوی تہ پہ مدخول تہ، او اضافت الی ایصال او رسولو دیو شی تہ، مثال لکہ "مررت بزید" نو پہ دے مثال کښے د "باء" معنی د مررت رسولے دہ خپل مدخول تہ چہ زید دہ، او بل مثال لکہ "انا مار بزید" او پہ دے مثال کښے د "باء" معنی د شبہ فعل چہ اسم فاعل دہ چہ مار لفظ دہ رسولے دہ خپل مدخول تہ چہ هغہ زید دہ

او دویم احتمال پہ وجہ د تسمیہ کښے دا دہ، چہ بعض پہ دے حروف جارہ کښے مقدر کیږی پہ مابین د مضاف او د مضاف الیہ کښے، نو دا بعض یکښے حقیقۃ حروف اضافت دی، لہ دے وجہ نہ چہ د مضاف او مضاف الیہ پہ مابین کښے مقدر کیږی، نو دے ټولو تہ حروف جارہ وائی پہ طریقے د مجاز سرہ لہ قبیلے د تسمیہ د کل حروفونہ پہ اسم د بعض حروفو سرہ!

او دریم نوم د دے حروفو دا دہ، چہ دوی تہ حروف ربط وائی، ځکہ چہ دوی رابط وی، او ربط پیدا کوی پہ مابین د افعالو او د اسماؤ کښے، مثال لکہ "زید علی السطح" نو د دے دوہ اسمونو پہ مابین کښے رابط دا "علی" حرف جارہ دہ، او مثال لکہ "مررت بزید" نو د دے فعل چہ مررت دہ او د دے اسم چہ زید دہ پہ مابین کښے رابط "باء" حرف جارہ دہ۔

او څلورم نوم د دے حروفو دا دہ، چہ دے حروفو تہ، حروف معانی وائی

او وجه د تسمیه دا ده، چه لپاره د هر واحد د دے حروفو جدا جدا معنیٰ ده!

وانما سمّیت بالحروف الجارة لانّ عملها فی مدخولها الجرّ الخ:

نو دا کره دا خبره، چه شارح لپاره د وجه د تسمیه د حروف جاره، په حروف جاره سره دوه وجهے ذکر کړے دی، اوله وجه یے په دے عبارت سره ذکر کړے ده چه "لان عملها فی مدخولها الجرالی آخره" او حاصل د دے وجه د تسمیه دا ده چه دے حروف جاره ته ځکه حروف جاره وائی، ځکه چه عمل د دوی جر ده په مدخول خپل کښے، یعنی دوی خپل مدخول ته جر ورکوی، او دا جر اثر ده لپاره د دے حروف جاره، نو دوی ته جاره وئیل، د اتسمیه د مؤثر ده په اسم د اثر سره! نو لکن په دے بانے معترض اعتراض کوی، چه نه منم دا خبره چه دوی ته دا حروف جاره وئیل تسمیه د مؤثر ده په اسم د اثر سره، ځکه چه اثر لپاره د دے حروفو جر ده، او دا جر اسم ته نه ده وضعه کړے شوے، چه دا تسمیه د مؤثر شی، په اسم د اثر سره، بلکه دوی ته جاره نوم وضعه شوے ده او دا اسم د اثر نه ده؟

نو له دے اعتراض نه شارح جواب ورکړے ده په دے عبارت خپل سره:

ای باسم مشتق من الاثر فلا یرد ان الجارة الخ: او حاصل د دے جواب دا ده چه په دے عبارت د مونږ کښے تقدیر ده، په دے شان چه مونږ وایو چه دا تسمیه د مؤثر ده چه دا حروف دی، په هغه اسم سره چه هغه مشتق وی د اثر نه، یعنی دا اسم د اثر نه، او شک نشته، چه د دے حروفو اسم چه جاره ده مشتق ده د اسم د اثر د دوی نه، ځکه چه اسم د اثر د دوی جر ده نو هر کله چه مونږ تقدیر وکړو په عبارت کښے، نو اوس دا اعتراض نه وارد یږی چه اسم د مؤثر جاره ده، او دا اسم جر ده، نو دا تسمیه د مؤثر نه ده په اسم ...... دا اثر سره ......

اولانها تجر معاني الافعال الى مدخولها الخ: او په دے عبارت سره شارح بيان دد وے وجه دتسميه کړیده ددے حروفو په اسم د جارة سره! اود مل ددے وجه دتسميه داده چه دے حروفو ته ځکه جاره وائي، ځکه چه دا ماخذ مشتق ده دا جرار نه، او اجرار وائي یوشے راکش کولو ته، او دا حروف هم معني کانے دافعالو راکش کوی نښل مدخول ته، مثال لکه "مررت بزيد" نو په دے مثال کښ دا باء د حروف جاره نه ده، او دے باء معنی ددے مکنب فعل چه "مررت" ده راکش کړیده نښل مدخول ته چه هغه "زید" ده.

واعلم ان عملها سماعي عند الجمهور وقيل عملها استعير من المضاف الخ زده کړه دا خبره، چه په عمل د حروف جاره کښ اختلاف واقع شویده په ما بين د جمهور او د بعضو علماؤ کښ، په دے شان چه د جمهور و مذهب دا ده، چه عمل ددے حروف جاره سماعي ده، يعني د عربو نه ددوئ دعمل سماع شویده او قياسي نه ده ددوئ عمل، په دے شان چه دوئ په دے عمل کولو کښ ور قیاس کړے شي په شئ آخر بانډ.

او د بعض علماؤ مذهب داده، چه عمل ددے حروف جاره قیاسي ده، دوئ په دے عمل کولو کښ ور قیاس دی په مضاف بانډ، په دے شان چه اعمل د جر لپاره د مضاف ده، او بیا دا عمل په استعاره سره غوښتل شویده لپاره ددے حروف جاره، له وجه د مشابهت ددے حروف جاره د مضاف سره په دے خبره کښ چه لکه څنګه چه مضاف مجرد او خالي وی له تنوين نه او له قائم مقام د تنوين نه چه نون د تثنيه ده او نون د جمع ده، نو دغه شان دا حروف جاره هم خالي وی له تنوين نه او له قائم مقام د تنوين نه چه نون د تثنيه ده او نون د جمع ده، نو هرکله چه دا حروف جاره مشابه شول د مضاف سره په دے تجرید کښ، نو دوئ ته هم عمل د مضاف ور کړے شو

چه هغه جر دَه، په دِے شانِ لکه څنګه چه مضاف جر ورکوی مضاف الیه ته لکه "غلام زید" نو په دِے مثال کښې د اغلام مضاف او د ازید لفظ مضاف الیه دَه او دِے غلام جر ورکړیے دِے زید ته، نو همدارنګه حروف جاره هم جر ورکوی خپل مدخول ته مثال لکه "مررت بزید" نو په دِے مثال کښې د اباء حرف جاره دَه او جر یې ورکړیے دَه خپل مدخول ته چه زید دَه !

تامّل وتدبّر الخ: غرض د شارح په تامل لفظ کښې اشاره دَه اعتراض ته، حاصل د اعتراض دا دَه، چه معترض وائي، چه نَهٔ منو د اخبره چه حروف جاره شریک او مشابه دی د مضاف سره په تجرید کښې د تنوین نه او د قائمِ مقام د تنوین نه، ځکه چه تجرید عبارت دَه له دینه چه یو څیز یو شے موجود وی په یو شی کښې، او بیا ورو وسته ورانه خالی والے د دِے شی شوے وی، نو د ا تجرید من الشئ تقاضا کوی د سبق وجود د دِے شئ نه، نو د ا تجرید د تنوین او د قائم مقام د تنوین نه هم په هغه شی کښې راتلے شی چه په کوم شئ کښې ممکنښې د اتنوین او قائم مقام د تنوین موجود وی، او بیا ورو وسته ورانه لرے کړے شوے وی، نو د ا تجرید په مضاف کښې راتلے شی، ځکه چه اسم وی او د ا تنوین او قائم د تنوین له خواصو د اسم نه دی، نو په دِے مضاف کښې تجرید راتلے شیٔ مثال لکه "غلام زید" نو په دِے غلام باندِے تنوین موجود وه، ځکه چه د اغلام اسم متمکن دَه او تنوین تمکن پکښې موجود دَه، او بیا ورو وسته ورنه زائل کړے شو، او لکه "غلاما زید" نو په دِے مثال کښې د اغلاما لفظ د تثنیه دَه او مضاف دَه زید ته، په اصل کښې غلامان وه، او د انون د تثنیه د اضافت د وجه نه ورانه ساقط شو، نو ورانه "غلاما زید" جوړ شو، او لکه "مسلمو مصر" نو په دِے مثال کښې د امسلمو جمعه دَه او مضاف دَه "مصر" ته او د اپه اصل کښې مسلمون وه، او بیا ورانه د انون د جمع ساقط کړے شو، له وجه د اضافت

نه نو وې نه "مسلوممړ" جوړ شو!

او په حروف جاره کښې تجريد د تنوين نه او د قائم مقام د تنوين نه نده، ده متحقق ځکه چه په هغوئ کښې ممکښې له تجريد نه تنوين او قائم مقام د تنوين نه ده موجود، نو معلومه شوه، چه د احروف جاره نه دی مشابه او شريک د مضاف سره په تنوين کښې، نو دا حکم د مشابهت د دے حروف جاره د مضاف سره په تجريد د تنوين کښې باطل ده؟

او په دے "تدبر" لفظ کښې شارح اشاره کړيده جواب ته له دے ممکښې اعتراض نه، حاصل د جواب داده، چه موښ وا ته وايو چه د تجريد د پاره دوه معانی دی، يوه د غه معنی متعارفه د تجريد ده چه معترض پخپل اعتراض کښې ذکر کړيده، او دا معنی د تجريد سبق وجود او تحقق د دے شی غواړی، او دويمه معنے د تجريد داده، چه تجريد نفس خالی والی ته وايی، او دا اوله معنی حقيقی ده د پاره د تجريد، او دا دويمه معنی مجازی ده د پاره د تجريد، او مراد له تجريد نه په دے مقام کښې د امطلق خالی والے ده، او شک نشته، چه مطلق خالی والے د تنوين نه او د قائم مقام د تنوين نه لکه څنګه چه په مضاف کښې موجود ده، نو د غه شان په حروف جاره کښې هم موجود ده، نو مشابهت د حروف جاره د مضاف سره په تجريد کښې صحيح شو!!

وفيه بحث لانه لوكان عمل الحروف الجارة بمشابهة المضاف لزم الدور لان المضاف لايكون عاملا الا بتقدير حرف الجرالخ: غرض د شارح په دے عبارت خپل کښې اعتراض کول دی په من هب د بعضو علماؤ باندے، چه د هغوئ من هب داوه، چه د اعمل د حروف جاره له وجه د مشابهت د دے حروفو د مضاف سره ده!! او حاصل د اعتراض داده، چه معترض وائی چه کچرته دا عمل د دے حروف جاره له وجه د مشابهت د مضاف نه شی او موقوف

شي تر دې مضاف پورې، نو لازم به شي دور، ځکه چه عمل د مضاف موقوف دی تر دې حروف جاره پورې، ځکه چه مضاف، مضاف اليه ځپل ته چه جر ورکوي نو دا په واسطه د تقدير د حرف جر سره يې ورکوي، په دې شان چه د دې مضاف او مضاف اليه ترمينځه حرف جر مقدر وي مثال لکه "غلام زيد" نو دا زيد ته چه جر ورکړے شوے ده، دا په واسطه د تقدير د لام جاره سره ورته ورکړے شوے ده، په دې شان چه تقدير د عبارت په اصل کښې داسې وه چه "غلام لزيد" نو معلومه شوه، چه دا عمل د مضاف موقوف ده تر حروف جاره پورې، په دې شان چه دا مضاف چه عمل د جر کوي په مضاف اليه کښې نو دا په واسطه د تقدير د حرف جاره سره کوي، نو کله چه تر ته دا عمل د حروف جاره له وجه د مشابهت د مضاف نه شي، او د دوئ عمل ورا موقوف شي، تر مضاف پورې، نو لازم به شي دور، او دا باطل ده؟

قلنا هذا عند سيبويه واما عند الجمهور فالمضاف الخ: او دا عبارت د شارح جواب ده له دې مذکوره اعتراض نه، چه هغه وارد شوے ده په مذهب د بعض علماؤ بانډې، حاصل د دې جواب دا ده، چه مونږ ورته وايو چه په عمل د مضاف کښې دوه مذهبه دي، اول مذهب د سيبويه ده، او دويم مذهب د جمهورو ده، د سيبويه مذهب دا ده، چه دا عمل د مضاف په واسطه د تقدير د حرف جر سره وي، او د جمهورو مذهب دا ده، چه دا عمل د مضاف بنفسه وي، او په واسطه د تقدير د حرف جر سره نه وي، او دا مذهب د بعض علماؤ چه مخکښې مونږ ذکر کړه بنا ده په مذهب د جمهورو بانډې په دې عمل د مضاف کښې فقط، په دې شان چه دا بعض علماء هم وائي، چه دا مضاف چه عمل د جر کوي په مضاف اليه کښې، نو دا عمل بنفسه کوي بغير د تقدير د حرف جر سره نه، نو بنا په دې تقدير عمل د مضاف نه ده موقوف په حروف جاره بانډې نو کله

داعمل د حروف جاره له وجه د مشابهت د مضاف نه شي او موقوف شي تر مضاف پورې، نو هیڅ دور نه لازمیږي!

نو لکن په دې جواب باندې یو اعتراض وارد یږي، چه د هغه اعتراض حاصل دا دے، چه معترض وائي چه بنا په دې جواب باندې مخالفت راغلو د قاعدۀ اصلي او مشهورې نه، چه هغه دا دے، چه داعمل د مضاف له وجه د تقدیر د حرف جر نه وي، او دا قاعده په مذاهب د جمهورو باندې هم ثابته ده، او جمهور هم دا عمل د مضاف له وجه د تقدیر د حرفِ جر نه بولي، نو هر کله چه داعمل د مضاف موقوف شو تر حروفِ جاره پورې، نو کله چرته داعمل د حروفِ جاره له وجه د مشابهت د دې مضاف نه شي، او موقوف شي، تر مضاف پورې نو لازم به شي دور؟ او له دې اعتراض نه شارح جواب ورکړیده په دې عبارت سره: فالاولی ان یحمل عملها علی السماع تامل وتدبر الخ : حاصل د دې جواب دا دے، چه دا مخکښ جواب داده په دې خبره باندې، چه د جمهورو مذهب داشي، چه عمل د مضاف بغیر د واسطه د حروفِ جاره نه ده، نو بیا په دې وقت کښې چه عمل د حروف جاره له وجه د مشابهت د مضاف نه شي او موقوفا شي تر مضاف پورې نو دور نه لازمیږي، او کله چرته داعمل د مضاف له وجه د تقدیر د حرف جر نه شي، نو بیا چه عمل د حروف جاره لم وجه د مشابهت د مضاف نه شي، نو ضرور دور لازمیږي، نو بیا په دې وقت کښې اولی دا ده، چه داعمل د حروف جاره له وجه د سماع نه ده، په دې شان چه دوئ د عمل سماع شویده د عربو نه، او دا عمل، له وجه د مشابهت د مضاف نه، نه ده!!

النوع الثاني

واو ویا و همزه وآلا ایا وای هیا!
ناصب اسم اند این هفت حرف پنج از آن بهرندا!

ترجمه: یعنی دریمه نوع له دِے دیارلسو[۱۳] انواعونه، نوع ددے وڅه حرفونو ده چه اول حرف په دوئ کښې واو ده یعنی د واو دالفظ ده، او دویم حرف پکښې یاء ده، او دریم حرف پکښې همزه ده، او څلورم حرف اَلا ده او پنځم حرف ایا ده، او شپږم حرف ای ده، او، وُوم حرف پکښې هیا ده، او داوړه واړه حروف نصب ورکوی اسم ته، او پنځه حروف په دوئ کښې لپاره د نداء دی، چه یا ده او همزه او ایا ده او ای ده او هیا ده، او دا باقی دوه حروف چه اول واو ده، او دویم الا ده، لپاره د نداء نهٔ دی، بلکه دا واو داخل وی په مفعول باندِ او په معنی د مع سره وی، او دالا راځی په بعضو اوقاتو کښې لپاره د تحضیض!!

وسمی هذا النوع بحروف النواصب وحروف النداء وحروف المعانی الخ

غرض دَشارح په دِے عبارت څخه[۱۳] بیان د نومونو ددے حروفو ده، نو شارح وائی چه ددے حروفو درے نومونه دی، اول نوم دا ده چه دِے حروفو ته حروف النواصب وائی، او وجه د تسمیه یے دا ده، چه دا حروف نصب ورکوی اسم ته، نو ځکه ورته حروف نواصب وائی، په دِے شان چه هر واحد په دوئ کښې ناصب ده لپاره د هغه اسم، چه دا حروف وربانِ ور داخل شوے وی، اودویم نوم ددے حروفو دا ده، چه دوئ ته حروفِ نداء ویلی شی، او وجه د تسمیه یے دا ده چه حروفِ نداء ورته ځکه وائی، چه اکثر په دوئ کښې لپاره د نداء دی، نو دِے ټولو ته چه حروفِ نداء وائی، نو دا په طریقه د تغلیب سره ده،
او دریم نوم ددے حروفو دا ده، چه دِے حروفو ته، حروفِ معانی وائی
او وجه د تسمیه یے دا ده، چه دا حروف هم معنی لګانے لری، په دِے شان، چه په دوئ کښې دا پنځه حروف چه لپاره د نداء دی، د دوئ معنی طلب ده، او دا واو راځی په معنی دَمع "سره"، او دالا راځی لپاره د تحضیض!!

وفی عملها خلاف فذهب بعضهم الی ان هذه الحروف هی الناصبة لما بعدها

وذهب بعضهم الی ان الناصبة هی الافعال اللتی الخ: غرض د شارح په دے عبارت خپل سره بیان داختلاف دہ، چه هغه واقع شویدا که په عمل دِ دے حروفِ نداء کښې، نو حاصل د دے اختلاف دادہ، چه په عمل د دے حروفو کښې دوه مذهبه دی، اول مذهب دادہ، چه دا حروف پخپله عمل د نصب کوی په مابعد کښې، نو په یا عبد الله کښې دِ دے یاء حرف نداء پخپله عمل کړیدہ د نصب په عبد لفظ کښې، نو بنا په دِ دے مذهب بانې، دِ دے حروفو ته نواصب ویئل په طریقے د حقیقت سره دی، ځکه چه دوئ حقیقةً نصب ورکوی، خپل مدخول ته بنا په دِ دے مذهب بانې!

او دویم مذهب دادہ، چه دا حروف پخپله نصب نۀ ورکوی خپل مدخول ته، بلکه ناصب لپاره د مدخول د دوئ هغه افعال دی، چه هغه افعال به موجود وی له دوئ نه مخکښې، برابره خبره دہ کۀ هغه افعال لفظاً موجود وی، مثال لکه "استوی الماء والخشبة" نو په دِ دے مثال کښې د واو، له دِ دے حروفِ نواصبو نه دہ، او د "خشبة" اسم مدخول دہ لپاره د واو، او د "خشبة" لفظ منصوب دہ، او د انصب ورته بنا په مذهب اول بانې واو، ورکړیدہ او بنا په مذهب ثانی بانې ورته د ماقبل ورکړیدہ، چه استوی فعل دہ، او د افعل لفظاً موجود دہ په ماقبل کښې!

او یا به دافعل په ماقبل کښې معنیً موجود وی، مثال لکه "ماشانک وعمراً" نو په دِ دے مثال کښې د واو، په معنی د "مع "سره دہ، او داخل دہ په "عمراً" بانې، چه د امفعول معه دہ، نو په دِ دے مثال کښې هم بنا په مذهب اول بانې د انصب عمراً ته دِ دے واو، ورکړیدہ، او بنا په مذهب ثانی بانې د انصب دِ دے عمراً ته هغه فعل ورکړیدہ، چه کوم فعل مخکښې له دِ دے نه موجود دہ معنیً

ځکه چه معنیٰ د دے فعل دا ده چه "ماتصنع وعمرا" نو د دے تصنع فعل ورته نصب ورکړے دے، او د اتصنع په ماقبل کښې اګرچه لفظاً نۀ ده موجود، خولکن معنیً موجود ده!

او همدارنګه په دے واو باندې دا نور حروف هم ور قیاس دی، په دې شان چه هغوئ هم بنا په مذهب اول باندې پخپله نصب ورکوی مدخول خپل ته، او بنا په دے مذهب ثانی باندې دوئ پخپله نصب نۀ ورکوی مدخول خپل ته بلکه ناصب لپاره د مدخول د دوئ ماقبل فعل وی، مثال لکه یا عبد الله نو دا یاء له دے حروفِ نواصبو نه ده، او دا مدخول د دے یاء عبد لفظ ده، او دا منصوب ده، او دا نصب ورته یاء ورکړے ده، په مذهب اول باندې، او فعل ورته ورکړے ده، په مذهب ثانی باندې، چه هغه فعل ماقبل له دے یاء نه موجود ده معنیً، چه هغه ادعو ده، او دا ادعو معنیً موجود ده، ځکه چه معنیٰ د یا عبد الله ادعو عبد الله ده، او دے دویم مذهب ته مصنف اصح ویلی دی، په دے عبارت خپل سره چه "وهو الاصح" یعنی دا دویم مذهب، چه ناصب لپاره د مدخول د دے حروفِ مذکوره، فعل ده او دا حروف په خپله نۀ دی، اصح مذهب ده!

فاضافة النصب الیها باعتبار انها واسطة بین العامل والمعمول:

غرض د شارح په دے عبارت خپل کښې جواب ورکول دی، د یو اعتراض نه حاصل د اعتراض دا ده، چه معترض وائی، چه هر کله بنا په مذهب ثانی باندې ناصب لپاره د مدخول د دے حروفو افعال شول، او دوئ ناصب نۀ شول نو دوئ ته بیا نواصب ویل باطل دی، ځکه چه نواصب خو هغو امورو ته وائی، چه هغوئ نصب ورکوی، نو نواصب نو، بنا په دے مذهب باندې افعال دی، او دا حروف نۀ دی، او حال دا ده، چه دوئ ته هم نواصب ویلی شی

په دے شان چه نحات وائي چه دا حروف نواصب دي ؟

او حاصل د جواب دا دے چه دا حروف اگرچه بنا په دے مذهب ثاني بانډ نصب نه ورکوي مدخول خپل ته، نو لکن دوئ ته چه نواصب ويلي شي دا په طريقه د مجاز سره وي ته نواصب وائي، په دے شان چه دا حروف وسائط وي لپاره د عمل د فعل په مدخول د دوئ کښ، يعني دا فعل چه عمل کوي، په مدخول د دے حروفو کښ، دا عمل په واسطه د دے حروفو سره کوي نو هر کله چه دوئ وسائط شول، نو دوئ ته نواصب ويئل د اتسميه د واسطے ده په اسم د ذو الواسطه سره، په دے شان چه دا نواصب نوم ده او اسم ده لپاره دا فعالو، او هغوئ له قبيلے د ذو الواسطه نه دي، او دا حروف وي ته وسائط دي، نو دوئ ته نواصب ويئل، له قبيلے د تسميه د واسطه نه ده په اسم د ذو الواسطه سره، نو دوئ ته نواصب ويئل، په طريقه د مجاز سره دي!

واعلم انها حروف عند الجمهور لا اسماء ولا افعال وعند البعض انها اسماء الا فعال الخ: غرض د شارح په دے عبارت خپل سره بيان د امور اربعه دے، چه اول امر له دے امور ونه بيان د ذات د دے حروفو دے، نو شارح بيان د ذات کړيده په دے عبارت خپل سره چه انها حروف عند الجمهور الی آخره، يعني ذات د دے حروف دے، او له قبيلے د حرف نه دي په مذهب د جمهور و بانډ، او د بعضو علماؤ په مذهب بانډ اسماءِ افعال دي، حروف هم نه دي او افعال هم نه دي، نو په ذات د دے نواصبو کښ اختلاف واقع شويده په دے شان چه جمهور وائي، چه ذوات د دوئ حروف دي، او بعض علماؤ ويلي دي چه ذوات د دوئ اسماءِ افعال دي، او د ناظم په نزد بانډ د جمهور و مذهب غوره دے، نو ځکه ناظم په دوئ

بانې اطلاق د حرف کړېده په دې قول خپل کښې چه "پنځ حرف الیٰ آخره"!

اودویم امرله دِ ے امورِ اربعه نه بیان دعدد ، ددوئ ده ، چه ددوئ عدد وګ ده یعنی داوه حروف دی ، اودابیان ددے عدد شارح کړیده په دِ ے عبارت خپل سَره چه "وعدد ها سبعة" یعنی شمارددے حروفو داده چه داوه حروف دی ! اودریم امرله دِ ے امور اربعه نه بیان دعمل ددے حروفو ده ، نوداعمل ددے حروفو شارح ذکرکړیده په دِ ے عبارت خپل سَره چه "وعملها النصب علیٰ خلاف" یعنی ددوئ عمل نصب ورکول دی مدخول خپل ته سره د اختلاف نه په دِ ے شان چه د دوئ په عمل کښې دوه مذهبه دی ، اول مذهب داده چه دوئ په خپله نصب ورکونکی دی ، اودویم مذهب داده ، چه دوئ پخپله عامل نهٔ دی په نصب ورکولو کښې ، بلکه نصب هغه فعل ورکوی ، چه مخکښې له دوئ نه موجود ده یالفظا اویا معنی !!

اوڅلورم امرله دِ ے امور ونه بیان دمدخول ددے حروفو ده ، نودا بیان دمدخول ددے حروفو شارح کړیده په دِ ے عبارت خپل سره چه :- "ومدخولها اسم" یعنی مدخول ددے حروفو اسم ده ، په دِ ے شان چه دوئ به هیشه په اسم بانې داخلیږی ، برابره خبره ده کهٔ دااسم په لفظ کښې موجود وی اوکهٔ مقدر وی ، مثال د هغه چه دااسم په لفظ کښې موجود ی لکه یا عبد الله نومدخول ددے "یاء" عبد ده او دااسم ده ، اومثال د هغه چه د ااسم مقدر وی ، لکه "اَلا یا اسجدوا" نو په دِ ے مثال کښې دا یاء داخل ده په اسم بانې ، اوهغه مقدر ده چه لفظ دقوم ده ، نوتقدیرد عبارت ، داسے ده چه ، "اَلا یاایها القوم اسجدوا"

اِنّ باأنّ کأنّ لیت لکنّ لعلّ !

ناصب اسم اند ورافع درخبر ضدّ ِ ما ولا !

هرکله چه مصنف فارغ شو د بیان د دویمے نوع نه چه حروفِ نداء وه، نو شروع یے وکړه په دریمه نوع کښې چه دا نوع د حروف مشبه بالفعل ده، او دا حروف مشبه بالفعل شپږ حروف دی، اول اِن دَه په کسره د همزه سره او دویم حرف اَن دَه په فتحه د همزه سره، او دریم حرف کان دَه، او څلورم حرف لیت ده، او پنځم حرف لکن ده، او شپږم حرف لعل ده!

نو ترجمه د دے عکښې شعر دا سے ده، چه دا اِن سره د اَن او سره د کان او د لیت او سره د لکن او د لعل نه، نصب ورکوی اسم ته او رفع ورکوی خبر ته، او دا حروف ضد د ما و لا دی، ځکه چه ما او لا رفع ورکوی اسم ته او نصب ورکوی خبر ته!!

تشریح: نو ده کړه دا خبره چه اِن په کسره د همزه سره او دغه شان اَن په فتحه د همزه سره لپاره د تحقیق دی، او کاَن لپاره د تشبیه ده یعنی دا کان دلالت کوی په تشبیه د مدخول خپل بانې د شي آخر سره، مثال لکه "کاَن زیداً اسد" نو په دے مثال کښې دا کان دلالت کوی په تشبیه د زید بانې چه مدخول د کان ده، دا سد سره چه دا شئی آخر ده، معنی د کلام دا سے شوه چه دا زید داسے ده لکه زمرے!

او دا لکن راځی لپاره د استدراک، او استدراک عبارت ده له دفع د هغه توهم نه، چه هغه ناشی وی او راپیدا شوے وی د کلام سابقه نه مثال لکه "جاءنی زید لکن عمرالم یجئ" نو دا جاءنی زید یو کلام ده، او له دینه، یو توهم راپیدا کیږی، چه هغه دا ده چه عمرو به هم راغلے وی، او دا توهم به په هغه وقت کښې وی، چه د زید او عمرو ترمنځه مناسبت موجود وی، لکه صداقت، یعنی چه د دوئ د واړو په مابین کښې ملګرتیا وی، نو متوهم دا توهم کوی، چه زید راغلے وی، نو دا عمرو به هم راغلے وی له وجه د مناسبت

نه په مابین د دوئ د واړو کښې، نو په دے لکن سره متکلم دا تو هم دفع کړو چه عمرونه ده راغلے اگرچه نه یی راغلے ده !!

اولیت لپاره د تمنی ده، او لعل لپاره د ترجی ده، نو تمنی عبارت ده د طلب یو شئ نه په طریقے د محبت سره، نو لکن دا یکښې شرط ده چه دا شے به ممکن وی او قریب الوقوع به وی، او ترجی عبارت ده له طلب د یو شئ نه په طریقے د محبت سره، نو لکن دا یکښې شرط ده، چه دا شے به یا محال وی مثال لکه: "لعل الشباب یعود" او یا به ممکن بعید وی، لکه "لعلی احج فانه ورک" دا په هغه وخت کښې چه د احج کول ممکن بعید وی لپاره د دے متکلم!

په دے مقام کښې معترض یو اعتراض کوی، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی، چه بایں مصنف د احروف مشبه بالفعل مقدم کړی وے په حروفِ جاره بانے، ځکه چه حروفِ جاره، چه وی کوی خپل مدخول ته نو مدخول د حروفِ جاره مجرور وی، او د احروف مشبه بالفعل نصب وی کوی اسم ته او رفع وی کوی خبر خپل ته، نو د دوئ اسم منصوب وی او خبر ئے مرفوع وی، او مرفوع او منصوب مقدم وی په مجرور بانے، ځکه چه مرفوع په غالبو اوقاتو کښې فاعل وی، او منصوب په غالبو اوقاتو کښې مفعول وی، او مجرور مضاف الیه وی، او فاعل او مفعول مقدم وی په مضاف الیه او په مجرور بانے، نو هر کله چه معمول د دے حروف مشبه بالفعل مقدم ده په معمول د حروف جاره بانے، نو بایں چه دا حروف مشبه بالفعل هم مقدم کړی ئے وے په حروف جاره بانے، لپاره د دے چه موافقت راشی په مابین د عواملو او د معمولاتو کښې؟

او جواب له دے اعتراض نه دا ده، چه مونږ وایو ته وایو چه، "دا عمل د حروفِ جاره اصلی ده، د چا د مشابهت د وجه نه، نه ده، او د اعمل د دے

حروفِ مشبہ بالفعل فرعی دہ، ځکہ چہ د دوئ عمل لہ وجہ د مشابہت د فعل نہ دہ او کوم شے چہ اصلی وی ھغہ حقدار وی د تقدیم پہ ھغہ شئ باندې چہ ھغہ غیر اصلی وی، نو ھر کلہ چہ د احروف جارہ اصلی وہ، او دا حروف مشبہ بالفعل غیر اصلی وہ، نو ځکہ مصنف دا حروف مشبہ بالفعل مؤخر کړہ د حروفِ جارہ نہ، او دا حروفِ جارہ یے ورباندې مقدم کړہ۔

پہ دې مقام کښې معترض یو بل اعتراض کوی، چہ د ھغہ اعتراض حاصل دا دہ، چہ معترض وائی چہ دې ناظم دالکن پہ دې خپل شعر کښې مقدم کړیدہ پہ لعل باندې، او حال دا دہ، چہ د العل رباعی دہ ځکہ چہ پہ دې کښې ځلور حروف دی اول لام دہ او دویم عین دہ او دریم لام مدغمہ دہ او ځلورم لام مدغم فیہ دہ، او دالکن "خماسی دہ ځکہ چہ اول یکښې لام دہ او دویم حرف پکښې الف دہ ورستہ د لام نہ، او دریم حرف پکښې کاف دہ او ځلورم حرف نون مدغمہ دہ، او پنځم حرف نون مدغم فیہ دہ، او رباعی مقدم وی د خماسی نہ، نو بایدہ چہ ناظم د العل مقدم کړے وہ پہ لکن باندې او حال دا دہ چہ دۀ دالکن مقدم کړیدہ پہ لعل باندې؟

او جواب لہ دې اعتراض نہ دا دہ، چہ مونږ ورتہ وایو، چہ دالکن لپارہ د خبر دہ، او د العل لپارہ د انشاء دہ، او خبر اصل وی د انشاء نہ، نو ھر کلہ چہ مدلول د لکن اصل شو، د مدلول د لعل نہ، نو دالکن مقدم کړے شو پہ لعل باندې لہ وجہ د اصالت نہ۔

بیانِ لغات لیتَ او لعَل: پہ لیت کښې دوہ لغتہ دی، اول لغت لیت دہ چہ اولہ کلمہ پکښې لام دہ، او دویمہ کلمہ پکښې یا دہ، او دریمہ کلمہ پکښې تاء دہ، او دا لغتِ مشھور دہ پہ "لیت" کښې۔

او دویم لغت پہ لیت کښې دا دہ، چہ لِتَّ پہ تشدید د تاء سرہ وویلے شی

په دې شان چه دالت په اصل کښې لیت وه او بیا دا یاء بدله شوه په تاء سره او تاء مومد نمه کړه په تاء کښې، نو ورته لت جوړ شو، په تشدید د تاء سره، او دا لغت غیر مشهوره ده په لیت کښې.

او په لعل کښې دولس[12] لغات دي، اول لغت "لعلّ" ده په تشدید د لامِ اخر سره، او دا لغت مشهوره ده په لعل کښې، او دویم لغت په لعل کښې "علّ" ده په حذف د اول لام سره، او دریم لغت په دې لعل کښې "لعنّ" ده په ابدال د لامِ اخر په نون سره، او څلورم لغت په لعل کښې "عنّ" ده په حذف د اول لام سره او په ابدال د لامِ اخر سره، چه په نون باندې بدل شوی ده، نو په دې لغت کښې دوه تغیره راغلي دي، او پنځم لغت په لعل کښې "أنّ" ده په فتحه د همزه سَره او په تشدید د نون سَره، چه په دې لغت کښې درې تغیرات جمع شوي دي، یو تغیر په اول لام کښې راغلې ده په حذف سَره په دې شان چه حذف شوی ده، او دویم تغیر په عین کښې راغلې ده، په دې شان چه دا عین بدل شوی ده په همزه سَره، او دریم تغیر په اخر لام کښې راغلې ده، په دې شان چه همغه بدل شوی ده په نون سَره، او شپږم لغت په لعل کښې "رغنّ" ده په دې شان چه اوله کلمه پکښې راء ده او دویمه کلمه پکښې غین ده، او دریمه کلمه پکښې نون ده، او په دې لغت کښې هم درې تغیرات شوي دي، اول تغیر په اول لام کښې شوی ده، په دې شان چه دا اول لام بدل شوی ده په راء سره، او دویم تغیر په عین کښې شوی ده، چه دا بدل شوی ده په غین سره، او دریم تغیر په آخري لام کښې شوی ده، په دې شان، چه دا آخري لام بدل شوی ده په نون سَره.

او اووم لغت په لعل کښې "لأنّ" ده، په لام او همزه او نون سَره، او په دې لغت کښې دوه تغیره راغلي دي، اول تغیر په عین کښې راغلې ده، چه دا بدل

شویدہ پہ همزہ سرہ، او دویم تغیر پہ لام آخرکښې راغلې دہ، چہ هغہ بدل شوې دہ پہ نون سرہ۔

او اتم لغت پہ دې لعل کښې "لغن" دہ، پہ لام او پہ غین او پہ نون سرہ، او پہ دې کښې هم دوہ تغیرہ راغلی دی، اول تغیر پہ عین کښې راغلې دہ، چہ بدل شویدہ پہ غین سرہ، او دویم تغیر پہ آخری لام کښې راغلې دہ، چہ بدل شوې دہ پہ نون سرہ۔

او نهم لغت پہ لعل کښې "لعلت" دہ پہ زیادت د تاء سرہ پہ آخرکښې، او لسم لغت پہ دې لعل کښې "لعلِ" دہ، پہ کسرہ د آخری لام سرہ، او یولسم لغت پہ لعل کښې "عل" دہ، پہ کسرہ د لام سرہ، او دولسم لغت پہ لعل کښې "عن" دہ، پہ کسرہ د نون سرہ۔

نو داغونې دولس لغات دی پہ دې لعل کښې، د اول لغت یکښې لغتِ مشهورہ دہ، او د باقی نورو تول لغات غیرمشهور دی، او فرق پہ مابین د اول لغت کښې چہ هغہ "لعل" دہ، او د لسم لغت کښې چہ هغہ هم "لعل" دہ، دا دہ چہ پہ دې اول لغت کښې د اول وستہ لام مفتوح دہ، او پہ دې لسم لغت کښې دا آخری لام مکسور دہ، او فرق پہ مابین د دویم لغت کښې چہ "عل" دہ او د یولسم لغت کښې چہ هغہ هم "عل" دہ دا دہ، چہ پہ دې دویم لغت کښې، دا لام مفتوح دہ، او پہ دې یولسم لغت کښې د الام مکسور دہ، او فرق پہ مابین د څلورم لغت کښې چہ "عن" دہ، او د دولسم لغت کښې چہ هغہ هم "عن" دہ دا دہ، چہ پہ دویم لغت کښې دا نون مفتوح دہ، او پہ د دولسم لغت کښې د انون مکسور دہ!!

ای النوع الثالث من الانواعِ المذکورۃ هذا النوع ویسمّی هذا النوع بالحروف المشبهۃ بالفعل: ترجمہ: یعنی دریمہ نوع لہ دې مخکنو انواعونہ چہ ذکر شویدی

دانوع ده، او دِے نوع ته حروف مشبه بالفعل وائی۔

په دِے مقام کښې معترض یو اعتراض کوی، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائی، چه بایس مصنف له دِے حروفو ته تعبیر په احرف سره کړے وے نه په حروف سره، ځکه چه د احروف جمع کثرت ده او د جمع کثرت اطلاق په مافوق د عشره باندِ کیږی، او د احروف د عشره نه کم دی، ځکه چه دا، شپږ حروف دی، نو بایس چه جمع قلت ئے ذکر کړے وے چه احرف ده، ځکه چه د جمع قلت اطلاق د ثلاثه نه تر عشره پورے ده؟

او جواب له دِے اعتراض نه دا ده، چه موږ ورته وایو، چه اگرچه دا حروف مشبه بالفعل شپږ دی، نو لکن دا صیغه د جمع قلت ئے ځکه ذکر کړے ده، چه د دے موافقت راشی د حروفِ جاره سره، په دِے شان چه شارح په حروفِ جاره باندِ اطلاق د جمع کثرت کړیده، ځکه چه هغوئ د لسونه زیاتے وه، نو په دِے حروفو باندِ ئے هم اطلاق د جمع کثرت وکړو، لپاره د دے، چه تغیر را نشی په اسلوب او طریقه کښې۔

واعلم انها حروف بل واتها لا اسماء ولا افعال الخ: له دِے "اعلم" عبارت نه نیولے تر "فلما کانت هذه الحروف مشابهة بالفعل" عبارت پورے غرض د شارح بیان د امورِ خمسه ؤ ده، اول امرله دِے امورِ خمسه ؤنه ذوات د دے حروفو دی، چه د احروف په اعتبار د ذات سره څه شے دی، نو ذوات د دے حروفو شارح ذکر کړیدی په دِے عبارت نیل سره چه "انها حروف بل وانها الخ": یعنی دا حروف په اعتبار د ذواتو خپلو سره حروف دی، یعنی ذات د دوئ او حقیقت د دوئ حرف ده، او دوئ اسماء هم نه دی او افعال هم نه دی

او دویم امرله دِے امورِ خمسه نه عمل د دے حروفِ مشبه بالفعل ده، نو د دوئ عمل شارح ذکر کړیدے په دِے عبارت نیل سره چه "وعملها النصب

والرفع" یعنی د دوئ عمل نصب او رافع دہ، پہ دے شان چہ دوئ کښې اسم تہ نصب ورکوی او خبر کښې تہ رفع ورکوی، نو اسم د دوئ بہ منصوب وی، او خبر د دوئ بہ مرفوع وی۔

او دریم امر لہ دے امورِ خمسہ نہ مدخول د دے حروفو دہ، نو دا مدخول د دے حروفو شارح ذکر کړے دہ پہ دے عبارت کښې سرہ چہ "ومدخولها المبتدأ والخبر" یعنی مدخول د دوئ دوہ شیان دی، اول مبتداء او دویم خبر دہ، یعنی دا حروف مشبہ بالفعل داخلیږی پہ مبتداء او خبر باندې، مبتداء تہ نصب ورکوی، نو ھغہ اسم جوړیږی لپارہ د دے حروفِ مشبہ بالفعل، او خبر تہ رفع ورکوی، او ھغہ خبر جوړیږی لپارہ د دے حروف مشبہ بالفعل۔

او څلورم امر لہ دے امورِ خمسہ نہ عدد او شمار د دے حروفو دہ، نو دا عدد او شمار د دے حروفو شارح ذکر کړیدہ پہ دے عبارت کښې سرہ چہ "وعددها ستة" یعنی شمار د دے حروفو دا دہ، چہ دا غوندې شپږ حروف دی۔

او پنځم امر لہ دے امورِ خمسہ نہ، نومونہ د دے حروفو دی، نو دا نومونہ شارح ذکر کړیدی پہ دے عبارت کښې سرہ چہ "واسمها الحروف المشبهة بالفعل الی آخرہ" نو شارح د دے حروفو دپارہ څلور نومونہ ذکر کړیدی، اول نوم د دے حروفو دا دہ چہ دوئ تہ حروفِ مشبہ بالفعل وائی، او دویم نوم د دوئ دا دہ، چہ دوئ تہ حروف نواسخ وائی، او دریم نوم د دے حروفو دا دہ، چہ دے حرفو تہ، حروف الداخل وائی، او څلورم نوم د دے حروفو دا دہ، چہ دے حرفو تہ حروف المعانی وائی۔

او د دے اول نوم او اسم دپارہ شارح وجہ د تسمیہ ذکر کړیدہ پہ دے عبارت کښې سرہ چہ "لانها مشابهة بالفعل لفظاً ومعنیً الی آخرہ" حاصل د دے وجہ د تسمیہ دا دہ، چہ دے حروفو تہ ځکہ حروف مشبہ بالفعل وائی، ځکہ چہ دا حروف

مشابه دي د فعل سره هم لفظاً او هم معنیً. مشابهت لفظي د دې حروفو فعل سره په څلورو شیانو کښې ده، اول شئے دا ده، چه لکه څنګه چه فعل ثلاثي او رباعي او خماسي راځي لکه "ضرب او دحرج او تدحرج" نو د غه شان دا حروف هم ثلاثي هم او رباعي هم او خماسي هم راځي، نو دا ان او ان اولیت ثلاثي دي، ځکه چه په ان او ان کښې دوه دوه نونونه دي، اول نون مدغم ده او دویم نون مدغم فیه ده، او دا کان او لعل رباعي دي، ځکه چه د کان په نون کښې ادغام موجود ده دوه نونونه دي، او د لعل په اخري لام کښې ادغام موجود ده دوه لامونه دي، او دا لکن خماسي ده، ځکه چه د دې په نون کښې هم ادغام موجود ده نو دا هم په اصل کښې دوه نونونه دي، یو نون مدغم ده او دویم نون مدغم فیه ده، نو غونډ پکښې پنځه حروف دي، اول لام ده، او دویم الف ده، او دریم کاف ده، او څلورم نون مدغمه ده، او پنځم نون مدغم فیه ده.

او دویم شئے د هغو شیانونه، چه دا حروف مشبه بالفعل په هغو شیانو کښې مشابه دي د فعل سره "ادغام" ده، یعني لکه څنګه چه په فعل کښې ادغام راځي مثال لکه مد او فر او حبّ، نو په دې درې واړو افعالو کښې ادغام شوي ده په مابین د عین کلمه او د لام کلمه کښې، ځکه چه په اصل کښې "مد" د "وه او "فرر" وه او "حبب" وه، بیا په دې اول مثال کښې دال مدغم شوي ده په دال کښې، او په دویم مثال کښې راء مدغمه شوي ده په راء کښې، او په دریم مثال کښې باء مدغمه شوي ده په باء کښې، نو هم داسې په دې حروفِ مشبه بالفعل کښې هم ادغام شوي ده، ځکه چه په ان او ان کښې ادغام د نون شوي ده په نون کښې او په کان او لکن کښې هم ادغام د نون شوي ده په نون کښې، او په لعل کښې ادغام د لام شوي ده په لام کښې.

او دریم شئ د هغو څلورو شیانونه، چه په هغوئ کښې دا حروف مشبه بالفعل

مشابه دی د فعل سره لحوق د کاف خطاب ده، لکه څنګه چه په فعل پورې لحوق د کاف خطاب کیږی، دغه شان تر دے حروفو پورے هم لحوق د کاف خطاب کیږی مثال د فعل لکه ضربک، نو دا فعل ده او دا ورسته پورے کاف د خطاب ملحق شوے ده، او مثال د دے حروفو چه کاف د خطاب ورپورے ملحق شوے وی لکه انک په کسره د همزے سره او انک په فتحه د همزے سره او کانک او لکنک او لیتک او لعلک۔

او څلورم شئ له هغو شپانونه چه په هغوئ کښ دا حروف مشبه بالفعل مشابه دی د فعل سره لحوق د نون وقایه ده تر آخر د دے حروفو پورے نو لکه څنګه چه تر آخر د فعل پورے لحوق د نون وقایه راځی، نو دغه شان تر آخر د دے حروفو پورے هم لحوق د نون وقایه راځی مثال د فعل چه تر آخر پورے به یے لحوق د نون و قایه شوے وی لکه ضربنی او اکرمنی، نو په دے دواړو فعلونو کښ چه کوم نون موجود ده، دا نون وقایه ده، او مثال د دے حروفو چه تر آخر پورے به یے لحوق د نون وقایه راغلے وی لکه اننی په کسره د همزے سره او اننی په فتحه د همزه سره او کاننی او لیتنی او لکننی او لعلنی

او مشابهت معنوی د دے حروفو د فعل سره په دیکښ ده، چه د دوئ حروفو معنی ګانے په شان د معنی ګانو د افعالو دی، څکه چه د اِن او اَن معنے حققتُ ده، او د کان معنی شبهت ده، یعنی دا یو شئ م مشابه کړو د بل شئ سره، او د لکن معنی استدرکت ده، یعنی ما استدراک وکړو (دفع د توهم م اوکړه) چه هغه توهم ناشئ وه د کلام سابق نه، او د لیت معنی ده تمنیت یعنی ما تمنی وکړه، او د لعل معنی ده ترجیت یعنی ما ترجی او امید وکړو!

او دوهم نوم د پاره هم شارح وجه د تسمیه ذکر کړیده، چه هغه دوهم نوم د دے حروفو دا ده، چه دوئ ته حروف نواسخ وایی، او حاصل د وجه د

تسمیه داده چه دوئ ته ځکه حروف نواسخ وایي، ځکه چه نواسخ جمع د ناسخ ده او ناسخ وایي نسخ کوونکي ته، او دا حروف هم چه کله داخل شي په مبتداء او خبر باندې، نو دوئ نسخه کوي هغه عمل سابقه چه مخکښې له دخول د دوئ نه پکښې موجود وي چه هغه عمل رفع ده، ځکه چه مبتداء او خبر مخکښې له دخول د دې حروفو نه دواړه مرفوع وي او عمل پکښې عامل معنوي کړے وي، چه هغه ابتداء ده، او چه کله دا حروف مشبه بالفعل ور باندې ور داخل شي نو هغه پخوانے عمل نسخه کړي چه رفع ده او نوے عمل پکښې وکړي چه هغه دا ده چه اسم ته نصب ورکړي او خبر ته رفع وکړي.

او د دې دریم اسم د پاره چه هغه داده، چه دوئ ته حروف دواخل وایي، شارح وجه د تسمیه نه ده بیان کړے، ځکه چه وجه د تسمیه یې ظاهره ده چه دوئ ته حروف دواخل ځکه وایي، ځکه چه دواخل جمع د داخل ده، او دا حروف هم داخلیږي په مبتداء او خبر باندې.

او دغه شان د دې څلورم اسم د پاره، چه هغه داده چه دوئ ته حروف معاني وایي، شارح وجه د تسمیه نه ده ذکر کړے، ځکه چه دا وجه د تسمیه د دې حروفو په حروف معاني سره ظاهره ده، ځکه چه دوئ ته حروف معاني په دې وجه وایي، چه د دوئ د پاره هم معنی کانے شته، چه هغه دا دي چه دان او ان معنی ده حقیقت، او د کان معنی ده شبهت، او د لکن معنی ده استدراکت او د لیت معنی ده تمنیت، او د لعل معنی ده ترجیت.

په دې مقام کښې دوه اعتراضه وارديږي، اول اعتراض معترض دا کوي چه دا حروف مذکوره لکه څنګه چه په ثلاثي توب او رباعي توب، او خماسي توب کښې مشابه دي د فعل سره، نو همدارنګ اسم هم ثلاثي راځي لکه رجل او رباعي هم راځي لکه جعفر او خماسي هم راځي لکه سفرجل، نو

داحروف مشبه بالفعل په دے ثلاثی توب او رباعی توب او خماسی توب کښې اسم سره هم مشابه دی، نو بايد چه دے حروف مذکوره ته حروف مشبه بالاسم ووايے؟ او جواب له دے اعتراض نه داده، چه هونږ وره ته وايو چه داحروف لکه څنګه چه مشابه دی، په دے ثلاثی توب او رباعی توب او خماسی توب کښې دفعل سره، نو هم اغسې په دے ثلاثی توب او رباعی توب او خماسی توب کښې مشابه دی داسم سره هم، خو لکن دامشابهت د دے حروفو فعل سره معتبر ده، ځکه چه په دے مشابهت بانے ثمره مرتبه ده چه هغه ثمره داده چه د دے فعل سره دمشابهت د وجه نه د دوئ ته عمل ورکړے شویده او دامشابهت د دے حروفو داسم سره چه ده، داغير معتبر ده، ځکه چه په دے مشابهت بانے ثمره نۀ ده مرتبه، ځکه چه دے حروفو ته له وجه د مشابهت داسم نه عمل نۀ ده ورکړے شوے، بلکه له وجه دمشابهت دفعل نه وره ته عمل ورکړے شويده، نو هرکله چه دامشابهت د دے حروفو فعل سره معتبر ده، او داسم سره غير معتبر ده، نو ځکه دوئ ته حروف مشبه بالفعل وائي۔

او دويم اعتراض داده چه په دے مقام کښې وارديږي، چه معترض وائي چه داخبره باطله ده چه د دے حروفو معنی کانے په شان د معنی کانو د افعالو دی، ځکه چه دفعل معنی مستقله وی په اعتبار د مفهوميت سره، يعنی دفعل نه د هغۀ معنی فهميږی بغير د ضم د ضميمه نه، او د حرف معنی غير مستقله وی، ځکه چه د حرف نه د حرف معنی فهميږی په سبب د ضم د ضميمه سره، نو دا د حرف معنی غير مستقله ده په اعتبار د مفهوميت سره نو داحروف مشبه بالفعل له قبيلے د حرفانه دی، نو د دوئ معانی به غير مستقله وی په اعتبار د مفهوميت سره، نو د دوئ معانی په شان د معانی

دافعالو بانڊِ نشی کیدے ؟

او جواب له دِے اعتراض نه دا دے، چه موږ وړ ته وایو چه په دِے کلام دَ شارح کښ فلان معانیها معانی الافعال تسامح دے، په دِے شان چه دَدِ کلام نه دا ظاهری معنی نۀ ده مراد، چه ددوئ معنی کانے بعینه په شان دمعانو دافعالو دی، بلکه مراد له دِے مذکور کلام د شارح نه دا دے، چه ددوئ معنی کانے وړ مستلزم دی معنی کانو دافعالو لره، او دا معانی دافعالو اقهیږی ځ نحوی او دسیاق د هغه کلام نه، چه په کوم کلام دا حروف مشبه بالفعل ذکر وی، او دا جائز ده، چه غیر مستقل مستلزم شی مستقل لره، او همدارنګ جائز ده فهم دمستقل د هغه کلام نه، چه په هغه کښ دا غیر مستقل ذکر وی. او په دِے عمل د حروف مشبه بالفعل بانڊِ هم معترض یو اعتراض کوی، حاصل د هغه اعتراض دا دے، چه معترض وائی، چه نۀ منم د اخبره چه حروف مشبه بالفعل عمل د نصب کوی په اسم خپل او عمل د رفع کوی په خبر خپل کښ، بلکه نۀ دی ته بنایم چه دا حروف به په یو ځائ کښ موجود وی، او عمل به یے نۀ وی کړے، مثال نګه "انما زید قائم" نو په دِے مثال کښ دا ان حرف ده د حروف مشبه بالفعل نه، او عمل د نصب او د رفع یے نۀ دے کړے ځکه چه زید مرفوع ده بنا په دِے بانڊِ، چه مبتداء ده، او عامل پکښ معنوی ده او دا قائم مرفوع ده، بنا په دِے بانڊِ چه دا خبر ده لپاره د مبتداء او په دے کښ هم عامل معنوی عمل کړیدے او دا رفع یے ورته ورکړیده، او دا ان چه حرف ده د حروفِ مشبه بالفعل نه، عمل یے نۀ ده کړے ؟

او جواب له دِے اعتراض نه دا دے، چه موږ وړ ته وایو، چه په عمل کولو د دے حروفو کښ یو قید معتبر ده، چه هغه قید عدم د مانع ده، یعنی دا حروفِ مشبه بالفعل به په هغه وقت کښ عمل کوی، چه مانع نۀ وی موجود

نه عمل دډې حروفو نه، او په هغه وقت کښې چه مانع موجود وي د عمل دډې حروفو نه، نو بيا دا حروف عمل نکوي، او په ډې ممکښې مثال کښې چه "انما زيد قائم" ده مانع موجود ده، چه هغه ماکافه ده، نو په کومو مواضعو کښې، چه ورا وسته نه ډې حروفونه ما کافه راشي، نو بيا دوئ عمل نۀ کوي، او ډې "ما" حرف ته نه ډې وجه نه ما کافه وائي، چه کافه مشتق ده دکف نه او کف معنی ده بند والے، او دا ما هم دا حروف مشبه بالفعل بندوي د عمل کولو نه.

فلما كانت هذه الحروف مشابهة بالفعل وللفعل عملان اصلي وفرعي و

المشبه به اصل بالنسبة الى المشبه فاعطى العمل الفرعي الخ: غرض د: شارح په ډې عبارت خپل کښې جواب ورکول دي ديو اعتراض نه، حاصل دا عتراض دا ده، چه معترض وائي، چه هر کله چه دا حروف مشابه شول فعل سره، نو بايد چه دوئ ته هم دفعل عمل ورکړے شوے وے، چه هغه تقديم د مرفوع ده په منصوب بانډې، ځکه چه دفعل فاعل مرفوع وي او مقدم وي، او مفعول دډې فعل منصوب وي او مؤخر وي، نو فعل ډې فاعل خپل ته رفع ورکړې وي، او ډې مفعول خپل ته يے نصب ورکړے وي، نو بايد چه دحروف مشبه بالفعل اسم هم مرفوع وے او خبر يے منصوب وے ليکن دډې چه په ډې حروف مشبه بالفعل کښې هم تقديم د مرفوع راغلے وے په منصوب بانډې، او حال دا ده، چه ډې حروف مشبه بالفعل کښې تقديم د منصوب ده چه دد وئ اسم ده په مرفوع بانډې چه دد وئ خبر ده، نو څه وجه ده چه دا حروف مشبه بالفعل مخالف کړے شو دفعل نه؟

او حاصل دډې جواب دا ده، چه شارح وائي، چه دفعل دپاره دوه عمله دي، يو عمل اصلي دفعل ده، هغه دا ده چه دا مرفوع دفعل به مقدم وي، په ډې منصوب دفعل بانډې، مثال لکه: ضرب زيدٌ عمرًا، نو په ډې

مثال کښې دِے ضرب عمل کړیدہ هم په زید کښې په دِے شان چه زید ته یے رفع ورکړیدہ، او هم په عمرو کښې یے عمل کړیدہ، په دِے شان چه عمرو ته یے نصب ورکړیدہ، او دا مرفوع مقدم دہ په منصوب بانِے، او دا عمل ځکه عملِ اصلی د فعل دہ، ځکه چه تقدیم د فاعل اصل دہ په مفعول بانِے۔

او بل عمل فرعی د فعل دہ، نو عمل فرعی د فعل دا دہ، چه دا منصوب به مقدم وی په مرفوع بانِے، مثال لکه ضرب عمراً زیدٌ، نو په دِے مثال کښې دا ضرب فعل دہ، او دے عمل کړیدہ هم په عمرو کښې، په دِے شان، چه عمرو ته یے نصب ورکړیدہ، او هم یے عمل کړیدہ په زید کښې، په دِے شان چه زید ته یے رفع ورکړیدہ، او دا عمل ځکه عمل فرعی او غیر اصلی دہ، ځکه چه تقدیم د مفعول په فاعل بانِے خلاف القیاس دہ، نو هرکله چه دَ فعل دپارہ دا دوہ[2] عمله موجود وہ، چه یو عمل اصلی وہ، او بل عمل فرعی وہ نو مونږ دا عمل اصلی فعل ته ورکړو، ځکه چه دا مشبه به دہ، او مشبه به اصل وی د مشبه نه، نو دا فعل هم اصل دہ، نو دا اصل چه عمل اصلی دہ مونږ ورکړو اصل ته چه فعل دہ، او دا عمل فرعی مونږ ورکړو، دِے حروف مشبه بالفعل ته ځکه چه دا حروف مشبه بالفعل مشبه دی، او مشبه فرع وی لپارہ د مشبه به، نو دا فرع چه عمل فرعی دہ مونږ فرع ته ورکړه چه دا حروف دی، نو له دِے وجه نه اسم د دے حروف مشبه بالفعل منصوب وی، او خبر دَ دوئ مرفوع وی۔

فانقیل اذا کان معانی هذہ الحروف کمعانی الافعال الخ: دا اعتراض معترض کړیدہ په تسمیه د دے حروف مذکورہ په حروف مشبه بالفعل بانِے، حاصل د اعتراض دا دہ، چه معترض وائی، چه هرکله د دے حروفو معنی ګانے په شان د معنی ګانو د افعالو شوے، نو باید چه دِے حروفو ته

حروف الافعال ووایی او مسمی کړے شی په حروف الافعال اسم سره، لکه څنګه چه د اسماءِ افعالو معنی ګانے په شان د معنی ګانو د افعالو دی، نو ورته اسماء الافعال وایی، نو بیا ین چه دے حروفو ته هم، حروف افعال ولې وے؟

قلنا فرق بینهما و هوان معانی الافعال لازمة لاسماءِ الافعال وضعاومعانی الافعال فی الحروف المشبهة بالفعل غیر لازمة وضعابل یفهم من فحوی

الکلام الخ: په دے عبارت نجبل سره شارح جواب ورکړیدے لدے مخکښ اعتراضِ مذکورته، حاصل د جواب دادے، چه فرق موجود دے په مابین دَ اسماءِ افعالو کښ اود حروف مشبه بالفعل کښ، په دے شان چه دامعنی ګانے دافعالو لازمه دی د اسماء الافعالو سره په اعتبار د وضع سره، په دے شان چه د اسماء الافعال وضع دی لپاره د معنی ګانو د افعالو، اود امعنی ګانے دَ افعالونه دی لازمے د حروف مشبه بالفعل سره په اعتبار د وضع سره یعنی دا حروف نه دی وضع لپاره د معنی ګانو د افعالو، بلکه دا معنی ګانے دافعالو له دے حروف مذکوره نه را فهمیږی په اعتبار د فحوی او د سیاق د کلام سره نو دا معنی ګانے دافعالو چه لازمه دی د اسماءِ افعالو سره، د الزوم په اعتبار د وضع سره دے، او دالزوم د دے معنی ګانو د افعالو د حروفو سره په اعتبار د فحوی او د سیاق د کلام سره دے، او په اعتبار د وضع دوا فعو سره نه دے، نو د دے حروفو قیاس نه دے صحیح په اسماءِ الافعالو باندے، ځکه دا قیاس مع الفارق دے

او په دے وضع د اسماءِ افعالو باندے لپاره د معانی د افعالو، معترض یو اعتراض کوی، حاصل د اعتراض دادے، چه معترض وایی، چه نه منم دا خبره چه، اسماءِ افعال وضع دی لپاره د معنی ګانو د افعالو، بلکه دا وضع دی لپاره د معنی ګانو د اسماء ؟

او جواب له دے اعتراض نه دادے، چه مراد څمونږ له وضع نه دوهمه وضع

ده، نه اوله وضع، او شک نشته چه دوئ په اعتبار د دویم وضع سره وضع دی
لپاره د معنیٰ گانو د افعالو، اگرچه په اعتبار د اول وضع سره وضع دی لپاره
د معنیٰ گانو د اسماؤ۔

فان قیل: وجود المشابهة ثابت بمطلق الفعل متعدیا کان او لازما فتخصیص
عمل الفعل المتعدی لهذه الحروف لیس بصحیح !- دا اعتراض اردیږی
په عمل ددے حروفو مشبه بالفعل، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض اعتراض
کوی، چه دا حروف مشبه بالفعل مشابهت لری د مطلق فعل سره برابره خبره
ده که هغه فعل لازمی وی، او که متعدی وی، نو چه د مطلق فعل سره ددے
حروفو مشابهت راغلو، نو دا حروف هم مشابه شول د فعل لازمی سره او هم
مشابه شول د فعل متعدی سره، او تا ددے حروفِ مذکوره ته عمل د فعلِ
متعدی ورکړیده، چه هغه عمل ده په دوه شیانو کښې، په دے شان چه دے
یو شی ته به یے رفع ورکړی وی، او بل شی ته به یے نصب ور کړے وی او
دے حروفو ته تا سو عمل د فعل لازم ورنکړو، چه هغه عمل کول دی په یو
معمول کښې، په دے شان چه دے معمول ته رفع ورکوی، نو دا تخصیص د
عمل د فعل متعدی تر دے حروفو پورے نه ده، مگر ترجیح بلا مرجح
ده او دا باطله ده؟

قلنا: الامر کذلک لکن هذه الحروف کما کانت مشابهتها لمطلق الفعل فی
الامور المذکورة الخ: په دے عبارت سره شارح جواب ورکړیده، له دے
مخکښې اعتراضِ مذکوره نه، او حاصل ددے جواب دا ده، چه مونږ ورته
وایو چه، دا حروفِ مذکوره اگرچه مشابه دی د مطلق فعل سره برابره
خبره ده، که هغه فعل لازمی وی، او که هغه فعل متعدی وی، نو لکه څنگه
چه ددے حروفو د مطلق فعل سره مشابهت ده، نو د غه شان ددے حروفو

مشابهت جدا د فعل متعدی سره هم شته په یو خاص امرکښې چه په هغه امرکښې دغه حروفو مشابهت د فعل لازمی سره نشته، هغه امر دا دۍ چه لکه څنګه چه فعل متعدی تقاضا د دوه شیانو کوی، چه هغه یو شے به وَرته فاعل وی او هغه بل شے به وَرته مفعول وی، نو همدا رنګ دا حروف هم د دوه شیانو تقاضا کوی چه هغه یو شے به وَرته اسم وی، او هغه بل شے به وَرته خبر وی۔

نو په هغو امورو کښې چه مخکښې ذکر شول، چه ثلاثیت او رباعیت او خماسیت دے او ادغام دے او لحوق د نون وقایه دے، او لحوق د کاف خطاب دے اګرچه دا حروف هم د فعل متعدی سره مشابه دی، او هم د فعل لازمی سره۔ نو دا مشابهت عامه دے، فعل متعدی او فعل لازمی دواړو ته وَرشامل دے خو لکن دا اقتضاء د دوه شیانو داسے امر دے چه دا حروف مشبه بالفعل په دے کښې د فعل متعدی سره مشابه دی، نو دا مشابهت خاص دے تر فعل متعدی پورے، نو له وجه د دے خاص مشابهت نه دے حروفو ته عمل د فعل متعدی وَرکړے شو، او وَرته عمل د فعل لازمی وَرنکړے شو، نو دا مشابهت خاصه مرجح دے لپاره د تخصیص د عمل د فعل متعدی، تر دے حروفو پورے، نو دا ترجیح بلامرجح نۀ دے، بلکه ترجیح مع المرجح دے۔

او له دے اعتراض منکوره نه یو بل جواب هم بعضو علماؤ وَرکړے دے، چه د هغه جواب حاصل دا دے، چه نه منو، چه تر دے حروفو پورے عمل د فعل متعدی خاص کړے شوے دے، بلکه لکه څنګه چه دے حروفو ته عمل د فعل متعدی وَرکړے شوے دے، نو دغه شان دے حروفو ته عمل د فعل لازمی هم وَرکړے شوے دے، ځکه چه عمل د فعل لازمی دا دے، چه یو معمول ته چه فاعل دے رفع وَرته وَرکوی، او عمل د فعل متعدی دا دے، چه دوه معمولونو کښې عمل کوی په دے شان، چه یو معمول ته رفع وَرکوی، چه هغه فاعل دے، او دویم معمول

ته نصب ورکوی، چه هغه ورته مفعول ده، نو چه کله دې حروفوته د اعمل فعل متعدی ورکړې شو، چه هغه عمل کوؤنکی دی په دوه معمولونو کښې، نو همدارنګ ورته عمل د فعل لازمی هم ورکړې شو، چه هغه عمل کوؤنکی دی په یو معمول کښې ځکه چه کله دا حروف مشبه بالفعل عمل وکړی په دوه معمولونو کښې، نو د دې دوه معمولونو په ضمن کښې یو معمول هم موجود ده، نو په هغه کښې به هم عمل کړې وی، ځکه چه د دوه په ضمن کښې یو موجود وی، نو تخصیص د عمل د فعل متعدی نۀ ده شوې، تر د ې حروف مشبه بالفعل پورې، بلکه دې حروفوته هم عمل دَ فعل متعدی ورکړې شوې ده، او هم ورته عمل د فعل لازمی ورکړې شوې ده۔

قوله ضد ماولا: ای النوع الرابع من الانواع المذکورة هذا النوع: زده کړه دا خبره، چه څلورم نوع له دې دیار لسو انواعونه، نوع د ماولا ده، نو په دې څلورم نوع کښې له دې دوه حرفونونه بیان کولې شی، چه اول حرف په دې دوه حرفونو کښې "ما" ده، او دویم حرف لا ده، نو په دې مخکښې شعر کښې چه ان باان کان الیٰ آخره ده ناظم دوه نوع بیان کړیدی چه اول نوع ثالثه ده، چه د انوع د حروف مشبه بالفعل ده، او دویم نوع رابعه ده چه د انوع د ماولا ده، نو له دې وجه نه چه په دې شعر کښې ناظم دوه نوع جمع کړیدی نو ځکه یې مخکښې له دې شعر نه عنوان د النوع نۀ ده ذکر کړې، لکه څنګه چه د دې نورو انواعو مخکښې د اعنوان ذکر شوی ده۔

واعلم انهما حرفان ایضا ومن خولهما المبتدأ والخبر الخ: غرض د شارح په دې عبارت کښې له اعلم نه نیولې تر ولکل منهما وجه عبارت پورې، بیان د امور خمسه ده، چه اول امر له دې امورو نه بیان د ذات د دې دوه حرفونو ده، چه یو ما ده او بل لا ده، او بیان د ذات د دې حرفونو شارح کړیده په دې عبارت کښې

سره چه "انهما حرفان ایضاً" یعنی ذات ددے دواړو حرفونو حرف ده، ځکه چه ذات د حروف مشبه بالفعل حرف وه، نو دا ما او لا هم په اعتبار د ذات سره حروف دی، نه اسماء دی او نه افعال دی۔

او دویم امر له دے امور خمسه نه بیان د مدخول ددے حرفونو دے، نو دا مدخول شارح بیان کړیده په دے عبارت نیل سره چه "ومدخولهما المبتدأ والخبر" یعنی مدخول ددے دوه حرفونو مبتداء او خبر ده، په دے شان چه دوئ داخلیږی په دوه شیانو باندے، چه یو شئ به مبتداء وی، او بل شئ به خبر وی!!

او دریم امر له دے امور خمسه نه بیان د عمل ددے ما او لا دے، نو بیان د عمل ددوئ شارح کړیده په دے عبارت نیل سره چه "وعملهما الرفع والنصب" یعنی عمل ددے حرفونو رفع ورکول دی اسم نیل ته، او نصب ورکول دی خبر نیل ته، او دا ما او لا په اعتبار د عمل سره ضد دی د پاره د حروف مشبه بالفعل، ځکه چه دا دواړه رفع ورکوی اسم نیل ته، او نصب ورکوی خبر نیل ته، او حروف مشبه بالفعل نصب ورکوی اسم نیل ته او رفع ورکوی خبر نیل ته، نو ناظم چه دا وئیلی دی په شعر کښ، چه "ضد ما او لا" مراد ور نه تضاد ده په عمل کښ، په دے شان چه دا حروف مشبه بالفعل په عمل کولو کښ مخالف دی د دے "ما او لا"۔

او څلورم امر له دے امور وخمسه نه بیان د عدد، ددے حروفو ده، نو دا بیان د عدد شارح کړیده، په دے عبارت نیل سره چه وعددهما اثنان یعنی عدد، ددے حروفو دا ده، چه دا دوه حروف دی، اول حرف "ما" ده او دویم "لا" ده!!

او پنځم امر له دے مذکوره امور وخمسه نه بیان د نمونو ددے حرفو

ده، نو شارح دده حروفو دپاره شلور نومونه ذکرکړي دي، اول نوم یې دا دې چه دوئ ته ماولا النافیتان وایي، او وجه دتسمیه یې ظاهره ده، ځکه چه ددې دواړو معنی نفي ده او وضع دي لپاره دنفي.

په دې مقام کښې معترض یو اعتراض کوي، چه په دې عبارت دشارح کښې چه واسماهما ما ولا النافیتان کښې دا ما او لا موصوف ده، او النافیتان ورته صفت ده او دموصوف او صفت ترمینځه مطابقت شرط ده په تعریف او تنکیر کښې، په دې شان چه موصوف معرفه وي، نو صفت به هم معرفه وي او که موصوف نکره وي، نو صفت به هم نکره وي، په دې عبارت دشارح کښې دا موصوف چه ما او لا دي نکره دي، او دا صفت چه النافیتان ده معرفه ده ځکه چه الف لام ورباندې داخل ده؟

او جواب له دې اعتراض نه دا ده، چه دا ما او لا هم معرفې دي ځکه چه دا ما علم ده لپاره دهغه حرف چه هغه په ترکیب کښې واقع وي، چه هغه: "ما زید قائماً" ده، او دا لا هم علم ده لپاره دهغه حرف چه کوم واقع ده په ترکیب کښې نو دا موصوف هم معرفه ده او دا صفت هم معرفه ده، نو مطابقت موجود ده په مابین دموصوف او دصفت کښې.

او دویم نوم لپاره ددې حروفو شارح ذکرکړي ده په ماولا المشبهتان بلیس سره، یعنې دې دواړو ته ماولا المشبهتان بلیس وایي، ځکه چه دوئ دواړه مشابه دي دلیس سره په دوه شیانو کښې، چه اول شے په دې دوه شیانو کښې نفي ده، یعنې لکه چه دا لیس چه څنګه راځي لپاره دنفي، نو دغه شان دا ما او لا هم راځي لپاره دنفي! او دویم شے دخول ده په جمله اسمیه باندې په دې شان چه لکه څنګه چه لیس داخلیږي په جمله اسمیه باندې، نو هم ارنګ دا ما او لا هم داخلیږي په جمله اسمیه باندې.

او دریم اسم او نوم شارح ددے دوارو دپاره حرفا النواسخ ذکرکړے دے په دے شان چه دے ماولا ته حرفا النواسخ وئیلی دی، وجه د تسمیه یے داده، چه دے حروفو ته ځکه حرفا النواسخ وایی، ځکه چه نواسخ جمع د ناسخ ده او ناسخ وایی، نسخ کونکی ته، او دا دوارو حروف هم هغه پخوانی اعراب چه دے په مدخول باندې موجود وه، نو ددوی په مدخول باندې چه مبتداء او خبر دی، عکس له دنحول ددے دوه حرفونو نه رافع وی، هم په مبتداء باندې، او هم په خبر باندې. او دا رفع دوارو ته عامل معنوی ورکړے وی، او چه کله دا ماولا داخل شی په دے مبتداء او خبر باندې، نو هغه پخوانی عمل نسخ کړی او هغه اعراب چه ورته عامل معنوی ورکړیده ختم کړی، بیا دوی په دے مبتداء او خبر کښې عمل وکړی، او ورته اعراب وکړی، په دے شان، چه دوی مبتداء ته رافع ورکړی، نو هغه اسم شی دپاره د ماولا، او خبر ته نصب ورکړی او هغه خبر شی دپاره ددے ماولا.

او څلورم اسم شارح دپاره ددے حروفو، حرفا الدواخل ذکر کړیده په دے شان چه دے دوارو حروفو ته حرفا الدواخل وایی، او وجه د تسمیه یے داده، چه دواخل جمعه دداخل ده، او دداخل معنی ظاهره ده، او دے حروفو ته ځکه دواخل وایی، چه دوی هم داخلیږی په مبتداء او خبر باندې!

في النفي والدخول على المبتداء والخبر الخ: په دے عبارت کښې غرض د شارح جواب ورکول دی دیو اعتراض نه، حاصل د اعتراض داده، چه معترض وایی، چه مشابهت د ماولا دلیس سره باطل ده، ځکه چه لیس فعل ده او دا ماولا حروف دی، او افعال نه دی، نو دوی نشی مشابه کیدے د لیس سره، او حاصل د جواب داده، چه دا مشابهت د ماولا دلیس سره په نفی او دخول کښې دی په مبتداء او خبر باندې، یعنی په جمله اسمیه باندې لکه

ځکه چه لیس په مبتداء او خبر باندې داخلیږي، نو هم ارنګ ما او لا هم په جمله اسمیه باندې داخلیږي، او شک نشته په وجود او تحقق دې مشابهت کښې، نو دا اعتراض دفع شو.

او په دې والله خول علی المبتداء باندې معترض اعتراض کوي حاصل داعتراض دا دی، چه معترض وائي، چه دا کلام خو تقاضا کوي، چه دا اسم دې ما او لا به ممکښې له دخول د دوئ نه مبتداء وي، او دا باطل دی ځکه چه په بعضو موادو کښې، دا اسم د ما او لا نکره وي، لکه "ما احد خیر منک" نو په دې مثال کښې دا احد اسم دی پاره د ما او حال دا دی، چه دا نکره دی، او نکره مبتداء نشي واقع کیدې، ځکه چه شرط په مبتداء کښې تعریف دی نو دا احد ممکښې له دخول د ما نه مبتداء نه دی.

او جواب له دې اعتراض نه دا دی، چه مونږ ورته وایو، چه مراد د شارح له مبتداء نه، دا نه دی، چه دا شے، چه ما او لا ور باندې داخلیږي، ممکښې له دخول د دوئ نه به مبتداء وي، بلکه مراد د شارح دا دی، چه دا شے، چه ور باندې دا ما او لا داخلیږي، ور وسته له دخول د دوئ نه به پکښې صلاحیت د دې وي چه مبتداء واقع شي، نو په دې ما احد خیر منک کښې هم دا احد لفظ داسې دی چه په دې کښې دا صلاحیت شته ور وسته د دخول د ما نه، چه مبتداء واقع شي، ځکه چه ور وسته له دخول د ما نه، په دې احد کښې په واسطې د ما سره پکښې تخصیص راځي په عموم سره، ځکه چه دا احد نکره ده او نکره چه په سیاق د نفي کښې واقع شي، نو پاره د عموم وي، او به دې عموم سره هم په نکره تخصیص راځي، په دې شان چه دا عموم هم یوه نوع د تعین ده، نو هر کله چه دا احد ور وسته له تخصیص نه ورته نکره مخصصه جوړه شوه، نو بیا دا مبتداء واقع کیدې شي، اګرچه ممکښې

له دخول د دې ما او لا نه پکښې د اصلاحیت د ابتدائیت نشته، نو هر کله چه د ما او لا مشابه شول د لیس سره، نو دوئ ته عمل اصلي د لیس ورکړې شو چه هغه تقدیم د مرفوع ده په منصوب بانډې

تنبیه: نو د دې کړه د اخبره، چه د ما مشابهت د لیس سره زیات دے نو مشابهت د لا نه، په دې شان چه د ما چه مطلق ذکرشي د قرینې نه نو بیا لپاره د نفي حالي وي، لکه څنګه چه لیس مطلق ذکرشي د قرینې نه نو بیا لپاره د نفي حالي وي، په خلاف د لا نه، ځکه چه د لا چه مطلق ذکرشي د قرینې نه نو لپاره د مطلق نفي وي، برابره خبره ده که حالي وي او که استقبالي وي او که نفي د زمانه ماضي وي، نو معلومه شوه، چه د ما مشابهت زیات دے، د لیس سره، په دې شان چه د ما د لیس سره مشابه ده نفي حالي کښې او د لا ورسره نه ده مشابه په نفي حالي کښې، بلکه ورسره په وجود د مطلق نفي کښې مشابه ده، نو له دې وجه نه چه د ما مشابهت زیات ده د لیس سره، نو ما داخلیږي هم په معرفه بانډې، او هم په نکره بانډې، او عمل کوي هم په معرفه کښې، او هم په نکره کښې. نو د اسم او خبر د ما کله دواړه معرفه وي مثال لکه "ما زید هو الظریف" نو د اسم د ما زید ده، او دا معرفه ده په علمیت سره، او د اخبر د ما الظریف ده، او دا معرفه ده په الف لام سره. او کله د اسم او خبر د ما دواړه نکره وي، مثال لکه ما رجل افضل منك، نو اسم لپاره د ما رجل ده او دا هم نکره ده، او خبر د ما افضل ده او دا هم نکره ده. او کله د اسم د ما معرفه وي، او خبر د ما نکره وي، مثال لکه ما زید قائما، نو اسم لپاره د ما زید ده، او دا معرفه ده په علمیت سره، او خبر د ما قائما ده، او دا نکره ده، ځکه چه پکښې الف لام د تعریف نه ده موجود. او لا داخلیږي په نکره بانډې فقط، مثال لکه لا رجل افضل

منك" نو اسم د دے لا، "رجلٌ" دہ او نکرہ دہ، او خبر د دے "افضلُ" دہ، او دا هم نکرہ دہ، او د اما ځکہ پہ معرفہ او نکرہ دواړو باندې داخلیږی، چہ د دې مشابهت د لیس سرہ زیات دہ، نو لکہ څنګہ چہ لیس پہ معرفہ او نکرہ دواړو باندې داخلیږی، نو هم د ارنګ ما هم پہ معرفہ او نکرہ دواړو باندې داخلیږی، او د لا ځکہ صرف پہ نکرہ باندې داخلیږی، ځکہ چہ د دې د مشابهت د لیس سرہ کم دہ۔

فان قیل: فعلیٰ هذا یلزم التسویة بین الفرع والاصل الخ: زدہ کړہ د ا خبرہ، چہ د ما او لا مشبہ دی، او د الیس چہ فعل ناقص دہ مشبہ بہ دہ، او د دے لیس د وہ عملہ دی، یو عمل اصلی د لیس دہ، هغہ دا دہ، چہ د امرفوع د دے لیس بہ مقدم وی پہ منصوب د دے لیس باندې، چہ د امرفوع اسم دہ پارہ د لیس او د امنصوب خبر د ہ پارہ د لیس۔ او بل عمل فرعی د لیس دہ، عمل فرعی د لیس دا دہ، چہ د امنصوب د دے لیس بہ مقدم وی پہ مرفوع د دے لیس باندې، چہ د امنصوب خبر د لیس دہ، او د امرفوع اسم د لیس دہ او هر کلہ چہ د ما او لا مشابہ شول د لیس سرہ پہ نفی کښې او پہ دخول کښې پہ مبتداء او خبر باندې، نو د دے ما او لا تہ عمل اصلی ورکړے شو د لیس پہ دے شان چہ د دے ما او لا اسم بہ مرفوع وی، او خبر بہ یے منصوب وی، پہ شان د اسم او خبر د لیس۔

نو پہ دے عمل اصلی ورکولو باندې ما او لا تہ د مخکښې اعتراض وارد یږی او حاصل د اعتراض دا دہ، چہ معترض وائی چہ د ما او لا فرع دی پارہ د لیس" ځکہ چہ لیس مشبہ بہ دہ، او د ما او لا مشبہ دی، او مشبہ فرع د مشبہ بہ وی، نو هر کلہ چہ تاسو ما او لا تہ عمل اصلی د لیس ورکړو، نو لازم شو برابروالے پہ مابین د اصل کښې چہ "لیسٌ" دہ، او پہ مابین د فرع کښې

چه لا ده او مأده، او مساوات په مابین د اصل او د فرع کښې باطل ده، ځکه چه مرتبه د فرع لا ندې وی د مرتبې د اصل نه؟

نو له دې اعتراض نه شارح رح جواب ورکړیدی:

قلنا: الممنوع مزية الفرع على الاصل الخ: دا اول جواب ده له دې مخکښې اعتراض نه، حاصل د دې جواب دا ده، چه اګرچه په دې ما ولا کښې مساوات د فرع راغلې ده د اصل سره، خو لکن دا ممنوع نه ده، بلکه زیادت د فرع په اصل بانږ ممنوع او باطل ده، نو هر کله چه مونږ دې ما ولا ته عملِ اصلی ورکړو، نو اګرچه لازم شو مساوات په مابین د اصل کښې چه لیس ده او په مابین د فرع کښې چه ما ولا دی، خو لکن دا مساوات په مابین د اصل او د فرع کښې جائز ده، او باطل چه ده، هغه مزیت او زیادت د فرع ده په اصل بانږ. او په دې مقام کښې مزیت د فرع په اصل بانږ نه ده راغلې نو چه کوم شے ممنوع او باطل ده، هغه لازم نه ده او چه کوم شے لازم ده هغه باطل او ممنوع نه ده.

خو لکن له دې جواب نه یو توهم لازمیږی، او هغه دا ده چه دا مساوات د فرع چه د اصل سره هر کله جائز شو، نو دا به مستحسن هم وی، نو دا توهم شارح دفع کړو په دې عبارت سره چه لکنه غیر مستحسن"، حاصل د دې دفع دا ده، چه دا مساوات د فرع د اصل سره اګرچه جائز ده، خو لکن مستحسن نه ده، بلکه غیر مستحسن ده.

او لئلا یلزم الالتباس بالحروف المشبهة بالفعل لو فرض لهما العمل الفرعی الخ دا عبارت د شارح دویم جواب ده د هغه مخکښې اعتراض نه، حاصل د دې جواب دا ده، چه دا مساوات په مابین د فرع او د اصل کښې اګرچه ممنوع ده خو لکن په دې ما ولا کښې دا مساوات غوره کړې شو، له وجه د یو ضرورت

چه هغه ضرورت دا ده، چه کچرته مونږ دے ماولاته عمل فرعي ورکړو په دے شان چه اسم د دوئ منصوب شي، او خبر د دوئ مرفوع شي، نو لازم به شي التباس دے ماولا د حروف مشبه بالفعل سره، نو لپاره د دفع د دے التباس مونږ دا مساوات په مابین د اصل او د فرع کښ اختیار کړو۔

د اول جواب او دویم جواب په مابین کښ فرق دا ده، چه دا اول جواب منعي ده، ځکه چه په هغه کښ منع شوی ده د بطلان او د ممنوعیت د مساوات په مابین د اصل کښ، او دا دویم جواب تسلیمي ده ځکه چه په دے جواب کښے تسلیم شوی ده د دے خبرے، چه مساوات په مابین د اصل او د فرع کښے باطل ده، خو لکن په دے ماولا کښ اختیار کړے شوی ده لپاره د دفع د التباس۔

او په دے تامل کښ اشاره ده اعتراض ته او جواب ته له دے اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا ده، چه معترض اعتراض کوی په دویم جواب باندے چه نه منم دا خبره چه کچرته دے ماولاته عمل فرعي ورکړے شي، نو لازم به شي مشابهت په مابین د ماولا کښ او په مابین د حروف مشبه بالفعل کښ، ځکه چه د دوئ په مابین کښ فرق ثابت ده په اعتبار د صورت سره په دے شان، چه صورت د ماولا غیر ده د صورت د حروف مشبه بالفعل نه، نو که چرته دے ماولاته عمل فرعي ورکړے شي، نو نه لازمیږی التباس په مابین د ماولا کښ او د حروف مشبه بالفعل کښ، ځکه چه دا التباس دفع کیږی په صورت سره؟

او حاصل د جواب دا ده، چه مونږ ورته وایو، چه له دے ماولا نه وروسته ان مقدر کولے شي، چه دالله حروف مشبه بالفعل نه ده، نو کچرته دے ماولاته عمل فرعي ورکړے شي، نو متوهم به توهم کوی، چه ایا دا عمل فرعي د دے ان مقدره ده، او که لپاره د ماولا ده، او هر کله چه مونږ دے

ما او لا ته عمل اصلی ورکړو، نو بیا متوهم دا توهم نه کوی، ځکه چه عملِ حروف مشبه بالفعل فرعی ده او د ما او لا عمل اصلی ده په دے وجه کښې. نو لپاره د دفع د دے توهم، مونږ دے ما او لا ته، عملِ اصلی ورکوو، او عمل فرعی ورته نه ورکوو.

ثمّ اعلم انّ ما و لا یعملان عند اهل الحجاز بقیاسهما علی کلمة لیس وعلی لغتهم ورد القرآن وهو قوله تعالی: ما هذا بشرا الخ: غرض د شارح په دے عبارت خیل کښې، بیان د اختلاف ده په مابین د اهل الحجاز کښې او په مابین د بنو تمیمو کښې، په دے شان چه اهل الحجاز وائی، چه د ما او لا عمل کوی چه اسم ته رفع ورکوی او خبر ته نصب ورکوی، او په دے لغت د حجازیانو باندے قرآن نازل شوے ده، چه هغه د اقول د الله ده چه "ما هذا بشرا" نو په دے مثال کښې د هذا لفظ اسم ده لپاره د ما او د بشراً خبر ده لپاره د ما، او مرفوع ده، او هذا مرفوع ده محلا او د بشرا چه خبر ده منصوب ده لفظا نو که چرته دے ما او لا عمل نه کولے، نو بیا به چه "ما هذا بشر" ویلی شوی وے په دے شان چه د هذا به هم مرفوع وه بنا بر ابتدائیت، او د بشر به هم مرفوع وه بنا بر خبریت. او د حجازیان د ما او لا قیاسوی په لیس باندے په عمل کولو کښې.

او بنو تمیم دے ما او لا ته عمل نه ورکوی، او دلیل لپاره د بنو تمیمو دا ده، چه هغوئ وائی، چه شرط لپاره د عمل کولو اختصاص د عامل ده، تر هغې نوع پورے، چه دا عامل د کومے نوع په افرادو کښې عمل کوی، په دے شان چه که دا عامل عمل کوی په افرادو د اسم کښې، نو دا به داخلیږی په اسم باندے فقط، او په فعل باندے به نه داخلیږی، لکه حروفِ جاره، چه دا عمل کوی په افرادو د اسم کښې، نو دوئ صرف په اسم باندے داخلیږیٔ او په

فعل بانڼ نۀ داخلیږی - اوکۀ دِے عامل عمل کولو په افرادو د فعل کښې نو بیابه داعامل صرف په فعل بانڼ داخلیږی لکه حروف نواصب اوحروف جوازم په دِے شان چه دا حروف عمل کوی په افرادو د فعل کښې نو دا به صرف په فعل بانڼ داخلیږی، او دا ما اولا مختص نۀ دی، ترا اسم پورے او نۀ تر فعل پورے بلکه په اسم بانڼ هم داخلیږی، او په فعل بانڼ هم داخلیږی نو شرط د عمل کولو اختصاص ده تر هغې نوع پورے، چه دکومے نوع په افرادو کښې دا عامل عمل کوی، او دا شرط نۀ ده موجود په دِے ما اولا کښې نو دوئ به عمل هم نشی کولے۔

او دلیل پیاره د حجازینو دا ده چه دا حروف چه ما اولا دی، مشابه دی دلیس سره او لیس عمل کوی، نو دا ما اولا هم عاملین دی عمل کوی او غوره مذهب د حجازینو ده۔

او جواب له دلیل د بنو تمیمو نه دا ده چه مونږ وړاته وایو چه په دِے ما او لاکښې اگرچه حقیقة اختصاص نشته، خو لکن حکما اختصاص پکښې شته، په دِے شان چه د دِے ما اولا اصل چه لیس ده ځکه چه لیس په اسماؤ بانڼ داخلیږی فقط، او په افعالو بانڼ نۀ داخلیږی۔

او هم ارنګ بنو تمیمو استدلال قائم کړیده په دِے شعر د شاعر بانڼ، چه:

شعر

و مهفهف کالغصن قلت له انتسب !

فاجاب ماقتل المحب حرام !

او طریقه د استدلال دا ده، چه په دے شعر کښې دا ما را غلے ده په ماقتل المحب حرام کښې او عمل یے نۀ ده کړے، ځکه چه قتل لفظ هم مرفوع ده او حرام لفظ هم مرفوع ده، او دا رفع د قتل بنا بر ابتداء ئیت ده او دا رفع د

مهفهف د ترجمه

حرام بنا بر خبریت دہ، نو ځکه چرته دِے ماعمل کوُلے نو بایں چه داقتل مرفوع وے بناپه دِے بانِن چه دابه اسم وه دما او دا حرام بایں منصوب وے بناپه دِے بانِن چه دابه خبروه لپاره دما، نو په دِے شعر کښں هرکله چه ماعمل نۂ دہ کړے، نو معلومه شوه چه دما اولا د حروف عامله نه نۂ دی، ځکه چرته دا دواړه د حروف عامله نه وے، نو بایں چه دِے دواړو عمل کړے وے، او حال دا دہ چه ما منکوړه دہ په دِے مخکښں شعر کښں او عمل یے نۂ دہ کړے، نو معلومیږی چه دوئ دواړه غیر عامل دی.

او جواب له دِے دلیل د بنو تمیمو نه دا دہ، چه مونږ وایو، چه داشعر چه د کوم شاعر دہ، هغه شاعر په خپله د بنو تمیمو نه دہ، نو د دِے قول په استدلال کښں پیش کول نۂ دی صحیح، ځکه چه د خصم قول په دلیل کښں نشی پیش کولے ځکه چه دا مصادره علی المطلوب دہ، او استدلال به په دِے شعر په هغه وقت صحیح وه، چه چرته داشعر د داسے شاعر وے چه هغه د بنو تمیمو نه نۂ وے بلکه د نورو عربو نه وے!

''''''((النوع الخامس))''''''

''''''((شعر))''''''

اَنْ و لَنْ پس کے اذًا — این چار حرف معتبر!
نصب مستقبل کنند — این جملہ دائم اقتضاء!

معنی او ترجمه د دے شعر دا دہ، چه ناظم وائی چه داخلو حرفونه چه اول اَن دہ، په فتحه د همزه سره او په سکون د نون سره، او دویم لَن دہ او دریم کے دہ او څلورم اذًا دہ، نصب ورکوی فعل مضارع ته، په طریقے د دوام سره، یعنی همیشه د پاره د دوئ دا اقتضا وی، چه نصب ورکوی فعل مضارع ته''''''

اعلم ان الاصل فی هذه الحروف الاربعة کلمة ان اتفاقا لمشابهتها بان التی هی من الحروف المشبهة بالفعل فی فتحة الهمزة الخ:

غرض د شارح بیان د اتفاق د نحاتو دہ پہ ان کښې پہ دې شان چہ دا ان چہ نصب ورکوی د ټولو نحاتو اتفاق دہ پہ دې خبرہ باندې، چہ دا ان چہ اول حرف دہ له حروف ناصبہ نہ نصب ورکوی فعل مضارع تہ، نو دا ان اصل دہ پہ دې خلورو حروفو کښې پہ عمل کولو کښې۔ او وجہ پہ پیارہ د عمل د دې ان دا دہ چہ دا ان پہ فتحہ د همزہ سرہ او پہ سکون د نون سرہ مشابہ دہ دا ان سرہ پہ فتحہ د همزہ سرہ او پہ تشدید د نون سرہ، او دا ان د حروف مشبہ بالفعل نہ دہ چہ نصب ورکوی اسم تہ، نو دا ان چہ حرف دہ د حروف نواصبو نہ نصب ورکوی فعل تہ۔

پہ دې مقام کښې معترض اعتراض کوی، حاصل د اعتراض دا دہ چہ معترض وائی، چہ دا ان چہ د حروف ناصبہ نہ دہ دا عمل کوی له وجہ د مشابهت د ان نہ د حروف مشبہ بالفعل سرہ، او دا ان چہ حرف دہ د حروف مشبہ بالفعل نہ عمل کوی له وجہ د مشابهت د فعل نہ، نو دا ان چہ د حروف مشبہ بالفعل نہ دہ مستعیر دہ پہ عمل خپل کښې د فعل نہ، نو چہ ان چہ د حروف ناصبہ نہ دہ عمل وکړی له وجہ د مشابهت دا ان نہ چہ هغہ حرف دہ د حروف مشبہ بالفعل نہ، نو لازم میږی استعارہ د مستعیر نہ او استعارہ د مستعیر نہ باطلہ دہ؟

او جواب له دې اعتراض نہ دا دہ، چہ استعارہ د مستعیر نہ پہ هغہ وقت کښې باطلہ دہ چہ دا مستعیر پہ شان د معیر باندې نہ وی، او کلہ چہ دا مستعیر کالمعیر وی، نو بیا استعارہ له دا سې مستعیر نہ جائز دہ او دا ان چہ حرف دہ د حروف مشبہ بالفعل نہ، هر کلہ چہ مشابہ شو، د

فعل سره لفظاً ومعنیً، نو دغه مشابهت د فعل سره تام دے، نو دا ان په خپله په شان د فعل دے، نو هر کله چه دا په شان د فعل دے نو دا فعل په خپله معیر دے ځکه چه دا فعل عمل ورکوی غیر ته، او غیر دغه له وجه نه عمل کوی نو دا ان هم دا سے دے لکه معیر، نو چه هر کله دا ان چه د حروف مشبه بالفعل نه دے کالمعیر دے، نو له دغه نه استعاره د عمل جائز دے، چه دا ان چه د حروف ناصبه نه دے عمل وکړی له وجه د مشابهت دد ے ان نه چه هغه د حروف مشبه بالفعل نه دے۔

وان من الحروف المشبهة بالفعل ینصب الاسم فهذا اینصب الفعل

حطاللدرجة الفرع عن درجة الاصل الخ: په دې عبارت کښې غرض د شارح جواب ورکول دی دیو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دے چه معترض وائی، چه هر کله دا ان ناصبه مشابه شو د هغه أنّ سره چه هغه د حروف مشبه بالفعل نه دے، نو هغه عمل کوی په اسم کښې، نو باید چه دا ان ناصبه هم عمل وکړی په اسم کښې، او حال دا دے چه دا عمل کوی په فعل کښې په دې شان چه فعل مضارع ته نصب ورکوی؟

او حاصل د جواب دا دے، چه دا ان ناصبه ځکه فعل کښې عمل کوی او په اسم کښې عمل نکوی، د پاره ددے چه درجه د فرع لاندې او ښکته شی د درجه د اصل نه ځکه چه دا حرف دان چه د حروف مشبه بالفعل نه دے، مشبه به دے نو اصل دے، او دا ان ناصبه مشبه دے، نو فرع دے، نو که چرته دا ناصبه هم عمل وکړی په اسم کښې، نو لازم به شی مساوات په مابین د اصل او د فرع کښې او دا باطل دے، نو له دې وجه نه دا ان ناصبه عمل کوی په فعل کښې، او دا ان چه د حروف مشبه بالفعل نه دے عمل کوی په اسم کښې۔

تشریح: نا دهکړه دا خبره چه دا ان راځی د پاره د مستقبل اگرچه په

ماضي بانې داخل شي، يعنې داان چه په کوم فعل بانې داخل شي، نوله هغه نه په داستقبال معنی مراده وي، برابره خبره ده که دا فعل مضارع وي مثال لکه اسلمت ان ادخل الجنة، نو مدخول ددے ان ناصبة "ادخل" ده او دا فعلِ مضارع ده ځکه چه دا صيغه د واحد متکلم ده د فعل مضارع معلوم نه، او د ان ناصبه ورباندې داخل ده نو دے ادخل ته دِے ان نصب ورکړيده او دِے ان ناصبه ته "ان" مصدريه هم وايي، او که مدخول دِے فعل ماضي وي مثال لکه اسلمت ان دخلت الجنة، نو په دِے مثال کښې مدخول دَدِے ان ناصبه دخلت ده، او دا صيغه ده د واحد متکلم فعل ماضي.

اولن چه دويم حرف ده له دِے حروف نواصبو نه، راځي لپاره د تاکيد د نفي، هغه نفي چه هغه به په فعل مستقبل کښې وي، مثال لکه دا قول د الله تعالیٰ چه "لن ترانی" نو په دِے آيت کښې دا ترانی فعل مضارع ده او د مخاطب صيغه ده، او په ديکښې خطاب ده موسی عليه السلام ته، او دا لن چه ورباندې ورداخل ده لپاره د نفي ددے فعل مستقبل ده، او "لن" په اصل کښې "لا أن" وه، نو دا همزه ورنه حذف شوه لپاره د تخفيف نو ورنه لان جوړ شو، او په دِے لان کښې اجتماع د ساکنينو راغلے ده په مابين د الف او نون کښې نو دا الف ورنه حذف شوله وجه د التقاء د ساکنينو نه، نو ورنه "لن" جوړ شو.!!

او "کے" چه دريم حرف ده له دِے حروف ناصبه نه را ځي لپاره د سببيت، يعنې دا کے دلالت کوي په دے خبره بانې چه ماقبل ئې سبب ده لپاره د مابعد مثال لکه اسلمت کی ادخل الجنة، نو دا ماقبل چه اسلام ده سبب دے لپاره د ما بعد چه دخول د جنت ده، ځکه چه دخول جنت ته په سبب د اسلام سره کیدے شي:- او اذاً: چه دا څلورم حرف ده له دِے حروفِ ناصبه نه، راځي لپاره د جواب او د جزاء، يعنې دا مدخول ددے اذاً به جواب واقع شوے وي لپاره

دماقبل مثال لکه: اذا تدخل الجنة، چه دا ووئیل شي په جواب د هغه کس کښې چه هغه ووایي، چه ما اسلام را اوړو، یعني اسلمتُ ووایي، او دا جواب دې اذًا به نۀ وي مګر فعلِ مستقبل، او نصب به وړکوي، فعلِ مستقبل ته!!

واما الثلثة الاخیرة ففیها خلاف فذهب بعضهم الخ: زده کړه د اخیره چه په اول حرف کښې د حروف ناصبه نه چه اَن ده اتفاق ده په مابین د نحاتو کښې په دې شان چه دا ان عمل کوي په فعل کښې په دې شان چه فعل مضارع ته نصب وړکوي. او هر چه دا دې نور حروف ناصبه دي، چه اول لن ده او دویم کی ده او دریم اذًا۔ په دیکښې اختلاف واقع شوېده په مابین د نحاتو کښې په دې شان چه په دوئ کښې دوه مذهبه دي اول مذهب دا ده چه دا حروف ثلثه هم عمل کوي او فعل مضارع ته نصب ورکوي لکه څنګه چه ان عمل د نصب کوي په فعل مضارع کښې. او دلیل د دوئ د پاره دا دې، چه دا حروف ثلثه مشابه دي دا ان سره په استقبالیت کښې په دې شان چه لکه څنګه چه په فعل مضارع باندې اَن داخل شي نو بیا له دې مضارع نه استقبالي معنی مراد وي. او دغه شان دا ان مصدریه چه په ماضي باندې داخل شي، نو هم ور نه استقبالي معنی مراده وي. نو دغه شان دا حروف ثلثه هم چه په فعل باندې داخل شي، نو د هغه فعل نه د استقبال معنی مراده وي برابره ده که هغه فعل مضارع وي او که ماضي وي. نو هر کله چه دا حروف ثلثه مشابه شوه په استقبالیت کښې دا ان سره، نو دوئ حمل دي په عمل کولو کښې په اَن باندې نو لکه څنګه چه اَن په خپله عمل د نصب کوي په فعل مضارع کښې، نو دغه شان دا حروف هم عمل د نصب کوي په مضارع کښې په خپله۔ او دویم مذهب دا ده چه دا حروف ثلاثه عمل نکوي په خپله په فعل مضارع کښې، بلکه چه کله د امضارع ور وسته له دې نه راغلې وي، او دا حروف ور باندې ور داخل شوې وي نو دا مضارع به منصوبه وي په تقدیر د اَن سره په دې شان چه له دې حروفو نه به ور وسته اَن مقدر وي او هغه به نصب ور کوي دې فعلِ مضارع ته۔

فثمرة الخلاف تظهر فی قولنا لن یضرب فعلی المذهب الاول المضارع منصوبة بکلمة لن و علی الثانی بتقدیر ان الخ: غرض د شارح په دې عبارت نقل کښې جواب ورکول دي، د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دے، چه معترض وائي چه هرکله په دې حروف ثلاثه کښې اختلاف واقع شو دوه مذهبونو ته منتج نو بیا ثمره او فائده د اختلاف څه شے ده ځکه چه دا فعلِ مضارع چه واقع شي ور وسته له دې حروفو نه نو منصوبه به وي لکه څنګه

په واقع شي ورلاوسته دان نه نو منصوبه به وي، نو دا اعتراض: معترض په طريقه د استفسار سره ده. او حاصل د جواب دا دے، چه ثمره د اختلاف ظاهريږي په دے قول زمونږ کښے چه لن يضرب" نو دا يضرب چه فعل مضارع دے او واقع دے ورلاوسته د لن نه منصوب دے نو بناء په مذهب اول بانئ دے کلمه د لن دا نصب ورته ورکړيده او ورلاوسته له دے لن نه څه حرف نه دے مقدر چه هغه ورته نصب ورکړی. او بناء په مذهب ثانی بانئ دے لن کلمه ورته نصب نه دے ورکړے بلکه نصب ورته ان ورکړيده چه هغه ورسته له دے لن' مقدر ده نو تقدير د لن يضرب بناء په دے مذهب ثانی بانئ "لن ان يضرب" دے.

فذوات هذه الحروف حروف لا اسماء ولا افعال وعددها الخ: غرض د شارح په دے عبارت کښې سره بيان د امور خمسه دے اول امر له دے امورو نه بيان د ذواتو د دے حروفو دے چه د دوئ ذوات څه شے دے، نو بيان د ذواتو د دے حروفو شارح کړيده په دے عبارت کښې سره چه "فذوات هذه الحروف حروف لا اسماء ولا افعال" يعنی ذوات د دے حروفو حروف دی او اسماء هم نه دی او افعال هم نه دی، نو د دے حروفو ذات حرف دے او له قبيلے د حرف نه دی او له قبيلے د اسم او فعل نه نه دی.

او دويم امر له دے امورو خمسه نه بيان د عدد او شمار د دے حروفو دے، نو بيان د عدد او شمار د دے حروفو شارح کړيده په دے عبارت کښې سره چه "وعددها اربعة" يعنی عدد او شمار د دے حروفو دا دے چه دا څلور حروف دی. اول ان دے او دويم لن دے او دريم "کی" دے او څلورم اذا دے.

او دريم امر له دے امورو خمسه نه عمل د دے حروفو دے، نو عمل د دے حروفو شارح بيان کړيده په دے عبارت کښې سره چه "وعملها النصب" يعنی عمل د دے حروفو نصب دے په دے شان چه دا حروف په مدخول ته نصب ورکوی. خو لکن په دے کښې اتفاق دے چه دا يو ناصب دے فعل مضارع لره او په دے ورلاوسته د يو حرفونو کښې اختلاف دے په دے شان چه اول مذهب والا وائی چه دا حروف ثلاثه په څپله نصب ورکوی، او دويم مذهب دا دے چه دا حروف په څپله نصب نه ورکوی بلکه له دے حرفونو ورلاوسته چه دا مضارع منصوب وی نو دا ورته ان ورکړے وی چه هغه مقدر وی ورلاوسته له دے حروف ثلاثه نه.

او څلورم امر له دے امورو خمسه نه محل د نصب د فعل مضارع دے او دا امر شارح بيان کړيده په دے عبارت سره چه "ومحل نصبها المضارع" نو زده کړه دا خبره چه يو مدخول د دے حروفو دے او يو محل د نصب د دے حروفو دے. نو دا چه نول د دے حرفو

مطلق فعل ده یعنی دا حروف داخلیږی په مطلق فعل بانې برابره خبره ده که ماضي وي او که مضارع وي، او محل د نصب د دے حروفو فعل مضارع ده فقط په دے شان چه دا حروف فعل مضارع ته نصب ورکوي او فعل ماضي ته نصب نه ورکوي، نو دا محل د نصب د دے حروفو اخص مطلق ده او مدخول د دے حروفو اعم مطلق ده او په مابین د محل د نصب د دے حروفو کښې او د مدخول د دے حروفو کښې نسبت د عموم خصوص مطلق ده، ماده اجتماعي فعل مضارع ده په دے شان چه دا مدخول هم ده لپاره د دے حروفو او محل د نصب هم ده لپاره د دے حروفو۔ او ماده افتراق فعل ماضي ده په دے شان چه فعل ماضي مدخول ده لپاره د دے حروفو او محل د نصب نه ده د دے حروفو، په دے شان چه ماضي مبني ده نو دا حروف ورته نصب نشي ورکولے۔

او پنځم امر له دے امورو خمسه نه اسماء او نومونه د دے حروفو دي، نو شارح دا بیان کړی دی په دے عبارت خپل سره "واسمائها حروف النواصب وحروف المعانی وحروف المصدر" نو شارح د دے حروفو د پاره درے نومونه ذکر کړی دي اول نوم له دے نومونو نه دا ده چه دے حروفو ته حروف النواصب وائي، او وجه د تسمیه ظاهره ده ځکه چه نواصب جمع د ناصب ده او ناصب معنی ده نصب ورکونکے او په دے حروفو کښې هم هر واحد نصب ورکوي فعل مضارع ته نو دوئ ته نواصب ویل صحیح دي۔

او دویم نوم دا ده چه دوئ ته حروف المعانی وائي، او وجه د تسمیه د دے حروفو په دے اسم سره هم ظاهره ده په دے شان چه دا حروف هم معنی کانے لري چه د ان معنی ده مصدریة په دے شان چه دا ان په کوم فعل بانې داخل شي نو د هغه فعل نه مصدر جوړوي او د لن معنی دا ده چه دا راځي لپاره د تاکید د نفي او د کے معنی ده سببیت ځکه چه دا کے دلالت کوي په دے خبره بانې چه ماقبل ئما سبب ده د مابعد او دا مابعد ورته مسبب ده، او د اذا معنی دا ده چه دا راځي لپاره د جواب په دے شان چه مدخول د دے اذا جواب وي لپاره د شئ اخر۔

او دریم نوم شارح د دے حروفو د پاره دا ذکر کړے چه دے حروفو ته حروف المصدر وائي، ځکه چه اصل په دے ټولو حروفو کښې ان ده او دا ان راځي لپاره د مصدریت په دے شان چه دا ان خپل مدخول ګرځوي په تاویل د مصدر سره، نو دا ان حرف مصدر ده او دا باقي حروف اګرچه مدخول په تاویل د مصدر سره نه ګرځوي خو لکن دے ټولو ته چه حروف المصدر وائي دا تسمیه د کل ده په اسم د جزء سره په دے شان چه دا ټول کل

دی اودا ان یو جزء دہ او حرف المصدر دا ان دہ نو دِے تو لوحر وفو تہ حروف المصدر
وئیل دا تسمیہ دکل دہ پہ اسم د جزء سرہ نو دا تسمیہ لہ قبیلے د مجاز نہ دہ۔
تنبیہ :۔ زدہ کرہ دا خبرہ چہ دا ان دا خلیږی پہ هغہ فعل بانبِ چہ هغہ متصرف
وی او مراد لہ متصرف نہ هغہ فعل دہ چہ هغۂ لرہ ماضی او مضارع او امر او مصدر
او اسم فاعل وئ مثال لکہ "ضرب" نو دا فعل متصرف دہ، او دا ان نۂ دا خلیږی پہ
فعل غیر متصرف بانبِ، او مراد لہ فعل غیر متصرف نہ هغہ فعل دہ چہ د هغۂ د پارہ
ماضی او مضارع او مصدر او اسم فاعل نۂ وی مثال لکہ "نعم" او "بئس" چہ دا اولے
فعل مدح دہ او دا دویم فعل ذم دہ، او دا دواړہ لہ قبیلے د افعالِ غیر متصرفہ نہ دی
او وجہ او دلیل لپارہ ددے خبرے دا دہ چہ دا ان پہ فعل متصرف بانبِ دا خلیږی او
پہ فعل غیر متصرف بانبِ نہ دا خلیږی ځکہ چہ دا ان مدخول خپل ګرزی وی پہ تاویل
د مصدر سرہ، نو ضروری دا بہ پہ هغہ فعل بانبِ داخل وی چہ د هغہ فعل د پارہ مصدر
وی چہ پہ واسطہ ددے ان سرہ ددے فعل نہ دا مصدر مراد کړے شی۔ او چہ کوم
فعل د پارہ مصدر نہ وی لکہ فعل غیر متصرف چہ دا مصدر نہ لری، نو کۂ چرتہ ور
بانبِ دا ان داخل شی، نو پہ دِے فعل کبنی دا ان تاویل نشی کولے چہ ورنہ مصدر جوړ
کړی او لہ دِے فعل نہ مصدر ددے فعل مراد شی، نو لہ دِے وجے نہ دا ان نۂ دا خلیږی
پہ فعل غیر متصرف بانبِ۔ او دا باقی ددے حروف ناصبہ اګرچہ مدخول پہ تاویل۔ دَ
مصدر سرہ نہ ګرزی وی، خو لکن دا حروف هم نہ دا خلیږی پہ فعل غیر متصرف بانبِ۔
ځکہ چہ پہ دِے دخول کبنی حمل دی پہ ان بانبِ، نو لکہ څنګہ چہ ان دا خلیږی پہ فعل
متصرف بانبِ او نۂ دا خلیږی پہ فعل غیر متصرف بانبِ، نو همہ ارنګ دا حروف ثلثہ
هم پہ فعل متصرف بانبِ دا خلیږی، او پہ فعل غیر متصرف بانبِ نہ دا خلیږی۔

((...... النوع السادسُ ......))

اِنْ و لم لمّا و لامِ امر لاءِ نہی نیز این
پنج حرف جازم فعلند ہر یک بے دَغا

زدہ کړہ دا خبرہ چہ دا شپږم نوع پہ بیان د هغو حروفو کبنی دہ چہ هغوئ
جزم ورکوی فعل مضارع تہ یعنی پہ دِے نوع کبنی هغہ حروف بیانولے شی چہ کوم
حروف جزم ورکوی فعلِ مضارع تہ۔ او معنیٰ او ترجمہ ددے مذکور شعر دا دہ چہ

ناظم وائی چه "اِانْ" په کسره د همزې سَره او په سکون د نون سَره او د الم او لما او د لام امر او لاء نهی چه غونډ حروف دی جزم ورکوی فعل ته په غیر د څهٔ شک نه یعنی دوی په جزم ورکولو کښی شک نشته، خو لکن هغه فعل چه دا ټول حروف ورته جزم ورکوی هغه به فعل مضارع وی، ځکه چه جزم اعراب ده او اعراب په فعل مضارع باندې جاری کیږی او فعل ماضی مبنی وی، نو دا حروف فعل ماضی ته جزم نهٔ ورکوی.

تشریح:- ز ده کړه دا خبره چه لام په خپل کوئ کښی په دوه قسمه ده اول قسم لاء نهی ده او دا عبارت ده د هغه لاء نه چه په دې سره به طلب شوے وی ترک د فعل د فاعل نه مثال لکه "لاتضرب" نو دا لا په لاتضرب کښی لپاره د نهی ده ځکه چه په دې لا سره طلب شویده ترک د فعل چه هغه ضرب ده. او دوئیم قسم لاء نفی ده او دا عبارت ده د هغه لا نه چه هغه به دلالت کوی په عدام وقوع د فعل باندې. او دریم قسم لاء زائده ده او دا عبارت ده د هغه لاء نه چه په سقوط د هغه سَره څهٔ خلل په اصل معنی کښی نه راځی مثال لکه په دې قول د الله تعالیٰ کښی چه "لا اقسم بیوم القیمة" نو په دې ایت کښی دا لاء زائده ده.

او دا لام هم په خپل کوئ کښی په دوه قسمه ده اول قسم لام امر ده، او دا عبارت ده د هغه لام نه چه په دې سره به طلبولے شی په طریقے د استعلاء سَره یو کار یعنے چه دا طلب کونکے به ځان عالی ګنړی د هغه کس نه چه دا فعل د چانه طلب کړے وی، مثال لکه مولیٰ چه د خپل غلام په باره کښی دا ووائی چه "لیضرب" نو په دې فعل کښی دا لام لپاره د امر ده ځکه چه په دې لام سره فعل طلب شویده چه هغه ضرب ده په طریقه د استعلاء سَره ځکه چه دا مولیٰ ځان عالی ګنړی د خپل غلام نه.

او دوئیم قسم د لام: لام د دعاء ده او دا عبارت ده د هغه لام نه چه په دې سره به طلبولے شی فعل په طریقے د خضوع سَره مثال لکه دا قول د عبد چه "لیغفرلی" نو په دې لیغفرلی کښی دا لام لپاره د دعاء ده ځکه چه په دې لام سَره طلب د فعل شویده چه هغه مغفرت ده په طریقے د خضوع سَره، یعنی دا عبد چه طلب د مغفرت کوی د الله تعالیٰ نه، نو ځان عاجزاو خاضع ګنړی.

او دریم قسم لام د التماس ده، او دا عبارت ده د هغه لام نه چه هغه به دلالت کوی په طلب د فعل باندې په طریقے د مساوات سَره، یعنی چه کوم کس په دې لام سَره فعل طلبوی، نو هغه کس به ځان مساوی ګنړی د هغه بل کس سره چه د کوم کس نه

طلب د فعل کوي مثال لکه نمايد چه داصديق او ملګري وي لپاره د عمرو د والي په باره د عمرو کښې چه "وليضرب عمرو" نو په دې مثال کښې د الام لپاره د التماس ده ځکه چه په دې لام سره طلب د فعل شوېده چه ضرب ده په طريقې د مساوات سره په دې شان چه دا زيد ځان مساوي ګڼړي د عمرو سره. نو معلومه شوه چه لاء هم په درې قسمه ده اول قسم لاءِ نهي ده او دويم قسم لاءِ نفي ده او دريم قسم لاءِ زائده ده. د دې لاء دا درې واړه اقسام جزم نه ورکوي بلکه د اقسمِ اول جزم ورکوي چه لاءِ نهي ده او د الاءِ نفي او لاءِ زائده جزم نه ورکوي فعل مضارع ته بلکه غير عامل دي او د عواملو نه دي. او د الام هم په درې قسمه شو، اول قسم لام د امر او دويم قسم لام د دعاء، او دريم قسم لام د التماس ده، او دا درې واړه اقسام د لام جزم ورکوي. او دا تقسيم چه په لام کښې شوېده د امذهب د اهل اصولِ فقه ده، يعنې د اصوليانو په نيز بانې لام تقسيميږي د درې اقسامو ته. نو د اصوليانو په نزد بانې لام امر غير ده د لامِ دعاء نه او د لامِ التماس نه، ځکه چه په لام د امر کښې استعلاء شرط ده، او په لام د دعا کښې خضوع شرط ده، او په لام د التماس کښې مساوات شرط ده. او د نحاتو په نزد بانې دا تقسيم په لام کښې نشته، بلکه د الام د دعاء او لام د التماس داخل دي په لامِ امر کښې. نو دوئ معنی د لام امر داسے کوي چه لامِ امر عبارت ده د هغه لام نه چه هغه دلالت کوي په طلب د فعل بانې، برابره خبره ده که د اطلب په طريقې د استعلاء سره وي او که په طريقې د خضوع سره وي او که په طريقې د مساوات سره وي.

نو په دې مقام کښې يو اعتراض وارديږي، حاصل د اعتراض دا ده، چه معترض وائي چه دا حصر د حروفِ جازمو په دې پنځو کښې نه دے صحيح، بلکه لکه څنګه چه دا پنځه حروف جزم ورکوي، نو همدارنګ لام د دعاء او لام د التماس هم جزم ورکوي، نو معلومه شوه چه حروف جوازم پنځه نه دي بلکه اووه دي په دې شان، چه پنځه دا مخکښې دي، او شپږم لام د دعاء ده او ووم لام د التماس ده؟

او جواب له دې اعتراض نه دا ده چه موږ ورته وايو چه د الام د دعاء او لام د التماس داخل دي په لام د امر کښې، ځکه چه په دې مقام کښې د اکلام د ناظم بنا ده په اصطلاح د نحاتو بانې، او د نحاتو په اصطلاح بانې لام د دعاء او لام د التماس نه دي غير له لام د امر نه بلکه داخل دي په لام د امر کښې نو حروف جازمه پنځه شوه او ووه نشوه نو حصر د جوازمو په دې پنځو کښې صحيح ده. او کلام د ناظم نه ده بنا په مذهب او اصطلاح

د اصولیانو او د اهل میزان او د علماء د علمِ معانی بانِ ځکه چه د اتقسیم په لام کښے دے د دریو اقساموته مذهب د دے علماؤ د علم المعانی او د علماؤ د علمِ منطق او د علماء د علم اصول الفقه ده. نو کله چرته د اکلام د ناظم بنا وے په مذهب د دے فرقو ثلثه بانِ، نو بیا به دا اعتراض وارد وه.

اوله دِے مخکښ اعتراض نه یو بل جواب هم وړکول ممکن دی، په دِے شان چه مونږ ورته وایو، چه حصر د جواز مو په دِے پنځو کښ نهٔ ماتیږی په لام د التماس او په لام د دعاء بانِ، ځکه چه دالام د دعاء او دغه شان دالام د التماس د وارړه، داخل دی په لام د امرکښ، ځکه چه مراد له لام د امرنه صورت د لام د امر دهٔ او صورت د لامِ دعاء هم په شان د صورت د لام د امر ده، او دغه شان صورت د لام د التماس هم په شان د صورت د لام د امر ده. نو کچرته د لامِ امرنه په عبارت د ناظم کښ د لامِ امر وے فقط، نو بیا دا اعتراض وارد وه، بلکه مراد د دِے لام امرنه صورت د لام د امر ده او په صورت د لام د امرکښ لام د دعاء او دغه شان لام د التماس داخل دی. نو حصر د حرف جازمو په دِے پنځو حروفو کښ صحیح ده. او فرق په مابین د اوّل جواب او د دِے دویم جواب کښ دا ده چه دا اول جواب بنا ده په دِے خبره بانِ چه لامِ دعاء او دغه شان لام د التماس داخل دی، په لام د امرکښ. او دا دویم جواب بنا ده په دِے خبره بانِ چه لام د التماس او لام د دعاء نه دی داخل په لام د امرکښ، چه د لام د امرنه عین لام د امر مراد کړے شی خو لکن په عبارت د شارح کښ مراد له لام د امرنه عینِ لام د امرنهٔ ده، بلکه مراد د دِے صورت د لام د امر ده، او په دِے صورت د لام د امرکښ لام د دعاء او لام د التماس داخل دی.

دا اول حرف چه "ان" ده راځی لپاره د شرط، یعنی دا ان دلالت کوی په دِے خبره بانِ، چه دا یو فعل شرط ده او هغه بل فعل ورته جزاء ده مثال لکه ان تضرب اضرب نو په دِے مثال کښ دا ان حرف شرط ده او دلالت کوی په دِے خبره بانِ چه دا اول فعل چه تضرب ده شرط او سبب ده لپاره د دویم فعل چه اضرب ده معنی دا ده چه د اضرب د متکلم د طرفه موقوف ده تر هغه ضرب پورے چه د مخاطب د طرفه ده په دِے شان کهٔ چرته دا ضرب د مخاطب نه صادر شی او موجود شی، نو بیا به د متکلم د طرف نه هم ضرب موجود یږی.

اوداَلم چه دوییم حرف دۀ اوداَلما چه دریم حرف دۀ دواړه راځی لپاره دنفی دفعل په زمانه ماضی کښې، او دغه شان دادواړه راځی لپاره دقلب دمضارع ماضی ته په دے شان چه دوئ په مضارع داخل شی، نو وی نه ماضی جوړه وی مثال لکه: لم یضرب زید اولما یضرب زید نو داَلم هم لپاره دنفی دماضی دۀ یعنی دلالت کوی په دے خبره باندې چه دافعل چه ضرب دۀ نفی شوے دۀ په ماضی زمانه کښې دزید نه نومعنی دلم یضرب زیدٌ دا دۀ، چه زید وهل نه دی کړی په زمانه ماضی کښې بلکه دا ضرب دزید نه منتفی دۀ په زمانه ماضی کښې۔ اوداَلما هم لپاره دنفی دۀ په زمانه ماضی کښې په دے شان چه دالما دلالت کوی په دے خبره باندې، چه دافعل چه ضرب دۀ منتفی دۀ دزید نه په زمانه ماضی کښې.

او همدارنګ داَلم لپاره دقلب د مضارع دۀ ماضی ته، یعنی داَلم معنی دمضارع اړوی ماضی ته، ځکه چه دلم یضرب زید معنی دماضی دۀ نۀ دمضارع، دا سے معنی دۀ چه زید په تیره شوے زمانه کښې ضرب نه دۀ کړے، او دامعنی دماضی دۀ اودامعنے نه دۀ چه زید به په اینده زمانه کښې ضرب نکوی، او دامعنی دمضارع دۀ۔ او دغه شان دالما هم لپاره دقلب دمضارع دۀ ماضی ته، ځکه دلما یضرب زیدٌ معنی دادۀ چه زید ضرب نه دۀ کړے په تیره شوے زمانه کښې اودامعنی دماضی دۀ، اومعنی دانۀ دۀ چه زید به په اینده زمانه کښې ضرب نکوئ چه دامعنی دمضارع دۀ۔ نوداَلم او لما په دوه شیانوکښې شریک دی، چه اول شئے نفی دۀ په زمانه ماضی کښې، په دے شان چه داَلم هم دلالت کوی په نفی باندې په زمانه ماضی کښې اوداَلما هم لپاره دنفی دۀ په زمانه ماضی کښې۔ اودوییم شئے قلب دمضارع دۀ ماضی ته، یعنی داَلم هم راځی لپاره دقلب مضارع ماضی ته او همدارنګ داَلما هم راځی لپاره دقلب د مضارع ماضی ته نو دا دوه شیان مابه الاشتراک دی په مابین دلم او دلما کښې، او ددے لم اولما په مابین کښې فرق موجود دۀ په دوه شیانوکښې، اول شئ دا دۀ چه لم راځی لپاره دَ نفی په زمانه ماضی کښې خولکن دا نفی خالی وی د استغراق نه، اولما راځی لپاره دنفی په زمانه ماضی کښې خولکن ددے نفی سره به استغراق هم موجود وی۔ نو دلم یضرب زید معنی دا دۀ چه زید ضرب نه دۀ کړے په زمانه ماضی کښې، اودلما یضرب معنی دا دۀ چه زید ضرب نه دۀ کړے په زمانه ماضی کښې تراوسه پورے، یعنی دانفی دضرب والا مستغرق دۀ ټولے زمانے دماضی ته، نو دلم په معنی کښې دا استغراق نه وی موجود، او

دلما په معنیٰ کښې استغراق موجود وي. او دوٓیم شئ دا دۀ چه دلمانه پس وسته فعل حذف کیږي او دلم نه پس وسته فعل نه حذف کیږي مثال لکه قاربت المدینة ولما نو په دې مثال کښې چه دلما ذکر دۀ پس وسته له دې لمانه فعل حذف دۀ چه هغه ادخلها دۀ نو تقدیر د عبارت داسې دۀ چه قاربت المدینة ولما ادخلها او معنیٰ دا دۀ چه زۀ ښهر ته قریب شوم خو لکن ورته داخل شوې نۀ یم. او په لم کښې دا نه دۀ جائز چه قاربت المدینة ولم. چه پس وسته ورته موښ فعل حذف و بولو. نو دا دوه شیان چه اوّل استغراق دۀ او دوٓیم حذف د فعل دۀ مابه الافتراق دی په مابین د لم او د لما کښې په دې شان چه دا دوه شیان موجود وي په لما کښې او معدوم دي په لم کښې.

او لام امر چه څلورم حرف دۀ په دې حرفو جازمو کښې او دا پنځم حرف چه لاء نهي دۀ د دې دواړو معنیٰ ګانې موښ مخکښې ذکر کړیدي.

اعلم ان هذه الحروف تجزم الفعل المضارع ثم کلمة ان الخ: غرض د شارح په دې عبارت کښې بیان د فرق دۀ په مابین د ان کښې او په مابین د دې څلور حرفو کښې په عمل کولو کښې، په دې شان چه د ان عمل کوي په دوه فعلونو کښې چه دوه فعلونو ته جزم ورکوي، مثال لکه ان تضرب اضرب نو دا اول فعل چه تضرب دۀ هم مجزوم دۀ او دا عمل د جزم پکښې ان کړیده، او دا دویم فعل چه اضرب دۀ، هم مجزوم دۀ او عمل د جزم پکښې ان کړیده، او دې اول فعل ته شرط وائي او دې دوٓیم فعل ته جزاء وائي، نو دې ان عمل کړیده هم په شرط کښې او هم په جزاء کښې. او دا نور څلور حرفونه چه لم او لما او لام امر او لاء نهي دي دوئ عمل کوي په یو فعل کښې فقط په دې شان چه یو فعل ته جزم ورکوي، مثال لکه لم یضرب نو دې لم په دې مثال کښې یو فعل ته جزم ورکړیده چه هغه یضرب فعل مضارع دۀ او لکه: لمّا یضرب نو دې لما هم یو فعل ته جزم ورکړیده، او لکه لیضرب نو دې لام یو فعل ته جزم ورکړیده چه هغه یضرب فعل مضارع دۀ، او لکه لاتضرب نو دې لاء نهي یو فعل ته جزم ورکړیده چه هغه تضرب دۀ. په دې مقام کښې یو اعتراض واردیږي چه د هغه حاصل دا دۀ چه معترض وائي چه هر کله چه د ان په دوه فعلونو کښې عمل د جزم کوي، نو باید چه دا ان جدا نوع شوې وې او دا باقي څلور حروف جوازم جدا نوع وې، نو په دې وخت کښې به حروف جوازم څلور باتې شوي وې په دې شپږمه نوع کښې؟ او جواب له دې اعتراض نه دا دۀ چه موښ ورته وایو چه دا ان

اګرچه جزم ورکوی دوه[۲] فعلونو ته خو لکن مصنف په دې ان کښې نظر کړې دې نفس جزم ورکولو ته، او په دې نفس جزم ورکولو کښې دا ان شریک دے د دے باقی ملګرو حروفو سره نو له دې وجې نه یې دا ان جدا نوع و نه ګرځوله بلکه دا ان یې داخل کړے په دې شپږمه نوع کښې او مصنف نظر نه دے کړے په دې ان کښې دې خبرے ته چه دا ان جزم ورکوی دوه فعلونو ته، نو ځکه ئې دا ان جدا نوع نه ده ګرځولې. بیا معترض اعتراض کوی حاصل د اعتراض دا دے چه معترض وائی چه هر کله دا ان چه په دوه[۲] فعلونو کښې عمل د جزم کوی، نو دا په شان د اسماءِ شرط شو، چه هغوی ذکر دی په نوع سابع کښې په دې شان چه هغوی هم جزم ورکوی دوه فعلونو ته، نو هر کله چه دا ان شریک شو د اسماءِ شرط سره په جزم ورکولو کښې دوه فعلونو ته نو بایسی چه دا ان یې ذکر کړے وے د اسماءِ شرط سره، او د حروفِ جوازمو سره یې نه وے ذکر کړے او جواب له دې اعتراض نه دا دے، چه مونږ وایو ته وایو چه دا ان اګرچه په شان د اسماءِ شرط ده په دې خبره کښې چه دا ان جزم ورکوی دوه فعلونو ته خو لکن دا ان یې سره شریک نکړو په نوع سابع کښې له دې وجې نه چه دا ان مخالف ده د اسماءِ شرطو سره په دې خبره کښې چه دا ان چه عمل د جزم کوی دا اصالةً ده، او د اسماءِ شرط چه عمل د جزم کوی نو د دوی دا عمل اصالةً نه ده، بلکه له دې وجې نه ده چه دا اسماءِ شرط متضمن دی معنی دان لره، نو د دې مخالفت د وجې نه دا ان داخل نکړے شو د اسماءِ شرطو سره په نوع سابع کښې.

ترکیب: او ترکیب د ان تضرب اضرب دا سے دے، چه دا ان حرفِ شرط ده مبنی ده په سکون سره او دا تضرب صیغه د واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم ده او ضمیر پکښې مستتر ده چه له هغه نه تعبیر کولے شی په "انت" سره هغه ورته فاعل ده او دا تضرب فعل سره د فاعل خپل نه جمله فعلیه خبریه شرط ده، او دا "اضرب" صیغه د واحد متکلم فعل مضارع معلوم ده ضمیر پکښې مستتر ده چه له هغه نه تعبیر کولے شی په "انا" سره هغه ورته فاعل ده او دا فعل چه اضرب ده سره د فاعل خپل نه چه "انا" ده جمله فعلیه جزاء کیږی لپاره د شرط او دا شرط سره د جزاء خپل نه جمله فعلیه خبریه مثال کیږی لپاره د مثل چه هغه مثل عبارت ده له دې خبرے نه چه "ان" جزم ورکوی دوه[۲] فعلونو ته.

فان قلت: کلمة ان حرف والحرف لایصلح ان یعمل فی الفعلین الخ: د اعتراض

وارد شویدے پہ عمل کولو دان بانديٍ پہ فعلینو کبني، حاصل ددے اعتراض دادہ چہ معترض وائي چہ داان حرف دہ او حرف ضعیف العمل دہ نو ددۀ عمل باطل دہ پہ دوہ فعلینو کبني لہ وجے دضعف ددۀ نہ، اولہ دِے اعتراض نہ شارح جواب ورکریدہ پہ دِے عبارت نیول سرہ چہ:

قلنا: هذاامرسماعي لايفوض الى العقل و القاعدة الخ : او حاصل ددے جواب دا دہ چہ موننږ وايو تہ وايو چہ داان اګرچہ ضعيف العمل دہ ځکہ چہ حرف دہ او حرف ضعيف وي پہ اعتبار د عمل کولو سرہ، خو لکن ددے ان داعمل يوامرسماعي دہ يعني ددےان عمل چہ پہ دۀ فعلونو کبني عمل کوي ددے سماع شویدہ دَعربونہ پہ دِے شان چہ داان چہ عربو مستعمل کړیدہ پہ نیول کلام کبني، نو دِے ان تہ یے عمل ورکړیدہ پہ دوہ فعلونو کبني، نو ددے داعمل نشي مفوض کولے او سپارلے عقل او قاعدے تہ يعني اګرچہ عقل او قاعدہ خو داوائي چہ داان حرف دہ او ضعیف العمل دہ نو بايد چہ عمل ونکړي پہ دۀ فعلونو کبني، بايد چہ پہ يو فعل کبني عمل وکړي، خو لکن ددے ان عمل پہ دوہ فعلونو کبني دامسموع دہ دعربونہ، نو لہ دِے وجے نہ پہ عمل دِدےان کبني دخل نشتہ عقل او قاعدہ لرہ۔

تشريح :- زدہ کړہ داخبرہ چہ دعقل پہ معنی کبني شپږ اقوال رانقل شويدي، اول قول دادہ چہ "العقل جوهر مجرد عن المادة في ذاته مقارن لها في فعله" يعني عقل عبارت دہ لہ هغہ جوهرنہ چہ هغہ پہ مجرد وي لہ مادہ نہ پہ اعتبار د ذات نیول سرہ او مقارن بہ وي دمادہ سرہ پہ فعل نیول کبني۔ يعني داعقل چہ فعل کوي نو دا بہ پہ واسطہ دمادہ سرہ کوي۔ نو بنا پہ دِے قول بانديٍ عقل او نفس ناطقہ متحد دي او دویم قول دادہ چہ "العقل جوهر روحاني خلقه الله متعلقا ببدن الانسان" يعني عقل دايو جوهر روحاني دہ يعني جسماني نہ دہ او دا الله پاک پیدا کړیدہ او متعلق دہ تربدن دانسان پورے۔ بناء پہ دِے قول بانديٍ هم عقل او نفس ناطقہ متحد ان دي۔ او دریم قول دادہ چہ "العقل نور في القلب يعرف به الحق والباطل" يعني عقل عبارت دہ دهغہ نور نہ چہ موجود دہ پہ قلب دانسان کبني چہ ددِے پہ واسطہ سرہ حق او باطل پیژندل کیږي۔ نو بناء پہ دِے قول بانديٍ هم عقل او نفس ناطقہ متحد ان دي۔ او څلورم قول دادہ چہ "العقل جوهر مجرد عن المادة يتعلق بالبدن تعلق التدبير والتصرف" يعني عقل دايو جوهر دہ چہ مجرد دہ دَمادہ نہ او تعلق لري دَبدن سرہ

تعلق د تدبیر او د تصرف، یعنی د ابدن په واسطے د دے عقل سره تدبیر کوی د اشیاء او تصرف کوی په اشیاء کښې، او بنا په دِے په قول بانې هم د اعقل متحد ده د نفسِ ناطقه سره. او پنځم قول دا ده چه "العقل قوة للنفس الناطقة" یعنی د اعقل یو قوت ده لپاره د نفسِ ناطقه او د دے په واسطه سره نفس ناطقه علم راولی په اشیاء باندې، نو بناء په دِے قول بانې د اعقل غیر ده د نفسِ ناطقه. ځکه چه بناء په دِے قول بانې د اعقل قوت ده او نفسِ ناطقه ذوالقوة ده او قوت غیر وی د ذوالقوة نه. او شپږم قول دا ده چه: "العقل جوهر مجرد یدرک الغائبات بالوسائط والمحسوسات بالمشاهدة" یعنی عقل یو جوهر ده چه مجرد ده له ماده نه او ادراک د غائباتو کوی په وسائطو سره یعنی په دلائلو سره او په تعریفاتو سره او ادراک د محسوساتو کوی په مشاهده سره. او دا عقل ماخوذ ده د عقال البعیر نه او عقال البعیر عبارت ده له تړلو د ابل یعنی د اوښ نه او دِے عقل ته هم ځکه عقل وائي، چه دا هم ذوی العقول رابند وی له دِے خبرے نه چه دوی تجاوز او عدول وکړی د حق لارے نه. او په محل د عقل کښې دوه قوله رانقل دی، اول قول دا ده چه محل د عقل قلب ده او دویم قول دا ده چه محل د عقل رأس ده، نو بناء په اول قول بانې عقل موجود ده په قلب او زړه د انسان کښې، او بنا په دویم مذهب بانې د اعقل موجود ده په سر د انسان کښې.

او د قاعده د پاره درے معنی ګانے دی. اوله معنی لغوی د قاعده ده. نو قاعده په لغت کښې اساس او بنیاد ته وائي. او دویمه معنی شرعی د قاعده ده. نو قاعده په اصطلاح او عرف د شریعت کښې عبارت ده له هغه ښځے نه چه هغے ته حیض نه ورځی نو چه کومه ښځه ناامیده وی د حیض نه نو هغے ته قاعده وائي، او دریمه معنی اصطلاحی د قاعده ده، نو قاعده په اصطلاح کښې عبارت ده له دینه چه "القاعدة قضية كلية تشتمل على احكام جميع جزئيات موضوعها اجمالا ويعرف بها احكامها من حيث التفصيل بعد انضمام صغرى سهلة الحصول اليها" یعنی قاعده عبارت ده د هغه قضیه کلیه نه چه هغه به مشتمله وی په ټولو احکامو د جزئیاتو د موضوع خپلے باندې په طریقے د اجمال سره او په دِے قضیه سره به معلومیږی احکام د دے جزئیاتو په طریقے د تفصیل سره خو لکن وروسته له دینه چه د دے قضیه کلیه سره یوه مقدمه سهلة الحصول ضم کړے شی، او دا قضیه کلیه ورته کبری جوړه شی چه دا مقدمه سهلة الحصول ورته صغری جوړه شی او هغه چه کومه نتیجه وراکړی هغه به حکم وی لپاره د یو جزئی له جزئیاتو د موضوع

نه مثال لکه "کل فاعل مرفوع" نو دا یوه قاعده ده د قواعدو د علم نحو نه، او موضوع د دې قاعدې "فاعل" ده او محمول د دې قاعدې "مرفوع" ده، او جزئیات د دې موضوع عبارت دی له زید نه په "ضرب زید" ترکیب کښې او له عمرو نه په ضرب عمرو ترکیب کښې او له بکر نه په ضرب بکر ترکیب کښې او له خالد نه په ضرب خالد ترکیب کښې. نو دا زید او عمرو، او بکر او خالد چه دوی واقع شي په دې تراکیبو کښې جزئیات او افراد دی پياره د فاعل چه هغه موضوع ده لپاره د دې قضیه. او حکم د دې جزئیاتو مرفوعیت ده چه په دې تراکیبو کښې مرفوع وی بنا بر فاعلیت. او دا قضیه کلیه مشتمله ده په دې احکامو باندې په طریقه د اجمال سره ځکه چه په دې قضیه کښې چه حکم شوې ده په مرفوعیت د فاعل باندې، نو دا حکم په ټولو جزئیاتو د دې فاعل باندې ده په طریقه د اجمال باندې. ځکه چه د دې فاعل لاندې دا جزئیات واقع دی، نو حکم په فاعل باندې دا حکم ده په جزئیاتو د دې فاعل باندې په طریقه د اجمال سره. او د دې جزئیاتو دا احکام را معلومیږی له دې قضیه کلیه نه په طریقه د تفصیل سره. په دې شان چه هر واحد د دې جزئیاتو ته جدا جدا مرفوعیت ثابت شي، نو لکن وړاوستي له دینه چه د دې قضیه کلیه سره ضم کړې شي یوه مقدمه چه د هغې حصول په آسان او سهل وی، او دا مقدمه صغری جوړه کړې شي په دې شان چه موضوع د دې صغری به هغه جزئی وی چه د کوم جزئی حکم مونږ معلوموو. او محمول د دې صغری به موضوع د دې قضیه کلیه وی چه کومه قاعده ده نو چه کله چه دا صغری مونږ ضم کړو د دې کبری سره، نو وبه نه به قیاس اقترانی په نمط د شکل اول سره حاصلیږی. نو چه کله مونږ د زید حکم معلوموو. چه هغه واقع ده په ضرب زید کښې، نو دا سې به وایو چه "لان زیدا فاعل" نو دا صغری سهلة الحصول ده موضوع د دې زید ده چه دا یو جزئی ده لپاره د فاعل. او محمول د دې صغری فاعل ده چه دا موضوع ده لپاره د قضیه کلیه چه هغه قاعده وه، او دا قاعده به ورسره ضم کړو نو دا به وړاته کبری جوړیږی. او له دې ضم د دوه مقدمو نه چه کوم قیاس جوړ شي، هغه به قیاس اقترانی وی او شکل اول به وی. ځکه چه دا فاعل به په کښې حد اوسط وی او دا زید به په کښې اصغر وی او دا مرفوع به په کښې اکبر وی. او دا حد اوسط به محمول وی په صغری کښې ځکه مونږ وویلې وه چه محمول د صغری به موضوع د دې قضیه کلیه وی او دا حد اوسط به موضوع وی په کبری کښې، ځکه چه کبری د دې قیاس د پاره دا قاعده وه او دا فاعل چه حد اوسط ده موضوع وی لپاره د دې

قاعده، نو چه کله د اصغری ضم کړے شی د کبری سره او قیاس ورنه جوړ شی نو هغه قیاس به کومه نتیجه ورکوی هغه به عین اثبات د حکم د جزئی وی لپاره د دے جزئی. نو همدغه طریقه د معرفت د احکامو د جزئیاتو د موضوع د دے قاعدے ده له دے قاعدے نه.

مثال: زید فی ضرب زید فاعل / وکل فاعل مرفوع / فزید مرفوع. نو د اولنه قضیه مقدمه صغری ده او دا دویمه قضیه مقدمه کبری ده. او دا دریمه قضیه نتیجه ده، او د دے قیاس چه دا کومه نتیجه ورکړیده دا بعینه اثبات د حکم ده چه مرفوعیت ده لپاره د دے جزئی چه زید ده. نو لکه څنګه چه له دے قاعدے نه د دے یو جزئی چه زید ده حکم را معلوم شو په دے طریقه مذکوره سره، نو همدارنګ د دے باقی جزئیاتو د فاعل حکم هم ورنه را معلومیږی په دے طریقے مذکوره سره چه هغه جزئیات عبارت دی له عمروُ نه په ضرب عمرو کښ او له بکر نه په ضرب بکر کښ او له خالدٌ نه په ضرب خالد کښ.

وقیل: ان ان یعمل فی الشرط وحده ثم الشرط مع ان عامل فی الجزاء: ذکر کړه دا خبره چه دا مذهب د سیرافی ده او دا مقابل د مذهب د جمهورو ده. او حاصل د دے مذهب دا دے، چه دا ان عامل نه ده هم په شرط او هم په جزاء کښ په اعتبار د ذات خپل سره بغیر د ملګرتیا د بل شئ نه بلکه دا ان شرطیه په اعتبار د ذات خپل سره عمل کوی په شرط کښ فقط او په اعتبار د ذات خپل سره عمل نشی کولے په جزاء کښ، بلکه دا شرط سره د دے ان نه عامل دے په جزاء کښ. نو دا ان په شرط کښ عامل ده بغیر د ملګرتیا د شئ آخر نه او بیا په دے جزاء کښ ان عامل ده خو لکن سره د ملګرتیا د شرط نه، یعنی دا ان چه عمل کوی په جزاء کښ نو تنها عمل نشی کولے بلکه په دے عمل کولو کښے محتاج ده ملګرتیا د شرط ته. او دا مذهب څکه مقابل ده د مذهب د جمهورو د، څکه چه د جمهورو مذهب دا ده چه دا ان بغیر د ملګرتیا د بل شئ نه عمل کوی هم په شرط کښ او هم په جزاء کښ، او بناء په دے مذهب د سیرافی باندے دا ان په اعتبار د ذات سره عمل کوی په شرط کښ فقط، او په جزاء کښ دا ان عمل کوی په واسطه د شرط سره.

ونحن نقول: ان کونه جازما فی الشرط والجزاء الخ: او په دے عبارت سره شارح جواب ورکوی له دے مذهب د سیرافی نه، په دے شان چه دا عمل د ان حرف شرط سماعی ده، یعنی مسموع ده له عربونه په دے شان چه د عربونه د دے ان دا عمل مذکوره را نقل ده چه هغه دا ده، چه دا ان په عمل کوی په شرط کښ هم او په جزاء

کبنی هم او عقل لره دخل نشته په عمل ددې ان کبنې. او دامذهب دَ سیرافی په باره ددې ان حرف شرط کبنې بنا ده په عقل باندې، په دې شان چه سیرافی ځکه دې ان نه عمل نه وركوی په جزاء کبنې بغیر د منګرتیا د شرط نه، ځکه چه دا ان حرف ده او حرف ضعیف العمل ده، نو دده عمل په شرط کبنې بنفسه ده او په جزاء کبنې په منګرتیا د شرط سره ده

فائده:- زده کړه دا خبره چه یو مطلق عمل دا ان حرف شرط ده په دې شان چه دا عمل کوی په دوه فعلونو کبنې، نو دا مطلق عمل ددې ان قیاسی ده، په دې شان چه دا ان ځکه عمل کوی په دوه فعلونو کبنې، ځکه چه عمل تابع ده د تاثیر معنوی په دې شان چه د عامل تاثیر په یو فعل کبنې وی، نو دا عمل به هم په دې یو فعل کبنې وی، او که چرته دا تاثیر معنوی ددې عامل په دوه فعلونو کبنې وه. نو بیا به دا عمل دَ دې عامل هم په دوه فعلونو کبنې وی. او ددې ان تاثیر معنوی په دوه فعلونو کبنې ده چه اول فعل شرط ده او دویم فعل جزاء ده، او هغه تاثیر معنوی ددې ان په دوه فعلونو کبنې دا ده، چه دا ان ګرځوی فعل اول سبب لپاره د فعل ثانی او فعل ثانی ورته مسبب ګرځوی. نو هر کله چه تاثیر معنوی ددې ان په دوه فعلونو کبنې ده نو دا عمل ددې ان به هم په دوه فعلونو کبنې وی. نو دا مطلق عمل ددې ان قیاسی ده په تاثیر معنوی ددې ان باندې، نو معلومه شوه چه دا مطلق عمل ددې په دوه فعلونو کبنې قیاسی ده ځکه چه دا عمل قیاسی ده په تاثیر دان باندې. او هر چه دا خاص عمل ده چه هغه جزم ورکوی دې دوه فعلونو ته چه اول به شرط وی او دویم به جزاء وی نو دا سماعی ده، او مسموع ده د عربو نه.

اعلم ان الاصل فی الحروف الجوازم ان لو ضعه واما الاسماء الباقیة الخ: غرض د شارح په دې عبارت خپل کبنې بیان د فرق ده په مابین دان کبنې چه دا اول حرف ده د حروفو جوازمو نه او په مابین ددې باقی ټولو حروفو کبنې. او حاصل د فرق دا ده چه دا ان اصل ده په عمل کبنې ځکه چه دا ان وضع ده لپاره د عمل په دې شان چه واضع دا ان وضع کړی ده لپاره د عمل د جزم، او مراد له اصلیت فی العمل نه همدغه معنی ده چه وضع وی لپاره د عمل او دا باقی حروف چه ټول دی، فرع دی په عمل کبنې، ځکه چه عمل ددې حروفو له وجه د مشابهت ددې حروفو نه ده دان سره، او مراد له فرعیت فی العمل نه همدغه معنی ده، چه شئ عمل وکړی له وجې د مشابهت دده نه دا مراد ځی سره، او مشابهت ددې حروفو دان سره په

اختصاص کښې ده یعنې لکه څنګه چه ان حرف شرط مختص ده تر فعل پورې یعنې په فعل پورې یعنې په
فعل بانې داخلیږی فقط او په اسم بانې نه داخلیږی نو دغه شان داخلو حروف
هم په فعل بانې داخلیږی او په اسم بانې نه داخلیږی او دا اختصاص تر یو نوع
پورې وظیفه دعواملو ده یعنې عامل کښې دا شرط او ملحوظ ده چه په یوه نوع بانې
داخلیږی یعنې یا به په اسم بانې داخلیږی فقط او یا به په فعل بانې داخلیږی فقط
نو داخلو حروف مختص دی تر فعل پورې یعنې په فعل بانې داخلیږی فقط لکه
څنګه چه ان حرف شرط مختص ده تر فعل پورې په دې شان چه په فعل بانې داخلیږی فقط

فذواتها حروف لا اسماء ولا افعال وعددها خمسة وعملها الجزم ومحل الجزم الفارغ
لا الماضي لبنائه الخ : غرض د شارح په دې عبارت نخیل کښې بیان د امور خمسه ده

اول امر له دې امور ونه ذات د دې حروفو ده یعنې د شارح په دې مخکښې عبارة
کښې بیان د ذواتو د دې حروفو خمسه ده، نو بیان د ذواتو د دې حروفو شارح
کړیده په دې عبارت نخیل سره چه" فذواتها حروف" یعنې ذوات د دې حروفو مذکوره
حروف دی یعنې د دوئ له نوع د حرف نه دی او د دوئ ذات حرف ده، او اسماء
هم نه دی او افعال هم نه دی۔

او دویم امر له دې امور وخمسه نه عدد او شمار د دې حروفو ده، نو بیان د عدد د دې
د دې حروفو شارح کړیده په دې عبارت نخیل سره چه" وعددها خمسة" یعنې عدد د
حروفو دا ده، چه دا پنځه حروف دی، اول حرف ان ده او دویم حرف لم ده او دریم
حرف لما ده او څلورم حرف لام امر ده او پنځم حرف لاء نهی ده۔

او دریم امر له دې امور وخمسه نه عمل د دې حروفو ده، او بیان د عمل د دې حروفو
شارح کړیده په دې عبارت نخیل سره چه" وعملها الجزم" یعنې عمل د دې حروفو
جزم ده، چه هغه جزم په بعض مواضعو کښې حاصلیږی په اسقاط د حرکت سره
مثال لکه ان تضرب اضرب، نو په دې دواړو فعلونو کښې ان عمل د جزم کړیده،
په اسقاط د حرکت سره، په دې شان چه د دې دواړو فعلونو نه د احرکت ساقط
شویده پیاره د علامه د جزم، او دا جزم په بعض مواضعو کښې حاصلیږی په حذف
د حرف علت سره د آخر د فعل نه، مثال لکه" ان ترم ارم" نو دا اول فعل چه ترم
ده په اصل کښې ترمی ده یاء وې نه حذف شویده پیاره د علامه د جزم او دا
ارم په اصل کښې ارمی وه او دا یاء وې نه حذف شویده پیاره د علامه د جزم۔ او کله

داجزم حاصلیږی په اسقاط د نون د تثنیه سره مثال لکه لم یضربا نو دا په اصل کښې یضربان وه او دا نون وُرانه حذف شوی ده پاره د علامت دَجزم ځکه چه دا فعل مجزوم ده په لم حرف جازم سره ۔ اوکله داجزم حاصلیږی په اسقاط د نون دَجمع مثال لکه لم یضربوا، نو دا یضربوا په اصل کښې یضربون وه او دا نون یکښې نون دجمع مذکر ده او دا حذف شوی ده پاره د علامت د جزم ۔ اوکله داجزم حاصلیږی په اسقاط د نون د واحده مؤنثه مخاطبه سره مثال لکه لم تضربی، نو دا په اصل کښې تضربین وه او دا نون یکښې لپاره د واحده مؤنثه مخاطبه ده، او وُرانه حذف شوے په سبب د دخول د لم سره لپاره د علامت د جزم۔

او شلورم امرله دِے امورِ وخمسه نه محل د جزم دِدے حروفو ده، نو دا محل دَ جزم ددے حروفو شارح بیان کړیده په دِے عبارت خپل سره چه" ومحل الجزم المضارع" یعنی محل د جزم ددے حروفو مضارع ده ۔ نو یو مدخول ددے حروفو او یو محل د جزم دِدے حروفو ده ۔ نو مدخول ددے حروفو اعم مطلق ده او محل د جزم ددے حروفو اخص مطلق ده، په دِے شان چه دا حروف هم په ماضی باندِ داخلیږی او هم په مضارع باندِ داخلیږی، نو مدخول ددے حروفو فعل ده برابره خبره ده که ماضی وی اوکهٔ مضارع وی ۔ او محل د جزم مضارع ده فقط، او دا حروف ماضی ته جزم نهٔ ورکوی ځکه چه جزم اعراب ده لپاره د فعل، نو دا به رانحی په فعل معرب کښې او فعل معرب مضارع ده، نو دا جزم به په مضارع باندِ راځی او ماضی مبنی ده نو ورباندِ جزم نه شی راتلے ۔ نو محل د جزم دِدے حروفو مضارع ده، او مدخول دِدے حروفو فعل ده مطلقا او مضارع اخص مطلق ده او فعل اعم مطلق ده، ځکه چه مضارع قسم ده لپاره د فعل، او قسم د شئ اخص مطلق وی د شئ نه، نو معلومه شوه، چه په مابین د محل د جزم ددے حروفو، او د مدخول د دِے حروفو کښې عموم خصوص مطلق ده۔

او پنځم امرله دِے امورِ وخمسه نه اسماء او نومونه ددے حروفو دی، نو شارح ددے حروفو د پاره درے نومونه ذکرکړیدی، اول نوم دِدے نومونونه دا ده، چه دوی ته حروف المعانی وائی ۔ او وجه د تسمیه ظاهره ده، ځکه چه لپاره د هر واحد د دِے حروفو جدا جدا معنی ګانے دی، ځکه چه "ان" ته راځی لپاره د شرطیت نو معنی د ان شرطیت ده، او معنی د لم نفی ده، او معنی د لما هم نفی ده، او معنی د لامِ امر طلب

د فعل ده او معنی د لاءِ نهی طلب د ترک د فعل ده.

او دویم نوع شارح لپاره د دې حروفو دا ذکرکړې ده چه دې حروفو ته حروف الجوازم وائي او وجه د تسمیه ظاهره ده ځکه چه جوازم جمع د جازم ده او دا حروف هم جزم کوي فعل مضارع ته نو هر واحد د دوئ نه جازم وي. او مجموعه جوازم دي.

او دریم نوع شارح د دې حروفو دپاره حروف النقل ذکرکړې ده. او وجه د تسمیه دا ده چه دې حروفو ته ځکه حروفِ نقل وائي، ځکه چه دا حروف هم فعل نقلوي د یو حالت نه بل حالت ته، په دې شان چه دا ان معنی دَ فعل ـ نقل کوي د یو حالت نه بل حالت ته په دې شان چه دا ان چه په کوم فعل بانې ورداخل شي، نو هغه فعل نقل کوي د یقین نه شک ته مثال لکه ان تضرب نو دا تضرب فعل بغیر د ان نه په یقین دلالت کوي په اعتبار د ظاهر سره. او چه کله ور بانې دا ان ور داخل شو نو بیا دلالت کوي په شک بانې. او د لم او د غه شان لما معنی د فعل نقل کوي. دَ مضارعت نه ماضي توب ته، یعنې چه کله دوئ داخل شي په فعل مضارع بانې نو دوئ معنی د دې فعل نقل کوي د مضارع توب نه ماضي توب ته، نو معنی د لم یضرب او لما یضرب دا ده، چه وهل نه دي کړي په ماضي زمانه کښې. او همدارنګ دا لم او لا معنی د فعل نقلوي د اثبات نه نفي ته، او دا لامِ امر او همدارنګ لاءِ نهي فعل نه نقلوي د اخبار نه انشاء ته ځکه چه یضرب او تضرب اخبار ده. او چه کله ور بانې لام امر داخل شي لکه لیضرب او یا ور بانې لاءِ نهي داخل شي لکه لا تضرب نو ور نه انشاء جوړیږي.

او دا تامل لفظ چه شارح ذکرکړې ده په خپل عبارت کښې، په دې کښې اشاره ده، تفصیل د نقل ته، چه دا حروف فعل نقل کوي د یو معنی نه بلې معنی ته.

تنبیه:ـ را ده کړه دا خبره چه د حال دپاره دوه معنی ګانې دي. اوله معنی لغوي د حال ده. نو حال په لغت کښې عبارت ده له نهایت د ماضي او د بدایت د مستقبل نه یعنې حال اخري اجزاء د ماضي او اولي اجزاء د مستقبل ته وائي. او دویمه معنی اصطلاحي د حال ده، نو حال په اصطلاح کښې عبارت ده له دېنه چه "الحال هو مایبین هیئة الفاعل او المفعول به او کلیهما" یعنې حال عبارت ده له هغه لفظ نه چه هغه به بیانوي هیئت د فاعل فقط مثال لکه "جاء ني زید راکبا" نو دا راکبا حال ده او دا بیانوي هیئت د فاعل چه هغه زید ده. او یا به بیانوي هیئت د مفعول به فقط

مثال لکه "ضربت زیدا مشد ودا" نو دا مشد ودا حال ده او دا بیانوی هیئت د مفعول به چه هغه زید ده. او یا به بیانوی هیئت د فاعل او د مفعول به دواړو، مثال لکه "لقیت زیدا راکبین" نو دا راکبین حال ده او دا بیانوی هیئت د فاعل چه "تُ" ضمیر متکلم ده او بیانوی هیئت د مفعول به چه هغه زید ده. او دریمه معنی عرفی د حال ده، نو معنی عرفی د حال دا ده چه حال صفت ته وائی. او په دې مقام کښې چه حال ذکر ده په عبارت د شارح کښې چه "لانها تنقل المضارع من حالٍ الی حالٍ" مراد ورنه دریمه معنی ده. نو تقدیر د عبارت داسې کیږي "لانها تنقل المضارع من صفةٍ إلی صفةٍ" یعنی دا حروف جازمه مضارع نقلوی د یو صفت نه بل صفت ته، چه هغه صفات مضارع توب او ماضی توب دی، او نفی او اثبات دی او اخبار او انشاء دی او یقین او شک دې.

قوله: بے دغا: ای بلاشک او ده لمجرد القافیة الخ: زده کړه دا خبره چه "دغا" فارسی لفظ ده او خپله معنی یې مکر او حیله ده او شارح چه ددې دغا تفسیر په "بلاشك" سره کړیده. نو دا بلاشک معنی لغوی ددغا نه ده بلکه دا بلاشک حاصل د معنی ددغا ده، نو شارح ددغا حاصل د معنی ذکر کړیده. او غرض د ناظم له راوړلو ددغا لفظ نه مجرد قافیه برابرول دی. او د قافیه د معنی په باره کښې دوه قوله دا نقل دی. اول قول دا ده چه قافیه عبارت ده له هغه حرف نه چه هغه واقع وی په آخر د بیت کښې او متحرک وی، نو که آخری حرف متحرک وه نو هغه به قافیه وی. او که آخری حرف ساکن وه نو چه له دې ساکن نه مخکښې کوم حرف متحرک وی هغه به قافیه وی.

او دویم قول دا ده چه قافیه عبارت ده د هغه کلمه نه چه هغه واقع دی په آخر د بیت کښې.

النوع السّابع

شعر

من متی مهما وانی ای اذ ما حیثما!

جازم فعلند این نه اسم با ما اینما!

هر کله چه مصنف فارغ شو له بیان د انواعو د حروفو عامله نه، نو شروع یې وکړه په بیان د انواعو د اسماءِ عامله کښې. نو دا مخکښې چه شپږ نوع ذکر شوې، دا انواع د حروفو عامله دی. او داومه نوع او اتمه نوع او نهمه نوع د اسماءِ عامله

دی او په دے وړه نوع کښې نهٔ اسمونه ذکر دی، چه دے اسماؤ ته اسماء الجوازم هم وائی او وړ ته اسماء الاستفهام هم وائی او وړ ته کلمات دشرط هم وائی. اول اسم په دے اسماؤ کښې من دہ او دویم اسم متی دہ او دریم اسم مهما دہ او څلورم اسم انی دہ او پنځم اسم ای دہ او شپږم اسم اذما دہ او ووم اسم حیثما دہ او اتم اسم مادہ، او نهم اسم اینما دہ.

او دد ے مخکښې شعر معنی او ترجمه دا دہ چه من او متی او مهما او انی او ای او اذما او حیثما جزم ورکوی فعل ته سره د ما او اینما نه، یعنی دا غونې چه نهٔ اسمونه جوړیږی، دوی جزم ورکوی فعل مضارع ته.

تشریح:- ز ده کړه دا خبره چه اول اسم له دے اسماء نه من دہ او دا من استعمليږی لپاره د ذوی العقولو، یعنی د من اطلاق به په هغه شی باندې کیږی شی چه هغه خاوند دعقل وی یعنی خاوند دعلم وی په اشیاء باندې لکه انسان او فرشته او جن نو دا دریواړه د ذوی العقول نه دی، خاوندان دعلم دی، مثال لکه من یکرمنی اکرمه" نو له دے من نه مراد هغه څوک دی چه ذوی العقول وی لکه زید او عمرو او بکر او خالد او دا سے نور افراد د انسان. نو معنی د دے مخکښې کلام دا دہ چه ان یکرمنی زید اکرمه وان یکرمه عمرو اکرمه. او دد ے من په مقابله کښې ما دہ. په دے شان چه دا مستعمليږی لپاره د غیر ذوی العقول یعنی د ما اطلاق به په هغو شیانو باندې کیږی چه هغوی خاوندان د علم نه وی مثال لکه ما تشتر اشتر نو مراد له ما نه هغه اشیاء دی په دے مخکښې مثال کښې چه هغوی به غیر ذوی العقول وی لکه فرس او ثوب وغیر ذلك. نو معنی به د دے مخکښې کلام داوی، چه ان تشتر الفرس اشتر الفرس وان تشتر الثوب اشتر الثوب.

نو لکن دا قاعده اکثریه دہ چه دا من مستعمليږی په ذوی العقول کښې او دا ما مستعمليږی په غیر ذوی العقول کښې. او قاعده کلیه نهٔ دہ ځکه چه په بعضے مواضعو کښې من په غیر ذوی العقولو کښې مستعمليږی، مثال لکه دا قول دالله تعالیٰ" ومنهم من یمشی علی بطنه" نو په دے ایت کښې مراد له "من" نه ما دہ او دا د غیر ذوی العقولو نه دہ. او په بعض مواضعو کښې دا ما مستعمليږی په ذوی العقولو کښې مثال لکه دا قول دالله تعالیٰ: "والسماء وما بناها" نو په دے ایت کښې مراد له ما نه الله تعالیٰ دہ. او الله تعالیٰ د علم خاوند دے.

اوبل اسم له دے اسماءِ شرطونه "ای" ده او دا ای هم په شان د من مستعمليږي په ذوي العقولو کښې، او له دے ای سره اضافت لازم دے چه دا ای به ضرور مضاف وي شئي آخرته، او بغير د اضافت نه نه مستعمليږي مثال لکه "ايهم يضربني اضربه" نو په دے مثال کښې دا ای مضاف ده "هم" ضميرته او مراد وړ نه ذوي العقول دي لکه زيد او عمرو او داسے نور افراد د انسان. نو معنى د عبارت دا ده چه ان يضربني زيد اضربه وان يضربني عمرو اضربه.

اوبل اسم له دے اسماءِ شرطونه "متٰى" ده او دا راځي لپاره د زمان يعني دا متى دلالت کوي په زمانه باندې مثال لکه متى تذهب اذهب نو په دے مثال کښې دا متى لپاره د زمان ده په دے شان چه دلالت کوي په زمانه باندې، نو معنى د دے کلام دا ده چه "ان تذهب اليوم اذهب اليوم وان تذهب غدا اذهب غدا" نو دا يوم او غد معنى ګانے دي لپاره د متى او دا يوم هم زمانه ده او غد هم زمانه ده.

اوبل اسم له دے اسماءِ شرطونه "اينما" ده. او دا راځي لپاره د مکان يعني په مکان باندې دلالت کوي مثال لکه "اينما تمش امش" نو په دے مثال کښې دا اينما دلالت کوي په مکان باندې چه هغه مکان عبارت ده له سوق او مسجد وغيره لک نه، نو معنى د کلام دا ده چه "ان تمش الى السوق امش الى السوق وان تمش الى المسجد امش الى المسجد".

اوبل اسم له دے اسماءِ شرطونه "انى" ده او دا هم راځي لپاره د مکان يعني دلالت کوي په مکان باندې مثال لکه "انى تکن اکن" نو په دے مثال کښې دا انى په معنى د مکان سره ده چه هغه مکان عبارت ده له بلد او له باديه نه، بلد معنى ښهر او باديه معنى بانډه. نو معنى د کلام دا ده چه ان تکن فى البلدة اکن فى البلدة و ان تکن فى البادية اکن فى البادية.

اوبل اسم له دے اسماءِ شرطونه "مهما" ده او دا مهما راځي لپاره د زمان يعني دلالت کوي په زمانه باندې مثال لکه "مهما تذهب اذهب" نو په دے مثال کښې دا مهما عبارت ده له زمانه، چه هغه يوم او غد ده. نو معنى د کلام دا ده چه ان تذهب اليوم اذهب اليوم وان تذهب غدا اذهب غدا.

اوبل اسم له دے اسماءِ شرطونه "حيثما" ده. او دا هم راځي لپاره د مکان يعني دلالت به کوي په مکان باندې، چه هغه مکان عبارت ده له بلده او قريه نه وغيره

مثال لکه حیثما تقعد اقعد نو په دې مثال کښې دا حیثما لپاره د مکان ده یعني دلالت کوي په مکان باندې، نو معنی د کلام دا ده چه ان تقعد فی البلدة اقعد فی البلدة وان تقعد فی القریة اقعد فی القریة.

او بل اسم له دې اسماءِ شرطونه "اذما" ده. او دا اذما مستعملیږي په غیر ذوي العقولو کښې لکه څنګه چه "ما" مستعملیږي په غیر ذوي العقولو کښې مثال لکه "اذ ما تفعل افعل"، نو په دې مثال کښې دا اذما په معنی د هغو اشیاء ده چه هغوئ به غیر ذوي العقول وي، یعني مراد به ترې نه هغه اشیاء وي چه هغه به خاوندان د عقل نه وي، لکه خیاطت او زراعت نو دا دواړه غیر ذوي العقول دي ځکه چه خیاطت هم یوه معنی مصدري ده او زراعت هم یوه معنی مصدري ده مثال لکه اذما تفعل افعل، نو په دې مثال کښې مراد له اذما نه خیاطت او زراعت دي، نو معنی د کلام دا ده چه ان تفعل الخیاطة افعل الخیاطة او ان تفعل الزراعة افعل الزراعة.

فائِده:- دا ده کړه د اخبره چه په اذما کښې اختلاف واقع ده په مابین د نحاتو کښې چه دا اذما اسم ده او که حرف ده. نو یو مذهب دا ده چه اذما حرف ده، لکه څنګه چه ان او لم او لما حروف دي، او معنی د شرطیت اداکوي. نو بنا په دې مذهب باندې دا اذما په حروفو جوازمو کښې داخل ده. نو بیا به دا حروفِ جوازم پنځه نه وي بلکه شپږ به وي، پنځه هغه چه په شپږمه نوع کښې ذکر دي، او شپږم حرف جازم به "اذما" شي. او دا اسماءِ شرط به بیا بناء په دې مذهب باندې نهه نه وي بلکه اته به وي چه هغوئ له دې اذما نه سوا هغه باقي اسماء دي.

او دوېم مذهب دا ده چه دا اذما اسم ده له اسماءِ شرطونه. نو بناء په دې مذهب باندې حروف جازمه پنځه دي چه په شپږمه نوع کښې ذکر دي او اسماءِ شرط نهه دي چه په ووما نوع کښې ذکر دي. او د مصنف په نیز د باندې او دغه شان د شارح په نیز د باندې دا دوېم مذهب مختار ده، چه اذما د اسماءِ شرطونه ده. نو له دې وجې نه دا اذما مصنف نه ده شمار کړې په حروف جازمه کښې بلکه دا یې شمار کړې په اسماءِ شرطو کښې. نو له دې وجې نه یې حروف جازمه پنځه ذکر کړې دي او اسماءِ شرطیه نهه ذکر کړې دي.

اعلم ان هذه الاسماء تجزم الفعل المضارع حال کونها مشتملة علی معنی ان الخ:

زده کړه داخبره چه وضع د فعل، لپاره د عمل شوي ده یعني فعل واضع وضع کړيده لپاره ددے چه عمل به کوي په شئ آخر کښې. او وضع د اسم شوي ده لپاره د معمولیت یعني واضع اسم وضع کړيده لپاره ددے چه دا به معمول وي لپاره د شئ آخر، نو اصل په فعل کښې عاملیت ده او اصل په اسم کښې معمولیت ده. نو له دے وجې نه فعل معمول نه واقع کیږي. مګر چه معمول واقع کیږي نو دا به له وجې د مشابهت د اسم نه معمول واقع شوے وي مثال لکه فعل مضارع چه دا معمول واقع کیږي چه په کوم وخت کښې خالي وي د نون د جمع مؤنثې نه او د نونِ تاکید نه، او عوامل په کښې عمل د رفع او د نصب او د جزم کوي. نو دا معمولیت ددے فعل مضارع له وجې د مشابهت د دے مضارع نه ده د اسم سره، په دے شان چه دا مضارع مشابه ده د اسم فاعل سره هم په حرکاتو کښې او هم په سکناتو کښې، نو له وجې ددے مشابهت نه مضارع معربه شويده او عوامل پکښې عمل د رفع او د نصب او د جزم کوي. او دا ماضي او امر حاضر هر کله چه دانه دي مشابه د اسم فاعل سره په مشابهت تامه سره. نو لکن په مشابهت ناقصه سره ورسره مشابه دي. چه هغه مشابهت دا ده، چه دا ماضي صفت واقع کیږي لپاره د نکره لکه د اسم فاعل چه صفت واقع کیږي لپاره د نکره، مثال لکه "مررت برجل ضرب" نو دا ضرب په دے مثال کښې صفت ده لپاره د رجل او دا رجل ورته موصوف ده. او لکه مررت برجل ضارب. نو دا ضارب صیغه د اسم فاعل ده. او صفت واقع شويده لپاره د رجل چه اسم نکره ده. نو دا مشابهت د ماضي ددے اسم فاعل سره مشابهت ناقصه ده. او امرِ حاضر هیڅ مشابهت نلري د اسم سره. نو له دے وجې نه چه د مضارع مشابهة کامله ده د اسم سره. او د ماضي او د امرِ حاضر ورسره مشابهت کامله نشته، نو ځکه دا مضارع معربه ده، او دا عوامل پکښې عمل کوي. او دا ماضي او امرِ حاضر مبني دي. او عوامل پکښې عمل نکوي. نو مضارع په دوه شیانو کښې مشابه ده د اسم سره اول شئ وقوع د صفت لپاره د نکره. او دویم شئ حرکات او سکنات دي، مثال لکه مررت برجل یضرب او مررت برجل ضارب، نو دا یضرب د ضارب سره هم په حرکاتو او سکناتو کښې مشابه ده، په دے شان، چه په ضارب کښې درے حرکته دي، او یو پکښې سکون. نو هم هغه رنګ په مضارع کښې هم درے حرکته دي، او یو پکښې سکون ده. او هم هغه رنګ دا یضرب فعل

مضارع صفت واقع شوی ده لپاره داسم چه رجل ده. لکه څنګه چه دا ضارب صفت واقع شوی ده لپاره د رجل. او هرکله چه وضع داسم لپاره ددے شوی ده چه دا اسم معمول وی او عامل به نه وی، نو اسم چه عمل کوی نو دا به لوجه دمشابهت د فعل نه عمل کوی لکه چه اسم فاعل له وجه دمشابهت د مضارع نه عمل کوی، او یا به له دے وجه نه وی چه دا اسم به متضمن وی معنی د فعل لره یعنی معنی به یے معنی د فعل وی لکه اسماء الافعال، چه دا اسماء دی خو لکن معنی د دوی د فعل ده نو له دے وجه نه دوی عمل کوی. (ویا به دا اسم عمل کوی له دے وجه نه چه دا اسم به متضمن وی معنی د حرف لره لکه دا اسماءِ شرط چه دوی عمل کوی له وجه د دے نه چه متضمن دی معنی د ان لره او "ان" حرف ده له حروفو جوازمونه، چه هغه معنی د ان سببیت د اول ده لپاره د ثانی یعنی دلالت کوی په دے خبره باندے چه دا اول فعل سبب ده لپاره د دویم فعل او دا دویم فعل وی ته مسبب ده مثال لکه ان تضرب اضرب نو دا ان دلالت کوی چه دا اول فعل چه ضرب د مخاطب ده سبب ده لپاره د دویم فعل چه ضرب د متکلم ده، نو دا اسماءِ شرط هم دلالت کوی په سببیت د اول لپاره د ثانی یعنی دا اسماءِ شرط دلالت کوی چه دا اول فعل سبب ده او دا دویم فعل وی ته مسبب ده مثال لکه "من تضرب اضرب" نو دا من اسم شرط ده او دا دلالت کوی په سببیت د فعل اول باندے چه ضرب د مخاطب ده لپاره د فعل ثانی چه ضرب د متکلم ده. نو دا اسماءِ شرط مشتمل دی په صیغه د اسم فاعل سره، او دا ان مشتمل ده په صیغه داسم مفعول سره. نو حکم د ان دا ده چه دا عمل کوی په دوه فعلونو کښ په دے شان، چه دوه فعلونو ته جزم ورکوی. نو دا اسماءِ شرط به هم جزم ورکوی، ځکه چه په مابین د مشتمل او د مشتمل کښ اتحاد وی په حکم کښ، نو دا ان حکم چه هرکله جزم ورکول دی دوه فعلونو ته، نو ددے اسماءِ شرطو به هم دا حکم وی چه جزم به ورکوی دوه فعلونو ته. نو هرکله چه دا من متضمن شو معنی د ان لره نو دا هم جزم ورکوی دوه فعلونو ته مثال لکه "من تضرب اضرب" او همدا رنګ دا متی هم متضمن ده معنی د ان لره نو دا هم جزم ورکوی دوه فعلونو ته لکه "متی تضرب اضرب".

ترکیب:- په عبارت د شارح کښ د من مثال ذکر ده چه من تضرب اضرب ده او د متی مثال ذکر ده چه متی تذهب اذهب ده. نو ترکیب ددے اول مثال داسے ده چه دا من اسم شرط ده، او په معنی د ان سره ده. او دا تضرب فعل ده ضمیر پکښ

مستتر دہ چہ لہ ھغہ نہ تعبیر کولے شي په انت سرہ ھغہ ورتہ فاعل دہ او مفعول بہ لپارہ ئ تضرب حذف شوبے دہ چہ ھغہ ضمیر د غائب دہ او راجع دہ من تہ نو تقدیر د عبارت داسے دہ چہ "من تضربہ" نو دا فعل چہ تضرب دہ سرہ د فاعل او سرہ د مفعول نہ چہ "ہ" ضمیر بارز دہ جملہ فعلیہ خبریہ فعل شرط دہ۔ اسم شرط سرہ د فعل شرط نہ مبتدا اِد جوړیږي۔ او دا اضرب فعل دہ او ضمیر پکښې مستتر دہ چہ لہ ھغہ نہ تعبیر کولے شي په انا سرہ ھغہ ورتہ فاعل دہ۔ او مفعول بہ د دے فعل حذف دہ چہ ھغہ ضمیر د غائب دہ او راجع دہ "من" تہ نو تقدیر د عبارت داسے دہ چہ "من تضربہ اضربہ" نو دا اضرب فعل سرہ د فاعل او سرہ د مفعول بہ نہ خپل نہ جملہ فعلیہ خبریہ کبرٰی لپارہ د مبتداء او مبتداء سرہ د خبر خپل نہ جملہ اسمیہ انشائیہ دہ۔

او ترکیب د دے مثال چہ متی تذھب اذھب دہ داسے دہ۔ چہ متی اسم شرط مفعول فیہ کبرٰی لپارہ د ورستہ فعل۔ او دا تذھب فعل دہ او ضمیر پکښې مستتر دہ چہ تعبیر ترے کولے شي په "انت" سرہ ھغہ ورتہ فاعل دہ۔ دا فعل سرہ د فاعل او سرہ د اسم شرط چہ ورتہ مفعول فیہ دہ جملہ فعلیہ انشائیہ شرط دہ، او دا اذھب فعل دہ او ضمیر پکښې مستتر دہ چہ تعبیر ترے کیږي په "انا" سرہ ھغہ ورتہ فاعل دہ دا فعل سرہ د فاعل خپل نہ جملہ فعلیہ جزاء کبرٰی لپارہ د شرط او شرط سرہ د جزاء نہ جملہ فعلیہ انشائیہ شوہ۔

وان لم تکن مشتملۃ علی معنی ان فلا تکون جازمۃ الخ: یعني دا اسماءِ شرط چہ عمل کوي، لہ دے وجہ نہ یے کوي۔ چہ دوئ مشتمل وي په معنی دان باندے، او کہ چرتہ دوئ مشتمل نشي په معنی دان باندے نو بیا دوئ عمل نشي کولے۔ بلکہ بیا بہ دوئ خالص اسماء وي بغیر د عمل نہ لکہ باقي اسماءِ جوامد مثال لکہ زید او عمرو وغیرہ، نو لکہ څنګہ چہ دا اسماءِ جامدہ عمل نشي کولے۔ نو دوئ ھم عمل بیا نشي کولے۔ لکہ د "من" چہ متضمن نشي معنی د شرط لرہ بلکہ خالص اسم موصول شي، نو بیا دا عمل نشي کولے ځکہ چہ علت لپارہ د عمل کولو تضمن دہ معنی دان لرہ۔ او په من اسم موصول کښې دا علت منتفي دہ۔

فانقیل: کیفما و اذا ایضا تجزمان المضارع الخ: نہ دہ کړې دا خبرہ چہ یو شاذ دہ او بل نادر دہ او بل ضعیف دہ۔ فرق د دے دریوارو په مابین کښې دا دہ، چہ شاذ عبارت دہ لہ ھغہ شي نہ چہ ھغہ مخالف وي لہ قیاس او قاعدہ نہ، خو لکن په

کلام د عربو کښې به موجود وي په طریقے د کثرت سره. او نادر هغه ته وائي چه موافق القیاس وي خو لکن وجود به ئے کم وي په کلام د عربو کښې یعنې په کلام فصیح کښې به په طریقه د قلت سره موجود وي. او ضعیف عبارت دے له هغه شي نه چه مخالف القیاس هم وي او د ډیره ځنا اثر هم نه وي په کلام د عربو کښې یعنې نه به قیاس او قاعده د دے تائید کوي او نه به دے موجود وي په کلام د بلغاء کښې. او بیا د اشاذ تحلیل کولے کیږي په دوه قسمه دے اول قسم شاذ مقبول دے او دویم قسم شاذ مردود دے. شاذ مقبول هغه ته وائي چه مخالف القیاس وي او مقبول وي په نیز د بلغاء او فصحاء. او شاذ مردود عبارت دے له هغه شاذ نه چه هغه به مخالف القیاس هم وي او مقبول به هم نه وي په نیز د بلغاء بلکه دوي به رد کړے وي. نو حاصل د هغه اعتراض چه شارح په فانقیل سره ذکر کړیدے دا دے، چه معترض وائي چه، لکه ځنګه چه دا مخکښې اسماء جزم ورکوي مضارع ته نو دغه شان دا کیفما او اذا هم جزم ورکوي مثال د کیفما لکه کیفما تذهب اذهب نو په دے مثال کښې دا اول فعل چه تذهب دے صیغه د مخاطب مضارع دے او دا دویم فعل چه اذهب دے صیغه د مضارع متکلم دے او دا دواړه فعلونه مجزوم دي او جزم ورته کیفما ورکړے او مثال د اذا لکه اذا تقم اقم، نو دا تقم هم فعل دے صیغه د مضارع مخاطب دے او دا اقم هم فعل دے صیغه د مضارع متکلم دے، او دا دواړه فعلونه مجزوم دي او جزم ورته اذا ورکړے، نو هر کله چه دا کیفما او اذا جزم ورکوي فعل مضارع ته نو بیا چه مصنف دا دواړه هم په اسماءِ شرطو کښې ذکر کړي وے. ځکه چه دا دواړه هم اسماء دي او فعل مضارع ته جزم ورکوي. نو دا اسماءِ شرط غونیږ یوولس دي، نه هغه مخکښې او دوه دا کیفما او اذا. نو حصر د اسماءِ شرطو په نهو کښې باطل دے او له دے اعتراض نه شارح جواب ورکړیدے په دے عبارت سره.

قلنا ان الجزم بهما شاذ لم یجئ في کلامهم علی وجه الخ: حاصل د دے جواب دا دے چه شارح ورته وائي چه دا کیفما او اذا اګرچه فعل مضارع ته جزم ورکوي او رسته له دوي نه چه فعل مضارع واقع شي نو هغه به مجزوم وي خو لکن دا جزم ورکول په دے دوه اسمونو سره فعل مضارع ته شاذ دے یعنې خلاف القیاس دے. او په دے مخکښې اسماءِ شرطو سره جزم ورکول موافق القیاس دي نو له دے وجه نه چه په دے کیفما او اذا سره جزم ورکول شاذ دي نو دوي ئے ذکر نکړو په اسماءِ شرطو کښې. او وجه د شذوذ دا دے چه دا اسماءِ شرط چه عمل د جزم کوي په فعل مضارع

کېږي نو دا په هغو وخت کېږي کوم چه دوئ متضمن وي معنی دان شرطیه لره چه هغه سببیت د اول ده ثاني لره نو چه کله دا اسماء متضمن وي معنی دان لره چه شرطیت ده نو بیا دوئ عمل د جزم کوي په مضارع کېښ. او دا کیفما او اذا نشي متضمن کیدے معنی د شرطیت لره، هرچه عدم تضمن د کیفما ده معنی د شرطیت لره نو دا له دے وجه نه ده چه کیفما راځي لپاره د استواء، یعنی دلالت کوي په استواء او برابروالی د دوه شیانو په مابین کېښ. نو که چرته دا متضمن شي معنی د شرطیت لره نو لازم به شي مساوات او برابروالے په مابین د شرط او د جزاء کېښ لکه چه دا دویل شي چه کیفما تقرء اقرء نو چه دا کیفما متضمن شي معنی د شرط لره او بیا له دے وجه عمل د جزم وکړي په دے تقرء او اقرء فعلونو کېښ نو لازم به شي مساوات د شرط چه قراءت د مخاطب ده د جزاء سره چه هغه قراءت د متکلم ده او مساوات او برابروالے په مابین د دوه قراءتونو کېښ محال او متعذر ده نو هر کله چه دا کیفما نشي متضمن کیدے معنی د شرطیت لره نو بیا په دے سره جزم ورکول خلاف القیاس دي ځکه چه قیاسي قاعده دا ده چه جزم به هغه اسم شرط ورکوي چه په هغه کېښ علت د جزم موجود وي چه هغه تضمن ده معنی د شرط لره او چه په کوم اسم کېښ دا علت د جزم نه وي موجود نو هغه به عمل د جزم هم نکوي، ځکه چه انتفاء د علت مستلزم ده انتفاء د معلول لره نو چه په کیفما کېښ دا علت نشته چه تضمن ده نو په دے سره دا جزم ورکول هم نه دي پکار.

او دا عمل د جزم په اذا کېښ له دے وجه نه شاذ ده چه دا اذا هم نه ده متضمن معنی د شرط لره چه دا شرطیت معنی دان حرف شرط ده ځکه چه دا کلمات د شرط دلالت کوي په ابهام او عدم جزم بانسے او دا اذا دلالت کوي په قطع او یقین باندے نو که چرته دا اذا متضمن شي معنی د شرط لره نو لازم به شي په دے اذا کېښ اجتماع د متنافیینو چه هغه یقین او ابهام ده او دا متعذر او محال ده نو دا اذا نشي متضمن کیدے معنی د شرط لره نو دا جزم ورکول په دے سره شاذ ده، ځکه چه علت لپاره د جزم تضمن ده معنی د شرط لره او دا په اذا کېښ نه ده موجود، نو هر کله چه دا علت نه ده موجود، بایده چه دا معلول چه جزم ورکول دي فعل مضارع ته دا هم نه وي موجود. او حال دا ده چه دا جزم په اذا کېښ موجود ده. نو خلاف القیاس او شاذ ده. نو هر کله چه په دے کیفما او په اذا سره جزم

ور کوّل فعل مضارع ته شاذ دی نو دوئ ځکه مصنف ذکر نکړه په اسماءِ شرطو کښې.

واعلم انها اسماء لا افعال ولا حروف وعدد ها تسعة الخ: غرض دشارح په دے عبارت نقل کښې بیان د امور وخمسه ده. اول امرله دے امور وخمسه نه بیان د دواتو دے اسماءِ شرط ده نو بیان د ذواتو دے شارح کړے دے په دے عبارت نقل سره چه واعلم انها اسماء لا افعال ولا حروف. یعنی ذات د دے کلماتو اسم ده په دے شان چه له نوع د اسم نه دی په اعتبار د ذواتو نقلو سره اسماء دی. او په اعتبار د ذواتو نقلو سره افعال هم نه دی او حروف هم نه دی.

او دویم امرله دے امور وخمسه نه عدد د دے کلماتو د شرط ده نو بیان د عدد د دے کلماتو شارح کړے دے په دے عبارت نقل سره چه "وعددها تسعة" یعنی عدد د دے اسماء نهه دی یعنی دا کلمات د شرط غونې نهه کلے دی. او دریم امرله دے امور وخمسه نه عمل د دے کلماتو د شرط ده. نو بیان د عمل د دے کلماتو د شرط شارح کړے دے په د عبارت نقل سره چه "وعملها الجزم موقوفا علی الاشتمال" یعنی عمل د دوئ جزم ورکول دی، فعل ته خو لکن دا جزم ورکول موقوف دی تر اشتمال د دے کلماتو پورے په معنی د ان باندې چه هغه شرطیت ده یعنی دا کلمات د شرط عمل نکوی د جزم په طریقے د اطلاق سره بلکه دا عمل د دوئ موقوف ده تر اشتمال د دوئ پورے په معنی د شرطیت باندې. یعنی چه دا کلمات د شرط کله مشتمل وی په معنی د شرطیت باندې چه دا شرطیت معنی د ان شرطیه ده نو بیا دا کلمات عمل د جزم کوی، او کله چه دوئ نه وی مشتمل په معنی د شرطیت باندې چه دا معنی د ان حرف شرط ده نو بیا دا کلمات عمل د جزم نکوی.

او څلورم امرله دے امور وخمسه نه محل د جزم د دے کلماتو د شرط ده، نو بیا نو محل د دے کلماتو ده او بل محل د جزم د دے کلماتو ده، نو محل د دے کلماتو مطلق فعل ده برابره خبره ده که ماضی وی او که مضارع وی او محل د جزم د دے کلماتو خاص فعل ده چه هغه مضارع ده خو لکن مضارع هم مطلقا نه بلکه هغه مضارع چه خالی وی د نون د جمع مونث نه او له نون د تاکید نه برابره خبره ده چه دا نون د تاکید ثقیله وی او که خفیفه. مثال لکه یضرب او یضربان او یضربون او یرمی نو دا څلور واړه مثالونه د فعل مضارع دی او په دے څلورو واړو کښې نون د جمع مؤنث هم نه ده موجود او نون د تاکید په کښې هم نه ده موجود. نو په دے څلورو واړه مثالونو کښې دا کلمات د شرط عمل د جزم کوی نو په دے اول مثال کښې په واسطه د جزم سره حرکت ورنه ساقط یږی،

او په دویم مثال کښې نون د تثنیه ساقطیږی او په دریم مثال کښې نون د جمع مذکر ساقطیږی او په څلورم مثال کښې حرف علت چه یاء ده ساقطیږی. نو په دې اول مثال کښې د اسقوط د حرکت علامه د جزم ده او په دې دویم مثال کښې د اسقوط د نون د تثنیه علامه د جزم ده او په دې دریم مثال کښې د اسقوط د نون د جمع علامه د جزم ده او په دې څلورم مثال کښې د احذف د یاء علامه د جزم ده. نو نسبت په مابین د مدخول د دې کلماتو د شرط کښې او په مابین د محل د دې کلماتو د شرط کښې عموم خصوص مطلق ده په دې شان چه مدخول د دې کلماتو اعم مطلق ده او محل د جزم د دې کلماتو اخص مطلق ده او نسبت د عموم خصوص مطلق د دوه ماده غواړي یوه ماده اجتماعي چه په هغې کښې به دا مدخول او محل د جزم جمع وی او یوه ماده افتراقي غواړي چه په هغې ماده کښې به دا اعم مطلق چه مدخول ده موجود وی بغیر د اخص مطلق نه، نو ماده اجتماعي په دې مقام کښې مضارع ده خولکن په دې شرط چه خالي به وی د نون د جمع مؤنث او د نون تاکید نه مثال لکه یضرب، نو دا یضرب ماده اجتماعي ده ځکه چه دا هم مدخول ده لپاره د دې کلماتو د شرط او هم محل د جزم د دوئ ده. او ماده افتراق ماضي ده په دې شان چه دا مدخول ده لپاره د دې کلماتو د شرط په دې شان چه دا کلمات د شرط په ماضي باندې داخلیږی، او محل نه ده لپاره د دې کلماتو د شرط خولکن دا مضارع چه محل د جزم ده نو دا محل د جزم لفظي ده او ماضي محل نه ده لپاره د جزم لفظي اګرچه محل ده لپاره د جزم محلي، نو دا نسبت د عموم خصوص مطلق چه ده دا په مابین د مدخول د دې کلماتو د شرط کښې ده او په مابین د محل د جزم لفظي د دې کلماتو کښې. او هغه چه نسبت په مابین د مدخول او د مطلق محل د جزم کښې ده برابره خبره ده که محل د جزم لفظي وی او که محل د جزم محلي وی د مساوات ده په دې شان چه کوم شئ مدخول د دې کلماتو ده نو هغه به محل وی لپاره د مطلق جزم د دې کلماتو.

او پنځم امر له دې امورو خمسه نه بیان د اسماء او د نوعونو د دې کلماتو د شرط ده نو شارح د دې کلماتو د پاره دری نوعونه ذکر کړی دی اول نوع دا ده چه دې کلماتو ته اسماء جوازم وایي، او وجه د تسمیه دا ده چه دوئ ته ځکه اسماء جوازم وایي، ځکه چه جوازم جمع د جازم ده او جازم معنی ده جزم ورکوونکې او دې اسماء ته ځکه جوازم وایي چه دا جزم ورکوی فعل مضارع ته، نو دې کلماتو ته چه جوازم وایي نو دا تسمیه د مؤثر

دا په دا سې اسم سره چې هغه مشتق ده له اثر د دې مؤثر نه ځکه چې دا کلمات عمل د جزم کوي نو دا کلمات مؤثر دي او دا جزم یو اثر ده. او جوازم جمع د جازمه ده او دا جازم صیغه د اسم فاعل ده او دا مشتقه شوې له جزم نه ده نو دا کلمات مؤثر دي او دا جزم ورته اثر ده او دا جوازم یو اسم ده چې مشتق شوېده له دې اثر نه چې هغه اثر جزم ده، نو دې کلمانو ته جوازم ویل تسمیه د مؤثر ده په اسم مشتق من الاثر سره او دوېم نوع لپاره د دې کلمانو شارح دا ذکرکړېده چې دوئ ته اسماء الاستفهام وایي او وجه د تسمیه ظاهره ده په دې شان چې دا کلمات راځي لپاره د استفهام نو ځکه وېل ته اسماء الاستفهام وایي. او دریم نوم شارح د دوئ د پاره "کلمات الشرط والجزاء" ذکرکړېده او وجه د تسمیه دا ده چې دوئ ته ځکه اسماء الشرط والجزاء وایي. چې دوئ هم راځي لپاره د شرط او جزاء په دې شان چې دوئ دلالت کوي په دې خبره باندې چې دا یو فعل شرط ده او هغه بل ورته جزاء ده.

قوله باما اینما الباء بمعنی مع ای مع ما واینما الخ: زده کړه دا خبره چې دا باء چې ذکره په باما اینما کښې دا په معنی د مع سره ده. نو معنی د عبارت دا ده چې دا محکښې کلمات سره د ما نه او سره د اینما نه دا قول بجزم ورکوي فعل مضارع ته، او شارح لپاره د تائید د دې چې باء راځي په معنی د مع سره یو شعر د فارسۍ ذکرکړېده.

سه شعر: خورده همان که بیاران خوری!

خاک برآن خورده که تنها خوری!

نو په دې لفظ د بیاران کښې چې باء ذکرده دا لپاره د معیت ده یعنی په معنی د مع سره ده نو معنی د بیاران "مع یاران" ده. او د دې شعر ترجمه دا ده چې خوراک هغه بهتر ده چې سره د یارانو وکړې شي. او خاورې دې شي په هغه خوراک باندې چې هغه بغیر د یارانو نه وخوړل شي.

النوع الثامن

(شعر)

نوع هشتم ناصب اسم منکر چار اسم!

نصب بر تمیز باشد آن منکر هر کجا!

زده کړه دا خبره چې اتم نوع له انواعو د عواملو سماعیه نه په بیان د هغه اسماء عامله کښې ده چې هغوئ عمل کوي په اسم نکره کښې د نصب، په دې شان چې دوئ په اسم نکره ته نصب ورکوي. او نصب د دې اسم نکره به بناء وي په تمیز باندې

په دې شان چه د ااسم نکره به منصوب وي او تميز به وي لپاره د شئ اخر او د اخلور اسمونه دي چه اسم نکره ته نصب ورکوي اول اسم په دې خلورو اسمونو کښې اسم عدد ده، چه د اعبارت ده له "احد عشر" نه نيولې تر تسعة وتسعون پورې چه ديته عدد اوسط هم وايي، نو د اعدد د اوسط اول اسم ده په دې خلورو اسمونو کښې چه اسم نکره ته نصب ورکوي. او دوېم اسم په دې خلورو اسمونو کښې "کم" ده. او دريم په ديکښې "کاين" ده او خلورم په ديکښې "کذا" ده. مثال د اول اسم لکه "احد عشر رجلا" نو د ارجل اسم منکر ده او ديته احد عشر نصب ورکړی ده بنا په دې بانډې چه د ارجلا تميز ده لپاره د دې احد عشر. او مثال د دوېم اسم لکه کم رجلا عندك؟ نو په دې مثال کښې د ارجلا اسم منکر ده او دې کم ورته نصب ورکړی ده بناء په دې بانډې چه د ارجلا تميز ده لپاره د دې کم. او مثال د دريم اسم لکه کاين رجلا عندك. نو په دې مثال کښې هم د ارجلا اسم منکر ده او ديته کاين نصب ورکړی ده، بناء په دې بانډې چه د ارجلا تميز ده لپاره د کاين. او مثال د خلورم اسم لکه کذا رجلا عندك، نو په دې مثال کښې د ارجلا اسم منکر ده او دې کذا ورته نصب ورکړی ده. بنا په دې بانډې چه د ارجلا تميز ده لپاره د کذا.

او معنی او ترجمه د دې مخکښې شعر دا ده چه اتمه نوع هغه نوع ده چه اسم منکر ته نصب ورکوي. او د اعوامل چه نصب ورکوي اسم منکر ته خلور اسمونه دي او د ااسم منکر به منصوب وي بناء په تميز بانډې په هره ماده کښې.

،،،،، شعر ،،،،

اولين لفظِ عشر باشد مرکب با احد!

هم چنين تا تسع وتسعين مي شمر اين حکم را!

معنی او ترجمه د دې شعر دا ده چه اول په دې خلورو اسماؤ کښې چه نصب ورکوي اسم منکر ته لفظ د عشر ده چه مرکب کړې شي د لفظ د احد سره نو د انفس عشر نصب نشي ورکولې اسم ته بلکه چه کوم اسم چه وروسته له دې عشر نه واقع وي مجرد وي خو لکن چه د اعشر کله مرکب شي د لفظ د احد سره او ورنه احد عشر جوړ شي نو بيا وروسته اسم منکر ته نصب ورکوي. او هم دا رنګ د احکم شمار کړه تر تسعة و تسعون پورې يعني د احد عشر نه نيولې تر تسعة وتسعون پورې د ااسماءِ عدد چه ديته عدد اوسط وايي نصب ورکوي اسم منکر ته.

اعلم ان هذا النوع مشهور باسماءِ العدد لاشتمالها الخ: زده کړه د اخبره چه دا

عدد دہ چہ جمع یے اسماءِ عدد راځي۔ او یو نفس عدد دہ۔ نو تعریف د اسماءِ عدد دا دہ چہ "اسماء العدد ما وضعت لکمیة احادِ الاشیاءِ" یعنی اسماءِ عدد عبارت دہ لہ هغو اسماءنہ چہ هغوی بہ وضع وی پیارہ د مقدار د احادو د اشیاءُ یعنی دلالت بہ کوی پہ مقدار د افرادو د شی بانـدِ چہ هغہ احاد الاشیاء عبارت دی لہ معدودا تو نہ مثال لکہ ثلاثة رجال، نو دا ثلاثة اسم عدد دہ او د او ضع دہ پیارہ د مقدار د احادو او افرادو د شی چہ هغہ رجل دہ پہ دِے شان چہ دا دلالت کوی پہ دریو احاد او افرادو د رجل بانـدِ۔ آو تعریف د عدد دا دہ چہ "العدد هی الکمیة المتالفة من الوحدات" یعنی عدد عبارت دہ لہ هغہ مقدار نہ چہ مرکب وی او مؤلف وی لہ وحداتو نہ لکہ درے نو دا درے عدد دہ ځکہ چہ دا مرکب دہ لہ وحداتو نہ چہ هغہ درے افراد دی نو بناء پہ دِے تعریف بانـدِ واحد نہ داخلیږی پہ عدد کښِ ځکہ چہ واحد مؤلف نہ وی لہ وحداتو نہ بلکہ دے پخپلہ واحد وی۔ او کہ چرتہ تعریف د عدد دا سے او شی چہ "العدد ما یقع بہ مراتب العدد" یعنی عدد عبارت دہ د هغہ شی نہ چہ پہ هغہ بانـدِ ے واقع وی مرتبہ د عدد، نو بیا دا واحد داخل دہ پہ عدد کښِ ځکہ چہ دا واحد هم شے دے چہ پہ دۀ واقع شوید ہ یو مرتبہ د عدد چہ هغہ اولہ مرتبہ دہ۔ او بیا دا عدد پہ خپل کورکښِ پہ درے قسمہ دہ۔ اول قسم عدد زائد دہ او دویم قسم عدد ناقص دہ او دریم قسم عدد مساوی دہ۔ عدد زائد عبارت دہ د هغہ عدد نہ چہ مجموعہ کسور د هغہ زیات وی لہ دِے عدد نہ او کسور عبارت دی لہ نصف او ثلث او ربع او خمس او سدس او سبع او ثمن او تسع او عشر نہ نو چہ د کوم عدد د اکسور جمع کړے شی او هغہ زیات شی لہ دِے عدد نہ چہ د اکسور د کوم عدد دوی۔ مثال د دِے عدد زائد لکہ اثنی عشر یعنی دولس ۱۲ نو د دِے نصف شپږ۔ دی او ثلث څلور دی او ربع درے دی او سدس دوہ دی۔ او مجموعہ د شپږ و او د څلورو او د دوو پنځلس راځی نو دا مجموعہ د کسورو زیات ہ شوہ پہ اصل عدد بانـدِ، ځکہ چہ اصل عدد دولس ۱۲ دہ او مجموعہ د کسورو پنځلس دہ۔ او عدد ناقص عبارت دہ لہ هغہ عدد نہ چہ مجموعہ د کسور و یے ناقصہ وی د اصل عدد نہ مثال لکہ "اربعہ" نو د دِے اربعہ نصف اثنان دی۔ او ربعہ یے واحد دہ۔ او دا مجموعہ د اثنان او د واحد درے جوړیږی نو مجموعہ د کسورو ناقصہ دہ د اصل عدد نہ، ځکہ چہ اصل عدد څلور دہ۔ او مجموعہ د کسورو درے دہ۔ آو عدد مساوی عبارت دہ،

دَ هغه عدد نه چه مجموعه د کسورو د هغه مساوي وي د اصل عدد سره مثال لکه شپږ نو دا شپږ عدد مساوي ده ځکه چه نصف د شپږو درے دی او ثلث د شپږو دوه دی او سدس د شپږو یو ده او دا درے او دوه او یو چه سره جمع شي نو له مجموعه نه بیرته شپږ جوړیږي، نو دا مجموعه د کسورو مساوي ده د اصل عدد سره آو بیا دا عدد په نحیل کورکښ په دوه قسمه ده اول قسم عدد اقل ده او دا عبارت ده د واحد نه تر عشر پورے. او دویم قسم عدد اوسط ده او دا عبارت ده له احد عشر نه نیولے تر تسع وتسعون پورے. او دریم قسم عدد اکثر ده او دا عبارت ده له مائة نه تر غیر نهایت پورے.

او د دے اسماءِ عدد نه چه کوم اسم منکر وي وسته ذکر وي هغه ورته تمیز وي، نو په عددِ اقل کښ پیاره د واحد او پیاره د اثنان تمیز نشي ذکر کولے بلکه د واحد او اثنان تمیز ونه ذکر وي او واحد او اثنان پخپله ذکر نه وي نو واحد رجل نشي ویلے بلکه رجل ویلے شي فقط او اثنان رجلان نشي ویلے بلکه رجلان ویلے شي فقط او د ثلثة نه نیولے تر عشرة پورے د دے عددِ اقل د پیاره تمیز ذکر کیږي لکه ویلے شي ثلاثة رجالٍ او عشرة رجالٍ، نو د دے عدد اقل تمیز به مجرور او جمع وي. او وجه د جمعیت او مجروریت وروسته را روانه ده. او تمیز د عددِ اقل به منصوب وي او مفرد به وي مثال لکه "احد عشر رجلاً" او تسعو وتسعون رجلاً. او تمیز د عددِ اکثر به مجرور او مفرد وي مثال لکه "مائة رجلٍ" نو دا رجل تمیز ده پیاره د مائة او مجرور هم ده او مفرد هم ده.

او شارح د اسم عدد د پیاره درے مرتبے ذکر کړیدی اوله مرتبه د اسماء العدد دا ده چه دوئ به مفردات وي او مرکب به نه وي د شئ اخر سره. نو دا اسماءِ عدد له واحد نه نیولے تر عشرة پورے دی. نو دا لس اسمونه دا سے اسماءِ عدد دی چه مفردات دی او مرکب نه دی د شئ اخر سره. او دویمه مرتبه د اسماءِ عدد دا ده چه دوئ به مرکب وي فقط یعنی ترکیب به په دوئ کښ موجود وي بغیر د عطف نه په واسطه د حرف عاطف سره. او دا اسماءِ عدد له احد عشر نه نیولی تر تسعة عشر پورے دی نو دا اسماءِ عدد مرکب دی بغیر د عطف نه ځکه چه په احد عشر کښ دا احد مرکب ده د عشر سره او په مابین د دے دواړو کښ عطف نشته ده موجود. او دریمه مرتبه د اسماءِ عدد دا ده چه دوئ به مرکب وي سره د عطف نه او دا

له احد وعشرون نه نيولی تر تسع وتسعون پورې ده. نو دا اسماءِ عدد مرکب دی سره له عطف نه ځکه چه دا احد وعشرون مرکب ده په دې شان چه احد مرکب شوی ده د عشرون سره او په مابين کښی حرف عاطف موجود ده. نو له دې اولې مرتبې نه چې له واحد نه ده تر عشره پورې شارح عدد اقل وئيلی دی او دې دويمې مرتبې ته چه له احد عشر نه نيولی تر تسعة عشر پورې ده شارح ورته عدد اوسط وئيلی دی. او دې دريمې مرتبې ته چې له احد وعشرون نه نيولی تر تسع وتسعون پورې ده شارح وړ ته عدد اکثر وئيلی دی. او دا اصطلاح د شارح مخالفه ده له اصطلاح د جمهورو نحاتونه، ځکه چه شارح له واحد نه نيولی تر عشر پورې دې عدد ته عدد اقل وئيلی دی. او له احد عشر نه نيولی تر تسعة عشر پورې عدد ته عدد اوسط وئيلی دی. او له احد وعشرون نه نيولی تر تسع وتسعون پورې عدد ته عدد اکثر وئيلی دی. په خلاف د جمهورو ځکه چه جمهورو له واحد نه نيولی تر عشره پورې دې عدد ته عدد اقل وائي. او له احد عشر نه نيولی تر تسع وتسعون پورې عدد ته عدد اوسط وائي. او له دينه په بره باندې چه کوم عدد موجود ده لکه مائة او الف تر غيره نهايت پورې، دې عدد ته عدد اکثر وائي.

فالمفردات لا تکون الا مضافة الی مميزها المجموع نحو ثلاثة رجال الخ:-

نو ده کوره دا خبره چه تميز د دې عدد د مفرد به مجرور وی په دې شان چه دا عدد مفرد به مضاف وی او دا تميز به وړ ته مضاف اليه وی. او دا جرد تميز به بناء په دې باندې وی چې دا تميز به مضاف اليه وی. او همدا رنګ دا تميز د دې عدد مفرد به جمع وی يا لفظاً لکه ثلثة رجال، نو په دې مثال کښی دا رجال تميز ده لپاره د ثلثة او مجرور او جمع ده لفظاً ځکه چه واحد لري چه هغه رجل ده. او يا به دا تميز معنیً جمع وی مثال لکه ثلثة رهط نو په دې مثال کښی دا رهط تميز ده، لپاره د ثلثة او دا رهط لفظاً جمع نه ده ځکه چه جمع لفظاً ديته وائي چه د هغه دپاره مفرد وی يا من لفظه او يا من غير لفظه مثال لکه رجال نو دا جمع لفظاً ده ځکه چه د دې دپاره مفرد من لفظه موجود ده چه هغه رجل ده او لکه نساء، چه دا هم جمع لفظاً ده. ځکه چه د دې دپاره هم مفرد، من غير لفظه شته چه هغه امرأة ده. او د دې رهط دپاره مفرد نشته نه من لفظه او نه من غير لفظه نو دا جمع لفظاً نه ده، او جمع ده معنیً ځکه چه جمع معنوی ديته وائي چه د هغې اطلاق

کیږي په مافوق د اثنینو باندې او دغه رهط اطلاق کیږي په ثلثه باندې تر عشرې پورې او دا عشره چه غایه ده داخله ده په مغیا کښې یعنی د دغه رهط اطلاق کیږي په ثلثه باندې هم او په هغه مقدار باندې هم اطلاق کیږي چه د ثلاثه او عشرې په مابین کښې وي او د غه شان په عشره باندې هم اطلاق کیږي. نو د ارهط جمع د معنی نو دا تمیز واقع کیږي لپاره د عدد اقل.

وانما ابتدء من الثلثة لان الواحد والاثنین الخ:- غرض د شارح په دې عبارت نقل کښې جواب ورکول دي د یو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا ده چه معترض وائي چه تاسو څنګه چه ثلاثه تر عشرې پورې عدد د مضاف ذکر کړه یعنی مضاف ذات دی، نو همدارنګ واحد او اثنان هم له قبیلې د دې عدد مضاف نه دي او په مضاف اتو کښې داخل دي. نو څه وجه ده چه تاسو په ذکر د تمیز کښې شروع وکړه د ثلاثه نه او د واحد او د اثنان د پاره تاسو تمیز ذکر نکړو. او ولې د دې دواړو نه تاسو شروع ونکړه په ذکر د تمیز کښې. او حاصل د جواب دا ده چه مونږ وایو چه دا شروع په ذکر د تمیز کښې څکه د ثلاثه نه وشوه او د واحد او د اثنان د پاره تمیز ذکر نکړے شو څکه چه د واحد او د اثنان سره تمیز نشي ذکر کولے په کلام د عربو کښې نو د او احد، او اثنان نه وي ذکر د تمیز سره بلکه د دوئ دواړو تمیز ذکر دي او دوئ نه وي ذکر نو داسے نشي ویلے چه واحد رجل او اثنان رجلان بلکه ویلې شي رجل او رجلان نو دا تمیز دونه د دوئ ذکر وي، او- دوئ دواړه متروک وي، نه وي ذکر. نو هر کله چه واحد او اثنان نشي ذکر کولے د تمیز سره بلکه د دوئ تمیز ذکر وي فقط نو څکه شروع وکړے شوه په ذکر د تمیز کښې د ثلاثه نه. او وجه لپاره د عدم د ذکر د واحد او د اثنان د خپل تمیز سره دا ده چه دا عدد چه ذکر کولے شي د تمیز سره دا لپاره د دے ذکر کولے شي، چه دا عدد د دلالت وکړي په مقدار باندې او دا تمیز دلالت وکړي په جنس باندې لکه مثال ثلاثة رجال کښې دا ثلاثه دلالت کوي په مقدار باندې او دا رجال دلالت کوي په جنس باندې. او په واحد او په اثنان کښې د دوئ تمیز هم په مقدار باندې دلالت کوي او هم په جنس باندې دلالت کوي. نو څکه د دوئ سره دا واحد او اثنان نشي ذکر کولے. څکه چه په دې وقت کښې د دوئ ذکر مستدرک او بلا فائده ده. نو دا رجل چه تمیز ده لپاره د واحد دلالت کوي په اعتبار د مادې خپلې سره په جنس باندې. او دلالت کوي په مقدار باندې

په اعتبار د هيئت نيول سره ځکه چې هر کله تميز مفرد ده نو د افراد دلالت کوي په وحدت باندې ځکه چې لفظ مفرد ده دلالت کوي په وحدت باندې. او همدا رنګ د ارجلان چې تميز دے لپاره د اثنان دلالت کوي په اعتبار د ماده سره په جنس باندې. او دلالت کوي په اعتبار د هيئت سره په مقدار باندې. ځکه چې د ارجلان تثنيه ده او تثنيه دلالت کوي په دوه باندې. نو هر کله چې د واحد او اثنان دا تميزونه هم دلالت کوي په جنس باندې او هم په مقدار باندې. نو د دے ذکر ته هيڅ حاجت نشته، بلکه په دے حالت کښې د دوي ذکر مستدرک او بلا فائده ده.

وانما اختاروا الاضافة فيها مع ان التميز من المنصوبات للتخفيف حيث يستعمل كثيرا الخ: غرض د شارح په دے عبارت نيول کښې جواب ورکول دي د يو اعتراض نه. حاصل د اعتراض دا ده چې معترض وائي چې په دے مفرداتو اسماء العدد کښې تاسو ولے اضافت غوره کړو په دے شان چې دا عدد مفرد تاسو مضاف کړے تميز نيول ته او دا تميز د دوي ته جر ورکوئ له وجه د اضافت نه. او حال دا ده، چې تميز د منصوباتو نه ده. نو اصل په تميز کښې نصب ده نه جر. نو بايد چې تاسو تميز د دے مفرداتو ته نصب ورکړے وے او اضافت د دوي تاسو نه وے کړے تميز ته. نو د دوي دے تميزاتو ته جر ورکول او د اسماءِ عدد چې مفردات دي ورته مضاف کول نه دي مګر مخالفت ده د اصل نه او مخالفت د اصل نه په قوت د خطاء کښې ده. او حاصل د جواب دا ده چې مونږ ورته وايو چې اګرچه اصل په تميز کښې نصب ده. او دے تميزاته جر ورکول او د مضاف اليه جوړول لپاره د دے اخر خلاف اصل ده خو لکن په دے عدد د مفرد کښې له وجه د يو ضرورت نه ورته جر ورکړے شوي ده او مضاف اليه جوړ کړے شوي ده. چې هغه ضرورت دا ده. چې دا عدد د مفرد کثير الاستعمال ده. نو له وجه د کثرت د استعمال نه تقاضا د خفت کوي. او خفت په کښې له وجه د اضافت نه حاصليږي. په دے شان چې دا عدد د مضاف کړے شي او د دوي تميزونو ته مضاف اليه کړے شي. نو له وجه د دے ضرورت نه په دے تميز د دوي کښې اضافت او جر غوره کړے شو. او له وجه د ضرورت نه عدول د اصل نه جائز ده غير اصل ته. او په دے مقام کښې هم عدول د اصل نه شوي ده غير اصل ته.

تنبيه:- نه ده کړه د اخبره چې تميز په لغت کښې تفريق ته وائي يعنې فرق ورکولو ته وائي. او په اصطلاح کښې عبارت ده له دينه چې: "التميز ما يرفع الابهام المستقر

عن ذات مذکورۃ او مقدرۃ" یعنی تمیز عبارت دہ له هغه اسم نه چه هغه ابهام لرے کوی یا د ذات مذکوره نه یعنی ابهام به لرے کوی د داسے ذات نه چه هغه به په لفظ د کلام کښې ذکر وی۔ او یا به ابهام لرے کوی د ذات مقدره نه یعنی د داسے ذات نه چه هغه به مقدر وی په لفظ د کلام کښې او مذکور به نه وی، مثال د هغه تمیز چه ابهام لرے کوی له ذات مذکوره نه لکه "عندی رطل زیتا" نو دا زیتا تمیز دہ او دا ابهام لرے کوی له ذات مذکوره نه چه هغه ذات رطل دہ۔ او دا رطل ذکر دہ په لفظ د کلام کښې او په دے رطل کښې ابهام موجود وه په دے شان چه رطل وائی نیم سیری ته نو دا نه وه معلوم چه دا د څه شی نیم سیرے دہ۔ او چه کله ووستہ ورنه دا زیتا ذکر شو نو تعین او شو چه دا رطل د غوړیو دہ یعنی د تیلو دہ۔ او مثال د هغه تمیز چه ابهام لرے کوی له ذات مقدرہ نه لکه "طاب زید نفسا" نو دا نفسا تمیز دہ او ابهام لرے کوی له ذات نه چه هغه ذات په دے کلام کښې مقدر دہ چه هغه شئ دہ نو تقدیر د عبارت داسے دہ چه "طاب شئ منسوب الی زید" نو دا شئ ذات مقدرہ دہ۔ او په دے کښې ابهام موجود دہ۔ او هغه ورنه په دے نفسا سره لرے کړے شو په دے شان چه هغه شئ نفس د زید دہ۔

او بیا دا اول قسم تمیز ابهام لرے کوی له مفرد مقدار نه چه هغه مفرد مقدار به کله عدد وی لکه "عشرون درهما" نو دا درهما تمیز دہ او دۀ ابهام لرے کړیدہ له عشرون نه او دا عشرون عدد دہ او مفرد دہ، ځکه چه مراد له مفرد نه په دے مقام کښې هغه دہ چه نسبت نۀ وی۔ نو دا مفرد مقابل د نسبت دہ۔ او کله به دا مفرد مقدار وزن وی لکه "عندی رطل زیتا" نو دے زیتا ابهام لرے کړیدہ له دے رطل نه او دا رطل مفرد دہ ځکه چه نسبت نۀ دہ او مقدار دہ۔ او کله به دا مقدار کیل وی مثال لکه "عندی قفیزان برا" نو دا برا تمیز دہ ابهام لرے کوی له دے قفیزان نه، او دا قفیزان کیل دۀ او مفرد دۀ ځکه چه نسبت نه دہ او مقدار دہ۔ او کله به دا مفرد مقدار مساحة وی لکه "ما فی السماءِ قدر راحةٍ سحابا" نو دا سحابا تمیز دہ او دا ابهام لرے کوی له مساحة نه چه هغه "قدر راحة" دہ۔ او کله به دا مفرد مقدار مقیاس وی۔ مثال لکه "علی التمرة مثلها زبدا" نو دا زبدا تمیز دہ او دے ابهام لرے کړیدہ له مفرد مقدار نه چه هغه مثل دہ۔ او دا مثل مقیاس دہ۔ نو لکن دا اول قسم د تمیز چه ابهام لرے کوی د مفرد مقدار نه، نو دا به په غالبو اوقاتو کښې وی۔ او په بعضو موادو کښې به ابهام

لرےکوی د مفرد غیرمقدار نه په دے شان چه دے تمیزچه دکوم شی نه ابهام لرے کړے وی هغه شی به مفرد وی او مقدار به نهٔ وی. مثال لکه خاتم حدیدا. نو دے حدیدا چه تمیز ده ابهام لرے کړیده له خاتم نه او خاتم اگرچه مفرد ده ځکه چه نسبت نهٔ ده خو لکن مقدار نه ده بلکه غیرمقدار ده. او دا تمیز په اکثرو موادو کښې منصوب وی او په بعضو موادو کښې مجرور هم راځی. نو چه په کومو موادو کښې مجرور وی نو د اجر به بناء وی په دے بانږ چه دا تمیز به مضاف الیه واقع شوے وی لپاره د هغه شی چه د ا- تمیز دے د پاره تمیز وی. مثال لکه ثلاثة رجال. چه دا رجال تمیز ده او مجرور ده او جر بناء ده په دے بانږ چه دا رجال مضاف الیه واقع شویده لپاره د ثلثة او ثلثة مضاف ده. نو چه کله دا تمیز مجرور وی نو عامل به ده کښې یا دا مضاف ده او یا حرف جر ده چه هغه مقدر ده په مابین د مضاف او مضاف الیه کښې بنا برا ختلاف او چه کله دا تمیز منصوب وی نو بیا عامل په دے تمیز کښې اسم تام وی یعنی دا نصب به ورته هغه اسم ورکړے وی چه کوم اسم تام ذکر وی مخکښې له دے تمیز نه مثال لکه "عندی رطل زیتا" نو دے زیتا ته نصب رطل ورکړیده چه دا رطل اسم تام ده. او تام کیدل د اسم عبارت ده له دینه چه دا اسم وګرزی په داسے حالت باندے چه د ا اسم په دے حالت نه نشی مضاف کیدے شئ اخر ته بلکه دا اضافت به سره د دے حالت نه متعذر وی. او تام کیدل د اسم راځی په پنځه امورو سره. اول امر تنوین ده. نو په دے تنوین سره هم اسم تام کیږی ځکه چه په اسم باندے کله تنوین داخل شی نو چه ترڅو پورے چه دا تنوین په کښې موجود وی، د دے اسم اضافت نشی کیدے. او بیا دا تنوین عام ده کله لفظا په دے اسم کښې موجود وی. لکه رطل زیتا نو په دے رطل کښې تنوین موجود ده لفظا نو دا رطل تام شویده په تنوین سره. او کله دا تنوین تقدیرا موجود وی په اسم کښې. یعنی دا تنوین به په لفظ د دے اسم کښې نهٔ وی بلکه مقدر به وی، مثال لکه "احد عشر درهما" نو دا درهما تمیز ده لپاره د احد عشر او تام شوے ده دا احد عشر په تنوین سره خو لکن هغه تنوین په لفظ کښې نهٔ ده موجود بلکه مقدر ده. او دویم امر له دے پنځو امورو نه چه په هغه باندے اسم تام کیږی نون د تثنیه ده. نو دے نون د تثنیه سره ځکه اسم تام کیږی ځکه چه کله دا نون د تثنیه په اسم کښې راشی نو بیا د دے اسم اضافت نشی کیدے شئ اخر ته مثال لکه "عندی منوان سمنا" نو دا سمنا تمیز ده لپاره د منوان او دا منوان اسم تام ده او تام شویده په دے

نون د تثنیہ سرہ۔ او دریم امرلہ دِے اموہ وخمسہ نہ چہ وہ بانِ اسم تامیزی نون دجمع
دہ مثال ئکہ طاب زیدون ابًا نو داابا تمیز دہ او زیدون وہ تہ نصب ورکہیدہ او دااسم
تام دہ تام شویدہ پہ نون دَجمع سرہ۔ او څلورم امرهغہ نون دہ چہ مشابہ دہ د
نون دجمع سرہ مثال ئکہ عندی عشرون درهمًا نو دادرهما تمیز دہ او دیتہ نصب عشرون
وہ کہیدہ۔ او داعشرون تام دہ پہ نون سرہ۔ او دانون دجمع نۂ دہ ځکہ چہ عشرون
جمع نۂ دہ۔ نولکن دانون مشابہ دہ د نون دجمع سرہ۔ او پنځم امرلہ هغہ اموہ ونہ
چہ پہ هغوئ سرہ اسم تامیزی اضافت دہ مثال ئکہ" علی التمرۃ مثلها زبدًا" نو دا
زبدًا تمیز دہ او دیتہ نصب دِے مثل وہ کہیدہ۔ او دامثل اسم تام دہ او تام شویدہ
پہ اضافت سرہ۔ او پہ دِے نون دجمع سرہ او همدارنګ پہ نون د عشرون سرہ، او
همدارنګ پہ نون د اضافت سرہ ځکہ اسم تامیزی، ځکہ چہ تمامیت د اسم عبارت
دہ لہ دینہ چہ د اسم ثابت او کائن شي پہ داسے حالت بانِ چہ ترڅو پورے پہ
دغہ حالت بانِ ثابت وی نو اضافت بہ یے نشي کیدے۔ نو دا اسم چہ ترڅو پورے
متلبس وی پہ نون دجمع بانِ او پہ هغہ نون بانِ چہ مشابہ وی د نون دجمع سرہ
او متلبس وی پہ اضافت بانِ؟ نو هرکلہ چہ د تمیز تعریف دا شوہ چہ دا هغہ
اسم دہ چہ ابهام لرے کوی یالہ "ذات مذکورہ نہ، او یالہ "ذات مقدرہ نہ نو پہ دِے
عبارت د شارح بانِ چہ" لا یذکران مع التمیز فلا یقال احد رجل واثنان رجلان
بل یذکر التمیز" معترض اعتراض کوی. حاصل د اعتراض دا دہ چہ دِے رجل
تہ تمیز ویئل لپارہ د اثنان باطل دی. ځکہ چہ تمیز ویئل بہ دِے د واړو تہ پہ هغہ
وخت کښِ صحیح وہ، چہ دوئ تمیز واقع شوی وے لپارہ د واحد او لپارہ د اثنان
او حال دا دہ چہ دا دواړہ تمیز نہ واقع کیږی. نو دے دواړو تہ تمیز ویئل باطل دی
او جواب لہ دِے اعتراض نہ دا دہ چہ مونږ ورتہ وایو چہ مراد لہ تمیز نہ زمونږ دا
نۂ دہ چہ بالفعل بہ تمیز واقع شوے وی. بلکہ مراد د مونږ لہ تمیز نہ هر هغہ اسم
دہ چہ صالح وی لپارہ د تمیز جوړیدو۔ پہ دِے تقدیر چہ ذکر شي لہ دِے واحد
سرہ او لہ دِے اثنان سرہ۔ او دلالت بہ کوی پہ جنس بانِ پہ اعتبار د مادہ، او
جوهر خپل سرہ۔ او پہ اعتبار د هیئت سرہ بہ دلالت کوی پہ وحدت او پہ اثنینیت
بانِ۔ نو دِے رجل او رجلانِ تہ چہ مونږ تمیز ویئلی دی، نو دا موږ تہ بالقوۃ
تمیز ویئلی دی نۂ بالفعل۔ او ګڼلی ئے نشتہ چہ دا دواړہ بالقوۃ تمیز دی، ځکہ چہ پہ

دوئ کښې استعداد د تمیز توب شته په دې تقدیر چه ذکر کړې شي د احد او د اثنان سره. په دې مقام کښې بیا معترض اعتراض کوي حاصل د اعتراض دا دې، چه معترض وایي چه په دې رجل او رجلان کښې د عکس وکړې شي په دې شان چه في الحال دوئ رجل او رجلان ذکر کوي او احد او اثنان نه ذکر کوي له دې وجې چه دوئ اکتفاء کوي په رجل او رجلان باندې له ذکر کولو د واحد او د اثنان نه او عکس د اسې وکړې شي چه دوئ د واحد او اثنان ذکر کړي. او په دې دواړو د اکتفاء وکړي د ذکر د رجل او د رجلان نه. ؟ او جواب له دې اعتراض نه دا دې چه مونږ وائه وایو چه د ا رجل او رجلان هم په عدد دلالت کوي او هم په جنس باندې دلالت کوي او دا واحد او اثنان په عدد باندې دلالت کوي په فقط په دې شان چه احد په وحدت باندې دلالت کوي او د اثنان په اثنینیت باندې دلالت کوي او په جنس باندې دلالت نکوي. نو کۀ چرته مونږ اکتفاء وکړو په ذکر د احد او د اثنان باندې نو دلالت به په عدد باندې حاصل شي. او په جنس باندې به حاصل نشي. او حال دا دې چه زمونږ مقصود دا هم دلالت په عدد باندې او هم په جنس باندې.

انما اختاروا التمیز جمعا لان الثلثة والاربعة الخ: غرض د شارح په دې عبارت نقل کښې جواب وائه کول دي د یو اعتراض نه. حاصل د اعتراض دا دې چه معترض وایي چه اصل په تمیز کښې افراد دې چه د ا تمیز به مفرد وي، نو باید چه تا سو لپاره د دې اسماء العدد د چه مفردات وي تمیز مفرد ذکر کړې وې، او حال دا دې چه تاسو ورته تمیز جمع ذکر کړې دې ؟ او حاصل د جواب دا دې چه مونږ وائه وایو چه داعداد مفرد لکه ثلاثه او د غه شان اربعه تر عشره پورې جمع دي معنی. یعنی اگرچه دوئ په اعتبار د لفظ سره جمع نۀ دي ځکه چه د دوئ د پاره مفرد نشته، خو لکن دوئ جمع دي په اعتبار د معنی سره، ځکه چه دوئ دلالت کوي په افراد باندې چه هغه افراد به ما فوق وي د اثنینو نه، نو هر کله چه د ا اسماءِ عدد، چه مفردات دي جمع دي په اعتبار د معنی سره. نو د دوئ د پاره تمیز هم جمع مونږ ذکر کړو. لپاره د دې چه د ا تمیز موافق شي په جمعیت کښې د عدد سره ځکه، چه موافقت په مابین د هغوا مونږ وکښې، چه د هغوئ په خپل کو کښې د یو بل سره تعلق وي. اولی د ه لۀ مخالفت نه.

وانما اختار والتانیث للمذکر علی خلاف القیاس الخ: غرض د شارح په دې

عبارت کښې جواب ورکړل دی دیوا اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا دی. چه معترض وائي چه څه وجه ده چه تاسو اختلاف واقع کړیده په هغه عدد کښې چه معدود د هغه مذکر وي. په دې شان چه د معدود مذکر د پاره تاسو عدد د مؤنث راوړې لکه ثلاثة رجال. نو دا معدود چه رجال دی مذکر دی او عدد د دې، چه ثلاثة دی مؤنث دی. تاء د تانیث پکښې موجود دی. او موافقت په مابین د معدود، او د عدد کښې اولٰی دی له مخالفت نه په مابین د دې معدود او د عدد کښې. نو باید چه تاسو د معدود مذکر د پاره عدد د مذکر راوړې وې او حال دا دی چه تاسو د معدود مذکر د پاره عدد د مؤنث راوړیده. او د غه شان تاسو اختلاف واقع کړیده په مابین د هغه معدود کښې چه مؤنث وي او د عدد د هغه کښې، په دې شان چه معدود مؤنث وي. نو تاسو عدد د ورته مذکر راوړئ مثال لکه ثلاث نسوة نو دا نسوة معدود مؤنث دی ځکه چه نسوة جمع د امرأة دی او عدد چه ثلاث دی مذکر راوړے شویده. نو دا عدد تاسو مخالف کړیده د معدود نه او حال دا دی چه اتفاق په مابین د ممیز او د تمیز کښې اصل دی له اختلاف نه ؟

او حاصل د جواب دا دی چه هر کله چه تمیز د دې عدد اقل موند جمع فرض کړے شوے دے نو بیا ره دې چه موافقت راشي په مابین د معدود او د عدد کښې په اعتبار د معنی سره ځکه چه دا عدد د جمع دی نو معدود جمع کړے شویده. او جمع په تاویل د جماعة سره مؤنث جوړیږي په اعتبار د معنی سره اګرچه لفظ د مذکر وي. نو هر کله چه معدود مؤنث شو په اعتبار د معنی سره. نو دا عدد ورته هم مؤنث راوړے شو بیا ره دې چه موافقت راشي په مابین د عدد او د معدود کښې په اعتبار د معنی سره. نو دا چه موند ذکر کړو هغه جواب دی له دې مخکښې اعتراض نه ورکړے شویده له شارح د طرفه. خو لیکن دا جواب ناقص دی. ځکه چه په دې جواب سره هغه اعتراض دفع شو، چه کوم وارد وه په دې خبره بانې. چه دا معدود مذکر دی د پاره د عدد د مؤنث راوړے شویده. او په دې سره نه دفع کیږي هغه اعتراض چه په دې خبره بانې وارد شویده چه د معدود مؤنث د پاره عدد د مذکر راوړے شي لکه ثلاث نسوة. نو له دې اعتراض نه به جواب دا سے ورکولے شي چه موند ورته وایو چه هر کله چه د معدود مذکر د پاره عدد د مؤنث راوړے شي. نو بیا ورته د معدود مؤنث د پاره هم عدد د مؤنث راوړو نو لازم به شي التباس په مابین. د

مذکرا و د مؤنث کښې. نو لپاره د دفع د دې التباس مونږ د معدود مؤنث د پاره عدد مذکر را اوړو. په دې بانې معترض اعتراض کوي حاصل د اعتراض دا دی چې معترض وايي چې لکه څنګه چې فرق په دې سره حاصلیږي چې معدود چې مذکر وي نو عدد مؤنث را اوړې شي. او چې معدود مؤنث وي نو عدد مذکر را اوړې شي. نو همدارنګ دا فرق حاصلیږي په عکس دَ دې سره هم په دې شان چې معدود مذکر وي نو عدد دِ مذکر را اوړې شي. او چې معدود مؤنث وي نو عدد دِ مؤنث را اوړې شي. او جواب له دې اعتراض نه دا دی چې مونږ ورته وايو چې مذکر مقدم دی د مؤنث نه او ورته سابق دی نو د تاویل په جمع کښې چې جمع کښې تاویل د جماعت وکړې شي مونږ معتبر کړو په دې معدود مذکر کښې او عدد دَ دې معدود مذکر ته موتاء ورکړې ده. ځکه چې سابق حقدار وي د لاحق نه. نو ځکه مونږ اول تاویل په دې سابق کښې وکړو او ورته موتاء ورکړه چې دا سابق معدود مذکر دی. نو ځکه مونږ له دې نه وروسته دې معدود مؤنث کښې هم عدد ته تاء ورکړې وې او مؤنث مو را اوړې وې نو لازم شوې به وه التباس په مابین د مذکرا و د مؤنث کښې. نو لپاره د دفع د التباس مونږ دې عدد د معدود مؤنث کښې تذکیر غوره کړو.

بیا معترض اعتراض کوي. حاصل د اعتراض دا دی چې معترض وايي چې دا قاعده ستاسو چې معدود مذکر وي. نو عدد به مؤنث را اوړې شي، منقوضه ده په دې قول د الله تعالیٰ چې "من جاء بالحسنة فله عشر امثالها" په دې شان چې معدود په دې ایت کښې د لفظ د امثال مذکر دی نو بايد چې ورته عدد د "عشرة" مؤنث وړې شوې وې. او حال دا دی چې ورته عدد د عشر مذکر را اوړې شوی دی؟ نو له دې اعتراض نه دوه جوابه ورکړې شوي دي. اول جواب دا دی چې دا امثال اګرچې په اعتبار د لفظ سره مذکر دی. خو لکن په اعتبار د معنیٰ سره مؤنث دی ځکه چې امثال عبارت دي له "حسنات" نه او حسنات مؤنث دي نو دا امثال هم په اعتبار د معنیٰ سره مؤنث دی. نو هر کله چې معدود مؤنث دی نو عدد ورته ځکه مذکر را اوړې شوی دی او مؤنث ورته نه دی را اوړې شوې. او دویم جواب دا دی چې دا امثال اګرچې په ځيله مذکر دی خو لکن په دې مذکوره ایت کښې دا امثال مضاف دی هاء ضمیر د مؤنث ته او مضاف په بعضو موادو کښې تانیث کسب کوي د مضاف الیه نه. نو په دې مذکوره ایت کښې هم دې مضاف چې امثال دی تانیث کسب کړې دی د مضاف الیه نه. نو هر کله

چې په مضاف کښې تانیث راغلو په طریقه د کسب سره د مضاف الیه نه نو دا عدد ورته مذکر راوړے شو، لیکن وجه د تانیث د معدود نه چې لفظ د امثال ده.

لان المقصود هو المعنی الخ: غرض د شارح په دے عبارت کښې جواب دے د یو اعتراض. حاصل د اعتراض دا دے چې معترض اعتراض کوی په هغه جواب د شارح باندې چې په دغه اختیار وا عبارت سره یې ورکړے دے. په دے شان چې معترض وائی چې دا معدود چې جمع او مذکر وی لکه رجال او بیا پکښې تاویل وکړے شی په جماعة سره نو وبه نه مؤنث جوړیږی په اعتبار د معنی سره. نو چې عدد د ورته مؤنث راوړے شی نو موافقت راځی د عدد او د معدود ترمینځ په اعتبار د معنی سره چې دواړه مؤنث وی نو لیکن په اعتبار د لفظ سره موافقت نهٔ راځی ځکه چې دا معدود په اعتبار د لفظ سره مذکر وی مثال لکه "ثلثة رجال" نو دا رجال وریسته له تاویل نه په جماعة سره اګرچه مؤنث جوړیږی نو لیکن په اعتبار د لفظ سره بیا هم مذکر وی. نو په اعتبار د لفظ سره موافقت نهٔ راځی په مابین د معدود او د عدد د کښې نو بیا چه تاسو دے معدود مذکر د پاره عدد هم مذکر ذکر کړئ چه موافقت راشی په مابین د معدود او د عدد د کښې په اعتبار د لفظ سره نو څهٔ وجه ده چه تاسو موافقت په اعتبار د معنی سره غوره کړو له هغه موافقت نه چه په اعتبار د معنی سره وی. آو جواب دا دے چې دا معنی مقصوده ده په اعتبار د ذات سره په خلاف د لفظ نه ځکه چه لفظ مقصود وی د پاره د اداء د معنی او مقصود نهٔ وی په اعتبار د لفظ سره. نو هر کله چه معنی مقصود ده نو ځکه موافقت په اعتبار د معنی سره غوره کړے شو له موافقت نه په اعتبار د لفظ سره.

واما المرکبات فانها تنصب التمیز نحو احد عشر کوکبا واثنی عشر رجلا الخ: زده کړه دا خبره چې مراد د شارح له مرکباتو نه هغه مرکبات دی چې ترکیب پکښې راغلے وی بغیر د واسطے د حرف عطف نه او دا د احد عشر نه نیولے تر تسعة عشر پورے دی او د دے عدد مرکب تمیز به منصوب وی او مفرد به وی او د نصب د پاره شارح وجه داویلی ده چه کله چرته ورته جر ورکړو او مضاف الیه یې جوړ کړو د پاره د عدد د مرکب نو لازم به شی کیدل د درے یو کلمو په شان د کلمه واحده ځکه چه د مضاف شدت د اتصال او امتزاج وی د مضاف الیه سره نو چرته عدد د مرکب مضاف شی تمیز ته نو دا به سره د تمیز خپل نه په شان د یوه کلمه شی نو لازم به شی کیدل د درے یو کلماتو په شان د کلمه واحده ځکه چه دا عدد د مرکب پخپله دوه کلمه دی او یوه کلمه دا مضاف الیه ده او دا باطل ده نو ځکه په دے عدد مرکب کښې اضافت نشی کیدے. او وجه د نصب د تمیز شارح دا بیان کړے ده چه تمیز د عدد د مرکب به ځکه منصوب وی ځکه چه د دوی عدد مفرد وی نو نصب

ورنه ورکول اولی دی ځکه چه په مفرد کښې هم خفت وی او په نصب کښې هم خفت وی او تمیز د عدد مرکب مفرد وی نو مناسب ورسره نصب ده. نو دا تمیز به مفرد او منصوب وی مثال لکه احد عشر کوکبا. نو دا احد عشر عدد مرکب ده او کوکبا ورته تمیز ده او دا منصوب او مفرد ده. او لکه اثنی عشر رجلا نو دا اثنی عشر عدد مرکب ده او رجلا ورته تمیز ده او مفرد او منصوب ده. او له دې عدد مفرد اتو او عدد مرکب بلا عاطف نه بغیر درې نور اقسام د عدد دی چه اول قسم په هغوی کښې عقود دی او دا عبارت دی له دې اته اسمونو نه: عشرون. ثلاثون. اربعون. خمسون. ستون. سبعون. ثمانون. تسعون. نو د دې عقودو تمیز به هم مفرد او منصوب وی. او دا به ځکه مجرور نه وی چه که د دوی تمیز ته مونږ جر ورکړو بنا په دې چه مضاف الیه واقع شی لپاره د عقودو. او عقود ورته مضاف شی. نو بیا به دا نون یا د عقودو نه حذف کولې شی او یا نه. نو که چرته ورنه حذف شی دا هم باطل ده ځکه چه دا نون د دوی مشابه ده د نون د جمع سره او نون د جمع په وقت د اضافت کښې حذف کیږی نو که دا نون په وخت د اضافت کښې حذف نکړې شی نو لازم به شی وجود د دې نون په مضاف کښې په وقت د اضافت کښې او دا باطل ده. او که دا نون له عقودو نه په وقت د اضافت کښې حذف شی دا هم باطل ده ځکه چه دا نون په حقیقت کښې نون د جمع نه ده او محذوف په وقت د اضافت کښې نون د جمع وی. بلکه دا نون مشابه ده د نون د جمع سره. نو معلومه شوه چه دا عقود نشی مضاف کولې خپل تمیز ته. نو دا تمیز د دوی به ضرور منصوب وی ځکه چه جر د وجه د اضافت نه وی او په دوی کښې اضافت نشی کیدې. او نصب ځکه متعین ده چه اصل په اعراب د تمیز کښې نصب دې ده نو ځکه به منصوب وی. او د دوی تمیز به مفرد ځکه وی چه افراد مناسب ده د نصب سره په خفت کښې په دې شان چه لکه څنګه چه مفرد خفیف وی په نسبت سره تثنیه او جمع ته نو دغه شان نصب خفیف وی په نسبت سره رفع او جر ته نو هر کله چه افراد مناسب دې ده د نصب سره نو ځکه د دې عقودو تمیز منصوب او مفرد کړې شو. او دویم قسم عدد هغه عدد ده چه تجاوز یې کړې وی د تسعة وتسعون نه چه مائة او الف دی. نو د دوی تمیز به مفرد او مجرور وی لکه مائة رجل او الف رجل. نو دا مائة د پاره تمیز رجل ده او دا مفرد او مجرور ده. او دا الف د پاره تمیز رجل ده او دا مفرد او مجرور ده. او وجه د جر د دې تمیز دا ده چه مائة او الف عدد مشابه دی د عدد د مفرد اتو سره په اصالت کښې چه لکه څنګه چه دا مفردات اصل دی د پاره د عدد د مرکب. او عدد مرکب ورنه جوړیږی مثال لکه احد عشر. نو دا احد عشر مرکب شوی ده د دوه مفردا تو نه چه

اول احد دے او دویم عشرہ دے نو دغہ شان د مائۃ او الف هم اصل دی لپارہ د عدد مرکب او عدد مرکب لہ دوئی نہ جوړیږی مثال لکہ مائۃ۔ وعشرۃ نو دا عدد مرکب مع العطف دے او جوړ دے لہ مائۃ او عشرۃ نہ او مائۃ ورتہ یو جزء دے۔ نو هر کلہ چہ دا عدد چہ زیات دے لہ تسعۃ و تسعون نہ مشابہ شو د عدد مفرد اتو سرہ پہ اصالت کښې نو د مفرداتو تمیز مجرور وو نو لہ دے مشابهت د وجہ نہ د دوئی تمیز هم مجرور شو۔ او د افراد وجہ دا دہ۔ چہ دا عدد واقع دے پہ جانب د کثرت کښې او عدد د مفرد چہ ورتہ آحاد وائی واقع دے پہ جانب د قلت کښې نو پہ دے اعتبار سرہ د دے دواړو عددونو ترمینځ مقابلہ دہ۔ نو هر کلہ چہ د عدد آحادو تمیز جمع دہ نو د مائۃ او الف تمیز تہ موافراد ورکړو۔ نو د هغوئی تمیز بہ جمع او د دوئی تمیز بہ مفرد وی۔ او دا کار وکړے شو پہ لپارہ د تعادل۔ او دریم قسم هغہ عدد دے چہ مرکب وی سرہ د عطف نہ او د احد وعشرون نہ واخلہ تر تسعۃ وتسعون پورے دے۔ نو د دے عدد تمیز بہ هم مفرد او منصوب وی۔ او وجہ د نصب دا دہ چہ د دے عدد پہ ټولو کلماتو کښې نون موجود دے چہ دا مشابہ دے د نون د جمع سرہ نو ځکہ ورتہ د دے عدد تمیز تہ مونږ جر ورکړو او دا عدد ورتہ مضاف کړو۔ نو دا بہ خالی نہ وی یا بہ ورنہ نون حذف کړو۔ او یا نہ۔ کہ نہ ئے حذف کړو نو دا باطل دے ځکہ چہ دا نون مشابہ دے د نون د جمع سرہ او نون د جمع پہ وقت د اضافت کښې حذف کیږی۔ او کہ حذف ئے کړو نو هم باطل دے ځکہ چہ دا نون پہ حقیقت کښې نون د جمع نہ دے بلکہ ورسرہ مشابہ دے۔ او محذوف پہ وقت د اضافت کښې نون د جمع وی نہ هغہ نون چہ مشابہ وی د نون د جمع سرہ نو هر کلہ چہ اضافت د دے شی کیدے تمیز تہ نو د دا تمیز د دوئی بہ منصوب وی او مجرور بہ نہ وی۔ او د افراد وجہ دا دہ چہ هر کلہ د دوئی تمیز منصوب شو۔ نو د افراد مناسبت دے د نصب سرہ پہ خفت کښې ځکہ چہ مفرد خفیف دے پہ نسبت سرہ تثنیہ او جمع تہ او نصب خفیف دے پہ نسبت سرہ رفع او جر تہ نو لہ دے مناسبت د وجہ نہ دے تمیز تہ افراد ورکړے شو۔ او شارح چہ کوم وجہ ذکر کړے دہ لپارہ د نصبا د تمیز د عدد د مرکب بغیر د عطف۔ پہ هغے باندې اعتراض واردیږی۔ حاصل د هغہ وجہ دا دہ چہ شارح وئیلی دی چہ تمیز د عدد د مرکب بلا عطف تہ ځکہ نصب ورکړے شو ځکہ چہ کہ ورتہ جر ورکړے شی او مضاف الیہ شی نو لازم بہ شی کیدل د کلماتو ثلاثہ پہ شان د کلمہ واحدہ او دا باطل دے نو ځکہ ورتہ نصب ورکولے او جر نشی ورکولے.

او اعتراض دا دہ چہ زۀ بہ درتہ او ښایم چہ د دے کلمات بہ وی او د هغوئی ترمینځ بہ اضافت شوے وی شان لکہ "خمسۃ عشرک" نو پہ دیکښې درے کلمات دی۔ "خمسۃ" او "عشر"

او کاف ضمیر د مخاطب دے او حال داده چه د دوئ ترمینځ اضافت شوې ده چه د خمسة
عشر مجموعه مضاف شوې ده کاف ضمیر د مخاطب ته نو باید چه دا اضافت منع وے ځکه چه
په دې اضافت کښې هم د کلماتِ ثلاثه نه یوه کلمه جوړه شوې ده له وجه د اضافت نه او حال
داده چه دا جائز ده. نو هرکله چه په دې مثال کښې دا اضافت کړې شوې دے نو باید چه په دې
عدد مرکب کښې هم تمیز د دوئ ته جړوی، کوم جائز شی چه مضاف الیه شی لپاره د عدد؟
جواب: عدد چه کله مضاف شی خپل تمیز ته نو بیا د مضاف او د مضاف الیه ترمینځ
شدتِ اتصال وی. نو که دا عدد مرکب مضاف شی خپل تمیز ته نو لازم به شی صیرورت
د دریو کلماتو په شان د کلمه واحده او دا باطل ده. په خلاف د هغه صورت. چه عدد
مرکب مضاف شی هغه شی ته چه هغه تمیز نه وی لپاره د عدد بلکه غیر وی له تمیز نه لکه
په خمسة عشرک کښې نو دلته دا مضاف الیه چه کاف دے تمیز نه دے لپاره د خمسة عشر نو د دے
شدت اتصال نشته د مضاف الیه سره. ځکه چه هرکله مضاف الیه تمیز نشو لپاره د عدد
نو دا مضاف او مضاف الیه دا وقت نه دی متحد په اعتبار د ذات سره. او چه مضاف
الیه د عدد تمیز وی نو بیا دا عدد او مضاف الیه متحد وی په اعتبار د ذات سره. نو په
دې صورت کښې چه مضاف الیه تمیز وی، شدتِ امتزاج موجود وی. او په هغه صورت
کښې چه مضاف الیه غیر وی د تمیز نه نو شدتِ امتزاج نه وی موجود. نو په دې صورت
کښې چه مضاف الیه تمیز وی که چرته اضافت وکړے شی نو درې کلمات به کلمه واحده شی او دا
باطل ده. او په هغه صورت کښې چه مضاف الیه تمیز نه وی نو په وقت د اضافت کښې نه
لازمیږی ګرځیدل د کلماتو ثلاثو په شان د کلمه واحده. ځکه چه په دې صورت کښې شدتِ
امتزاج نه وی. نو قیاس د خمسة عشره جلا په خمسة عشرک باندې قیاس مع الفارق ده.
او دا باطل ده. نو لکن په دې جواب باندې معترض دا اعتراض کوی چه زه به درته او بنایم
چه مضاف الیه به تمیز وی او بیا به هم ورته اضافت د عدد مرکب شوې وی مثال لکه ثلاث
مائة امرأة. نو دا امرأة تمیز ده او دا ثلاث مائة عدد مرکب دے او ورته مضاف شوې ده.
نو باید چه دا جائز نشی او حال داده چه دا جائز ده؟ جواب: اګرچه قاعده خو دا تقاضا
کوی چه دا جائز نشی. لیکن دا اجازت شوې ده لپاره د موافقت د امرأة سره ځکه چه دا
مائة امرأة په دې وجه جائز ده چه په دې کښې د اضافت په وجه د کلماتِ ثلاثو نه یوه کلمه نه ده
جوړه شوې بلکه له دوه کلمو نه یوه کلمه جوړه شوې ده. نو هرکله چه دا مائة امرأة جائز ده
نو دا ثلاث مائة هم جائز کړې شوه له وجه د موافقت د مائة امرأة نه.

وانما اختاروا المرکبات علی خلاف القیاس الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره جواب ورکول دی د یو اعتراض هغه دا چه په دې عدد مرکب کښې ولې استعمال د عدد شوی دی خلاف القیاس چه د معدود مذکر د پاره عدد د مؤنث راوړې شوی دی مثال لکه ثلاثة وعشرون رجلاً. نو معدود لفظ د رجل دی او دا مذکر دی او عدد یې مؤنث راوړې شوی چه ثلثة دی او دا مؤنث دی ځکه چه تاء د تانیث ورباندې داخله ده. نو هر کله چه معدود د مذکر دی نو بیا چه عدد هم مذکر راوړې شوې وی. او دا اعتراض په عدد مرکب مع العطف او عدد د مرکب بغیر العطف دواړو باندې وارد دی. لکه ثلاثة عشر رجلاً. نو دلته دا رجل معدود دی او مذکر دی او عدد ورته مؤنث راوړې شوی دی ځکه چه دلته جزء اول چه ثلاثة دی مؤنث دی؟.

جواب: شارح وائی چه په دې عدد د مرکب کښې ځکه دا عدد د خلاف القیاس مستعمل شوی دی چه اجراء د فرع وکړې شي په طریقې د اصل باندې. ځکه چه دا عدد مرکب فرع دی او عدد د مفرد ورته اصل دی. او په مفرد کښې د معدود مذکر د پاره عدد مؤنث راځي لکه عشرة رجال چه دا رجال معدود مذکر دی او عدد ورته مؤنث راغلی دی چه عشرة دی. نو هر کله چه په اصل کښې عدد د مؤنث راغلی دی د پاره د معدود مذکر نو بیا دې فرع کښې چه عدد مرکب دی هم د معدود مذکر د پاره عدد مؤنث راغلو خلاف القیاس د پاره د دې چه دا فرع چه عدد مرکب دی جاري شي په طریقې د اصل باندې.

فان قیل: فعلی هذا ینبغی ان یقال فی ثلثة عشر رجلا ثلاثة عشرة رجلا الخ: دا اعتراض دی په دې کلام د شارح باندې چه فاعطی للفرع حکم الاصل. په دې شان چه د دې مذکوره کلام د شارح حاصل دا دی چه شارح وئیلی دی چه عدد د مرکب ځکه مستعمل شوی دی خلاف القیاس چه په عدد د مرکب کښې هم د معدود مذکر د پاره عدد د مؤنث راوړې شوی دی ځکه چه ورکول شوی دی فرع ته حکم د اصل ځکه چه فرع اخلی حکم د اصل لره په طریقې د ضرورت سره. یعنی دا عدد د مرکب ځکه مستعمل شوی دی خلاف القیاس چه جاري شي دا فرع په طریقې د اصل سره او ورته حکم د اصل ورکړې شي. اعتراض دا دی چه هر کله دا ضروري ده چه فرع ته به حکم د اصل ورکولې شي نو بیا دې چه په ثلاثة عشر رجلا کښې ثلاثة عشرة رجلا وئیلی شوی وې. چه دواړو جزءینو د عدد د مرکب ته تاء د تانیث ورکړې شوې وه ځکه چه په اصل کښې چه عدد د مفرد دی هم ثلاثة د مذکر د پاره مؤنث راځي او هم ورته دا عشرة او جزء ثاني ورته مذکر راغلې دی. او حال دا دی چه په دې عدد مرکب کښې د پاره د مذکر جزء اول مؤنث راغلې دی. نو د دې جواب ورکوی شارح په دې عبارت خپل سره:-

قلنا: مالم يمنع مراد فيه والمانع ههنا متحقق الخ: حاصل دجواب داده چه د اختلاف فرع حکم د اصل لره په هغه وقت کښې ضروري ده چه مانع نه وي موجود له دِ اختلاف نه او چه کله مانع موجود وي نو بیا دا ضروري نه ده چه فرع به حکم د اصل اخلي. نو په دې مخکښې قاعده کښې چه عبارت دے له اختلاف د فرع نه حکم د اصل، دا قید د عدم د مانع معتبر ده یعنې دې شان چه دا فرع به حکم د اصل اخلي خو په هغه وقت کښې چه مانع نه وي موجود او چه موجود وي او منع کوي له اختلاف د فرع نه حکم د اصل لره نو بیا دا نه ده ضروري. او دلته هم مانع موجود ده او منع کوي د اختلاف د فرع نه حکم د اصل لره چه هغه عبارت ده د اجتماع د دوه علامو د تانیث نه په هغه لفظ کښې چه هغه په شان د کلمه واحده ده. او دا باطل ده نو له وجه د منع د دے مانع نه موږ په دِے عدد مرکب کښې د واړو جزئینو ته تانیث نه ورکوو بلکه جزء اول ته تانیث ورکوو چه معدود مذکر وي او وایو چه ثلاثة عشر رجلا په تانیث د جزء اول او تذکیر د جزء ثاني سره. خو په دِے جواب باندې یو اعتراض وارديږي هغه دا چه اجتماع د دوه علامو د تانیث نه ده باطل ځکه چه زه به درته وښایم چه دوه علامې د تانیث به جمع شوې وي په یوه کلمه کښې مثال لکه "جبليات" نو دا جمع د حبلی ده او حبلی وایي حامله ښځې ته او په حبلی کښې الف مقصوره لپاره د تانیث ده. او چه کله حبلی جمع کړے شو په جبليات سره نو دا الف د حبلی بدل شو په یاء سره نو جبليات شو. او په دې کښې دوه علامې د تانیث جمع شوي دي. اوله علامه یاء ده چه بدل له د الف نه راغلې ده او دویمه علامه تاء ده. نو معلومه شوه چه علامتین د تانیث جمع کيدل هم جائز دي په کلمه واحده کښې لکه جبليات او دا رنګ د اجمع کيدل جائز دي په هغه لفظ کښې چه هغه په شان د کلمه واحده وي. نو بیا چه په ثلاثة عشرة رجلا کښې ثلاثة عشرة رجلا و ویل شي. نو معلومه شوه چه اجتماع د دوه علامو د تانیث منع نکوي د اختلاف د فرع نه حکم د اصل لره؟ جواب: ادا چه اجتماع د علامتینو د تانیث په دوه قسمه ده. اول هغه اجتماع ده چه دوه علامې د تانیث جمع شوې وي خو چه دیو جنس نه وي. او دویم قسم هغه اجتماع ده چه اجتماع د دوه علامو راشي خو چه دیو جنس نه نه وي. نو اول قسم اجتماع د علامتینو د تانیث باطله ده او دا دویم قسم اجتماع د علامتینو د تانیث جائز ده. او په جبليات کښې دا دویم قسم اجتماع د علامتینو د تانیث راغلې ده، ځکه چه اوله علامه د تانیث یاء ده او دا جدا جنس ده او دویمه علامه د تانیث تاء ده. او دا جدا جنس ده. او په ثلاثة عشر رجلا کښې که چرته موږ جزء ثاني ته هم تاء ورکړو د تانیث. نو لازم به شي اجتماع د دوه علامو د تانیث چه دا د واړه

په دیو جنس نه وي او دا باطله ده نو ځکه مونږ په عدد مرکب کښې جزء ثاني ته علامه د تانیث نه ورکوو. نو لکن په دې ځکښې جواب بانډې بیا معترض اعتراض کوي، هغه دا چه ستا له دې ځکښې جواب نه دا معلومه شوه چه اجتماع د دوه علامو چه د جدا جدا جنس نه وي جائز ده او چه دیو جنس نه وي بیا باطل ده نو دا قاعده ستا منقوضه ده په ضربن باندې چه صیغه د جمع مؤنث غائب ده چه دا په اصل کښې ضربتن وه او دوه علامې د تانیث پکښې جمع شوې وې چه تاء او نون ده او بیا وړ نه تاء حذف شوه له وجې د اجتماع د علامتینو د تانیث نه. نو له دینه دا معلومه شوه چه اجتماع د علامتینو باطل ده مطلق برابره خبره ده که دیو جنس نه وي او که له دوه جنسونو نه وي. نو هغه ځکښې قاعده ستا چه اجتماع د علامتینو د تانیث چه د جدا جدا جنسونو نه وي جائز ده باطله شوه!

او جواب دا ده چه دا قاعده زمونږ چه اجتماع د علامتینو د تانیث چه د جدا جدا جنس نه وي جائز ده دا تر اسم پورې مختص ده یعنې په اسم کښې اجتماع د علامتینو د تانیث چه د جدا جدا جنس نه وي جائز ده. او هر چه فعل ده نو په دیکښې د واړه اقسام د اجتماع د علامتینو د تانیث باطل ده. که دیو جنس نه وي او که د دوه جنسونو نه وي او ضربن فعل ده نو ځکه وړ نه تاء د تانیث حذف شوې ده.

فیما هو کالکلمة الواحدة الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره جواب ورکول دي دیو اعتراض نه هغه دا چه اجتماع د علامتینو د تانیث خو په یوه کلمه کښې مستکره او باطل ده او هر چه دا ثلاثة عشر ده نو دیکښې خو کلمې دي یوه ثلثة او بله عشر. نو باید چه په دیکښې اجتماع د دوه علامو د تانیث جائز شي او ثلثة عشرة رجلا جائز شي په تانیث د جزئینو سره. او جواب دا ده چه اجتماع د علامتینو د تانیث مستکره ده په یوه کلمه کښې، خو یوه کلمه عامه ده که حقیقة یوه کلمه وي او که په منزله د یوه کلمه وي. نو دا ثلاثة عشر اګر چه یوه کلمه نه ده حقیقة خو لکن د دې دواړو ترمینځ شدت امتزاج ده نو له دې وجې دا دواړه پشان د کلمه واحده ګرځیدلي دي نو ځکه پکښې اجتماع د علامتینو د تانیث باطل ده.

ولم یجعل علی العکس اعنی تذکیر الجزء الاول وتانیث الجزء الثاني لان الاشعار بالتانیث الخ

غرض د شارح په دې عبارت سره جواب ورکول دي دیو اعتراض نه. هغه دا چه په عدد مرکب کښې لکه ثلاثة عشر رجلا ولې جزء اول ته تانیث ورکړې او جزء ثاني ته تذکیر عکس یې ولې ونکړو چه جزء اول ته یې تذکیر ورکړې وې او جزء ثاني ته یې تانیث ورکړې وې ... اجراء د فرع ـــ په طریقه د اصل سره حاصلیږي له او نه لازمیږي

اجتماع د علامتینو د تانیث۔ او حاصل د جواب دا دہ: چہ جزء اول تہ یے ځکہ تانیث ورکړو او جزء ثانی تہ یے تذکیر۔ اگرچہ عکس سرہ ہم د فرع جاری کیدل لہ پہ طریقے د اصل سرہ او نہ لازمیدہ اجتماع د علامتینو د تانیث۔ ځکہ اول جزء تہ چہ تانیث ورکړے شو۔ نو پہ دے سرہ حاصلیږی اِشعار او خبردارے پہ تانیث باندې پہ اول وقت کښې او کہ جزء ثانی تہ یے تانیث ورکړے وے نو بیا اشعار او خبردارے حاصلیدو پہ تانیث باندې خو لکن نہ پہ اول وقت کښې بلکہ وروستہ۔ او اشعار او خبردارے پہ تانیث باندې لہ اول وقت نہ اولی دہ لہ دینہ چہ دا اشعار حاصل شی وروستہ۔ نو لپارہ د حصول د اِشعار پہ تانیث باندې لہ اول وقت نہ جزء اول تہ تانیث ورکړے شو او جزء ثانی تہ تذکیر ورکړے شو او عکس اُونشو۔

فان قیل: فی قولہ احدی عشرۃ امرءۃ یلزم اجتماع علامتی التانیث وھکذا فی جبلیات وضربیات الخ: دا اعتراض وارد دہ پہ دے خبرہ د شارح باندې چہ مخکښې شارح وئیلی دی چہ اجتماع د علامتینو د تانیث پہ ھغہ لفظ کښې چہ پہ شان د کلمہ واحدہ وی ممتنع دہ لہ دینہ چہ فرع د جاری کړے شی پہ طریقے د اصل باندې نو ځکہ پہ ثلاثۃ عشرہ جلا کښې جزء ثانی تہ تانیث ورنکړے شو۔ او حاصل د اعتراض دا دہ چہ ستا لہ دے مخکښې خبرے دا معلومیږی چہ علامتین د تانیث جمع کیدل باطل دہ زہ بہ درتہ وښایم چہ علامتین د تانیث پہ جمع شوی وی پہ ھغہ لفظ کښې چہ پہ شان د کلمہ واحدہ وی لکہ احدی عشرۃ امرءۃ او یا پہ حقیقت یوہ کلمہ وی لکہ "جبلیات او ضربیات" نو پہ احدی عشرۃ امرءۃ کښې دوہ علامے د تانیث جمع شویدی چہ الف مقصورہ دہ پہ احدی کښې او تاء دہ پہ عشرۃ کښې او دا احدی عشرۃ اگرچہ یوہ کلمہ نہ دہ ځکہ چہ پہ حقیقت کښې دا احدی جدا کلمہ دہ او دا عشرۃ جدا کلمہ دہ۔ خو لکن د دواړو ترمینځ شدت امتزاج دہ نو لہ ھغہ وجہ نہ پہ شان د کلمہ واحدہ گرځیدلی دی۔ او پہ جبلیات کښې ہم دوہ علامے د تانیث جمع شویدی چہ یا تاء دہ چہ بدل راغلے دہ د الف مقصورہ نہ چہ موجود دہ پہ جبلی کښې۔ او بل تاء دہ۔ او دا جبلیات یوہ کلمہ دہ۔ او دوہ علامتین د تانیث پکښې جمع دی۔ او ضربیات ہم یوہ کلمہ دہ او دوہ علامے د تانیث پکښې جمع دی چہ یا تاء دہ چہ بدل راغلے دہ د الف مقصورہ نہ پہ ضربی کښې او تاء دہ۔ نو ھر کلہ چہ پہ دے دریو موادو کښې د تانیث دوہ علامے جمع شوے نو معلومیږی چہ اجتماع د دوہ علاموو د تانیث پہ یوہ کلمہ کښې او پہ ھغہ لفظ کښې چہ پہ شان د یوہ کلمہ دہ جائزہ دہ۔ نو شارح د دے اعتراض نہ پہ دے عبارت سرہ جواب ورکوی

قلنا: ا[illegible] علامتی التانیث ما اذا کانتا من جنس واحد وھٰھنا لیس کذلک الخ:

حاصل د دې جواب دا دی چه مراد زمونږ له دوه علامو د تانیث نه چه دعویٰ اجتماع باطله ده هغه دوه علامې دي چه د یو جنس وي. او هر چه هغه اجتماع د علامتینو د تانیث ده چه جدا جدا جنس نه وي نو دا جائز ده. او پس مخکښې مواد ثلاثه کښې چه کوم اجتماع علامتینو د تانیث راغلې ده نو له یو جنس نه نهٔ دي بلکه له جدا جدا جنسونو نه دي ځکه چه په اولٰی ماده کښې د یوه علامه د تانیث الف مقصوره ده او دویمه علامه تاء ده. او په دې دویمه او دریمه ماده کښې اوله علامه د تانیث یاء ده چه بدل راغلې ده د الف مقصورې نه او دویمه علامه د تانیث تاء ده کومه اجتماع د علامتینو د تانیث چه راغلي دي په دې مواد ثلاثه کښې دا باطل نه ده او کومه اجتماع د علامتینو چه باطله ده هغه په دې مواد ثلاثه کښې نهٔ ده راغلې.

فان قيل: فعلٰى هذا فى اثنتا عشرة امرءة من جنس واحد الخ: دا اعتراض وارده ده په دې خبره باندې چه په مخکښې جواب کښې شارح دا ووئیل چه هغه اجتماع د علامتینو د تانیث باطله ده چه هغه علامې د یو جنس نه وي او هر چه هغه اجتماع د علامتینو ده چه د جدا جدا جنسونو نه وي نو دا جائز ده. او حاصل د اعتراض دا دی چه زکه به وئیلې شي چه دوه علامې به جمع شوې وي په هغه لفظ کښې چه هغه به پشان د کلمې واحده وي او دا دواړه علامې به د یو جنس نه وي مثال لکه اثنتا عشرة امرءة. نو دا اثنتا عشرة دا اګر که یوه کلمه ده او په دې کښې دوه علامې د تانیث جمع شوې دي چه اوله علامه تاء ده په اثنتا کښې او دویمه علامه تاء ده په عشرة کښې او دا دواړه علامې د یو جنس نه دي او جمع شوې دي نو معلومه شوه چه دوه علامې د یو جنس نه جمع کیدل په کلمه الواحده کښې نهٔ دي باطل او هیڅ ارنګ مانع هم نهٔ دي له اجراء د فرع نه په طریقې د اصل باندې نو بیا چه په ثلاثة عشرة رجلا کښې ثلاثة عشرة رجلا وئیل جائز نشي بیا دا ددې چه دا فرع چه عدد مرکب ده جاري شي په طریقې د اصل باندې چه عدد مفرد ده. نو له دې اعتراض نه شارح جواب ورکړې دی په دې عبارت سره.

قلنا: لا نسلم ذلك لان التاء فى كلمة ثنتا عوض عن الياء اصله ثنيان عوضت التاء عن الياء فصار ثنتان ثم اذا اضيف الى عشرة سقط النون بالاضافة فصار ثنتا عشرة الخ: حاصل د دې جواب دا دی چه نهٔ منو دا خبره چه په ثنتا عشرة امرءة کښې دوه علامې د تانیث د یو جنس نه جمع شوې دي بلکه دا دوه علامې چه یکښې جمع شوې دي نو دا له جدا جدا جنسونو نه دي په دې شان چه هغه تاء چه په ثنتان کښې

دہ دا بخپلہ لپارہ دتانیث نہ دہ بلکہ دا بدل راغلے دے دیاء نہ او هغہ یاء لپارہ دتانیث دہ چہ دا یاء قائمہ دہ پہ مقام دالف مقصورہ باندے او الف مقصورہ راځی لپارہ دتانیث چہ دا یاء دالف مقصورہ پہ ځائے قائمہ شوہ نو دا هم لپارہ دتانیث شوہ ځکہ چہ نائب لرہ حکم دمنوب وی۔ او بیا وروستہ دا یاء بدلہ شوہ پہ تاء سرہ او پہ عوض ددے یاکښے تاء راغلہ نو ورنہ ثنتان جوړ شو او پہ اصل کښے ثنیان وہ پہ یاء سرہ او بیا چہ کلہ ثنتان مضاف شو عشرۃ تہ نو نون دثنتان ساقط شولہ وجہ داضافت نہ نو ورنہ ثنتا عشرۃ امرءۃ جوړ شو۔ نو معلومہ شوہ چہ پہ ثنتا عشرۃ کښے دا دوہ علامے دتانیث دیو جنس نہ دی بلکہ لہ جدا جدا جنسونو نہ دی چہ اولہ علامہ یاء دہ او دویمہ علامہ تاء دہ۔ بیا معترض اعتراض کوی چہ دا محکښے قاعدہ ستاسو چہ تاسو وایئ چہ اجتماع ددوہ علامو دتانیث چہ دیو جنس نہ وی جمع کیدل باطل دی او چہ لہ جدا جدا جنسونو نہ وی، جائز دہ اگرچہ منقوضہ نہ دہ پہ ثنتا عشرۃ امرءۃ باندے خو لکن منقوضہ۔ دہ پہ اثنتا عشرۃ امرءۃ باندے چہ پہ دے اثنتاکښے اگرچہ یاء حذف شوے دہ خو لکن ددے پہ بدلہ کښے دا تاء نہ دہ راوړے شوے بلکہ پہ بدل کړے یاء محذوفہ کښے همزہ وصل پہ ابتداء کښے راوړے شوے دہ نو دا تاء پہ اثنتاکښے بدل نہ دہ لہ یاء نہ بلکہ لپارہ دتانیث دہ نو هرکلہ چہ دا تاء لپارہ دتانیث شوہ نو پہ دے اثنتا عشرۃ امرءۃ کښے دوہ علامے دتانیث جمع شوے چہ دواړہ دیو جنس نہ دی چہ اولہ علامہ تاء دہ پہ اثنتاکښے او دویمہ علامہ تاء دہ پہ عشرۃ کښے. نو پہ دے مادہ کښے دوہ علامے دتانیث دیو جنس نہ جمع شوے دی چہ دواړہ تاء گانے دی نو معلومہ شوہ چہ دوہ علامے دتانیث جمع کیدل جائز دی اگرچہ دواړہ دیو جنس نہ وی۔ او جواب دادہ چہ پہ دے اثنتا عشرۃ کښے اگرچہ دوہ علامے دیو جنس نہ جمع کیږی پہ دے تقدیر چہ دا اثنتا مرکب شی دعشرۃ سرہ خو لکن دا اثنتا حمل شوے دہ پہ ثنتا باندے پہ دے خبرہ کښے چہ لکہ څنگہ چہ ثنتا مرکب کیږی دعشرۃ سرہ نو همداسے رنگ اثنتا هم ورسرہ مرکب کیږی. نو پہ دے اثنتا عشرۃ امرءۃ کښے اگرچہ اجتماع ددوہ علامو دتانیث راغلے دہ دیو جنس خو لکن دا جائز شوے دہ لہ وجہ دحمل داثنتا نہ پہ ثنتا باندے۔

فان قیل: لم خالف حال الترکیب عن حال الافراد فی صورۃ التانیث نحو ثلث عشرۃ امرءۃ حاصل ددے اعتراض دادہ چہ څہ وجہ دہ چہ پہ هغہ عدد کښے چہ معدود مؤنث وی حالت دترکیب مخالف شوے دہ دحالت دافراد نہ پہ دے شان چہ پہ عدد مفرد

کښې د معدود مؤنث د پاره به عدد مذکر راوړل کیدو مثال لکه "ثلاث نسوة". نو دا نسوة معدود دے او مؤنث دے حُکماً چه دا جمع دامرءة ده او دا عدد چه ثلاث دے مذکر دے ځکه نو راغلے دے بغیر له تاء نه. او په حال د ترکیب کښې چه معدود مؤنث وی نو تا سو ولې ته عدد مذکر نه راوړئ بلکه عدد ولې ته هم مؤنث راوړئ مثال لکه "ثلاث عشرة امرءة" نو دا معدود مؤنث دے او عدد اول جزء چه ثلاث دے اگرچه مذکر راوړے شویدے بغیر د تاء نه دے خو لکن دویم جزء چه عشرة دے ولې ته مؤنث راوړل شوی دے. نو دا حالت د ترکیب د عدد مخالف شویدے له حالت د افراد د عدد نه؟ شارح له دینه جواب ورکوی:

قلنا تذکیر العدد فی حال الافراد نحو ثلاث نسوة الخ: او حاصل د جواب دا دے چه دا تذکیر د عدد لپاره د معدود مؤنث د دے لپاره دے چه فرق حاصل شی د مذکر او مؤنث ترمینځ په دے شان چه معدود مذکر وی نو عدد به مؤنث راځی او چه معدود مؤنث وی نو عدد به ولې ته مذکر راځی. او په عدد مرکب کښې د مذکر او مؤنث ترمینځ فرق حاصل وی په جزء اول سره په دے شان چه معدود مذکر وی نو په عدد مرکب کښې به جزء اول ته تانیث ورکولے شی مثال لکه "ثلاثة عشر رجلاً". نو دا ثلاثة عشر عدد مرکب دے او معدود مذکر دے چه رجل دے او د دے عدد جزء اول ته تانیث ورکړے شویدے. او چه معدود مؤنث وی نو په عدد مرکب کښې به جزء اول مذکر راځی مثال لکه "ثلاث عشرة امرءة". نو دلته دا معدود مؤنث دے چه امرءة دے او عدد ولې ته مذکر راغلے دے. او جزء اول یکښې مذکر دے. چه ثلاث دے. نو هر کله چه په عدد مرکب کښې فرق د مذکر او مؤنث ترمینځ حاصل شویدے په جزء اول سره نو هیڅ مانع نشته له دینه چه تانیث ورکړے شی جزء ثانی ته په عدد مرکب کښې چه راوړے شوے وی لپاره د معدود مؤنث.

واعلم انها تعمل عملا سماعیا وذواتها اسماء لا افعال الخ: غرض د شارح په دے عبارت کښې بیان د شپږ امورو دے. اول امر له دوئ نه نوع د عمل د دے اسماء الافعال د دے. نو بیان د نوع د عمل د دوئ شارح کړیدے په دے عبارت نیول سره چه "انها تعمل عملا سماعیا" یعنی دا اسماء الافعال عمل کوی په نیول مدخول کښې په سماع سره یعنی عمل یے سماعی دے چه د عربونو د دوئ د عمل سماع شویدے او قیاسی نه دے. او دویم امر ذات د د اسماء الافعال دے. او دا بیان کړیدے شارح په دے عبارت نیول سره چه "وذواتها اسماء لا افعال ولا حروف" یعنی ذوات یے اسماء دی چه دوئ له قبیلے د اسم نه دی او ذات یے

اسم دے نۀ افعال دی او نۀ حروف دی۔ او دریم امر عمل د دوئ دے نو دا شارح بیان کړیدے په "وعملها النصب" سره۔ یعنی عمل د اسماء العدد نصب دے په دے شان چه دوئ نصب ورکوی اسم نکره ته بنا بر تمیز۔ او څلورم امر بیان د مدخول د دوئ دے۔ نو بیان د دے شارح کړیدے په "ومدخولها الاسم النکرة" سره۔ یعنی مدخول د دوئ اسم نکره دے یعنی دوئ داخلیږی په هغه اسم باندے چه هغه به نکره وی۔ او پنځم امر عدد د دوئ دے۔ نو د دے بیان شارح کړیدے په "وعددها اربعة" سره۔ یعنی عدد د دے اسماء العدد دا دے چه دا څلور دی۔ اول اسم "عدد"۔ دویم اسم "کم"۔ دریم اسم "کاین" او څلورم اسم "کذا" دے۔ او شپږم امر په دے شپږو امورو نه بیان د اسماء او نوموبو د اسماء العدد دے۔ نو شارح د دوئ دوه نوموته ذکر کړیدی۔ اول نوم دا دے چه دوئ ته اسماء العدد وائی۔ او وجه د تسمیه دا ده چه یو قسم په دوئ کښے اسم عدد دے۔ نو د دے ټولو ته اسماء العدد ووئیل تسمیه د کل دے په اسم د جزء سره۔ او دویم دا چه دوئ ته اسماء النواصب وائی۔ او وجه د تسمیه دا ده چه نواصب جمع د ناصبه ده او ناصب معنی نصب ورکونکے او دوئ ته ځکه اسماءِ نواصب وائی چه دوئ نصب ورکوی خپل مدخول ته او په دے شپږو امورو کښے دا څلور وارو اسمونه برابر دی په دے شان چه د دے څلور وارو اسمونو عمل سماعی دے۔ او ذوات د دے څلور وارو اسماء دی او عمل د دے څلور وارو نصب دے بنا بر تمیز او مدخول د دے څلور وارو اسم نکره دے او عدد د دوئ دا دے چه دا غونډ څلور اسماء دی او د دے څلور وارو دوه نومونه دی اول نوم اسماء العدد او دویم نوم اسماء النواصب دے۔

> باز ثانی کم چو استفهام باشد نی خبر!
> ثالث ایشان کاین رابع ایشان کذا!

شعر

ترجمه: شارح وائی چه ورستو له اسم عدد نه "کم" دے چه دا راځی هم لپاره د استفهام او هم لپاره د خبریت۔ او دریم "کاین" دے او څلورم "کذا" دے۔

تشریح:- زده کړه دا خبره چه د "کم" په اصل کښے دوه احتماله دی۔ اول احتمال دا دے چه دا په اصل کښے "کمو" وه۔ یعنی ناقص وه په اخر کښے یے حرف علت وه چه واو دے۔ او هغه بیا حذف شو، نو "کم" شو۔ او دویم احتمال دا دے چه دا په اصل کښے "کما" وه او بیا ورسته یکښے مرکب شوی دے د کاف د تشبیه او د "ما" نه نو په اصل کښے کما وه او بیا ورسته یکښے تصرف وکړے شو په حذف د الف سره او د میم یکښے ساکن کړے شو، نو ورنه "کم" جوړ شو

او معنیٰ د کم عدد مبهم دہ یعنی دلالت کوی پہ هغہ عدد باندې چہ ابهام پکښې موجود دہ او بیا داکم پہ خپل کوی کښې پہ دوہ قسمہ دہ. کم خبریہ او کم استفهامیہ. معنیٰ د کم استفهامیہ هغہ عدد دہ چہ هغہ بہ مبهم وی پہ نیز د متکلم باندې او معلوم بہ وی مخاطب تہ پہ ذهن د متکلم کښې یعنی پہ ذهن د متکلم کښې بہ دا خبرہ موجودہ وی چہ دا عدد معلوم دہ مخاطب تہ نو ځکہ متکلم ورنہ استفهام کوی. او د کم خبریہ معنیٰ هغہ عدد دہ چہ هغہ بہ د مخاطب نہ مجهول وی او متکلم تہ بہ معلوم وی. نو د کم استفهامیہ نہ بہ تعبیر کولې شی پہ ای عدد سرہ. او د کم خبریہ نہ بہ تعبیر کولې شی پہ عدد د کثیر سرہ. او داکم استفهامیہ متضمن وی د معنیٰ د استفهام لرہ نو ځکہ ورتہ استفهامیہ وائی. او کم خبریہ متضمن وی معنیٰ د خبریت لرہ نو ځکہ ورتہ خبریہ وائی. او داکم مطلقاً کہ خبریہ وی او کہ استفهامیہ وی تقاضا کوی د صدارت د کلام چہ پہ صدر د کلام کښې بہ وی. ځکہ چہ داکم استفهامیہ دلالت کوی پہ استفهام باندې. او دا استفهام یوہ نوع د کلام انشائی دہ نو دا بہ ځکہ پہ صدر د کلام کښې وی چہ لہ اول وقت نہ دلالت وکړی او علم راشی پہ دې خبرہ باندې چہ دا کلام د کومې نوع نہ دہ. او دغہ شان کم خبریہ دلالت کوی پہ انشاء د تکثیر باندې او دا هم یوہ نوع دہ لہ انواعو د کلام نہ، نو داکم بہ ځکہ پہ صدر د کلام کښې وی چہ دلالت وکړی لہ اول وقت نہ او علم حاصل شی پہ دې خبرہ باندې چہ دا کلام د کوم نوع نہ دہ او دا علم چہ د اول وقت نہ حاصلیږی دا پہ واسطہ د دې سرہ حاصلیږی چہ دا کم پہ صدر د کلام کښې راشی. او بیا داکم استفهامیہ عمل د نصب کوی چہ خپل تمیز تہ نصب ورکوی مثال لکہ کم رجلا عندک نو دلتہ داکم استفهامیہ دہ او پہ دې سرہ استفهام شوې دہ پہ بارہ د عدد د رجالو کښې. او وجہ لپارہ د عمل د کم استفهامیہ دا دہ چہ داکم ځکہ عمل کوی چہ دا محمول دہ پہ عدد مرکب باندې پہ عمل کولو کښې پہ دې شان چہ لکہ څنګہ چہ عدد مرکب عمل کوی د نصب پہ خپل تمیز کښې. نو دا رنګ داکم هم عمل کوی د نصب پہ خپل تمیز کښې. او وجہ لپارہ د حمل دا دہ چہ داکم دلالت کوی پہ مطلق عدد باندې او دا عدد مرکب یو قسم دہ لپارہ د مطلق عدد. نو کہ دې کم استفهامیہ مناسبت دہ د عدد سرہ نو لہ وجہ د مناسبت نہ داکم استفهامیہ حمل شوې دہ پہ عدد د مرکب باندې او دې عدد مرکب تہ عدد اوسط هم وائی چہ دا عبارت دہ لہ احد عشر نہ واخلہ تر تسع وتسعون پورې. دلتہ معترض اعتراض کوی چہ عدد د پخپل کوی کښې پہ درې قسمہ دہ اول قسم عدد اقل دہ چہ لہ واحد نہ واخلہ تر عشر پورې دہ. او دویم

قسم عدد اوسط دهٔ چه داله احد عشرته واخله ترتسع وتسعون پورے ده[۳] او دریم
قسم عدد اکثر ده چه دا عبارت ده له مائة اوالف نه ترغیر نهایته پورے. نو دِے عدد
اقل تمیز مجرور او جمع وی. او عدد اوسط تمیز منصوب او مفرد وی. او عدد اکثر تمیز
مفرد او مجرور وی. نو تحقیق وجه ده چه تاسو داکم خبریه ور حمل کړو په عدد مرکب بانڼ
چه عدد اوسط ده، ولے تاسو دا حمل نکړو په عدد اقل بانڼ په دِے شان چه تاسو دِے
دپاره تمیز مجرور او جمع راوړے وے او یا مو ولے دا حمل نکړو په عددِ اکثر بانڼ چه تمیز مو
ورته مفرد مجرور راوړے وے؟ او جواب له دینه داده چه عدد اقل یو طرف دعدد
ده او عدد اکثر بل طرف د عدد ده. او دا عدد اکثر مقابل د عدد اقل ده او دا دواړه
په طرفیت کښ شریک دی. نو کچرته مونږ داکم استفهامیه حمل کړے وے په عددِ اقل
بانڼ نهٔ په عدد اکثر بانڼ. نو لازمیدهٔ ترجیح بلا مرجح او تحکم ځکه چه دا دواړه عدد[ده]
په طرفیت کښ سره برابر دی. او که چرته مونږ داکم حمل کړے وے په عدد اکثر بانڼ،
نو بیا هم لازمیده ترجیح بلامرجح او تحکم. او دا باطل دی. نو ځکه مونږ دا حمل کړو
په عدد اوسط بانڼ. نهٔ په عددِ اقل او نهٔ په عددِ اکثر بانڼ. او دِے عددِ اوسط
سره څوک نهٔ دی شریک په دِے وصف داوسطیت کښ چه لازم شی ترجیح بلامرجح
او تحکم. او دا تمیز دکم استفهامیه به همدا وقت کښ منصوب وی چه ور بانڼ من حرف
جاره نهٔ وی داخل شوے مثال لکه کم رجلا عندک نو دلته دکم تمیز دا رجلا ده او دِ
بانڼ من نهٔ ده داخل. نو دا منصوب ده او نصب ورته کم ورکړیده. او چه کله ور بانڼ
من حرف جاره داخل شی نو بیا دا تمیز دکم استفهامیه مجرور وی په حرف جاره سره
په دِے شان چه دِے حرف جاره ورته جر ورکړیده مثال لکه کم من رجلٍ ضربتَ نو دا
کم استفهامیه ده او دا رجل ورته تمیز ده او ور بانڼ من حرف جاره داخل شویده نو
ورته یے جر ورکړیده. او تمیز دکم خبریه همیشه دپاره مجرور وی. که حرف جاره ور بانڼ
داخل شوے نوی بیا به هم مجرور وی مثال لکه کم مالٍ انفقتهٔ نو داکم خبریه ده او دا
مال ورته تمیز ده او مجرور ده. او دا جر دِے بنابر اضافت ده. چه دا کم مضاف ده
او دا تمیز ورته مضاف الیه ده. او که ور بانڼ من حرف جاره داخل وی په تمیز دکم خبریه
بانڼ. نو بیا به هم مجرور وی. نو لکن دا جر به له وجه د من حرف جاره نه وی په دِے شان
چه دِے من حرف جاره به ورته جر ورکړے وی.
اودا کم خبریه نهٔ ده حمل په عددِ مرکب بانڼ. چه دا هم نچل تمیز ته نصب ورکړی.

ځکه چې دا کم خبریه کثیرالاستعمال دی او کثرت استعمال تقاضا د خفت کوي او خفت حاصلیږي په اضافت سره چې دا کم مضاف شي او دا تمیز ورته مضاف الیه شي او. مثال د هغه کم خبریه چې په تمیز باندې یې من حرف جاره داخل وي لکه دا قول د الله تعالیٰ: "کَمْ مِنْ قَرْیَةٍ اَهْلَکْنَاهَا" نو دې ایت کښې دا کم خبریه دی. او دا لفظ د قریة ورته تمیز دی. او په دې تمیز باندې من حرفِ جاره داخل شوی دی.

فَائِدَه:- زده کړه دا خبره چې دا کم مطلقاً که کم خبریه وي او که کم استفهامیه وي، په اعتبار د لفظ سره مبني دی په سکون باندې. او لفظاً به پرې باندې اعراب نه جاري کیږي نو لکن دا کم معرب کیږي په اعتبار د محل سره، په دې شان چې پرې باندې به اعراب جاري وي چې هغه اعراب به کله نصب وي او کله به جر وي او کله به رفع وي. نو دا کم به منصوب په هغه وقت کښې وي چې ځکښې ورته فعل موجود وي او هغه غیرِ مشتغل وي له دې کم نه په ضمیر د دې کم سره یعنې چې وروسته له دې کم نه په کلام کښې یو فعل موجود وي او هغه عمل نه وي کړې په ضمیر د دې کم کښې نو دا وقت به دا کم منصوب وي موافق د وروسته فعل. که هغه تقاضا کوله د مفعول به نو دا کم به ورته مفعول به وي مثال لکه "کم رجلاً ضربتَ" نو دلته دا کم استفهامیه دی. او دا رجلا ورته تمیز دی او وروسته چې ورته ضربت فعل ذکر دی چې صیغه د مخاطب ده مشغول نه دی په ضمیر د دې کم سره او دا ضربت تقاضا د مفعول به کوي. نو دا کم منصوب دی محلاً او مفعول به دی لپاره د دې ضربتَ فعل. او لکه "کم غلامٍ ملکتُ" نو دا کم خبریه دی او دا غلامٍ ورته تمیز دی او وروسته ورته دا ملکتُ فعل ذکر دی. او دا مشتغل نه دی په ضمیر د کم سره. او دا ملکتُ تقاضا د مفعول به کوي. نو دا کم خبریه ورته مفعول به دی او منصوب محلاً دی. او که دې وروسته فعل تقاضا د مفعول مطلق کوله. نو بیا دا کم ورته مفعول مطلق وي، مثال لکه کم ضربةً ضربتَ. او کم ضربةٍ ضربتُ. نو په دې اول مثال کښې دا کم استفهامیه دی. او دا ضربةً منصوب دی ورته تمیز دی. او په دویم مثال کښې دا کم خبریه دی او دا ضربةٍ چې وروسته ورته ذکر دی مجرور دی او ورته تمیز دی. او په دې دواړو مثالونو کښې چې دا وروسته کوم فعل ذکر دی چې په اول مثال کښې هغه فعل صیغه د مخاطب ده او په دویم مثال کښې صیغه د متکلم ده. غیر مشتغل دی په ضمیر د کم باندې. او دا فعل تقاضا کوي د مفعول مطلق. نو په دواړو مثالونو کښې کم منصوب محلاً دی. او مفعول مطلق دی لپاره د دې وروسته فعل. او که دې وروسته فعل تقاضا د مفعول فیه

گوله نو بیا داکم به ورته مفعول فیه وی مثال لکه "کم یوماً صمت" . و "کم یوم صمت" . نو
په اول مثال کښې کم استفهامیه ده او دا یوماً چه وروسته ورته ذکر ده منصوب او ورته
تمیز ده. او په دویم مثال کښې کم خبریه ده چه وروسته ورته یوم ذکر ده مجرور ده او ورته
تمیز ده. او په دواړو مثالونو کښې چه وروسته کوم فعل ذکر ده چه په اول مثال کښې دا
صیغه د مخاطب ده او په دویم کښې صیغه د متکلم ده. غیر مشتغل ده په ضمیر د کم سره
او دا وروسته فعل تقاضا د مفعول فیه کوی. نو داکم سره د خپل تمیز نه په دواړو
مثالونو کښې منصوب ده او مفعول فیه ده لپاره د وروستو فعل. او داکم برابره خبره
ده که خبریه وی او که استفهامیه. مجرور به وی په هغه وقت کښې په کوم وقت کښې
چه یا په دواړو باندې حرف جر داخل شوے وی. او یا دویته شئ اخر مضاف وی. نو په
دے دواړو وقتونو کښې به مجرور وی. نو په وقت د دخول د حرف جاره کښې په کم
باندې داکم به مجرور وی محلاً او جر به دے حرف جاره ورکړے وی. او په وقت د
اضافت د شئ اخر کښې دے کم ته داکم به مجرور وی. له وجه د مضاف الیه کیدو نه
نو جر به یا ورته حرف جر مقدر ره. او یا مضاف ورکړے وی. بنا په اختلاف باندې مثال
لکه "بکم درهماً اشتریت" نو دلته داکم مجرور ده ځکه چه ورباندې باء حرف جاره
داخل شوې ده. او لکه "غلام کم رجل ضربت" نو داکم مجرور ده ځکه چه مضاف
الیه واقع شوے ده لپاره د غلام. او دا غلام ورته مضاف ده. او داکم به مرفوع
په هغه وقت کښې وی. چه ورپسې ورته فعل منکور هم نه وی. او ور باندې حرف
جر هم نه وی داخل. او نه ورته څه شئ مضاف وی. او بیا په دے رفع د کم کښې دوه
احتماله دی. اول احتمال دا ده چه داکم به مرفوع وی بنا بر ابتداء ئیت په دے شان چه
داکم به مبتداء وی او شئ اخر به ورته خبر وی. مثال لکه "کم رجلاً اخوتک" و "کم رجل
قام" . نو په اول مثال کښې کم استفهامیه ده. او ورپسې وروسته ورته فعل منکور هم نشته
او ورته د څه شئ اضافت هم نه ده شوے او نه ورباندې حرف جاره داخل شوے
ده. او داکم سره د خپل تمیز نه مبتداء ده او دا اخوتک ورته خبر ده. او په دویم مثال
کښې کم خبریه ده. او ورپسې وروسته ورته فعل منکور هم نه ده واقع. او هم ارنگ ورباندې
حرف جاره هم نه ده داخل او د څه شئ اضافت ورته هم نه ده شوے. نو دلته داکم
خبریه سره د تمیز خپل نه مبتداء ده. او دا ورپسې وروسته قام فعل ورته خبر ده. نو داکم
به په هغه وخت کښې مبتداء وی. او دا ورپسې وروسته به ورته خبر وی چه داکم ظرف نه وی

لکه په دې مخکښې دوه مثالونوکښې داکم ظرف نۀ دۀ ځکه چه کم ته ظرف ویلې شي په اعتبار د تمیز سره یعنې چه تمیز ظرف وي نو دۀ ته ظرف وائي. او په مخکښې دواړو مثالونوکښې تمیز رجل دۀ او دا ظرف نۀ دۀ. او دویم احتمال په رفع دکم کښې دا دۀ چه داکم به خبروي او شئ اخربه وړاندې مبتدا وي. او دا احتمال به په کم کښې هغه وخت جاري کیږي چه تمیز د دې کم ظرف وي. ځکه چه په کم کښې ظرفیت حاصلیږي په اعتبار د تمیز سره په دې شان چه تمیز دکم ظرف وي. نو دې کم ته هم ظرف وائي مثال لکه کم یوماً سفرک؟ نو دا یوماً ظرف او تمیز دۀ لپاره دکم نو له وجه د دې تمیز نه کم ته هم ظرف ویلې شي. نو لته داکم مبتدا نۀ جوړیږي بلکه داکم سره د تمیز خپل ته خبر مقدم دۀ او دا وړاندې اسم چه سفرک دۀ ورته مبتدا دۀ.

تنبیه:- زده کړه دا خبره چه کم چه مفعول به او یا مفعول مطلق او یا مفعول فیه او یا ظرف ویلې شي. نو دا له دې وجې نه نۀ وي چه داکم پخپله مفعول به وي چه فعل ورباندې واقع وي او یا مفعول مطلق وي معنی مصدر وي دفعل او یا مفعول فیه وي چه فعل په دۀ کښې شوې وي. او دا ظرف ورته او هم ارنګ داکم ته چه ظرف وائي نو دا هم له دې وجې نه نۀ وي چه دا پخپله ظرف وي بلکه دۀ ته چه مفعول به وائي نو دا په هغه وخت کښې وائي چه دکم تمیز مفعول به وي. او دۀ ته چه مفعول مطلق وائي نو دا هله چه د دۀ تمیز مفعول مطلق وي او مصدر وي د پاره دفعل. او هم ارنګ چه ورته ظرف وائي نو دا په دې وجه ورته وائي چه د دۀ تمیز ظرف وي. او مفعول فیه ورته وائي نو دا په دې وجه چه تمیز د دۀ مفعول فیه وي لپاره دفعل او دا فعل پکښې واقع شوې وي.

قوله: ثالث ایشان کاین ای الثالث منها کاین قوله ورابع ایشان کذا ای الرابع منها کذا الخ: زده کړه دا خبره چه دریم اسم له هغو اسماءونه چه هغوئ نصب ورکوي اسم منکړ ته کاین دۀ او دا مرکب دۀ له دوه لفظونو نه اول لفظ کاف د تشبیه او دویم لفظ ای دۀ او بیا په اخر کښې نون ساکنه پیوست شوې دۀ. او پخپله دا کاین مبني دۀ په سکون سره او په اخر کښې دا نون تنوین نۀ دۀ بلکه نون ساکنه دۀ ځکه چه د تنوین د پاره په خط کښې صورت نشته. او دا کاین د معنی ترکیبي نه خارج شوې دۀ چه هغه معنی ترکیبي عبارت دۀ له معنی دکاف تشبیه او د معنی د ای نه. بلکه اوس دا کاین مستعملیږي لپاره د عدد مبهم مثال لکه کاین رجلاً لقیت نو دلته کاین لپاره د عدد مبهم دۀ او معنی ترکیبي نۀ دۀ ورنه مراد دۀ. او په بعض اوقاتوکښې دا کاین سره له دې نه چه په عدد مبهم دلالت

کوی. متضمن وی معنی د استفهام لره مثال لکه کاین رجلا عندک نو دلته د کاین لپاره د استفهام ده او معنی یې دا ده چه څو مره سړی دی ستا سره. او څلورم اسم د هغه اسمونو نه چه نصب ورکوی اسم نکره ته بنا بر تمیز کنا ده. او دا مرکب ده له دوه لفظونو نه اول کاف د تشبیه او دویم "ذا" اسم اشاره نو لکن د اکنا د هغې معنی ترکیبی نه خارج شوې ده چه هغه تشبیه او اشاره ده. بلکه مراد ورنه عدد مبهم ده او مبنی ده د اکنا په سکون سره او د مذکر او مؤنث د پاره علی السویه مستعملیږی په دې شان چه د مذکر د پاره هم کنا راځی په الف سره او د مؤنث د پاره هم کنا راځی په الف سره. او دا سې نه ده چه د مذکر د پاره په الف سره راشی چه هغه کنا ده او د مؤنث د پاره په یاء سره راشی، چه کنی ده. او مثال د دې کنا لکه کنا رجلا عندک. نو د دې مثال کښې د اکنا لپاره د عدد مبهم ده او متضمن هم ده معنی د استفهام لره. او دا رجلا ورته تمیز ده او منصوب ده او نصب ورته دې کنا ورکړی ده. او معنی د کلام دا ده چه څو مره سړی دی ستا سره.

النوع التاسع

شعر

نه بود اسماء افعال وکزان شش ناصب اند!
دونک بله علیک حیهل باشد وها!
پس رویدا باز رافع اسم را هیهات دان!
باز شتان است وسرعان یا دگیر این بیتها!

نهم نوع له عواملو سماعیه نه اسماء الافعال دی. او دا په نهه کوږ کښې په دوه قسمه دی. اول قسم هغه اسماء الافعال دی چه نصب ورکوی نهه مدخول ته. او دویم قسم هغه دی چه رفع ورکوی نهه مدخول ته. نو هغه اسماء افعال چه مدخول نهه ته نصب ورکوی دا شپږ اسماء دی: دونک. بله. علیک. حیهل. او ها ده او روید ده. او هغه اسماء افعال چه اسم ته رفع ورکوی درې دی: هیهات. شتان. سرعان. او معنی د دې اشعارو دا ده چه ناظم وائی چه اسماء افعال نه دی چه شپږ پکښې ناصب دی نصب ورکوی. او دا عبارت دی له دونک او بله او علیک او حیهل او ها او روید نه او بیا هغه اسماء افعال چه رفع ورکوی اسم ته نو په هغوی کښې اول هیهات پیژنه او بیا په هغوی کښې شتان او سرعان ده. او دا اشعار چه پکښې ذکر دی اسماء افعال دا یاد ساته.

تشریح:۔ زده کړه دا خبره چه لفظ د اسماء الافعال جمع ده. او مفرد د دے اسمِ فعل دے او معنیٰ لغوی د اسم فعل دا ده چه اسم معنیٰ نوم او فعل معنیٰ کار نو د مجموعه معنیٰ ده نوم د کار. او اصطلاحی معنیٰ د اسم فعل دا ده چه اسم فعل هر هغه اسم ته وائی چه وی اسم او معنیٰ یے د فعل وی. یعنی په اعتبار د لفظ سره اسم وی او په اعتبار د معنیٰ سره فعل وی مثال لکه رُوَیْد. نو دا په اعتبار د لفظ سره اسم دے او معنیٰ یے د فعل ده ځکه چه معنیٰ د دے "امهل" ده او امهل امر ده او امر له قبیلے د افعالونه ده. نو هر هغه اسم چه معنیٰ یے د فعل وی او مشتمل وی په معنیٰ د فعل بانډې نو هغې ته اسم فعل وائی او بیا د اسماءِ افعال په اعتبار د اشتمال د دوئی په معنیٰ د فعل بانډې په خپل کو رکښې په دوه قسمه دی. اول قسم هغه اسماءِ افعال دی چه په معنیٰ د امرِ حاضر سره وی. او دویم هغه دی چه په معنیٰ د فعل ماضی سره وی. نو هغه اسماءِ افعال چه په معنیٰ د امرحاضر سره دی. د دوئی د پاره مصنف شیخ لفظونه ذکر کړیدی چه اول لفظ پکښې "دونک" ده. نو دا دونک اسم فعل ده او معنیٰ یے د امرِ حاضر ده چه هغه "خذ" ده. او خذ صیغه د امرِ حاضر ده. نو معنیٰ د "دونک زیداً" "خذ زیداً" ده. نو له دے دونک نه چه وروسته کوم اسم ذکر وی هغه به ورته مفعول به وی. او په دونک کښې چه کوم ضمیر مستتر دی هغه به ورته فاعل وی مثال لکه "دونک زیداً" نو دلته دا دونک چه په معنیٰ د خذ سره ده اسم فعل ده او ضمیر پکښې مستتر ده چه تعبیر ترې کولے شی په "انت" سره هغه ورته فاعل ده او دا "زیداً" اسم چه وروسته وراته ذکر ده دیته دونک نصب ورکړیده او دا ورته مفعول به ده. او دویم اسم له هغه اسماءِ افعالونه چه په معنیٰ د امرحاضر سره وی "بله" ده او دا په معنیٰ د "دَعْ" سره ده. او دع صیغه د امرِ حاضر ده. او له "بله" نه چه وروسته کوم اسم ذکر وی هغه به منصوب وی او مفعول به به وی د پاره د "بله" اسم فعل. او په بله کښې ضمیر مستتر وی هغه ورته فاعل وی. مثال لکه "بله زیداً" نو دا بله په معنیٰ د دع سره ده او ضمیر پکښې مستتر ده چه تعبیر ترې کیږی په انت سره او دا ورته فاعل ده او دا زیداً ورته مفعول به ده. او دریم اسم فعل چه په معنیٰ د امرحاضر سره وی "علیک" ده. نو دا "علیک" اسم فعل ده. او دا هم په معنیٰ د امرِحاضر سره ده چه هغه "الزم" ده او له دے اسم فعل نه چه وروسته کوم اسم ذکر وی هغه یے مفعول به وی او په دے اسم فعل کښې چه کوم ضمیر مستتر وی هغه یے فاعل وی مثال لکه "علیک زیداً" نو دا علیک په معنیٰ د الزم سره ده او انت ضمیرِ مستتر ورته فاعل ده او زیداً ورته مفعول به ده

او څلورم اسم فعل چه په معنیٰ د امر حاضر سره وي "حیهل" دے۔ او دا په معنیٰ د "ایتِ" سره ده۔ او له دینه وروسته چه کوم اسم ذکر وي هغه به منصوب وي او مفعول به به وي لپاره د "حیهل"۔ او ضمیر مستتر به ورته فاعل وي۔ مثال لکه "حیهل زیداً" نو په حیهل کښې انت ضمیر مستتر ورته فاعل دے۔ او "زیداً" مفعول به دے د "حیهل" او دے حیهل ورته نصب ورکړیده۔ او پنځم اسم فعل چه په معنیٰ د امرِ حاضر سره ده "هَا" دے۔ نو دا هم اسم فعل دے او په معنیٰ د خذ سره دے۔ او له دینه وروستو اسم چه ذکر وي هغه به منصوب وي او مفعول به به وي د دے "ها"۔ او په دیکښې ضمیر مستتر به ورته فاعل وي مثال لکه "ها زیداً" نو ها په معنیٰ د خذ سره دے او ضمیر مستتر چه انت دے پکښې ورته فاعل دے۔ او دا زید ورته مفعول به دے۔ او دِے ها ورته نصب ورکړیده۔ او شپږم اسم فعل چه په معنیٰ د امرِ حاضر سره وي "روید" دے۔ او دا په معنیٰ د امهل سره دے۔ او امهل صیغه د امرِ حاضر ده او د دینه وروسته اسم به منصوب او مفعول به به وي لپاره د "روید" او په دیکښې ضمیر مستتره به ورته فاعل وي مثال لکه "روید زیداً" د دے معنیٰ ده امهل زیداً۔ یعنی مهلت ورکړه زید ته۔ او زید ورته مفعول به دے۔ او مصنف د هغو اسماءِ افعالو د پاره چه په معنیٰ د ماضي سره وي د دے الفاظ ذکر کړي دي۔ چه اول لفظ "هیهات" دے۔ دا په معنیٰ د بعُد سره دے۔ او له د دے هیهات نه چه وروستو کوم اسم ذکر وي هغه به ورته فاعل وي مثال لکه "هیهات زیدٌ"۔ نو دا په معنیٰ د بعد سره دے نو معنیٰ د کلام دا ده چه بعُد زیدٌ یعنی لرے شو زید۔ او دویم اسم فعل په دِے اسماءِ افعالو کښې چه په معنیٰ د ماضي سره وُي شتان دے۔ دا په معنیٰ د "افترق" سره دے۔ او افترق صیغه د ماضي ده۔ او وروستو اسم به ورته فاعل وي مثال لکه "شتان زیدٌ" معنیٰ دا ده "افترق زیدٌ" نو دا زید ورته فاعل دے۔ او دریم اسم فعل چه په معنیٰ د ماضي سره ده "سرعان" دے۔ چه په معنیٰ د اسرع سره ده او اسرع معنیٰ ده په کار کښې جلتي او تندي کول۔ او له دینه وروستو اسم به ورته فاعل وي مثال لکه "سرعان زیدٌ" یعنی "اسرع زید فی الامر" او زید فاعل ده ورته۔ نو کوم اسماءِ افعال چه په معنیٰ د امر حاضر سره دي هغوئ په معنیٰ د فعل متعدي سره دي۔ نو له دے وجې نه په هغوئ کښې ضمیر مستتر وي هغه ورته فاعل وي او وروسته اسم ورته مفعول به وي او منصوب وي۔

او کوم اسماءِ افعال چه په معنیٰ د ماضي سره وي۔ هغوئ افعال لازمي دي۔ یو فاعل غواړي فقط او مفعول به نهٔ غواړي۔ نو له دِے وجې نه دِے اسماءِ افعالو

کښې ضمیرِ مستتر نهٔ وي موجود او وړاوستو اسم چه ذکر وي هغه ورته فاعل وي او مرفوع د

فعلي هذا قول المصنف نه بود اسماءِ افعال محمول على الاشتهار والا فليس لها حصر
لوجود نزال الخ: غرض د شارح په دے عبارت سره جواب وړکول دي دیو اعتراض نه
هغه دا چه د احص ستاسو چه تاسو اسماءِ افعال منحصر کړیدي په نهو کښې باطل ده
ځکه چه لږ دینه بغیر نور اسماءِ افعال هم شته لکه "نزال" چه دا اسم فعل ده په معنی د
امرِ حاضر سره ده او لکه "تراک" چه دا اسم فعل ده او په معنی د اترک سره ده. او دغه
شان دا حروف نداء په مذهب دابو علي فارسي بانډې قول اسماءِ افعال دي او په
دوی کښې معنی د فعل موجود ده چه هغه اطلب او ادعو ده. او هم ارنګ صه هم اسم
فعل ده په معنی د امرِ حاضر سره ده چه هغه اسکت ده. او هم ارنګ مه لفظ هم
اسم فعل ده او په معنی د امرِ حاضر سره ده چه هغه اترک ده. نو معلوم شوه
چه اسماءِ افعال نهٔ دي منحصر په نهو کښې چه مصنف ذکر کړیدي. او حاصل د جواب
دا ده چه دا حصر د مصنف بنا نهٔ ده په حقیقت بانډې په دے شان چه دا اسماءِ افعال
په حقیقت او نفس الامر کښې دا نهه دي او ډیر نه دي بلکه دا حصر د مصنف بنا ده په
شهرت بانډې په دے شان چه هغه اسماءِ افعال چه مشهور دي هغه نهه دي او له
دینه بغیر چه نور دي نو هغه غیر مشهور دي. نو دا حصر دا اسماءِ افعالو په نهو کښې
حصر د مطلق اسماءِ افعالو نهٔ ده بلکه دا حصر د هغو اسماءِ افعالو ده چه کوم مشهور
دي نو حصر د مصنف نهٔ ده باطل. ځکه شک نشته چه هغه اسماءِ افعال چه مشهور
دي نهه دي. او دا حصر د مصنف به په هغه وخت کښې باطل وه که چرته مصنف د مطلق
اسماءِ افعالو حصر په دے نهو اقسامو کښې کړے وے.

واعلم انها تقترن باحد الازمنة الثلثة يعني ان الناصبة منها مقترنة بالمستقبل
وان الرافعة منها مقترنة بالماضي لكن هذا الاقتران بوضع ثانٍ الخ: غرض د شارح
په دے عبارت نقل کښې جواب ورکول دي دیو اعتراض نه. حاصل د اعتراض دا ده
چه هر کله هغه افعال چه نصب ورکوي راوسته اسم ته په معنی د امرِ حاضر سره ؤي
نو د هغوئ معنی مقترنه شوه ترزمانه مستقبل پورے. او هغه اسماءِ افعال چه رفع
ورکوي وراسته اسم ته د هغوئ معنی مقترنه ده ترزمانه ماضي پورے ځکه چه دا
اسماءِ افعال په معنی د ماضي سره دي نو د دے اسماءِ افعالو معنی ګانے چه مقترنے
شوے ترزمانه پورے. نو دا خارج شول د تعریف د اسم نه ځکه چه د اسم تعریف

دا ده چه اسم هغه کلمے ته وائی چه معنی به یے نهٔ وی مقترنه تریو دازمنه ثلاثه پورے اودِے اسماءِ افعالو معانی مقترنے دی تریو زمانه پورے. نو هر کله چه دوئ خارج شول له تعریف داسم نه نو تعریف داسم منقوض شو په دِے اسماءِ افعالو باندِ ځکه چه دوئ ورنه خارج شول. نو په تعریف داسم کښِ جامعیت فوت شو. او حاصل دجواب دا ده چه په تعریف داسم کښِ چه دا خبره معتبره ده چه معنی به یے نهٔ وی مقترنه یو دازمنه ثلاثه پورے مراد ورانه عدم اقتران ده خو لکن په اعتبار د وضع اولی سره یعنی داسم معنی به نهٔ وی مقترنه په اعتبار داولے وضع سره تریو دازمنه ثلاثه پورے. او دِے اسماءِ افعالو هم معنی نهٔ ده مقترنه تریو دازمنه ثلاثه پورے په اعتبار داولے وضع سره. ځکه چه دوئ اول د هغو معانو د پاره وضع شوی دی چه هغه معانے نهٔ دی مقترنے تر زمانه پورے او بیا ورسته چه دوئ رانقل شول دِے معانو د افعالو ته. نو د دوئ معانی مقترنے شوے تریو دازمنه ثلاثه پورے. او دا نقل دویمه وضع ده. نو دا اسماءِ افعال داخل دی په تعریف داسم کښِ. نو تعریف داسم جامع ده خپلو افرادو د وته. نهٔ ده منقوض په دِے اسماءِ افعالو باندِ ے.

واعلم انها اسماء بن وانها لا افعال ولا حروف وعددها تسعة على الاشتهار الخ: غرض دشارح په دِے عبارت سره بیان دامورو خمسه ده. اوّل امر له دوئ نه بیان د ذواتو دِے اسماءِ افعالو ده. او دِے بیان شارح کړیده په دِے عبارت خپل سره چه" انها اسماء بذواتها لا افعال ولا حروف". یعنی دوئ په اعتبار د ذواتو خپلو سره اسماء دی. افعال هم نهٔ دی او حروف هم نهٔ دی. نو ذات یے اسم ده او له نوع داسم نه دی. او دوئم امر عدد د دِے اسماءِ افعالو ده. نو دا شارح بیان کړیده په دِے عبارت خپل سره چه" وعددها تسعة" یعنی داغو نهه نهه دی بنا بر شهرت. دا نهه یکښِ مشهور دی. او له دینه نور هم شته چه هغه غیر مشهور دی. نو دا مشهور اسماءِ افعال منحصر دی په نهو کښِ او د غیر مشهورو د پاره څهٔ حصر نشته بلکه هر هغه اسم چه یکښِ معنی د فعل موجوده وی. هغه به اسمِ فعل وی. او دریم مدخول د دوئ ده. او د دِے بیان شارح کړیده په دِے عبارت سره، چه" ومدخولها اسم مفرد" یعنی مدخول د دوئ اسم مفرد ده. نو دوئ به فعل باندِ هم نهٔ داخلیږی او په هغه اسم باندِ هم نهٔ داخلیږی چه هغه تثنیه یا جمع وی. او څلورم امر عمل د دوئ ده. او د دِے بیان شارح په" وعملها النصب اوالرفع" سره کړیده. یعنی عمل د دوئ نصب او رفع ده چه بعضِ اسماء افعال روستو اسم ته نصب ورکوی او بعضِ

د دوئ ما وستو اسم ته رفع ورکوی. او پنځم امر نو مونه د دوئ دی. نو شارح دوه نو مونه د دوئ ذکر کړیدی اول نوم اسماءِ افعال. او وجه د تسمیه ظاهره ده چه دویته ځکه اسماءِ افعال وائی چه د دوئ معانی د افعالو دی. او دویم دویته اسماءِ منقوله وائی. او وجه د تسمیه داده چه منقوله ماخوذ ده د نقل نه او په دوئ کښې هم نقل موجود ده چه نقل شوی دی د خپلو معنونه معنو د افعالو ته.

تنبیه:- زده کړه د اخبره چه لفظ د "اُفٍ" هم اسم فعل ده او لفظ د "اَوهٔ" هم ده خو لکن اُفٍ په اصل کښې هم په معنی د ماضی سره وه او "اَوهٔ" هم په اصل کښې په معنی د ماضی سره وه اُفٍ په معنی د تضجرت سره. او "اَوهٔ" په معنی د توجعت سره وه. او د اتضجرت او توجعت دواړه ماضی دی. او بیا روسته له دې ماضی نه دواړه رانقل شویدی معنی د مستقبل ته چه اُفٍ په معنی د اتضجر او "اَوهٔ" په معنی د اتوجع سره ده. او دا دواړه صیغې د مستقبل دی. نو هرکله چه دا دواړه په معنی د ماضی سره په اصل کښې وه نو د اا عتراض معترض نشی کولې چه حصر د اسماءِ افعالو باطل ده په دې دوه اقسامو کښې. یو قسم هغه چه په معنی د امر حاضر سره وی. او دویم قسم هغه چه په معنی د ماضی سره وی. ځکه چه یو دریم قسم د دوئ هم شته چه هغه عبارت دی له هغه اسماءِ افعالو نه چه په معنی د مضارع سره وی لکه اُف او اَوه. نو دا اعتراض ځکه نه واردیږی چه مونږ ووئیل چه دا اف او اوه هم په معنی د ماضی سره دی په اصل کښې نو حصر په دې دوه اقسامو کښې صحیح ده.

النوع العاشر

شعر

نوع عاشر سیزده فعلند ایشان ناقص اند!

رافع اسم اند ناصب در خبر چون کان ولا!

هرکله چه مصنف فارغ شوله بیان د اسماءِ عامله نه. نو شروع یې وکړه په بیان د افعالِ عامله کښې. نو د السمه نوع د افعالِ ناقصه ده. او د شعر ترجمه او معنی داده. چه ناظم وائی چه لسمه نوع دیارلس افعال دی چه دا تول افعال ناقصه دی. او دوئ رفع ورکوی اسم ته او نصب ورکوی خبر ته پشان د "ما ولا" یعنی لکه ځنګه چه ما او لا رفع ورکوی اسم ته او نصب ورکوی خبر ته. نو همدارنګ دوئ هم رفع ورکوی اسم خپل ته او نصب ورکوی خبر خپل ته.

"شعر"

کان۔ صار۔ اصبح۔ امسیٰ۔ واضحیٰ۔ ظل۔ بات!
ما فتی۔ مادام۔ ماانفک۔ لیس باشد از قفا!
مابرح۔ مازال۔ افعالے کز ینہا مشتق اند!
ہر کجا بینی ہمین حکم است در جملہ روا!

زړه کړه دا خبره چه لکه څنګه چه دا افعال ناقصه اسم ته رفع ورکوي او خبر ته نصب ورکوي نو همدارنګ هغه افعال چه مشتق وي له دوئ نه هغوئ هم اسم ته رفع ورکوي او خبر ته نصب ورکوي. مثال لکه یکون چه دا مشتق ده د کان نه. نو دا یکون چه په کوم کلام کښې راشي نو اسم ته به رفع ورکوي او خبر ته به نصب ورکوي. مثال لکه یکون زید عالما. نو دلته دا زید اسم ده د یکون او رفع ورته ده ورکړیده او دا عالما خبر ده د یکون او نصب ورته یکون ورکړیده. او لکه څنګه چه دا حکم د مضارع ده نو همدغه حکم د اسم فاعل هم ده په هغه کائن ده چه مشتق ده د کان نه. نو دا کائن هم خپل اسم ته رفع ورکوي او خبر خپل ته نصب ورکوي. او همدا حکم د مصدر هم ده چه کون ده او دا مصدر د کان ده. او دا هم اسم خپل ته رفع او خبر خپل ته نصب ورکوي. نو لکن دا خبره په هغه افعالو ناقصه کښې ده چه د هغوئ د پاره مضارع. اسم فاعل او مصدر وي لکه کان. او هر چه هغه فعل ناقص ده چه د هغه مضارع. مصدر او اسم فاعل نه وي لکه لیس نو د هغه دا حکم نه ده بلکه دا لیس دا عمل منکوره کوي. او د دے د پاره مضارع. اسم فاعل او مصدر نشته چه هغوئ دا عمل وکړي.

په دے عبارت د ناظم باندې چه افعالے کز ینہا مشتق اند. اعتراض وارد یږي. او هغه دا چه معترض وائي چه یا به مراد له افعالو نه مضارع او امر او اسم فاعل او مصدر وي چه دا ئي چه دوئ مشتق دي له هغو افعالو نه چه ذکر دي په شعر کښې نو دا په مذهب د هغه چا باندې صحیح کیږي. چه څوک دا مضارع او اسم فاعل او مصدر مشتق بولي له ماضي نه څکه چه په شعر کښې چه کوم افعال ذکر دي. هغوئ د قبیلے د ماضي نه دي. او د هغو خلقو په مذهب باندې نه صحیح کیږي چه څوک مضارع. امر. اسم فاعل او مصدر مشتق نه بولي د ماضي نه. او حق مذهب هم دا ده. او یا به مراد ستاله دے افعالو نه هغه افعال وي چه هغوئ مشتق نه وي له هغو افعالو نه چه کوم په دے شعر کښې ذکر دي بلکه مراد ورته هغه افعال دي چه له دے افعالو منکوره سره شریک وي په اشتقاق کښې په دے شان چه د یو دے مبدأ نه په قول را مشتق شوے وي. نو دا افعال بیا نو شامل دي

مضارع او امر او اسم فاعل ته ځکه چه دا امور شریک دی د دے عکښ افعالو سره په اشتقاق کښے ځکه چه افعال مذکوره په شعر کښ له قبیلے د ماضي نه دی او دا افعال شریک دی د ماضي سره په اشتقاق کښ خو لکن بیا دا افعال نهٔ دی ورشامل مصدر له ځکه چه مصدر نهٔ ده شریک د ماضي سره په اشتقاق کښ چه دواړه د یو مبدء نه مشتق شوي وي. نو دا اعتراض د معترض مشتمل ده په دوه شقونو باندې. نو له دینه مونږ جواب ورکوو په اختیار د شق ثالث سره. په دے شان چه مراد له هغه افعالونه چه ناظم ویلی دی چه" افعالے کزنیها مشتق اند" هغه افعال دی چه د هغوی علاقه د اشتقاق وی د هغو مصادر سره چه کوم په شعر کښ ذکر دی. په دے شان چه یا به دوی له هغوا فعالونه مشتق وی چه ذکر دی په شعر کښ. او یا به هغه افعال چه ذکر دی په شعر کښ هغه له دوی نه مشتق وی. نو په دے وقت کښ دا ور شامل دی مضارع او امر او اسم فاعل ته هم ځکه چه دوی دا سے افعال دی چه د دوی علاقه ده د هغه افعالو سره چه په شعر کښ ذکر دی چه هغه ماضي افعال دی. او هغه علاقه د اشتقاق دا ده چه دا امور مشتق دی له ماضي نه او همدا رنګ دا ورشامل دی مصدر ته هم. ځکه چه د مصدر او د هغه افعالو ترمینځه چه په شعر کښ ذکر دی هم علاقه د اشتقاق شته چه هغه دا ده چه دا افعال مذکوره په شعر کښ مشتق دی له مصدر نه. او د اخبره زده کړه چه مراد له افعال نه په دے عبارت د ناظم کښ چه" افعالے کزنیها مشتق اند" هغه افعال دی چه ورباندې اطلاق کیږی د فعل په اعتبار د معنی لغوی سره. نو دا افعال ځکه مونږ ورشامل بولو مصدر او اسم فاعل ته. او که چرته ورنه اصطلاحی معنی واخلو نو بیا نهٔ دی ورشامل مصدر او اسم فاعل ته.

تشریح:- زده کړه د اخبره چه کان پخپل کوره کښ په دوه قسم ده اول قسم ناقصه ده او د اعبارت ده له دینه چه دلالت به کوی په موصوفیت د اسم خپل باندې په یو صفت سره چه هغه به غیر وی له مصدر د دے کان نه مثال لکه" کان زید قائما" نو دا کان دلالت کوی په موصوفیت د زید باندې چه زید موصوف ده په یو صفت باندې چه هغه قیام ده او دا قیام غیر ده له مصدر د دے کان نه ځکه چه مصدر د کان کینونت ده. او دویم قسم د کان کان تامه ده. او د اعبارت ده له هغه کان نه چه په معنی د وجد سره وی مثال لکه" کان زید" ای وجد زید. او دریم قسم د کان کان زائده ده او د اعبارت ده د هغه کان نه چه په اسقاط د دے سره څه خلل نهٔ راځی په اصل معنی کښ مثال د دے کان زائده لکه د اقول د الله تعالی چه: كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا. نو په

دے ایت کښې دا کان زائده ده او په سقوط سره هیڅ خلل نهٔ راځي په معنیٰ کښې.
او صار نخپل کو اکښې په دوه قسمه ده یو قسم صارنا قصه ده. او دویم قسم صار تامه ده.
صارنا قصه دیته وائي چه متعدی به وي دوه شیانوته بالذات بغیرد واسطه دحرف چه
نه او دلالت به کوي په انتقال داسم دیو حقیقت نه بل حقیقت ته مثال لکه صار الطین
خذفاً نو دلته داصار دلالت کوي په انتقال دطین باندې له یو حقیقت نه بل حقیقت ته چه
اوّل حقیقت دطین توب ده او دویم حقیقت دخزف توب ده. او معنی دکلام دا ده چه
دے طین دخپل حقیقت نه انتقال وکړو او داخل شوه په حقیقت دخزف کښې. یعنی د
خټے نه کودنړے جوړ شو. او یا به دلالت کوي داصار نا قصه په انتقال داسم باندې دیو
صفت نه بل صفت ته مثال لکه "صار زید غنیاً" نو صار دلالت کوي په دے چه زید انتقال
وکړو دیو صفت نه چه فقر ده بل صفت ته چه غنی ده. او صار تامه دیته وائي چه هغه به
متعدی کیږي دویم شئ ته په واسطه دحرف جاره سره. او دلالت به کوي په انتقال د
اسم خپل باندې له یو مکان نه بل مکان ته لکه صار زید من بلد الی بلد" نو صار اول شئ ته
متعدی شوے ده بالذات چه هغه زید ده. او دویم شئ ته چه بلد ده وا متعدی شوے
په واسطه دحرف جاره سره. او داصار په معنی دانتقال سره ده دیو مکان نه بل مکان
ته. په دے شان چه معنی د کلام دا ده چه زید انتقال وکړو دیو مکان نه بل مکان ته چه
اول مکان یو بلد ده او هغه بل مکان بلد آخر ده.
او دا اصبح او امسیٰ او اضحیٰ په خپل کو اکښې په دوه قسمه دی. اول قسم نا قصه
دی. او دویم قسم تامه دی. نو تامه عبارت دی له هغه افعالونه چه دوی به دلالت
کوي په اقتران د مضمون دجملے باندې ترخپلو اوقاتو پورے چه داصبح وقت صبح ده
او دامسیٰ وقت مساء ده او دا اضحیٰ وقت د ضحیٰ ده مثالونه یې دا دی چه اصبح
زید غنیاً. امسیٰ زید غنیاً. اضحیٰ زید غنیاً. نو دے مثالونو کښې دازید غنیاً جمله ده
او مضمون دجمله عبارت ده له دیته چه مصدر د مشتق را واخستل شي او مضاف شي
جامد ته چه دامشتق به هم په دے جمله کښې وي او دا جامد به هم په دے جمله کښې وي
نو په دے مذکښ جمله کښې مشتق لفظ دغنی ده ځکه چه دا صفت مشبه ده او مصدر
د دے غنی ده. او جامد لفظ د زید ده. نو مضمون دجمله به دا وي چه "غنی زید" نو
غنی مضاف ده او زید وا ته مضاف الیه ده. او دا اصبح په دے "اصبح زید غنیاً کښې
دلالت کوي په دے خبره باندې چه داغني د زید مقارنه ده ترصبح پورے یعنی زید ته

داغني په صبح کښې ثابته ده. او "امسیٰ" په "امسیٰ زيد غنيا" کښې دلالت کوي چه داغنی زيد ته ثابته ده په وقت د مساء کښې او مقارنه ده تر دے وقت پورے. او "اضحیٰ" په "اضحیٰ زيد غنيا" کښې دلالت کوي په دے باندې چه زيد ته غنی ثابته ده. او د زيد داغنی مقارنه ده په وقت د ضحیٰ پورے. نو دا درے واړه افعال چه کله ناقصه وي بيا دوئ دلالت کوي په اقتران د مضمون د جملې باندې تر خپلو اوقاتو پورے. او دا درے واړه چه ناقصه وي نو عبارت دی له دينه چه دوئ به متعدي وي يو شئ بالذات ته او دوئ به په معنی د دخل سره وي مثال لکه "اصبح زيدٌ" نو دَدِے معنیٰ دا ده چه دخل زيد فی الصبح او لکه امسیٰ زيد. يعني دخل زيد فی المساءِ. او لکه "اضحی زيدٌ" يعني دخل زيد فی الضحیٰ. نو دا درے واړه افعال چه کله تامه شي نو دد وئ اسم به داخل وي او هغه وخت چه دا افعال وي باندې دلالت کوي هغه به ظرف وي لپاره دَدِے دخول. او دا افعال ثلاثه په بعضِ موادو کښې په معنی د صار سره هم راځي مثال لکه اصبح الفقير غنيا. نو ددے معنی ده صار زيد غنيا. او لکه "امسیٰ زيد کاتبا" يعني صار زيد کاتبا. او لکه "اضحی المظلم منيرا" يعني صار المظلم منيرا. نو دا افعال په درې واړو مثالونو کښې په معنی د صار سره دی. او درېواړه دلالت کوي په انتقال د اسم خپل له يو صفت نه بل صفت ته. او "ظل او بات" راځي لپاره د اقتران د مضمون د جملې تر خپلو اوقاتو پورے په دے شان چه د ظل وقت نهار ده. او د بات وقت ليل ده. مثال لکه "ظل زيد کاتبا" نو دا ظل دلالت کوي په مضمون دَدِے جملې چه کتابة زيدٍ ده مقارن ده تر نهار پورے يعني زيد ته کتابت په نهار کښې ثابت شوی ده. او لکه "بات زيد کاتبا" نو دا بات دلالت کوي چه مضمون دَدِے جملې چه "کتابة زيد" ده حاصل شوی ده زيد ته په وقت د ليل کښې او دا ظل او بات په بعضِ موادو کښې په معنی د صار سره هم راځي مثال لکه ظل الصبي بالغا. معنی ددے کلام دا ده چه صار الصبي بالغا. يعني هلک بالغ شو. او مثال دَ بات لکه "بات الشاب شيخا" نو دا بات په معنیٰ دَ صار سره ده نو معنی د کلام دا ده. چه "صار الشاب شيخا" يعني ځلمی زوړ شو.

او "مادام" راځي لپاره د توقيت د يو شي تر موده د ثبوت د خبر د دوئ لپاره د اسم د دوئ مثال لکه "اجلس مادام زيد جالسا" نو دا جلوس چه يو شئ ده مؤقت کړے شوی ده تر هغه مودے پورے چه تر څو پورے دا خبر چه جالسا ده ثابت وي اسم ته چه زيد ده يعني دا جلوس د مخاطب به تر هغه وخته پورے وي. چه تر څو پورے زيد ته جلوس

ثابت وي. نو معکبس له دې مادام نه به ضرور جمله موجوده وي چه د هغې توقیت راشي کړ موده د ثبوت د خبر د مادام لپاره د اسم د مادام. او ما زال او ما انفك او ما برح او ما فتئ ئخلور واړه دلالت کوي په دوام د ثبوت د خبر لپاره د اسم. له هغه وقت نه چه د کوم وقت نه دې اسم د اخبر قبول کړې وي. او د دې څلور واړو سره نفي لازمه ده مثال لکه ما زال زید عالماً او ما برح زید صائماً. او ما فتئ زید فاضلا. او ما انفك عمرو عاقلاً. نو په دې څلور واړو مثالونو کښې دلالت موجود ده له طرف د دې افعالو نه په دې خبره باندې چه داخبر ثابت ده لپاره د اسم د هغه وقت نه چه د کوم وقت نه دې اسم د ا خبر قبول کړې ده.

او په لیس کښې اختلاف واقع شوې ده په مابین د جمهور او د سیبویه کښې. جمهور وائي چه د الیس راځي لپاره د نفي په زمانه حالی کښې فقط. او سیبویه وائي چه لیس راځي لپاره د نفي مطلق برابره خبره ده که د انفي په زمانه حال کښې وي او که په زمانه استقبالی کښې وي او که په زمانه ماضي کښې وي.

وانما سمیت ناقصة لانها لا تتم بفاعلها کلاما تاما الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره بیان د وجه د حصر د افعالو ناقصه ده. نو شارح وائي چه دوئ ته څکه افعال ناقصه وائي. څکه چه دوئ هم نه تامیږي په فاعل باندې. چه ترڅو پورې دوئ سره دوه شیان نه وي ضم شوي. نو له دوینه تام کلام نه جوړیږي. بلکه چه د دوئ سره کله اسم او خبر ضم کړې شي، نو بیا له دوئ نه تام کلام جوړیږي. په خلاف د نورو افعالو نه چه هغوئ تامیږي په یو فاعل باندې فقط او حاجت نه وي پکښې مفعول ته په تام کیدو د کلام کښې.

فاعلم ان الناقص علی نوعین لفظي وهو ما یکون في مقابلة اللام حرف علة الخ:- غرض د شارح په دې عبارت سره تقسیم د ناقص ده دوه اقسامو ته او تعین د معنی مراد د ناقص ده په دې مقام کښې نو شارح وائي چه ناقص بحیل کوم کښې په دوه قسمه ده. اول قسم ناقص لفظي ده. او دویم قسم ناقص معنوي ده. ناقص لفظي دیته وائي چه دا هغه لفظ ده چه په مقابل د لام کلمه د هغه کښې حرف علت موجود وي مثال لکه رمی یرمي. او رضي یرضی. نو په دې دواړو مثالونو کښې د االفاظ چه د کوم ناقص دي څکه چه په اول مثال کښې د رمی یرمي دواړو د عین کلمه په مقابل کښې حرف علت راغلیې ده چه هغه یاء ده او په دویم مثال کښې هم چه رضي یرضي ذکرده د اهم

ناقص دہ ځکه چه په مقابل د لام کلمه کښې حرف علت راغلی دے چه هغه یاء دہ. او ناقص معنوی عبارت دہ له هغه ناقص نه چه د هغې په نسبت کښې نقصان وی. او هلته دویم معنی د ناقص دلته مراد دہ. نو چه مونږ وایو چه دا منکوره افعال ناقصې دی نو مراد ورنه دا دہ چه د دوئ په نسبت کښې نقصان دہ. او شارح بیان د نقصان د نسبت د دے افعالو کښې په دوه طریقو سره کړے دے. اوله طریقه د نقصان د نسبت د دے افعالو شارح په دے قول خپل سره بیان کړے دہ چه:

الا تری ان قولنا: کان زید. فنسبة کان الی زید الخ: حاصل د دے وجه دا دہ چه د دے افعالو په نسبت کښې ځکه نقصان دہ چه مونږ کان زید ووایو. نو دا مخاطب ته تام فائده نه ورسوی چه د هغې سکوت ورباندې صحیح شی چه ترڅو پورے مونږ ورسره قائما یا ضاحکا نه وی ضم کړے. نو معلومه شوه چه د دے افعالو په نسبت کښې نقصان دہ په دے شان چه د دوئ نسبت و شی اسم ته نو نفس په دے نسبت سره لا دوئ نه کلام تام نه جوړیږی. بلکه په دیکښې احتیاج پاتے کیږی ضم د خبر ته.

او دویمه طریقه د نقصان شارح بیان کړیدہ په دے عبارت خپل سره چه:

ونقول ان النسبة الی زید وان کان بحسب الظاهر لکنها بحسب الحقیقة الی مصدر الخبر الخ: حاصل د دے طریقے دا دہ چه په دے نسبت د افعالو ناقصه کښې ځکه نقصان دہ. چه په ظاهر کښې د دے افعالو ناقصه چه اته نسبت شوے وی نو په حقیقت کښې د دوئ نسبت هغه شی ته نه وی بلکه په حقیقت کښې نسبت غیر ته شوے وی. ځکه چه په ظاهر کښې د دے افعالو ناقصه نسبت د دوئ اسم ته شوے وی او په حقیقت کښې نسبت د دے فعل ناقص مصدر د خبر ته شوے وی. مثال لکه کان زید قائما. نو د دے کان نسبت په ظاهر کښې زید ته شوید دہ خو لکن په حقیقت کښې دا کان منسوب دہ مصدر د قائم ته چه قیام دہ. نو تقدیر د کان زید قائما دا دہ چه "کان قیام زید" نو هرکله چه نسبت د دے افعالو ناقصه په ظاهر کښې د دے اسم ته وی او په حقیقت کښې نه وی. نو دا نسبت ناقص دہ ځکه چه په اعتبار د ظاهر سره موجود دہ او په حقیقت کښې ورته څه وجود نشته.

ولهذا لا یسمی المرفوع فاعلا والمنصوب مفعولا بل یسمی شبههما صیانة للسان عن الخطاء الخ: غرض د شارح په دے عبارت کښې تفریع کول دی په دے خبره باندې چه دا افعال ناقصه په ظاهر کښې منسوب وی اسم خپل ته او په حقیقت

کښې دوئ منسوب وی مصدر د خبر خپل ته. حاصل دځ تفریع داده چه شارح وائی:
په لدې وجه نه چه داافعال ناقصه په ظاهر کښې منسوب وی اسم خپل ته. او په
حقیقت کښې منسوب وی مصدر د خبر خپل ته. مرفوع د دوئ ته چه اسم د دوئ ده فاعل
نهٔ وائی او منصوب د دوئ ته چه خبر د دوئ ده مفعول نهٔ وائی. لکه ځنګه چه د نورو
افعالو مرفوع ته فاعل او منصوب ته مفعول ویلی شی. بلکه مرفوع د دوئ ته مشابه
بالفاعل او منصوب د دوئ ته مشابه بالمفعول وائی. او فاعل ورته ځکه نهٔ وائی،
ځکه چه فاعل عبارت دے له هغه مرفوع نه چه د هغه نسبت د فعل وکړے شی نو مخاطب
ته به فائده تامه رسوی. او دا مخاطب به منتظر نهٔ پاتے کیږی ذکر د شئ آخر ته. او
مرفوع د دے افعالو ناقصه چه اسم د دوئ دے دا سے نهٔ دے ځکه چه د فعل ناقص
نسبت وشی اسم خپل ته نو مخاطب ته فائده تامه نهٔ رسوی. بلکه مخاطب منتظر
پاتے کیږی ذکر د شئ آخر ته چه خبر دے. او ورته مشابه بالفاعل ځکه وائی. چه
لکه ځنګه چه فاعل مرفوع وی او فعل ورپورے قائم وی. نو هم دارنګ اسم د دے
افعال ناقصو هم مرفوع وی او فعل ناقص ورپورے قائم وی. او د دے منصوب ته
ځکه مفعول نهٔ وائی بلکه مشابه بالمفعول ورته وائی. ځکه چه مفعول هغه ته وائی،
چه هغه ته به احتیاج نهٔ وی په تام کیدو د کلام کښې. بلکه کلام به تام شوے وی په
فاعل سره او دا مفعول به ذکروی پیاره د دے چه دا فعل ورپورے تعلق ونیسی،
او خبر د دے افعالو دا سے نهٔ دے ځکه چه خبر د دوئ ته احتیاج وی په تام کیدو
د کلام کښې. او بغیر له دے خبر نه کلام نهٔ تامیږی. او منصوب د دوئ ته مشابه
بالمفعول ځکه وائی. چه لکه ځنګه چه مفعول په غالبو اوقاتو کښې ذکر وی روسته
د مرفوع نه او منصوب وی. نو هم دارنګ دا خبر د دے افعالو ناقصو هم ذکروی،
وروسته د مرفوع نه چه هغه اسم د دوئ دے او منصوب وی. نو که د دوئ اسم
او خبر ته فاعل او مفعول وویل شی، نو دا خطائی د لسان دے. نو له دے وجه نه
ورته مشابه بالفاعل او مشابه بالمفعول وائی. چه تحفظ د لسان راشی د خطائی نه

واعلم انها علی ثلاثة انواع احدها ما لایکون فی اوله کلمة ما وهی ثمانیة افعال الخ:
غرض د شارح په دے عبارت سره تقسیم د افعالو ناقصه دے دریو اقساموته. او
حاصل د دے تقسیم داده چه شارح وائی چه داافعال ناقصه پخپل کوم کښې په دریٔ
قسمه دی اول قسم هغه افعال ناقصه دی چه د هغو په سر کښې کلمه د "ما" نهٔ وی.

موجوده او دا اته افعال دی. کان. صار. اصبح. امسیٰ. اضحیٰ. ظل. بات. لیس. او دویم قسم له دې دریو اقسامو نه هغه افعال ناقصه دی چه د هغوئ په سر کښې کلمه د ما نافیه موجوده وی. او دا خلور افعال دی. مازال. مابرح. ماانفك. مافتئ او دریم قسم هغه دی چه په اول کښې یې ما مصدریه موجوده وی. او دا قسم یو فعل دی چه "مادام" دی. نو ددې په اول کښې ما مصدریه ده. شارح وائی چه دې درې قسمو د پاره چه اجمالاً احکام دی چه هغه ذکر دی په مطولاتو یعنی په لویو کتابو نو د علم نحو کښې. نو حکم له احکامو د افعال ناقصه نه دا دی چه خبر د دوئ مقدم کړلې شي په اسم د دوئ باندې یعنی دا جائز ده چه خبر د دوئ مقدم شي په اسم د دوئ باندې او دا ځکه جائز ده چه اخبار دَ دې افعالو ناقصه مقدم شي په اسماء د دوئ باندې د اخبره په لاندې ما شي چه تقدیم د منصوب بره اشي په مرفوع. او تقدیم د معمول منصوب په معامل مرفوع جائز ده. په هغه ماده کښې چه عامل په هغه کښې فعل وی او دا افعال ناقصه هم افعال دی له نوع د فعل نه دی. او فعل قوی العمل ده. هم عمل کوے شي په معمول مرتب کښې او هم په معمول غیر مرتب کښې. نو که خبر دَ دې افعال ناقصه مؤخر وی دَ اسم د دوئ نه نو بیا هم دوئ پکښې عمل کولے شي او که خبر د دوئ مقدم وی په اسم د دوئ. نو بیا هم دا افعال ناقصه پکښې عمل کوے شي. او یو بل حکم د احکامو د دوئ نه دا ده چه د دوئ خبر مقدم شي په عین د دوئ باندې دا جائز ده. او دا حکم په ټولو افعال ناقصه کښې نهٔ جاري کیږي. په خلاف د حکم اول. چه هغه جاري ده په ټولو افعالو کښې. نو دا افعال ناقصه په باره دَ دې حکم کښې په درې قسمه دی. اول قسم هغه افعال دی چه په هغوئ کښې دا جائز وی چه خبر د دوئ مقدم شي په دوئ باندې. نو دا افعال د کان نه واخله تر بات پورې دی. نو په دې افعالو کښې دا جائز ده چه دَ دوئ خبر مقدم شي په دوئ باندې مثال لکه "قائما کان زید". نو دا قائما خبر ده او مقدم شوې ده په کان. او دویم قسم هغه افعال دی چه خبر د هغوئ نهٔ شي مقدم کولے په هغوئ باندې. او دا تقدیم به ممتنع وی. او دا هغه افعال دی چه په اول د هغوئ کښې کلمه د ما موجوده وی برابره خبره ده که دا مصدریه وی لکه په مادام کښې او که ما نافیه وی لکه په مازال. ماانفك. مابرح. مافتئ کښې. نو خبر دَ دوئ نشي مقدم کیدے په عین د دوئ باندې. نو دا مثال باطل دی چه "قائما مازال زید" او دا رنګ دا هم باطل دی "قائما مادام الامیر". نو چه د کومو افعال ناقصه په اول

کښې مانافیه ده، خبرد دوئ ځکه نشي مقدم کیدے په دوئ باندې. چه په مانافیه کښې نفي موجود ده او نفي تقاضا د صدارت د کلام کوي. نو کچرته د دوئ اخبار مقدم کړو په عین دوئ باندې. نو فوت به شي صدارت دَدِے نفي. نو ځکه د دوئ اخبار په عین دوئ باندې مقدم کول باطل دي. او هرچه هغه فعل ناقص چه په اول کښې یے مامصدریه وي. نو د هغۀ خبر ځکه په هغۀ نشي مقدم کیدے ځکه چه هغه فعل ناقص چه په سر کښې یے مامصدریه وي. نو دا مامصدریه ګرځي وي فعل ناقص لره په تاویل د مصدر سره. او دا فعل ناقص چه په سر کښې یے مامصدریه وي په خپله مصدر وي. نو که چرته خبر دَدِے فعل ناقص مقدم شي په فعل ناقص باندې. نو لازم به شي تقدیم د معمول د مصدر په مصدر باندې او دا باطل ده نو ځکه دا خبر دَدِے فعل ناقص چه په سر کښې یے مامصدریه وي نشي مقدم کیدے په دِے فعل ناقص باندې. او دریم قسم هغه افعال ناقصه دي چه په هغوئ کښې اختلاف واقع شوے ده په دِے شان چه بعض علماء وائي چه تقدیم د خبر په فعل ناقص باندې جائز ده. او بعض وائي چه باطل ده او دا لیس ده. نو د بعض علماء په نزد داسے وئیل جائز دي چه "قائما لیس زید" او دا مذهب د بصریانو او د سیبویه او د سیرافي او د ابو علي فارسي ده. او دویم مذهب دا ده چه تقدیم دَ خبر د لیس په لیس باندې باطل ده. نو داسے وئیل جائز نۀ دي چه: "قائما لیس زید" او دا مذهب د مبرد او د کوفیانو او د ابن سراج او عبدالقاهر جرجاني ده.

واعلم انها افعال بنفسها لا اسماء ولا حروف وعددها ثلاثة عشر عند الاخفش وعند سیبویه لا حد لها الخ: غرض د شارح په دِے عبارت نجل کښې بیان دا امور خمسه ده. اول امر ذات دَدِے افعالو ناقصه ده. او دَدِے بیان شارح کړے ده په دِے عبارت سره چه "انها افعال بنفسها لا اسماء ولا حروف" یعني دا افعال ناقصه په اعتبار دَ نفس او دَ ذات سره افعال دي. او له قبیلے او له نوع د فعل نه دي نۀ اسماء دي او نۀ حروف دي. او دویم امر له دوئ نه عدد او شمار د دوئ ده. نو دَدِے بیان، شارح کړے ده په دِے عبارت نجل سره چه "وعددها ثلاثة عشر عند الاخفش وعند سیبویه لا حد لها" یعني په عدد د اسماء ناقصه کښې اختلاف واقع شوے ده په مابین د اخفش او د سیبویه کښې. اخفش وائي چه عدد دَ افعالو ناقصه دیارلس ده. او د ناظم کلام هم بناء ده په مذهب د اخفش باندې

ځکه چه ناظم هم پخپل منظوم کښې افعال ناقصه دیارلس ذکر کړیدي. او د سیبویه مذهب داده چه دا دیارلسونه نهایات دي ځکه خاص مقدار او حد نلري بلکه هر هغه فعل چه تامیږي په فاعل باندې او عمل کوي په دوه شیانو کښې په اول کښې د رفع او په ثاني کښې د نصب هغه فعل ناقص ده. چه دغه دیارلسونه بغیر بعضو نورو افعال ناقصه علامه ابن حاجب ذکر کړیدي پخپل کتاب چه هغه آض. غدا. عاد. او راح ده. او دارنګ علامه هغه جاءت چه په معنی د کانت سره وي هم د افعالو ناقصو نه شمارلی ده. مثال ئې لکه "ماجاءت حاجتك" نو دا جاءت په معنی د کانت سره ده او ضمیر مستتر پکښې ورته اسم ده او مرفوع ده محلا او دا حاجتك کښې لفظ د حاجت منصوب ده دا ورته خبر ده. او دغه شان علامه ابن حاجب قعدت چه په معنی د صارت سره وي د افعال ناقصه نه شمارلی ده مثال ئې لکه "قعدت کانها حربة" نو دا قعدت په معنی د صارت سره ده او فعل ناقص ده او ضمیر مستتر پکښې چه "هي" ده ورته اسم ده او هغه راجع ده شفره (چاړه) ته. او دا مابعد عبارت خبر ده د قعدت او معنی د کلام داده چه وګرځیدله دا چاړه په شان د نیزې. او بعضو نحاتو "وقع" هم د افعال ناقصه نه شمارلی ده او حق مذهب هم د سیبویه ده. چه افعال ناقصه منحصر ندي په دیارلسو کښې بلکه دا ډیر دي. او د جانب د اخفش نه دا عذر پیش کیږي شي چه نور افعال ناقصه چه له دې دیارلسونه بغیر دي د هغوئ رجعه د دوئ ته کیږي نو هغوئ داخل دي په دې دیارلس[۱۲] افعال ناقصه کښې. او د تامیم امر من خول د دې افعال ناقصه ده. نو بیان د من خول د دوئ شارح کړیده په "ومن خولها الجملة الاسمية" عبارت سره. یعني من خول د دوئ جمله اسمیه ده. چه داخلیږي په جمله اسمیه باندې. مثال ئې لکه زید قائم نو دا جمله اسمیه ده. او افعال ناقصه ورباندې داخلیږي او ویلې شي کان زید قائما. نو دا کان ګرځوي زید لره اسم د خپل ځان او دا قائما لره خبر د خپل ځان. او تخلویم امر عمل د دوئ ده. نو د دې بیان په "وعملها الرفع والنصب" عبارت سره شارح کړیده. یعني عمل د دوئ رفع او نصب ورکول دي. چه په جمله اسمیه کښې مبتدا ته رفع ورکوي او هغه د دوئ اسم شي او خبر ته نصب ورکوي او هغه خبر شي لپاره د دوئ. نو دوئ مبتدا ته هغه اعراب ورکوي چه کوم ورته عامل معنوي ورکړې وه. په دې شان چه مخکښې له دخول د دوئ نه هم مبتدا مرفوع وه او اعراب یې رفع وه. خو لکن دا رفع ورته عامل معنوي ورکړی

دی او چه کله ورباندې دا افعال ور داخل شي نو بیا هم دا مبتداء مرفوع وي او ورته اسم جوړشي لپاره د دوئ خو لکن دا رفع ورته بیا د دې افعالوو کړې وي. او عامل پکښ دا افعال وي. نو دا مبتداء مخکښې له دخول د دوئ نه معمول وي لپاره د عامل معنوي. او ورسته د دخول د دوئ نه معمول وي لپاره د عامل لفظي چه دا افعال ناقصه دي. او دا افعال ناقصه خپل نه هغه اعراب ورکوي چه مخالف وي د هغه اعراب نه چه مخکښې له دخول د دوئ نه خبرته حاصل وي. ځکه چه مخکښې له دخول نه هغه مرفوع وي. اعراب د رفع ورباندې وي. خو لکن هغه اعراب ورته عامل معنوي ورکړې وي او معمول د عامل معنوي وي. او پس د دخول د دې افعالو نه ورته دوئ نصب ورکوي. او اعراب د دې خبر نصب شي. او معمول جوړ شي د عامل لفظي چه فعل ناقص دے. او پنځم امر بیان د نومونو د دې افعالو دے. نو د دې خبرې بیان شارح په "واسمائها الافعال الناقصة والافعال النواسخ والافعال الداخل على المبتدء والخبر" سره کړیدے. چه د دوئ دپاره یې درې نومونه ذکر کړي دي. اول نوم د دوئ افعال ناقصه دے. او وجه د تسمیه مونږ په سر د دې نوع کښې ذکر کړیده. او دویم نوم دوئ ته افعال نواسخ وائي. او وجه د تسمیه دا ده چه دې افعالو ته نواسخ ځکه وائي. چه نواسخ جمع د ناسخ ده او ناسخ معنی ده نسخ کونکې او دا افعال هم رفع نسخ کوي د خبر نه او ورته نصب ورکوي بلکه د مبتداء نه هم هغه رفع نسخ کوي چه عامل معنوي ورته ورکړې وي او دوئ ورته رفع ورکوي. او دریم نوم دوئ ته افعال داخل على المبتدأ والخبر وائي. او وجه د تسمیه ظاهره ده ځکه چه دوئ داخل جمع د داخل ده. او دا افعال هم داخلیږي په مبتداء او خبر باندې.

النوع الحادی عشر من العوامل السماعیة

شعر ـ دیگر افعال مقارب در عمل چون ناقصند!
هست آن کاد کرب با اوشك دیگر عسیٰ!

او معنی د شعر دا ده. کوم چه یولسمه نوع په بیان د افعال مقاربه کښې ده. او معنی د شعر دا زده کړه دا خبره چه بله نوع له دې انواعو د افعال عامله نه افعال مقاربه دي. ده چه ناظم وائي چه بله نوع له دې انواعو د افعال عامله نه افعال مقاربه دي. او دا افعال مقاربه په شان د افعال ناقصه دي په عمل کښې یعنی لکه څنګه افعال ناقصه اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي. نو دارنګ دوئ هم اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي. او دا څلور افعال دي. کَادَ. کَرُبَ. اَوْشَكَ. او عَسیٰ.

تشریح: زده کړه دا خبره چه افعال مقاربه ټول کوم کیښې په درے قسمه دی. اول قسم هغه دی چه دلالت کوی په قرب د حصول د خبر ځیل بانې لپاره د فاعل خپل چه هغه فاعل اسم د دوئ ده. خو لیکن دا قرب به اعتبار د رجاء او د امید د متکلم وی او دا قرب به په اعتبار د جزم او یقین سره نه وی مثال لکه "عسٰی زید ان یخرج" نو دا عسی دلالت کوی په قرب د حصول د خبر چه خروج ده لپاره د فاعل چه زید ده په اعتبار د رجاء او طمع د متکلم چه متکلم طمع ګډے کوی په دا خبره چه به زر حاصل شی فاعل ته او جزم د متکلم به نه وی په دے حصول بانې چه ضرور او خامخا به حاصل شی. او دویم قسم هغه افعال مقاربه دی چه دلالت کوی په قرب د حصول د خبر لپاره د فاعل خو لیکن دا قرب د حصول به په اعتبار د رجاء او طمع سره نه وی بلکه په اعتبار د جزم سره به وی یعنی متکلم ته به جزم حاصل وی په قرب د حصول د خبر لپاره د فاعل د دوئ چه اسم د دوئ ده. مثال لکه "کاد زید یجئ" نو دا زید اسم او فاعل ده د کاد او دا یجئ یے خبر ده او دا کاد دلالت کوی چه دا خبر چه مجیئت ده قریب ده په اعتبار د حصول سره لپاره د زید په اعتبار د جزم او یقین د متکلم سره. یعنی د متکلم یقین ده په دے چه دا مجیئت قریب الحصول ده لپاره د زید. او دریم قسم هغه افعال مقاربه دی چه دلالت کوی په دے چه حصول د خبر قریب ده لپاره د فاعل په اعتبار د شروع سره. یعنی قریب ده، چه فاعل شروع وکړی په خبر کښې. او دا به هم په اعتبار د جزم او یقین د متکلم سره وی. یعنی د متکلم به په دے یقین وی چه قریب ده چه دا فاعل به شروع وکړی په خبر کښې نو اول او دویم قسم کښې قرب د حصول وی خو لیکن شروع پکښې نه وی. او په دریم قسم کښې قرب د حصول او شروع دواړه وی. نو د مطلق افعال مقاربه تعریف دا ده چه "الفعل المقارب ما وضع لدنو الخبر رجاء او حصولا او اخذا فیه". یعنی دا هغه فعل ده چه وضع وی لپاره د دے چه دلالت به کوی په قرب د حصول د خبر لپاره د فاعل، یا په اعتبار د رجاء او طمع د متکلم نه په اعتبار د جزم او یقین سره. او یا به دلالت کوی په قرب د حصول د خبر لپاره د فاعل په اعتبار د جزم د متکلم سره. او یا به دلالت کوی په قرب د حصول د خبر لپاره د فاعل په اعتبار د شروع د فاعل په خبر کښې. نو د دے دریم قسم مثال لکه: "اوشک زید ان یخرج" او لکه "کرب زید ان یخرج". نو دا اوشک او کرب دلالت کوی په قرب د حصول د خبر چه خروج ده لپاره د فاعل په اعتبار د شروع سره. نو د دواړو مثالونو معنی دا ده. چه قریب ده چه زید شروع وکړی په خروج کښې!

وانما سميت بافعال المقاربة لانها تدل على المقاربة الخ: غرض د شارح بیان د وجه د تسمیه ده دَدِے افعالو مقاربه. چه دِدے افعالو مقاربه ته ځکه افعال مقاربة وائی چه مقاربت وائی قرب او نزدیکت ته او دوئ هم دلالت کوی په قرب او نزدیکت باندې.

واعلم ان عدتها نوعا آخر عند الاخفش واما عند سيبويه فافعال المقاربة وافعال الناقصة كلاهما افعال ناقصة لاتحادهما في العمل والمدخول الخ: غرض د شارح بیان د اختلاف ده په افعال مقاربه کښې چه آیا دا جدا نوع ده له افعال ناقصه نه او که د هغوئ سره یوه نوع ده. او دا اختلاف واقع شوے ده په مابین د اخفش او د سیبویه کښې. حاصل د اختلاف دا ده چه د اخفش په نزد دا افعال مقاربه جدا نوع ده. له افعال ناقصه نه. ځکه چه د افعال مقاربه اختصاص شته دَ دائے احکامو یو ئے، چه هغه اختصاص نۀ ده ثابت افعال ناقصه ته. چه هغه احکام دا دی چه خبر دَ دوئ به فعل مضارع وی. چه په بعض موادو کښې به ان مصدریه ورسره. او بعضو کښې به ورسره نۀ وی. او په افعالو ناقصه کښې دا ضروری نۀ ده. چه دَ دوئ خبر به فعل مضارع وی. او بل دا چه په افعالو مقاربه باندې اخبار دَ دوئ نشی مقدم کیدلے. او تقدیم د اخبار د په دوئ باندې باطل ده. په خلاف د افعال ناقصه، چه په هغوئ باندې چه په اول کښې ما کله نۀ وی خبر د هغوئ په هغوئ مقدم کیدے شی. نو هر کله چه احکام دَ دوئ جدا شول نو دوئ به هم جدا انواع وی. او سیبویه وائی چه افعال مقاربه او افعال ناقصه دواړه یوه نوع ده. ځکه چه وحدت د نوع په اعتبار اتحاد د عمل سره ده. یعنی چه عمل د کوموعواملو متحد وی. نو د هغوئ نوع به هم متحده وی. نو د افعال مقاربه او افعال ناقصه عمل متحد ده. ځکه چه دواړه اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوی. نو نوع دَ دوئ به هم متحده وی. یعنی د دواړو به یوه نوع وی. او په بیان دَدِے اختلاف سره جواب وشو د یو اعتراض نه چه هغه دلته وارد یده. حاصل د هغه اعتراض دا ده چه تاسو په سر دَدِے کتاب کښې دا خبره ذکر کړے، چه د کوموعواملو عمل متحد وی نو دَ هغوئ نوع هم متحده وی. نو دَدِے افعال مقاربه او افعال ناقصه عمل متحد ده نو باید چه دَ دوئ نوع هم متحده کړے شی. او باید چه تاسو دا دواړه په یوه نوع کښې ذکر کړی وے او حال دا ده چه تاسو افعالو ناقصه د پاره بیله نوع راوړیده او دا افعالو مقاربه د پاره ئے موبیله نوع راوړیده. او جواب دا ئے ده چه دا خبره چه اتحاد في العمل وی نو بیا ئے اتحاد في النوع هم وی دا مذهب دَ سیبویه ده. او د سیبویه په مذهب باندې افعال

ناقصه او افعال مقاربه یوه نوع ده. او د افعال مقاربه او افعال ناقصه چه جلا جلا نوع گرځول شوي دي دا مذهب د اخفش ده. او دده په نزد باندې په هغه وخت کښې اتحاد في النوع راځي په مابین د عواملو کښې. چه د دوی ترمینځه اتحاد في الاحکام وي او چه په کوم وخت کښې اختلاف وي د عواملو ترمینځه په احکامو کښې نو بیا د دوی ترمینځه اتحاد في النوع نه راځي. او د افعالو مقاربه او افعالو ناقصه ترمینځه اختلاف موجود دے په اعتبار د احکامو سره. نو ځکه دوی یوه نوع نشي گرځولے. او ناظم هم په خپل منظوم کښې مذهب د اخفش غوره کړے ده. ځکه یے دوه جنس اجنس انوع گرځولي دي.

لاتحادهما في العمل والمدخول وكلما اتحدت في العمل الخ: دا عبارت دلیل دے پاره د سیبویه چه دا یے قائم کړے ده په دے خبره باندې چه د افعال مقاربه او افعال ناقصه دواړه یوه نوع ده. او دواړو ته افعال ناقصه ویلے شي. نو دا دلیل په نمط د قیاس اقترانی سره ده. په دے شان چه صغری د دے قیاس دا قول ده چه لان الافعال الناقصة والافعال المقاربة متحدان في العمل. او دے صغری ته شارح اشاره کړې په لاتحادهما في العمل سره. او کبری د دے قیاس دا قول ده چه وكلما اتحدت في العمل فهي نوع واحد. نو دا مقدمه صغری قضیه حملیه ده. او دا مقدمه کبری قضیه شرطیه ده. او نتیجه د دے قیاس دا قول ده چه فالافعال الناقصة والافعال المقاربة متحدان في النوع او په دے مقدمه کبری د دے قیاس باندې معترض اعتراض کوي حاصل د اعتراض دا ده چه دا ملازمه ستا چه موجود ده په مابین د مقدم د کبری کښې چه دا قول ده چه کلما اتحدت في العمل او په مابین د تالی د کبری کښې چه دا قول ده چه فهي نوع واحد باطله ده ځکه چه در ته به وښایم چه اتحاد في العمل به وي او اتحاد في النوع به نه وي. لکه ما ولا چه د دوی دواړو عمل پشان د عمل د افعالو ناقصه ده او حال دا ده چه دا نوع جدا ده. نو معلومه شوه چه د اتحاد في العمل او د اتحاد في النوع په مابین کښې ملازمه نشته! او جواب له دے اعتراض نه دا ده چه د اتحاد في العمل په هغه وخت کښې مستلزم ده اتحاد في النوع لره. چه د دے بعضو عوامل له وجه د مشابهت نه نه وي. یعني چه داسے نه وي چه د بعضو عمل اصالةً وي او د بعضو نورو عمل له وجه د مشابهت نه وي بلکه یا به د ټولو عمل اصالةً وي او یا به د ټولو عمل له وجه د مشابهت نه وي. نو بیا به نوع متحد وي. او که چرته د بعضو عمل اصالةً وه او د بعضو نورو عمل له وجه د مشابهت نه وه نو داسے نه ده چه نوع د دوی دے

واخله ده وي او په دې ماده د نقصن کښې د افعال ناقصه عمل اصالةً ده ځکه چه دوئ افعال دي او فعل وضع وي لپاره د عمل. او د ما ولا عمل د وجه د مشابهت د ليس نه ده نو هر کله چه د بعضو عمل لا وجه د مشابهت نه ده او د بعضو عمل اصالةً ده نو ځکه دوئ په نوع و نکرنا کول شول. نو ملانه مه زمونږ حقما ده۔

واعلم انها افعال لا اسماء ولا حروف وعددها اربعة ومن خولها جملة اسمية وعملها الرفع والنصب الخ: غرض د شارح بيان د امورو خمسه ده. امر اول د دے نه بيان د ذات د دے افعالو مقاربه ده. نو دا بيان کړيږي شارح په "انها افعال لا اسماء ولا حروف" سره. يعنې دا افعال مقاربه په اعتبار د ذات خپل سره افعال دي نه اسماء دي او نه حروف دي نو دوئ له قبيلے د فعل نه دي. او دويم امر عدد او شمار د دوئ ده. او دا بيان کړيږي شارح په "وعددها اربعة" سره. يعنې عددي دا ده چه دا غونه څلورو افعال دي. او دريم امر مدخول د دوئ ده. او دا شارح په "ومن خولها جملة اسمية" سره بيان کړيږي چه مدخول د دوئ جمله اسميه ده. دوئ په جمله اسميه بانډې داخليږي. او څلورم امر عمل د دوئ ده. او د دے بيان شارح په "وعملها الرفع والنصب" سره کړيږي. يعنې عمل د دے افعال مقاربه دا ده چه دوئ رفع ورکول اسم خپل ته او دا رفع لفظي وي او نصب ورکوي خبر خپل ته او دا نصب محلي وي. لفظي نه وي. ځکه چه خبر د دوئ فعل وي. او فعل په لفظ بانډې اعراب نه جاري کيږي. نو ځکه دا نصب په خبر د دوئ به محلي وي نه لفظي او پنځم امر له دے امورو خمسه نه نومونه او اسماء د دوئ دي. نو شارح د دوئ د پاره دوه نومونه ذکر کړيږي. اول دا چه دوئ ته افعال مقاربه وائي. او وجه د تسميه مخکښې بيان شويږه. او دويم نوم دوئ ته افعال منسلخه وائي. او وجه د تسميه په شارح په دے عبارت سره بيان کړيږه چه "لانسلاخها عن الزمان" يعنې دوئ ته ځکه افعال منسلخه وائي چه منسلخه مشتق ده د انسلاخ نه او انسلاخ وائي خروج ته. او دوئ هم خارج شويږي د زمانه نه. يعني دوئ په اعتبار د استعمال سره دلالت نکوي په زمانه بانډې اګرچه په اعتبار د اصل وضع سره دلالت کوي په زمانه بانډے۔

النوع الثالث عشر

شعر

رافع اسماء جنس افعال مدح و ذم بود!
چار باشد نعم بئس ساء دیگر حبذا!

دولسمہ نوع له دیارلس انواعو دَ عواملو سماعیه نه نوع دَ افعالو مدح اوذم ده. یعنی په دے نوع کښې بیان دَ هغو افعالو کوُلے شي، چه هغوئ وضع وي لپاره دَ مدح او یا لپاره دَ ذم نو داغونې خلور افعال دي دَ دوه لپاره دَ مدح دي چه نعم او حبذا ده. نو دا دواړه وضع دي لپاره دَ انشاء دَ مدح. او دوه افعال لپاره دَ ذم دي. ساء او بئس. او دا دواړه وضع دي لپاره دَ انشاء دَ ذم. او عمل دَ دے افعالو دا ده چه دوئ رفع ورکوی اسم جنس ته، نو معنی او ترجمه دَ شعر دا ده چه ناظم وائي چه رافع ورکونکی اسم جنس ته افعال مدح اوذم دي. او دا خلور افعال دي. نعم. بئس. ساء. او حبذا.

وانما سمیت بافعال المدح والذم لان بعضها للمدح وبعضها للذم الخ: غرض دَ شارح په دے عبارت خپل کښې بیان دَ وجه دَ تسمیه دَ افعالو مدح اوذم ده. چه دے افعالو ته ځکه افعال مدح اوذم وائي، ځکه چه بعض له دوئ نه وضع دي لپاره دَ مدح او بعض له دوئ نه وضع دي لپاره دَ ذم. نو په دوئ کښې دَ انعم او حبذا لپاره دَ مدح دي او دَ ابئس او ساء لپاره دَ ذم دي. دَ انعم په اصل کښې په فتحه دَ نون او کسره دَ عین سره وه. او بیا دے نون ته کسره ورکړے شوه لپاره دَ تابعدارئ دَ عین او دا کار ورکړے شو، لپاره دَ حصول دَ تخفیف، ځکه چه فتحه اګرچه خفیفه ده في نفسها خو لکن په تماثل دَ حرکتو سره خفت حاصلیږی زیات له هغه خفت نه چه په فتحه کښې ده. او دا تماثل په دے سره حاصلیږی، چه نون ته کسره ورکړے شي. نو لپاره دَ حصول دَ تخفیف نون ته کسره ورکړے شوه. نو په نعم کښې دَ انون او عین دواړه مکسور شو. او بیا دَ کسره په عین باندې ثقیله وه. ځکه چه عین حرف حلق ده نو برداشت دَ کسره نشي کوُلے نو کسره ورنه حذف شوه او عین ساکن شو نو ورانه نِعْم جوړ شو په کسره دَ نون او په سکون دَ عین سره. او حبذا په اصل کښې حبب ده په فتحه دَ حاء او په ضمه دَ اولے باء سره او بیا دَ ضمه ثقیله وه په باء باندې. نو باء ساکنه شوه. او بیا مدغم شوه په دویمه باء کښې او ورا وستو ورپورے دَ اسم اشاره پیوسته شوه نو ورانه حبذا جوړ شو. په فتحه دَ حاء سره. او دا اول لغت ده په حبذا کښې. او دویم لغت پکښې دا ده چه دَ حبذا په ضمه دَ حاء سره ده. نو بنا په دے مذهب باندې پکښې اعلال شوی ده داسے چه دَ حبذا په اصل کښې حَبب وه په فتحه دَ حاء سره او په ضمه دَ اولے باء سره. او بیا ضمه په باء باندې ثقیله وه نو هغه ورنه نقل شوه حاء ته ورا وسته دَ اسقاط دَ فتحه دَ حاء نه نو ورانه حُبذا په ضمه دَ حاء سره جوړ شو. او مصنف حبذا په دے محل کښې شعر کښې

حبذا ذکر کړې شوی ده له دې نورو افعالو نه ځکه چه مصنف وئیلي دي چه دیگر حبذا نو په مابین د حبذا او د دې نورو افعالو کښې مصنف فصل کړېده په دیګر لفظ سره. نو په دې باندې معترض اعتراض کوی حاصل د اعتراض دا ده چه څه وجه ده چه ناظم حبذا جدا ذکر کړې ده له نورو افعالو نه. نو له دینه دوه جوابه ورکړې شویدي. اول جواب دا چه ناظم ځکه دا حبذا جدا کړېده د نورو افعالو نه ځکه چه د حبذا د پاره څه احکام دي چه مختص دي تر حبذا پورې او نورو افعالو ته نه دي ثابت. چه یو حکم د هغه احکامو نه دا ده چه فاعل د حبذا به همیشه د پاره دا اسم اشاره وي چه "ذا" ده. او دوئیم جواب دا ده چه ناظم ځکه دا حبذا جدا ذکر کړې ده له نورو افعالو نه ځکه چه دا نور افعال مشهور دي په معنی د مدح کښې او په معنی د ذم کښې. په خلاف د حبذا نه چه دا په معنی د مدح کښې غیر مشهور ده ځکه چه هغه نور افعال وضع دي لپاره د مدح او یا لپاره د ذم په خلاف د حبذا. چه دا نه ده وضع لپاره د مدح بلکه مستعملیږي لپاره د مدح لکه صاحب د تسهیل وئیلي دي: "لیست کلمة حبذا للمدح بالوضع انما وضعها للمبالغة فی تمکن الحب" او د بئس په اصل کښې بَئِسَ وه په کسره د باء سره او په فتحه د همزه سره په وزن د علم سره او د علم یعلم باب نه وه. او بیا دې باء ته کسره ورکړې شوه له وجه د تابعدارئ د همزه نه نو ورانه بِئِسَ جوړ شو. په کسره د باء او د همزه سره. او بیا دا کسره ثقیله وه په همزه نو یا خو د همزه کسره ورکړې شوه باء ته او وسته د اسقاط د کسرې د باء نه او یا د کسره د همزه ساقط شوه بغیر د ورکولو نه بل شي ته نو ورانه بِئْسَ جوړ شو په کسره د باء او په سکون د همزه سره. او "شاء" هم ئما اصل ده.

واعلم انه یشترط فیهما ان یکون فاعلها اسم جنس معرفا باللام الذهنی بنفسه الخ: چه اول شي ذکر کړه دا خبره چه دا افعال مدح او ذم د پاره دوه شیان ضروري دي. مثال لکه "نعم الرجل زید". نو دا نعم فعل فاعل ده. او دوئیم شي ورته مخصوص ده. او په فاعل د مدح ده او دا الرجل ورته فاعل ده او دا زید ورته مخصوص بالمدح ده. او نو لام به الف لام عهد وي نو لام به الف لام افعالو مدح او ذم کښې دا شرط ده چه یا به پخپله معرف باللام وي او د فاعل ده او دا ذهني وي لکه نعم الرجل زید. نو دا نعم فعل مدح ده او الرجل ورته فاعل ده او دا معرف ده په الف لام عهد ذهني سره او لکه بئس الرجلُ زید. نو بئس فعل ذم ده او الرجل ورته فاعل ده او معرف ده په الف لام عهد ذهني سره. او یا به دا فاعل د دوی پخپله معرف نه وي په الف لام عهد ذهني سره بلکه مضاف به وي یو بل اسم ته

چه صفت به معرف وي په الف لام عهدِ ذهني سره مثال لکه نعم صاحب القوم زيدٌ وبئس صاحب القومِ زيدٌ نو دا نعم فعل مدح ده او دا بئس فعلِ ذم ده. او د دواړو فاعل لفظ د صاحب ده او دا پخپله معرف نه ده په الف لام عهدِ ذهني سره بلکه مضاف ده القوم ته چه دا معرف ده په الف لام عهدِ ذهني سره ځکه چه الف لام په القوم کښې لپاره د عهد ذهني ده. نو حاصل د کلام دا شو، چه دا شرط په فاعل د افعالو مدح او ذم کښې ده چه اسم جنس به وي او يا به په خپله معرف وي په الف لام عهدِ ذهني سره او يا به مضاف وي بل اسم ته چه هغه به معرف وي په الف لام عهدِ ذهني سره. او د دې اشتراط د پاره شارح وجه او علت بيان کړيده په دے عبارت خپل سره چه:

وانما اشترط ان يكون فاعلها اسم جنسٍ ليتكررا لمدح والذم فى المخصوص مرتين مدح او ذم الخ: او دا عبارت د شارح لپاره د بيان د علت او د وجه د دے خبرے ده چه د فاعل د افعالو مدح او ذم به اسم جنس وي فقط. او د دے خبرے د پاره چه د فاعل به معرف وي په الف لام عهدِ ذهني سره او يا به مضاف وي هغه اسم ته چه هغه به معرف وي په الف لام عهدِ ذهني سره علت او وجه ئے وسته ذکر کوي. نو حاصل د دے وجه او علت دا ده چه په فاعل د افعال مدح او ذم کښې ځکه دا شرط کړے شو چه دا به اسم جنس وي. لپاره د دے چه تکرار راشي په مدح او ذم کښې چه دا تکرار به حاصل شي په مخصوص کښې. په دے شان چه اول به د امدح او ذم ذکر شي په طريقه د عموم سره. ځکه چه هر کله فاعل اسم جنس شو نو هغه عام ده نو يو ځل به د امدح او ذم راشي لپاره د مخصوص چه ئے وسته "زيدٌ" ده په ضمن د دے عام کښې چه اسم جنس ده. او بيا به د امدح او ذم ذکر شي په ضمن د دے خاص کښې چه مخصوص ده. مثال لکه "نعم الرجل زيدٌ" نو چه هر کله فاعل لپاره د نعم اسم جنس شو چه رجل ده. نو مدح د زيد ذکر شوه په ضمن د الرجل کښې خو لکن په طريقه د عموم سره ځکه چه رجل په اعتبار د خپل ذات سره عام ده. او بيا چه "زيدٌ" ووئيل شو. نو بيا مدح د زيد ذکر شوه لکن په طريقے د خصوص سره. ځکه چه دا زيد خاص ده نو دا مدح په ضمن د خاص کښې ذکر شوه. نو تکرار په مدح کښې راغلو. نو په دے بانډې "نعم صاحب القوم زيد. وبئس الرجل زيد. او بئس صاحب القوم زيد" وړ قياس ده او تکرار به په مقام د مدح او ذم کښې مفيد وي. ځکه چه په دے تکرار سره مقصود په کامله طريقه سره اداکيږي چه هغه مدح او ذم ده. او شارح وجه او علت لپاره

دَ دے خبرے چہ د فاعل بہ یا معرف باللام وی او یا بہ مضاف وی معرف باللام تہ پہ دے عبارت کښې سره ذکر کړیدلے چہ:

وانما اشترط تعریفہ باللام الذهنی لان المقصود منها المدح او الذم للفرد المعهود الذهنی فیکون الفاعل ایضا معرفا باللام الذهنی الخ: حاصل دَ دے علت او وجہ دا دہ چہ دا خبره پہ افعال مدح او ذم کښې چہ فاعل دَ دوی بہ یا معرف باللام الذهنی وی او یا بہ مضاف وی معرف باللام الذهنی تہ، ځکہ شرط کړے شوه، چہ مقصود پہ دے افعالو کښې یا مدح کول دی د هغہ فرد لپاره چہ هغہ پہ معهود وی پہ ذهن کښې، نو هر کلہ چہ مقصود مدح دَ هغہ فرد دہ چہ معهود وی پہ ذهن کښې نو دا فاعل هم معرف کړے شو پہ الف لام عهدِ ذهنی سره. لپاره دَ دے چہ دا من کوه موافق شی. دَ مقصود سره. ځکہ چہ کوم شئ مقصود دہ هغہ هم یو فرد معهود دہ پہ ذهن کښې، نو چہ پہ دے فاعل باندے الف لام عهدِ ذهنی وه داخل شی، نو لہ دینہ بہ هم مراد یو فرد معهود ذهنی شی، نو دَ من کوه او مقصود ترمینځہ بہ ضروره موافقت راشی او پہ حکم کَ دے معرف باللام کښې هغہ فاعل هم دہ چہ مضاف وی معرف باللام تہ او پہ بعضو مواد وکښې فاعل دَ دے افعالو ضمیر هم راځی. چہ دَ هغہ د پاره بہ تمیز نکره راوړے شوی وی. مثال لکہ نعم رجلاً زید. نو دا نعم فعل مدح دہ او فاعل د دے یو ضمیر دہ چہ هغہ مبهم دہ او موجود دہ پہ نعم کښې چہ مراد لہ هغہ ضمیرنہ شئ دہ. او بیا دَ دے ضمیر مبهم د پاره رَجُلاً تمیز راوړلے شوے دہ. نو تقدیر د عبارت دا سے دہ چہ "نعم شئ وهو الرجل وهو زید". او دا قسم د فاعل شارح نہ دہ ذکر کړے لہ وجہ دقلت نہ ځکہ چہ دَ دے افعالو مدح لپاره چہ فاعل ضمیر راځی، قلیل دہ. زیات نہ دہ ذکر کړے. دَ قلت نہ شارح دا قسم نہ دہ ذکر کړے.

واقع کیږی، نو لہ وجہ دَ قلت نہ شارح دا قسم نہ دہ ذکر کړے.

تنبیہ ۴. زده کړه دا خبره چہ اسم جنس عبارت دہ لہ دینہ چہ "هوما وضع لشئ وشبهہ المشارک لہ فی الحقیقة ذهنا او ذهنا وخارجا". یعنی اسم جنس عبارت دَ هغہ اسم نہ چہ هغہ وضع شوے وی لپاره د یو شئ او لپاره د مشارک دَ هغہ لہ دَ دے اول شئ سره پہ حقیقت کښې، یعنی لپاره د یو بل شئ چہ هغہ بہ شریک وی دَ دے اول شئ سره پہ حقیقت کښې، او یا بہ پہ ذهن او خارج کښې موجود وی فقط. او یا بہ پہ ذهن. او برابره خبره دہ کہ هغہ بل شئ پہ خارج کښې موجود وی. مثال دا اول قسم لکہ "شمس" نو دا شمس اسم جنس دہ. ځکہ چہ دا وضع دہ لپاره دَ یو شئ چہ نمر دہ چہ پہ فلک کښې دہ او لپاره دَ

مشارک کړې نمر چې هغه بل نمر دی چې ورسره شریک دی په حقیقت کښې ځکه چې د دغې نمر او د هغه بل نمر چې کړې اول سره شریک دی یو حقیقت دی چې د دواړه کوکب سیار او کوکب نهاري دي خو لکن هغه بل نمر په خارج کښې نه دی موجود بلکه په ذهن کښې موجود دی. او مثال د دویم قسم لکه اسد نو دا اسد وضع دی لپاره د یو شئ چې هغه زمرې دی او لپاره د بل شئ چې هغه هم زمرې دی چې هغه شریک دی له دې اول شئ سره، په حقیقت کښې، ځکه چې د دواړو حقیقت حیوان مفترس دی. او دا دویم شئ هم په ذهن کښې موجود دی او هم په خارج کښې موجود دی. او مونږ چې په تعریف د اسم جنس کښې داوویل چې اسم جنس دیته وایي، چې وضع به وي لپاره د یو شئ او د هغه د مشارکې د پاره. نو دا اقل د افراد دی د اسم جنس دی. او حصر په دې کښې نشته، بلکه دا هم په دې اسم جنس کښې جائز دی چې وضع وي لپاره د یو شئ او لپاره د ډیرو مشارکانو د هغه شئ. او فرق په مابین د اسم جنس او نکره کښې اعتباري دی. په دې شان چې د اسم جنس او نکره په مابین کښې اتحاد ذاتي دی یعني په اعتبار د ذات سره د دواړه متحد دي چې دواړه عبارت دي له هغه اسم نه چې هغه به وضع وي لپاره د یو شئ او لپاره د مشارک د هغه. او د دوی ترمینځه فرق اعتباري دی په دې شان، چې هم غه اسم ته اسم جنس وایي خو لکن په دې اعتبار چې کړې اسم اطلاق کیږي هم په دې شئ باندې چې د اسم جنس ورته وضع دی او هم په مشارک کړې شئ باندې خو لکن په طریقې د بدلیت سره او هم غه اسم ته نکره وایي خو لکن په دې اعتبار سره چې تعین نشته په مدلول د دې اسم کښې. او د امدلول غیر معین دی.

ترکیب: زده کړه دا خبره چې شارح دوه مثالونه ذکر کړیدي په خپل کتاب کښې. اول مثال د فعل مدح دی چې هغه دا قول دی چې: "نعم الرجل زید". او دویم مثال د فعل ذم دی چې دا قول دی: "بئس الرجل زید" نو په دې ترکیب د دواړو مثالونو کښې دوه مذهبه دي اول مذهب دا دی چې دا نعم فعل مدح دی. او دا الرجل ورته فاعل دی. نو دا فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبر مقدم دی او دا زید چې مخصوص بالمدح دی ورته مبتداء دی. او دا مبتداء مؤخر دی چې زید دی سره د خبر مقدم نه چې نعم الرجل دی جمله فعلیه خبریه شوه. او هم دارنګ په دویم مثال کښې دا بئس فعل ذم دی او دا الرجل ورته فاعل دی. دا فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبر مقدم دی او دا زید چې مخصوص بالذم دی ورته مبتداء

دہ او دا مبتداء سرہ د خبر ځیل نہ جملہ اسمیہ شوہ۔ نو بناء پہ دے مذہب اول باندے فعل مدح سرہ د فاعل ځیل نہ او سرہ د مخصوص بالمدح نہ یوہ جملہ دہ۔ او ھم ارنګ فعل ذم هم سرہ د فاعل او د مخصوص بالذم نہ یوہ جملہ دہ۔ او دویم مذہب دا دہ چہ نعم فعل مدح دہ۔ او الرجل ورتہ فاعل دہ۔ او فعل سرہ د فاعل ځیل نہ جملہ فعلیہ شوہ او زید چہ مخصوص بالمدح دہ دا خبر دہ لپارہ د مبتداء محذوف چہ هو ضمیر دہ او راجع دہ الرجل تہ۔ او بیا دا مبتداء سرہ د خبر ځیل نہ جملہ اسمیہ خبریہ جوړیږی او ھم ارنګ پہ دویم مثال کښں بئس فعل ذم دہ۔ او الرجل ورتہ فاعل دہ۔ او فعل سرہ د فاعل ځیل نہ جملہ فعلیہ انشائیہ شوہ او زید چہ مخصوص بالذم دہ خبر دہ، لپارہ د مبتداء محذوف چہ هو ضمیر دہ۔ نو دا مبتداء سرہ د خبر ځیل نہ جملہ اسمیہ دہ۔ نو بناء پہ دے دویم مذہب باندے پہ نعم الرجل زید کښں هم دوہ جملے جوړیږی او پہ بئس الرجل زید کښں هم دوہ جملے جوړیږی۔ یعنی دا فعل مدح سرہ د فاعل او سرہ د مخصوص بالمدح نہ دوہ جملے دی۔ او ھم ارنګ دا فعل ذم سرہ د فاعل او د مخصوص بالذم نہ هم دوہ جملے دی۔

فائدہ:۔ زدہ کړہ دا خبرہ چہ د شارح دا دوہ عبارتونہ چہ اول دا قول دہ چہ "فی العمومیة وهو الرجل"۔ او دویم دا قول دہ چہ "فی الخصوصیة وهو زید" مورد د اعتراض دی۔ پہ دے شان چہ پہ اول عبارت باندے اعتراض واردیږی او پہ دویم عبارت باندے هم اعتراض واردیږی۔ او پہ دواړو وارد اعتراض یو اعتراض دہ۔ حاصل د هغہ اعتراض دا دہ چہ پہ "وهو الرجل" کښں ضمیر د هو راجع دہ عمومیت تہ او بیا دا هو ضمیر مبتداء دہ او الرجل ورتہ خبر دہ۔ او خبر حمل وی پہ مبتداء باندے۔ او پہ دے "وهو الرجل" عبارت کښں حمل نہ دہ صحیح۔ ځکہ چہ هرکلہ دا هو راجع شو عمومیت تہ نو دا عمومیت صرف وصف دہ۔ او الرجل ذات دہ۔ نو کلہ الرجل حمل شی پہ هو باندے نو لازم بہ شی حمل د ذات پہ صرف وصف باندے۔ او دا باطل دہ۔ او ھم ارنګ پہ "هو زید" کښں دا هو ضمیر راجع دہ خصوصیت تہ او خصوصیت صرف وصف دہ او دا هو ضمیر مبتداء دہ پہ دے عبارت کښں۔ او زید ورتہ خبر دہ۔ او خبر حمل وی پہ مبتداء باندے۔ نو چہ زید ورتہ خبر شی او ورباندے حمل شی۔ نو لازم بہ شی حمل د ذات پہ صرف وصف باندے۔ او دا باطل دہ۔ او جواب لہ دینہ دا دہ چہ پہ دے عبارت کښں چہ "هو الرجل" دہ۔ دا هو عمومیت تہ نہ دہ راجع بلکہ راجع دہ شی عام تہ، چہ دا فهمیږی

د عمومیت نه او هغه ارنګ په هو زید کښې د اهو ضمیر خصوصیت ته نهٔ دهٔ راجع بلکه شئ خاص ته راجع دهٔ. او شئ خاص او دغه شان شئ عام دواړه ذات مع الوصف دی نو حمل د الرجل وړ باندې په اول عبارت کښې حمل د ذات دهٔ په ذات مع الوصف باندې. او په دوئیم عبارت کښې حمل د زید وړ باندې هم حمل د ذات دهٔ په ذات مع الوصف باندې او حمل د ذات په ذات مع الوصف باندې جائز دهٔ. نو چه کوم شئ باطل دهٔ هغه واقع نهٔ دهٔ په دے مقام کښې. او چه کوم شئ واقع دهٔ هغه باطل نهٔ دهٔ.

فان قيل: اذا تقرر ان اللام للعهد الذهني فكيف يصح قوله معرفا باللام اذ المعرف باللام الذهني ليس بمعرف لانها في قوة النكرة: دا اعتراض وارد دهٔ په دے قول د شارح باندې چه معرفا باللام. حاصل د اعتراض دا دهٔ چه هر کله دا خبره ثابته شوه چه په اسم جنس باندې چه کوم لام داخل دهٔ. دا الف لام عهدِ ذهني دهٔ. نو بیا دے اسم ته معرف باللام ویئل باطل دی. ځکه چه معرف خو هغه شئ ته وائي، چه معرفه شوے وی. او په کوم اسم باندې چه الف لام عهدِ ذهني داخل وی، هغه نهٔ معرفه کیږی بلکه په قوت د نکره کښې وی. او حال دا دهٔ چه تاسو وړ ته معرفه ویئلی دی. نو له دے اعتراض نه شارح جواب کړیدے په دے عبارت سره چه:

قلنا: الامر كذلك الا انه يسمى معرفا تشبيها له بالمعرف باللام الخارجي في الصورة. حاصل د جواب دا دهٔ چه معامله هم دا دهٔ لکه چه معترضه تا ذکر کړه. چه هغه اسم چه الف لام عهدِ ذهني وړ باندې داخل وی هغهٔ ته معرف باللام ویئل نهٔ دی صحیح ځکه چه معرف باللام هغه ته وائي چه معرفه شوے وی په الف لام سره. او دا اسم چه وړ باندې الف لام عهدِ ذهني داخل وی نهٔ معرفه کیږی په دے الف لام سره. نو لکن مونږ چه وړ ته معرف باللام ویئلی دی. دا په طریقه د حقیقت سره نهٔ بلکه په طریقه د مجاز مستعار سره مونږ ته ویئلی دی. چه دا اسم چه وړ باندې الف لام عهدِ ذهني داخل وی مشابه دهٔ په اعتبار د صورت سره، د هغه اسم سره چه په هغهٔ باندې الف لام عهد خارجي داخل شوی وی. او مشابهت د دواړو ترمینځه په اعتبار د صورت سره ظاهر دهٔ. نو معرف باللام په حقیقت کښې هغه اسم دهٔ. چه وړ باندې الف لام عهدِ خارجي داخل وی. او دا اسم چه وړ باندې الف لام عهدِ ذهني داخل وی په اعتبار د صورت سره چه وړ سره مشابهت پیدا شو، نو دے اسم ته معرف باللام ویئل په طریقه د استعاره او مجاز مستعار سره صحیح دی.

تفصیل المقام: - زده کړه دا خبره چه الف لام غیرنا اتڼ پخپل کوی کښې په ځلورو قسمه دی. اول قسم الف لام جنسی ده. او دویم قسم الف لام استغراقی ده. او دریم قسم الف لام عهدِ ذهنی ده. او ځلورم قسم الف لام عهدِ خارجی ده. الف لام جنسی عبارت ده هغه الف لام نه چه په هغهٔ سره اشاره شوے وی حقیقت د شئی ته او مراد به هم دا نفسِ حقیقت من حیث هی هی وی بغیرد انطباق نه په ټولو افرادو بانډې او یا په بعضو افرادو بانډې. مثال لکه الرجل خیرمن المرءة. نو په الرجل کښې الف لام لپاره د جنس ده ځکه چه په دے سره اشاره شوې ده نفسِ حقیقت د رجل ته من حیث هی هی بغیرد انطباق دے حقیقت نه په ټولو افرادو. او یا په بعضو افرادو بانډې. نو معنی د کلام دا ده چه حقیقت دَ رجل غوره ده د حقیقت دَ مرءة نه. او په المرءة کښې هم الف لام لپاره دَ جنس ده نو مراد د مرءة نه هم حقیقت د مرءة ده نهٔ افراد. نو چه هرکله دا الف لام لپاره دَ جنس شول نو معنیٰ د کلام صحیح شوه چه حقیقت د رجل غوره ده له حقیقت د مرءة نه ځکه چه حقیقت د رجل دا ده چه "من کرمن بنی آدم یتجاوز من حد الصغر الی حد الکبر" او حقیقت د مرءة دا ده چه "مؤنث من بنی آدم یتجاوز من حد الصغر الی حد الکبر" او دا حقیقت دَ رجل پیدا شوې ده لپاره د نبوت او امامت او قضاوت او اداء د شهادت په حدود او قصاص کښې. په خلاف دَ حقیقت دَ مرءة نه. چه په هغې کښې صلاحیت دَدے مذکوره امورو نشته. بلکه لپاره د جن امورو پیدا شوې ده. او الف لام استغراقی عبارت ده له هغه الف لام نه چه اشاره پرے کولے شی حقیقت دَ شئی ته خو لکن چه دا حقیقت به منطبق وی په تمامو افرادو بانډې. یو فرد به هم ورانهٔ وی خارج. نو په دے الف لام کښې مقصود افراد وی. خو لکن اشاره حقیقت ته چه کولے شئ دا لپاره دَدے، چه ملاحظه دَدے امرِ کلی نه دَ دوی ملاحظه نشی کیدے. ځکه چه دا افراد غیرمحصور وی. نو بغیر د ټولو افرادو به دِ دے حقیقت سره کیږی. مثال لکه دا قول دالله تعالیٰ: اِنّ الانسان لفی خسرٍ" نو په دِ دے الانسان کښې الف لام لپاره د استغراق دی، ځکه چه په دِ دے سره اشاره شوې ده حقیقت د انسان ته چه حیوان ناطق ده. نو لکن مراد ورنه دا حقیقت من حیث هی هی نهٔ ده. بلکه مراد ورنه دا حقیقت ده خو لکن چه منطبق وی په ټولو افرادو بانډې ځکه چه وقوع په خسر او تاوان کښې دَدے نفسِ حقیقت — چه حیوانِ ناطق ده نهٔ راځی. ځکه چه دا یو مفهوم ده چه په ذهن کښې موجود ده. نو مقصود په ورسته حکم د خسران سره افراد د انسان دی. خو لکن دا افراد غیرمحصور دی.

نو د دوی ملاحظه په دِې حقیقت سَره کیږی. او الف لام عهدِ ذهنی عبارت ده له هغه الف لام نه چه په هغې سره به اشاره شوې وی حقیقت د شئ ته خو لکن چه دا حقیقت منطبق وی په یو فرد غیر معین باندِ. مثال لکه دا قول د الله تعالیٰ: "انی اخاف ان یاکله الذئب" نو په الذئب کښې الف لام لپاره دَ عهدِ ذهنی ده. ځکه چه په دیکښې اشاره شوې ده حقیقت دَ ذئب ته خو لکن دا حقیقت منطبق ده په یو فرد غیر معین باندِ. ځکه چه نفس حقیقت خو ما اکل نشی کولے ځکه چه نفس حقیقت یو مفهوم ده او مفهوم اکل او خوړا اک نشی کولے. او همدارنګ دا حقیقت منطبق نه ده په ټولو افراد و باندِ. ځکه چه ټول لیوان جمع کیدل په اکل او خوړاک د یوسف علیه السلام باندِ باطل دی. او همدارنګ په دِې الف لام کښې یو فرد معین ته هم اشاره نه ده. ځکه چه مراد د یعقوب علیه السلام خه معین لیوه نه وه. نو مراد له الذئب نه یو فرد غیر معین ده. چه د هغه ملاحظه په دِې حقیقت سره کولے شی. او الف لام خارجی عبارت ده. د هغه الف لام نه چه په هغې سره به اشاره شوې وی یو فرد معین دَ حقیقت ته چه هغه فرد به متکلم او مخاطب دواړو ته معلوم وی. او موجود به وی په خارج کښې. نو له دِې وجه نه چه په دِې الف لام عهدِ خارجی سَره اشاره کولے شی فرد معین فی الخارج ته، دِې الف لام ته الف لام خارجی هم وائی. او په دِې ټولو کښې دے واړو اقسامو سَره اشاره حقیقت د شئ ته کیږی. نو ځکه وړ ته الف لام حقیقی او لام الحقیقت وائی.

والمراد من افعال المدح والذم ما وضع لانشاء المدح والذم فلا تنتقض بقوله مدحت

اللؤلؤ علی الصفاء وذممت الشیطان علی الرجاء الخ: غرض د شارح په دِې عبارت نقل کښې جواب ورکول دی دیو اعتراض نه، حاصل د اعتراض دا ده چه دا حصر دَ افعالو مدح او ذم په دِې څلورو کښې نه ده صحیح، بلکه نور افعالِ مدح او ذم هم شته لکه مدحت اللؤلؤ علی الصفاء. نو دا فعل مدح ده او ذممت الشیطان علی الرجاء فعل ذم ده. نو حصر په څلورو کښې باطل ده! او منشاء دَ دِې اعتراض او توهم دا ده چه معترض دا توهم کړیده چه فعل مدح او ذم هغه فعل ته وائی چه افاده د مدح یا ذم کوی. نو دا افاده په مدحت اللؤلؤ کښې هم موجوده ده. ځکه چه دا افاده دَ مدح کوی او دا افاده په ذممت الشیطان کښې هم موجوده ده ځکه چه دا افاده د ذم کوی او حاصل دَ جواب دا ده: چه مراد له افعال مدح او ذم نه هغه افعال دی. چه هغوی وضع وی لپاره د انشاء دَ مدح او یا لپاره د انشاء دَ ذم. او افعال مدح او ذم

نه مراد نهٔ دی چه نفس افاده د مدح اوذم به کوی. نو د نعم الرجل زید معنی ده انشاء د مدح چه هغه في الحال ذه. او داسې نهٔ ده چه دا مدح به خارج کښې موجوده ده په یو د ازمنه ثلاثه کښې. او په دې نعم الرجل زید سره ورنه حکایت کولې شي. او دا کلام مطابق کولې شي د خارج سره. په خلاف د مدحت او ذممت ځکه چه دا دواړه دلالت کوي چه دا مدح او ذم په خارج کښې موجود ده. او په دې کلام سره ورنه حکایت کولې شي. او دا کلام ورسره مطابق کولې شي. نو هرکله چه مراد له افعال مدح او ذم نه هغه افعال شول چه وضع وي لپاره د انشاء د مدح او ذم. نو حصر په دې څلورو افعالو کښې هم نهٔ باطلیږي. او همدارنګ دا تعریف دا فعالو مدح والذم هم نهٔ ماتیږي په مدحت او ذممت سره. خو لکن د لته بیا معترض اعتراض کوي. حاصل دا اعتراض دا ده چه دا تعریف دا فعالو مدح او ذم چه وضع به وي لپاره د انشاء د مدح او ذم منقوض ده په فعل تعجب باندې چه هغه دا قول ده "ما احسن زیدا" په دې شان چه دا هم وضع ده لپاره د انشاء د مدح! او جواب له دیته دا ده چه نهٔ منو دا خبره چه دا ما احسن زیدا وضع ده لپاره د انشاء د مدح، بلکه دا وضع ده لپاره د انشاء د تعجب. او بیا انشاء د تعجب مستلزم ده انشاء د مدح لره. نو دا انشاء د مدح معنی موضوع له د ما احسن زیدا نهٔ ده. بلکه دا معنی التزامي د ما احسن زیدا ده. او فعل مدح دیته وایي چه معنی موضوع له، د هغهٔ به انشاء د مدح وي. نو ما احسن زیدا خارج ده د تعریف دا فعال مدح او ذم بیا معترض اعتراض کوي. چه تعریف دا فعال مدح او ذم منقوض ده په امر د مدحت او ذممت ځکه چه صیغه د امر د مدحت او ذممت وضع ده لپاره د انشاء د مدح او ذم اګرچه پخپله دا مدحت او ذممت نهٔ دی وضع. نو دا امر د مدحت او ذممت دا فعال مدح او ذم نه دی. او تعریف دا فعال مدح او ذم ورباندې صادقیږي. نو تعریف دا فعال مدح او ذم مانع نشو له دخول د غیرنه. او همدارنګ دا حصر په دې څلورو کښې د مدح او ذم هم باطل ده، ځکه چه امر د مدحت او ذممت هم افعال مدح او ذم شو. او جواب دا ده چه افعال مدح او ذم دیته وایي، چه وضع وي لپاره د انشاء د مدح او ذم. او امر د مدحت او ذممت نهٔ دي وضع لپاره د انشاء د مدح او د ذم. بلکه دا دواړه وضع دي لپاره د طلب د انشاء د مدح او د ذم. نو دوی خارج دي د تعریف دا فعال مدح او ذم نه، نو تعریف دا فعال مدح او ذم مانع هم شو له دخول د غیره. او حصر د دې افعالو مدح او ذم هم صحیح شو په دې څلورو افعالو کښې.

واذا عرفت هذا فاعلم انها افعال لا اسماء ولاحروف ومن خواصها اسم جنس الخ: غرض دشارح په دے عبارت نچل کښې بیان دامورو خمسه دہ. اول امر له دوی نه ذات دډیر افعالو مدح اوذم دہ. نو دا امر شارح په "انها افعال لا اسماء ولاحروف" عبارت سره بیان کړیدہ یعنی دا افعال مدح اوذم په اعتبار د ذات نچل سره افعال دی. ذات د دوی فعل دہ نۀ اسماء دی او نۀ حروف دی. او دلیل په دے خبره باندې چه دوی افعال دی په اعتبار د ذات سره دا دہ، چه ترد وی پورے لحوق د تاء د تانیث راځی په بعضو لغاتو کښې لکه وئیلی شی "نعمت المرءۃ هند". نو د نعمت په آخر کښې تاء د تانیث ملحق شوید ہ. او همدارنګ په بعضو لغاتو کښې دوی پورے لحوق د ضمائر بارزہ د متصله کیږی مثال لکه وئیلے شی: نعما ونعموا. نو په اول مثال کښې دا الف ضمیر بارزہ متصل دہ. او دواړو پورے ملحق شوید ہ او په دویم مثال کښې دا واؤ ضمیر بارز متصل دہ. او ملحق شوید ہ دوی پورے. او لحوق د تاء ساکنه د تانیث او لحوق د ضمائرو علامه او خاصه د فعل دہ. نو هر کله چه دا علامه موجوده دہ په دے افعالو کښې، نو معلومیږی چه دا افعال دی او اسماء او حروف نۀ دی. او دویم امر من خواص د دوی دہ. او دا شارح بیان کړیدہ په "ومن خواصها اسم جنس معرف باللام بنفسه او مضاف الی المعرف باللام" عبارت سره. یعنی من خواص د افعال مدح اوذم اسم جنس دہ. او دوی دا خلیږی په اسم جنس باندې. چه دا اسم جنس به یا خو بچپله معرف باللام وی. او یا به مضاف وی معرف باللام ته. خو لکن دا من خواص د ډیرو افعالو دہ چه نعم. بئس او ساء دی. او هر چه حبذا دہ نو د دے من خواص اسم جنس نۀ وی بلکه "ذا" اسم اشاره دہ. او دریم امر له دے نه عمل د دوی دہ. نو عمل د دوی رفع دہ چه د دوی اسم جنس ته رفع ورکوی بناء بر فاعلیت. یعنی دوی چه په کوم اسم جنس باندې داخل وی هغه ته رافع ورکوی. بنا په دے باندې. چه هغه به فاعل وی لپاره د دے افعالو خو لکن دا رفع اسم جنس ته ورکول، دا د دے دریو افعالو عمل دہ. چه هغوی ذکر د لے جبن انه. او هر چه حبذا دہ. نو دا رفع نۀ ورکوی اسم جنس ته بلکه رفع محلی ورکوی اسم اشاره ته چه "ذا" دہ.

او څلورم امر له دے امورو خمسه نه عدد او شمار د دوی دہ. او دا شارح بیان کړیدی په دے عبارت نچل سره چه "وعددها اربعة" یعنی عدد او شمار د دوی دا دہ چه دا څلور افعال دی دوه لپاره د انشاء د مدح دی او دا نعم او حبذا دہ او دوه لپاره د انشاء د ذم دی. چه بئس او ساء دہ. او پنځم امر د دے نه نو مونه د دے افعالو دی

نو شارح دَ دِے فعالو د پارہ دَرے نوعونہ ذکر کړی دی۔ اول نوع دا چہ دوئ تہ افعال المدح والذم وائی۔ او وجہ دَ تسمیہ دَ دِے شارح پہ سر د نوع کښ ذکر کړیدہ۔ او دویم دا دہ چہ دوئ تہ الافعال الجوامد وائی۔ او وجہ د تسمیہ دا دہ چہ دوئ تہ ځکہ دا وائی ځکہ چہ دوئ جامد دی ورا نہ اشتقاق د مضارع او د امر او د اسم فاعل نکیږی او دریم نوع دا چہ الافعال المنسلخۃ دوئ تہ وائی۔ او وجہ دَ تسمیہ دا دہ چہ منسلخہ مشتق دہ د انسلاخ نہ او انسلاخ وائی خروج تہ۔ او دا افعال هم خارج شویدی د زمانہ نہ پہ دِے شان چہ معنی دَ دوئ نہ دہ مقترنہ تر یو زمانہ پورے لہ ازمنہ ثلاثہ نہ نو دلتہ معترض اعتراض کوی۔ هغہ دا چہ هر کلہ دا افعال مدح او ذم خارج شویدی، دَ زمانہ نہ او دلالت نکوی پہ زمانہ باندِ۔ نو دوئ تہ بیا فعل ویئل نہ دی صحیح او د تعریف د فعل نہ خارج دی ځکہ چہ تعریف دَ فعل دا دہ چہ فعل هغہ کلمہ دہ چہ دلالت بہ کوی پخپلہ معنی باندِ بغیر د ضم د ضمیمہ نہ او دا معنی بہ مقترنہ وی تر یو د ازمنہ ثلاثہ پورے۔ او دِا افعال مدح او ذم معنی خونہ دہ مقترنہ تر یو دَ ازمنہ ثلاثہ پورے۔ نو دوئ خارج شول لہ تعریف دَ فعل نہ۔ نو تعریف دَ فعل جامع نشو خپلو افرادو لرہ۔ او جواب لہ دینہ دا دہ چہ پہ دِے تعریف دَ فعل کښ چہ اقتران ذکر دہ مراد ورا نہ اقتران پہ اعتبار د اولے وضع سرہ دہ۔ یعنی فعل دیتہ وائی، چہ معنی دَ هغۂ بہ مقترنہ وی تر یو د ازمنہ ثلاثہ پورے خو لکن پہ اعتبار دَ وضع اولے سرہ او ددے افعالو هم معنی مقترنہ دہ تر یو د ازمنہ ثلاثہ پورے۔ او دا عدم اقتران چہ پہ کښ راغلیدہ دا پہ اعتبار د وضع ثانی سرہ دہ۔ چہ هغہ عبارت دہ دَ نقل نہ یعنی دَ دِے افعالو مدح او ذم معنی مقترنہ وہ پہ اصل وضع کښ تر زمانہ پورے او بیا ورا وستو نقل وکړے شو لہ دِے معنی مقترنے نہ هغے معنی تہ، چہ پہ هغے کښ اقتران نشتہ۔ نو تعریف دَ فعل ورا جامع دہ دِے افعالو مدح او ذم تہ نو اعتراض دفع دہ۔

اعلم ان فعل المدح هو حب لا کلمۃ ذا فانہ اسم من اسماءِ الاشارۃ لکنہ لما امتزج الخ

غرض دَ شارح پہ دِے عبارت نقل کښ جواب ورا کول دی دَ یو اعتراض نہ۔ هغہ دا چہ فعل مدح پہ حبذا کښ داحب دہ فقط۔ او ذا نہ دہ پہ اتفاق دَ نحاتو سرہ نو څہ وجہ دہ لپارہ د مصنف چہ دا مجموعہ حبذا یے شمار کړیدہ لہ افعال مدح او ذم نہ۔ او حاصل د جواب دا دہ چہ دا خبرہ منو چہ فعل مدح داحب دہ فقط او دا ذا نہ دہ۔ خو لکن د ذا هر کلہ چہ دَ حب سرہ شدت امتزاج راغلے وہ پہ دا سے طریقے

سره چه دَدِے انفصال نه راځی دَحب نه نو له وجه دَشدت امتزاج نه مصنف دا مجموعه حب او ذا شمار کړل په افعال مدح کښې. نو باعث په مصنف باندې په شمار نو کښې دا شدت امتزاج دے. نو له وجه دَدِے شدت امتزاج نه په داسے طریقے سره چه دا داوړه نه زیع جن اکیږی په استعمال کښې، دا حب سره دَذا نه مجموعه یوه کلمه شمار کړے شویده. دلته یو بل اعتراض معترض کوی. هغه دا چه څه وجه ده چه "ذا" غوره شویده لپاره دَدِے چه دا به فاعل وی لپاره دَحب. او بل اسم نهٔ دے غوره شوے. نو له دینه جواب داده چه "ذا" ځکه غوره شو، ځکه چه "ذا" دا اسماءِ اشاراتو نه دے. او په اسماءِ اشاراتو کښې ابهام وی او مقصود په دِے باب کښې چه دا افعال مدح او ذم دی ابهام دے. نو ځکه "ذا" غوره شو او بل اسم نهٔ دے غوره شوے. او ابهام په دِے باب کښې ځکه مقصود دے. چه په فاعل کښې ابهام وی نو یو ځل به مدح وشی دَشئ په طریقے دَ عموم سره په واسطه دَدِے فاعل عام سره. او بیا به مدح وشی دَدِے شئ په طریقے دَخصوص سره په واسطه دَذکر دَمخصوص بالمدح سره. نو تکرار به راشی په مدح کښې او تکرار په مدح کښې مقصود دے.

النوع الثالث عشر

شعر ؎ دیگر افعال یقین وشک بود کان بر دو اسم!

چون درآید هریکے منصوب سازد هر دو را!

خلت باشد با علمت پس حسبتُ با ظننت!

پس زعمت با رئیت پس وجدت بی خفا!

زده کړه دا خبره چه دیارلسم نوع له دِے دیارلسو انواعو دعوامل سماعیه نه افعال قلوب دی. چه وړته افعال دیقین او دشک هم وائی. او دا داخلیږی په جمله اسمیه باندې. او په جمله کښې چه مبتداء او خبر دی په هغوئ دواړو کښې عمل کوی دَنصب. په دِے شان چه مبتداء ته هم نصب ورکوی او هغه مفعول اول وی لپاره دَدِے افعالو او خبر ته هم نصب ورکوی. او هغه وړته مفعول ثانی جوړیږی. نو ناظم په دِے نظم منظوم کښې وُه افعال قلوب ذکر کړیدی. درے افعال لپاره دیقین دی. یعنی په یقین باندې دلالت کوی. او درے افعال لپاره دشک دی. یعنی په شک باندې دلالت کوی. او یو فعل مشترک دے په مابین دیقین او دَشک کښې. دیقین دپاره هم مستعملیږی او دَشک دپاره هم مستعملیږی. نو هغه درے افعال چه لپاره دیقین دی. هغه: علمت

رئيت. او وجدت دی. او دا افعال په يقين باندې دلالت کوي. او هغه درې افعال چه لپاره د شک دي هغه: خلت. حسبت او ظننت دی. نو دا درې افعال دلالت کوي، په شک باندې. او هغه فعل چه مشترک ده په مابين د يقين او د شک کښې "زعمت" ده نو دا لپاره د يقين هم راځي او لپاره د شک هم راځي. نو معنی او ترجمه د شعر و نو دا ده، چه ناظم وائي چه بل قسم په عواملو کښې افعال يقين او شک دی. او چه کله دا افعال په دوه اسمونو باندې ورداخل شي. نو دواړو ته نصب ورکوي. چه دا افعال: خلت. علمت. حسبت. ظننت. زعمت. رئيت. او وجدت دی. او په کيني و ذِې افعالو کښې لپاره د يقين او شک هيڅ خفاء نشته.

تشريح:- ما ده کړه د اخيره چه د رئيت دوه معاني دی. اوله معنی دا ده چه دا راځي لپاره د رويت بصري. نو په دې وقت کښې دا رئيت دافعالو قلوبو نه ده. بلکه د افعالو د اعضاءِ ظاهره نه ده، چه ورته جوارح وئيلې شي. او په دې وقت کښې دا رئيت متعدي وي يو مفعول ته فقط. او دويمه معنی د رئيت دا ده چه دا راځي لپاره د رؤيت قلبي. نو بيا دا رئيت په دې معنی سره دافعالو قلوبو نه ده، ځکه چه بيا د رؤيت معنی ده علمت او علم فعل ده له افعالِ قلوبو نه او په دې وقت کښې دا رئيت متعدي کيږي دوه مفعولونو ته. او د "وجدت" د پاره هم دوه معاني دی. اول دا چه دا راځي په معنی د وجدانِ حسي باندې. نو بيا د وجدت معنی ده ابصرت. او په دې وقت کښې بيا دا وجدت دا فعالو د قلب نه نه ده بلکه له افعالو د جوارحو نه ده. او په دې وقت کښې دا متعدي کيږي يو مفعول ته فقط. او دويمه معنی د وجدت دا ده چه دا راځي لپاره د وجدانِ قلبي، چه مراد ورنه علم ده. نو بيا دا په معنی د علمت سره ده. او علم يو فعل ده له افعالو د قلب نه، نو دا وقت دا دافعالو قلوب نه ده. او متعدي کيږي دوه مفعولونو ته. او دوئ چه دا وائي. چه ظننت او خلت او حسبت راځي لپاره د شک نو مراد له دينه غالب استعمال ده. يعني په غالبو اوقاتو کښې دوئ راځي لپاره د شک. او په بعضِ اوقاتو کښې لپاره د يقين هم راځي لکه ظننت، چه په بعضِ اوقاتو کښې راځي لپاره د يقين لکه په دې قول د الله تعالی کښې چه: انی ظننت انی ملاقٍ حسابيه. نو دې ايت کښې دا ظننت لپاره د شک نه ده بلکه لپاره د يقين ده. يعني "علمت انی ملاق حساب اعمالی". او همدا رنګ خلتُ هم په بعضِ اوقاتو کښې راځي لپاره د يقين لکه وئيلې شي چه خلتُ زيداً قائماً. او مراد ورنه علمت دی

او هسې ارنګ حسبت هم په بعضې اوقاتو کښې راځي لپاره دیقین لکه وېلې شي "حسبت عمرًا فاضلًا". نو دا په معنی د علمت سره ده. او هسې ارنګ دوئ چه وائي چه "علمت او رئیت او وجدت" راځي لپاره دَ یقین. نو مراد له دینه دا ده چه په غالب استعمال دَ دوئ لپاره دَ یقین ده. او په بعضې اوقاتو کښې لپاره دَ شک هم راځي. مثال لکه علمت نو دا علمت په غالبو اوقاتو کښې لپاره دیقین راځي خو لکن په بعضې اوقاتو کښې لپاره دَ شک هم راځي لکه په دِے قول دالله تعالیٰ کښې فان علمتموهن مؤمنات فلا ترجعوهن الی الکفار. نو په دِے آیت کښې دا "علمتموهن" په معنیٰ دَ "ظننتموهن" سره ده. دغه شان رئیت هم لپاره دَ شک راځي لکه وېلې شي چه رئیت زیدًا فاضلًا. نو دا رئیت په معنیٰ دَ ظننت سره ده. او هسې ارنګ "وجدت" راځي لپاره دشک لکه وېلې شي، وجدت زیدًا فاضلًا. او مراد وی نه ظننت زیدًا فاضلًا وی. دلته معترض یو اعتراض کوی. هغه دا چه څهٔ وجه ده لپاره دَ مصنف چه دا افعال قلوب په صیغو د ماضي سره ذکر کړهٔ او په صیغو د مضارع سره یے ذکر نکړهٔ. سره له دینه چه لکه څنګه چه دا افعال په صیغو د ماضي سره ذکر شي افعال قلوب دی. نو هسې ارنګ که په صیغو د مضارع سره ذکر شي نو بیا هم افعال قلوب دی. او له دینه جواب دا ده چه مصنف څکه دا په صیغو دَ ماضي سره ذکر کړیدی، چه ماضي مقدم ده له حال او استقبال نه چه په دِے دواړو باندِ مضارع دلالت کوی. نو له وجه دَ مقدم والی د ماضي نه دا افعال یے په صیغو د مضارع باندِ ذکر نکړل. بیا معترض اعتراض کوی! چه څهٔ وجه ده چه مصنف دا افعال ذکر کړیدی په صیغو دَ متکلم باندِ. او په صیغو دَ مخاطب باندِ یے ذکر نکړل. او جواب له دینه دا ده. چه دا افعال مصنف څکه په صیغو دَ متکلم باندِ ذکر کړل، او په صیغو دَ مخاطب باندِ ذکر نکړهٔ. څکه چه علم په افعالو دَ خپل زړهٔ باندِ زیات وی له علم نه په افعالو دَ زړهٔ دَ بل کس باندِ. بیا معترض وائي چه نهٔ منم دا خبره چه ظننت او خلت او حسبت لپاره دَ شک راځي. څکه په شک خو عبارت ده له هغه علم نه چه په یو نسبت باندِ راشي، خو لکن چه په دِے علم کښې استواء موجوده وی په وقوع دَ نسبت او په لا وقوع دَ نسبت باندِ. یعني په دے دواړو جانبو نو دَ نسبت باندِ به یو شان علم راغلے وی. او ظننت او خلت او حسبت خو دلالت کوی په هغه علم باندِ چه راغلے وی په بجانب راجح د نسبت باندِ. نو دا دریواړهٔ افعال لپاره دشک بلل باطل دی! او جواب له دینه دا ده چه مراد له شک

ظن ده. او شک نشته چه دا دوه پواره افعال راځي لپاره د ظن چه دا ظن عبارت ده د علم نه په جانب راجحه د نسبت باندې.

وانما سميت بها لان صدور ها من القلب ولا دخل فيه للجوارح الخ: غرض د شارح په دې عبارت نقل کښې بيان د وجه د تسميه د دې افعالو ده په افعال القلوب سره. حاصل د دې وجه دا ده چه دوئ ته ځکه افعال قلوب وائي، چه د دوئ صدور قلب نه کيږي فقط او جوارحو لره هيڅ دخل نشته په صدور د دې افعالو کښې ځکه، چه بعض له دوئ نه لپاره د يقين دي. په يقين باندې دلالت کوي. او بعض لپاره د شک دي. په شک باندې دلالت کوي. او دا يقين او شک نه صادريږي د جوارحو نه، نو جوارحو لره هيڅ دخل نشته په صدور د دې افعالو کښې. نو معلومه شوه چه دا افعال صرف د قلب دي. نو ځکه وړ ته افعال قلوب وائي. خو لکن په دې باندې معترض اعتراض کوي، هغه دا چه دا افعال صادريږي د قلب نه نه بلکه صدور د دې افعالو کيږي د جوارحو نه ځکه چه دا افعال الفاظ دي او صدور د الفاظو د لسان نه کيږي او لسان يوه جارحه ده د جوارحو نه. نو دا خبره ستاسو باطله شوه چه صدور د دوئ د قلب نه کيږي. او جوارحو لره په صدور د دوئ کښې دخل نشته! او جواب له دينه دا ده چه دا عبارت د شارح چه لان صدورها من القلب ده په حذف د مضاف سره ده په دې شان چه لفظ د معاني په دې کلام د شارح کښې مقدر ده او هغه مضاف ده ها ضمير ته نو تقدير د عبارت داسې ده چه لان صدور معانيها من القلب نو معنى د کلام د شارح دا شوه چه دې افعالو ته ځکه افعال قلوب وائي، ځکه چه صدور د معنو د دې افعالو د قلب نه کيږي. او شک نشته چه صدور د معنو د دې افعالو د قلب نه کيږي. ځکه چه معاني د دې افعالو يقين ده او ظن ده. او شک نشته چه صدور د يقين او د ظن د قلب نه کيږي. ځکه چه قلب محل ده لپاره د ظن او د يقين. اګرچه الفاظ د دې افعالو صادريږي د لسان نه چه دا يوه جارحه ده له جوارحو نه.

وتدخل على الجملة الاسمية تنصب المبتداء والخبر الخ: غرض د شارح په دې عبارت نقل کښې بيان د مدخول د افعالو قلوبو ده. نو شارح وائي چه مدخول د دې افعالو جمله اسميه ده. او دا افعال په جمله اسميه داخليږي. او په دې جمله اسميه کښې چه کوم مبتداء او خبر د کړوي. هغه دواړو ته نصب ورکوي بنابر مفعول په

دِ دے شان چه مبتدا ء ته نصب ورکول بنا په دِ دے بانِدِ دی چه دا به مفعول اوّل وی دَ ددی او خبر ته نصب ور کوی بنا په دِ دے بانِدِ چه دا به مفعول ثانی د دوئی وی. مثال لکه علمت زیداً فاضلا. نو مخکښ له دخول د علمت نه زید فاضل وی. چه زید مبتدا او فاضل ور ته خبر وه. او زید مرفوع وه بنا برابتدا ئیت یعنی مبتدا ء وه. او فاضل مرفوع وه بنا برخبریت چه دا خبر وه. او دواړو ته رافع عامل معنوی ور کړے وه. او کله چه په دِ دے جمله اسمیه بانِدِ علمت چه د افعالو قلوبو نه دے ورداخل شو. نو زید او فاضل دواړو ته یے نصب ور کړو بنا بر مفعولیت، چه زید مفعول اوّل شو د علمت او فاضلا مفعول ثانی شو د علمت، او په دواړو کښ عامل لفظی عمل وکړو چه بعینه دا علمت دے. او ترکیب دَ دِ دے مثال دا دے چه علمت فعل او "ت" ضمیر دَ متکلم ور ته فاعل او زیدا ورته مفعول اول او فاضلا ور ته مفعول ثانی. فعل سره د فاعل او سره د دواړو مفعولونو نه جمله فعلیه خبریه شوه. او مثال شوه لپاره د ممثل، چه هغه دخول د افعالِ قلوبو دے په جمله اسمیه بانِدِ دے.

وانما اختص دخولها علی الجملة الاسمية ليفيد دخولها العلم والظن للحكم الخ:-

غرض د شارح په دِ دے عبارت نقل کښ بیان د فائدے د دخول دَ دوئی دے په جمله اسمیه بانِدِ نو حاصل د بیان د فائدے دا دے چه دا افعال قلوب څکه مختص شوی دی تر جمله اسمیه پورے چه دوئی به داخلیږی په جمله اسمیه بانِدِ فقط، لپاره دَ دِ دے چه دخول دَ دوئی پیش اکوی علم یعنی یقین او یا ظن په دِ دے حکم بانِدِ چه کوم حکم واقع شوے وی په دِ دے جمله اسمیه کښ. په دِ دے شان چه هغه حکم چه په دِ دے جمله اسمیه کښ ذکر دی مطلق وی دا پکښ نهٔ وی متعین چه دا حکم د یقین نه راپیدا شوی دے او که د ظن نه راپیدا شوی دے. او چه کله ور بانِدِ یو فعل د افعالو قلوبو ور داخل شی. نو بیا به دا معلومیږی چه دا حکم راپیدا شوی دے له یقین نه او یا د ظن نه مثال لکه" زید فاضل" نو دا یوه جمله ده او په دیکښ چه کوم حکم موجود دے هغه فضیلت د زید دے او دا حکم مطلق دے دا پکښ متعین نهٔ دے چه دا حکم چه فضیلت د زید پیدا شوی دے دَ یقین نه او که د ظن نه. یعنی دا نهٔ معلومیږی چه په دِ دے حکم بانِدِ زمونږ یقین دے او که ظن دے. او کله چه ور بانِدِ علمت داخل شی او دا سے ووئیل شی چه علمت زیدا فاضلا. نو او س دا ور ته معلومیږی چه دا حکم چه فضیلت د زید بانِدِ شوی دے. پیدا شوی دے دَ یقین نه یعنی دَ متکلم ور بانِدِ یقین دے. او چه کله دا سے ووئیل شی چه ظننت زیداً فاضلا

نو اوس دا ورانه معلومیږی چه دا حکم چه فضیلت د زید ده را پیدا شوی ده له ظن نه
یعنی دَ متکلم په دِے حکم بانډې ظن ده. او په علمت او ظننت بانډې نورې افعال قیاس دی.

واعلم انها بن وانها افعال لا اسماء ولا حروف وعددها سبعة ومن دخولها الجملة
الاسمية الخ: غرض دَ شارح په دِے عبارت خپل کښې بیان د امورو خمسه ده. اول امر
بیان د ذوات دَ دِے افعالو دی. نو دا بیان کړیدۀ شارح په دِے عبارت خپل سره چه
"انها بن وانها افعال لا اسماء ولا حروف". یعنی ذات دَ دوئ فعل ده. او لما قبیلے دَ فعل
نه دی او دا فعل ورته نوع ده. او دا افعال ورته افراد دی. نوع دَ شي تمام حقیقت
او ذات وی لپاره د شي. نو دا فعل هم تمام حقیقت او ذات ده لپاره دَ دِے افعالو!
او دوئ په اعتبار د ذات سره اسماء هم نۀ دی او حروف هم نۀ دی. او دویم امر عدد
او شمار دَ دوئ ده. او دَ دِے بیان شارح کړیدۀ په "وعددها سبعة" سره یعنی دا اووۀ
افعال دی چه درے لپاره دَ یقین دی او درے لپاره دَ شک دی. او یو مشترک ده په
مابین دیقین او د شک کښې. او دریم امر من دخول دَ دوئ ده. او دا شارح بیان کړیدۀ
په "ومن دخولها الجملة الاسمية" سره. یعنی دا افعال داخلیږی په جمله اسمیه بانډې فقط
او مبتداء او خبر ته چه جمله اسمیه ورانه جوړه شویدۀ نصب ورکوی، په دِے شان،
چه له مبتداء ته مفعول اول جوړیږی لپاره دَ دوئ او لما خبر ته یے مفعول ثانی ورته
جوړیږی. او څلورم امر عمل دَ دوئ ده. او دا عمل د دوئ شارح په "وعملها النصب
على المفعولية" سره بیان کړیدۀ. یعنی یے دا ده چه نصب ورکوی مبتداء خبر ته،
بنا بر مفعولیت، چه د مبتداء ته مفعول اول جوړوی او د خبر ته مفعول ثانی. او پنځم امر
له دِے امورو خمسه نه اسماء او نومونه دَ دِے افعالو دی. نو شارح دَ دوئ لپاره څلور نومونه
ذکر کړیدی اول نوم دا ده چه دوئ ته افعال القلوب وائی. او وجه د تسمیه ظاهره ده چه
دا افعال هم دَ قلب نه صادریږی او جوارحو لره پکښې څه دخل نۀ وی. او دویم نوم
د دوئ افعال الیقین والشک ده. او وجه د تسمیه ظاهره ده، ځکه چه بعض افعال پکښې
دپاره دَ یقین راځی. او بعضِ دَ شک دپاره. او بعضِ مشترک دی په مابین دَ شک او
دیقین کښې. او دریم نوم دوئ ته افعال نواسخ وائی، او وجه د تسمیه دا ده چه نواسخ
جمع د ناسخ ده او ناسخ معنی ده نسخ کوونکے. او دا افعال هم په جمله اسمیه بانډې چه داخل
شی نو هغه پخوانے عمل ورانه نسخ کوی. ځکه چه مخکښې له دخول دَ دِے افعالو نه مبتداء
او خبر دواړه مرفوع وی. او رفع د دواړو ته عامل معنوی ورکړی وی. نو چه کله دا

افعال ورباندې داخل شي، نو هغه پخوانے عمل چه رفع ده نسخ کوي او نوے عمل پهٔ دوي کښې کوي چه هغه عمل نصب ده نو مبتداء او خبر دواړو ته نصب ورکوي. او دا بناء بر مفعوليت وي. او ځلورم نوم دوئ ته افعال دواخل وائي. او وجه د تسميه دا ده، چه دواخل جمع د داخل ده او داخل معنی ده داخليدونکے او دوئ هم داخليږي په مبتداء او خبر باندې. چه جمله اسميه ده.

وقد يجئ بعضها للجوارح فحينئذٍ تنصب مفعولا واحدا نحو علمت فانه قد يجئ بمعنى عرفت الخ: غرض د شارح دلته بيان ددې خبرے ده. چه بعضې افعال قلوب راځي لپاره د نورو معنو، چه هغه معاني ورانه مراد شي، نو بيا دوئ له افعال قلوب نه نشي شمارلے، او نهٔ متعدي وي دوه مفعولو ته بلکه متعدي وي يو مفعول ته، لکه علمت، نو دا چه کله راشي په معنی د يقين سره او مراد له علم نه پهٔ يو شي باندې هغه علم شي چه هغه راغلے وي په بعضو صفاتو ددهٔ باندې. نو بيا دا علمت د افعال قلوبو نه ئ او متعدي وي دوه مفعولو ته. او چه کله دا علمت په معنی د عرفت سره راشي او مراد له معرفت نه في نفسه معرفت د يو شي نهٔ معرفت د صفت د هغهٔ، نو بيا په دې وخت کښې دا علمت د افعال قلوبو نه نشي کيدے. او متعدي هم نهٔ وي دوه مفعولو ته بلکه متعدي وي يو مفعول ته مثال لکه علمت زيدا. "اى عرفته فى نفسه" يعني ما زيد وپيژندلو په اعتبار د ذات ددهٔ سره نهٔ په اعتبار د صفاتو سره. نو اوس دا د افعال قلوبو نه ده ځکه معرفت في نفسه د شئ حاصليږي په حواسو سره نهٔ په قلب سره. او دا علمت متعدي ده يو مفعول ته چه زيد ده. او همدا رنګ رئيت چه راشي لپاره د يقين او مراد له رويت نه رويت د قلب شي، نو بيا دا د افعال قلوبو نه ده او متعدي وي دوه مفعولو ته، او چه کله رئيت راشي په معنی د رويت بصري، نو بيا دا د افعال قلوبو نهٔ وي بلکه د افعالو د جوارحو نه وي. ځکه چه رويت بصري صادريږي د بصر نه او بصر يوه جارحه ده له جوارحو نه مثال لکه د قول د الله تعالى: فانظر ماذا ترى. نو په دې ايت کښې "ترى" په معنی د رويت بصري سره ده. او قرينه ورباندې فانظر ده او دا رئيت چه له افعالو د جوارحو نه شي، نو بيا متعدي وي يو مفعول ته فقط. او دغه شان "وجدت" چه کله په معنی د وجدان قلبي سره وي چه دا معنی د علم ده. نو بيا دا د افعال قلوبو نه ده. او متعدي وي دوه مفعولو ته. او چه کله دا وجدت په معنی د اصبت شي، نو دا افعال قلوب نه نهٔ وي بلکه له افعالو د جوارحو نه وي. او متعدي

نه وي د دوه مفعولو ته بلکه یو مفعول ته متعدي وي، ځکه چه د اصابت فعل جوارحو ده نه د قلب. نو ځکه چه وجدت په معنی د اصبت سره شي، بیا له افعال قلوبو نه وي بلکه له افعالو د جوارحو نه وي.

ولا یجوز حذف احد المفعولین وان کان المفعول فضلة لانهما کمفعول واحد:

حذفول د یو مفعول له دوه مفعولینو د دې افعال قلوبو نه باطل ده یعني دا باطل ده چه یو مفعول د فعل قلب ذکروي او په هغه باندې اقتصار شوے وي او بل مفعول یې حذف شوے وي. بلکه یا به دواړه مفعولونه د دوئ ذکر وي. او که حذف کیږي، نو بیا به دواړه حذف کیږي خو لکن چه یو شئ قائم وي په مقام د دې دوه مفعولینو باندې او وجه لپاره د بطلان د حذف د یو مفعول سره د ذکر د بل مفعول نه دا ده چه، په ظاهر کښې اګرچه دا دوه مفعولین مفعولونه وي لپاره د افعال قلوبو، لیکن په حقیقت کښې مفعول لپاره د دوئ مضمون د دې دوه مفعولینو وي. او مضمون د دې دوه مفعولینو عبارت ده له دینه چه مصدر د مفعول ثاني را واخستل شي او مضاف شي مفعول اول ته، برابره خبره ده که مفعول ثاني مشتق وي او که جامد وي. مثال لکه علمت زیدا فاضلا. نو مفعول اول زید ده او مفعول ثاني فاضلا ده. او دا فاضلا مشتق ده نو مصدر د دې فضیلت ده. نو چه دا فضیلت مضاف شي زید ته او دا سے وویل شي چه فضیلة زید. نو دا مضمون ده لپاره د دوه مفعولینو. او دا مضمون چه فضیلة زید ده په حقیقت کښې مفعول ده لپاره د افعال قلوبو. نو تقدیر د علمت زیدا فاضلا دا ده. چه علمت فضیلة زید. او لکه علمت هذا زیدا. نو هذا اسم اشاره اول مفعول ده د علمت او زید اے دویم مفعول ده. او زید اګرچه جامد ده خو لکن د ده مبدأ چه زیدیت ده مضاف شي مفعول اول ته چه هذا ده نو وبه نه مضمون، د دوه مفعولینو جوړیږي. نو د دوئ به مضمون "زیدیة هذا" وي. او دا مضمون به په حقیقت کښې مفعول ده لپاره د علمت. نو هرکله چه دا مضمون مفعول ده لپاره د علمت، او دا مضمون په شان د کلمه واحده ده. او دا مفعول اول وبه ته یو جزء ده او مفعول ثاني وبه ته دویم جزء ده. نو که چرته یو مفعول له دې مفعولینو د افعال قلوبو نه حذف شي. نو لازم به شي حذف د جزء د کلمه بغیر د څه موجب مجوز نه او دا باطل ده. نو ځکه اقتصار په افعال قلوبو کښې په یو مفعول باندې باطل ده بلکه دا ضروري ده چه باید دواړه مفعولین د افعال قلوبو به ذکر وي. نو شارح چه دا

وئیلی دی چه لا تهما کمفعول واحد. نو مراد ورنه دا دے چه دا دوه مفعولین دوه بدلین
دی لپاره د مضمون. او هغه مضمون د دے دواړو مفعول دے. نو که دا یو مفعول حذف
شی نو لا تام به شی حذف د یو جزء د کلمه بغیر د موجب مجوزه نه او دا باطل دے. خو
لکن په دے تقریره بانی چه جائز نه دے حذف د یو مفعول د دوه مفعولینو د اعلم نه دوه
اعتراضه وارد یږی. اول دا چه دا ته به وښایو چه مفعول اول د افعال قلوبو به حذف
شوے وی لکه په دے قول د الله تعالی کښې چه " ولا یحسبن الذین یبخلون بما اتهم الله
من فضله هو خیر لهم " نو په دے آیت کښې دوه قراءته دی اول قراءت دا دے چه
ولا تحسبن په صیغه د مخاطب سره ووئیل شی نو بناء په دے قراءت بانی فاعل لپاره
د لا تحسبن فعل ضمیر د مخاطب دے چه انت دے. او مفعول اول ورته الذین موصول
سره د صله نه دے. او مفعول ثانی ورته هو خیر لهم دے. نو بناء په دے قراءت حذف
د مفعول د فعل قلب نه دے راغلے چه فعل قلب لا تحسبن دے. او نه بناء په دے قراءت
بانی اعتراض وارد یږی، ځکه چه بناء په دے قراءت حذف د مفعول نه دے راغلے بلکه
دواړه مفعولین د فعل قلب ذکر دی. او دویم قراءت په دے آیت کښې دا دے چه ولا
یحسبن ووئیل شی په صیغه د غائب سره. نو بناء په دے قراءت بانی فاعل د فعل قلب
چه ولا یحسبن دے. الذین موصول سره د صله دے او مفعول اول یے حذف دے چه
بخلهم دے. او مفعول ثانی یے هو خیر لهم دے. نو بناء په دے قراءت بانی معترض
اعتراض کوی چه تاسو وائے چه حذف د یو مفعول د افعال قلوبو باطل دے. او حال دا
دے چه په آیت مذکوره کښې مفعول اول د فعل قلب حذف شویدے. او دویم اعتراض
دا دے چه ته منم دا خبره چه یو مفعول له دوه مفعولینو د افعال قلوبو نه نه حذف
کیږی بلکه زه به درته وښایم چه دویم مفعول د فعل قلب به حذف شوے وی،
لکه دا قول د شاعر۔

شعر ؎

لا تخلنا علی اغراشك انا!

طالما قد وشی بنا الاعداء!

نو په دے شعر کښې لا تخلنا فعل قلب دے او ضمیر پکښې مستتر دے چه "انت" دے هغه
ورته فاعل دے او دا "نا" ضمیر د متکلم مع الغیر ورته مفعول اول دے. او مفعول
ثانی د دے فعل حذف دے چه هغه لفظ د "جازعین" دے چه جمع د جازع دے. نو
معترض وائی چه "دا تخلنا فعل قلب دے او ماضی یے خلت راځی او مفعول ثانی

دَدے حذف دہ او مفعول اول پکښې ذکر دہ. نو ستا سو د اقاعدہ چہ یو مفعول لہ دوہ مفعو لینو د افعال قلوبو نہ حذف کیږي باطلہ دہ او منقوضہ دہ! او جواب لہ دے دوا ړو اعترا ضونو نہ دا دہ، چہ مونږ چہ دا وئیلي دي چہ حذف د یو مفعول لہ دوہ مفعو لینو د افعالو قلوبو نہ جائز دہ. مراد ورنہ زمونږ دا دہ، چہ یو مفعول لہ دوہ مفعو لینو نہ حذف شي بغیر د څۂ قرینہ نہ، او پہ وقت د وجود د قرینہ کښې حذف د یو مفعول لہ دوہ مفعو لینو د افعالو قلوبو نہ جائز دہ. او پہ مخکښې ایت کښې قرینہ موجودہ دہ پہ مفعول اول باندې چہ هغہ یبخلون لفظ دہ، ځکہ دا یبخلون د لالت کوي پہ مصدر باندې چہ بخل دہ او مفعول اول هم پہ دے ایت کښې مصدر دہ چہ بخلهم دہ. او پہ شعر کښې هم قرینہ موجودہ دہ پہ حذف دَ مفعول ثاني باندې چہ هغہ ور وستہ کلام دَ چہ دا قول دہ: انا طالما وشی بنا الاعداء. نو دَدے قول معنی د لالت کوي پہ دَ خبرہ باندې چہ مفعول ثاني لپارہ دَ مخکښې فعل قلب لفظ د جازعین دہ. ځکہ چہ دا: انا طالما الخ دلیل دہ لپارہ د عدم جزع دَدے شاعر باندې. نو معلومیږي چہ مفعول ثاني بہ جازعین وي. نو دوارہ اعتراضہ دفع شول. او ترجمہ د مخکني شعر دا دہ، چہ شاعر پہ دے شعر کښې خطاب کوي خپل دشمن تہ ورتہ وائي چہ مونږ خفہ کیږو نکی او جزعہ کونکی نۂ یو پہ دے خبرہ باندې چہ تا بادشاہ تہ زمونږ پہ سر باندې چغلي کړیدہ او بادشاہ زمونږ پہ خلاف را وچتوے، ځکہ چہ ډیر ځل زمونږ پہ چغلي کړیدہ او بادشاہ تہ دشمنانو نہ مونږ چغلي کړیدہ او مونږ تہ ورباندې څۂ ضرر نۂ دہ سر باندې بادشاہ تہ دشمنانو نہ مونږ چغلي کړیدہ او مونږ تہ ور باندې څۂ ضرر نۂ دہ رسیدلے.

(((((شعر)))))

بعد از آن هفت قیاسی اسم فاعل مصدر است!
اسم مفعول و مضاف و فعل باشد مطلقً!
پس صفت باشد کہ او مانند اسم فاعل است!
هفتم اسم تام باشد ناصب تمیز را !!!

هر کلہ چہ ناظم فارغ شو د بحث د عواملو سماعیہ نہ نو شروع یے وکړہ پہ بحث دَ عواملو قیاسیہ کښې. نو عوامل قیاسیہ ووہ عوامل دي او هغہ دا دي: اسم فاعل مصدر، اسم مفعول، مضاف، فعل، صفت او اسم تام. نو دا ووہ اقسام عوامل قیاسیہ دي. او فرق پہ مابین د عوامل سماعي او د عامل قیاسي کښې مونږ کړیدہ پہ سر د دے کتاب کښې پہ تقسیم د عواملو کښې. او معنی او ترجمہ د مخکنو اشعارو دا

دہ چہ ناظم وائی چہ روستہ لہ دے عوامل سماعیہ نہ وَرَه عوامل قیاسیہ دی چہ اسم فاعل۔ مصدر۔ اسم مفعول۔ مضاف، او فعل دہ۔ خو لکن دا فعل مطلقا عامل دہ۔ برابرہ خبرہ دہ کۂ فعلِ لازمی وی او کۂ فعلِ متعدی۔ او کہ فعل مجرد وی او کۂ فعل مزید فیہ وی۔ او دغہ شان برابرہ خبرہ دہ کۂ ماضی وی، کۂ مضارع وی۔ او دوہم وستہ لہ دینہ صفت هم عامل دہ چہ دا پہ شان د اسم فاعل دہ۔ او اوَوم عامل اسم تام دہ چہ نصب ورکوی تمیز تہ۔

قولہ اسم فاعل: هو فی اللغة کارکنندہ و فی الاصطلاح اسم مشتق من الفعل المضارع المعلوم الخ: غرض د شارح پہ دے عبارت خپل کښ بیان دَ معنی لغوی او اصطلاحی د اسم فاعل دہ۔ نو لغوی معنی د اسم فاعل شارح پہ دے عبارت سرہ ذکر کړیدہ چہ: هو فی اللغة کارکنندہ۔ یعنی پہ لغت کښ کار کونکی تہ وائی۔ خو لکن پہ لفظ د اسم فاعل کښ دوه کلمے دی چہ اولہ کلمہ اسم دہ چہ دا مضاف دہ او دویمہ کلمہ فاعل دہ چہ دا مضاف الیہ دہ او شارح چہ د کارکنندہ معنی ذکر کړے دا معنی د مضاف الیہ دہ لفظ چہ لفظ د فاعل دہ۔ نو دا کارکنندہ معنی لغوی د اسم فاعل نۂ دہ بلکہ د فاعل دہ نو دا تسامح واقع شویدہ دَ شارح نہ پہ بیان دَ معنی لغوی د اسم فاعل کښ۔ نو پہ حقیقت کښ معنی لغوی د اسم فاعل دا دہ چہ دا پہ لغت کښ نام کارکنندہ دہ۔ نو دا نام معنی د مضاف دہ چہ لفظ د اسم دہ او کارکنندہ معنی د مضاف الیہ دہ چہ فاعل دہ۔ او معنی اصطلاحی د اسم فاعل شارح پہ "اسم مشتق من الفعل المضارع المعلوم لمن قام بہ الفعل بمعنی الحدوث" عبارت سرہ ذکر کړیدہ۔ یعنی اسم فاعل عبارت دہ دَ هغہ اسم نہ چہ مشتق شوے وی د فعل مضارع معلوم نہ۔ او دا بہ نوم وی د هغہ کس د پارہ چہ ترکوم کس پورے فعل قائم وی پہ معنی د حدوث سرہ مثال لکہ ضارب۔ نو دا اسم فاعل دہ ځکہ چہ دا اسم دہ او مشتق دہ دَ فعل مضارع معلوم نہ چہ هغہ یضرب دہ۔ او طریقہ د اشتقاق دا سے دہ چہ علامہ د استقبال حذف شوه د یضرب نہ او بیا الف داخل کړے شو پہ مابین دَ عین او د لام کلمہ کښ نو وړ نہ ضارب جوړ شو۔ ځکہ کۂ چرتہ الف زیات نشی نو لازم بہ شی التباس د اسم فاعل او ماضی ترمینځہ، نو د دفع د التباس د پارہ الف زیات شو، نو لہ یضرب نہ ضارب جوړ شو۔ او ضارب نوم دہ دَ هغہ کس د پارہ چہ ترکوم کس پورے دا فعل قائم وی، خو لکن مطلق فعل نہ بلکہ هغہ فعل چہ دا اسم فاعل دَ کوم فعل نہ را مشتق شوے وی نو ضارب

به د هغه کس نوم وی چه ترڅا پورې ضرب قائم وی، او ناصر به د هغه څا نوم وی چه ترڅا پورې نصر قائم وی او آکل به د هغه څا نوم وی چه ترڅا پورې اکل قائم وی. خو لکن دا قیام د فعل به تر دې کس پورې شوې وی په معنی د حدوث سره نۀ په معنیٰ د دوام سره. نو ضارب هغه کس ته وائي، چه په هغه پورې د اضرب قائم وی خو لکن نوی پیدا شوې وی، او ضارب هغه کس ته نشي ویلې چه په هغهٔ پورې ضرب په طریقې دَ دوام او استمرار قائم وی. نو په دې تعریف د اسم فاعل کښې. لفظ د اسم جنس دہ وُ شامل دہ هم اسماءِ مشتقه ته او هم اسماءِ غیر مشتقه ته او دا مشتق اول فصل دہ او دا مَن الفعل المضارع المعلوم دویم فصل دہ. او دا لمن قام به الفعل دریم فصل دہ. او دا بمعنی الحدوث څلورم فصل دہ. نو په اول فصل سره چه مشتق دہ دَ تعریف د اسم فاعل نه اسماءِ جامده او مصدر خارج شول ځکه چه اسماءِ جامده نۀ د بل شي نه مشتق دی، او نۀ له دوئ نه څوک مشتق دی. او مصدر نه اګرچه نور اشیاء مشتق دی خو لکن دا پخپله د چانه نۀ دہ مشتق. او په دوئیم فصل سره چه من الفعل المضارع المعلوم دہ له تعریف د اسم فاعل نه اسم مفعول خارج شو، ځکه چه اسم مفعول د فعل مضارع مجهول نه مشتق وی. په خلاف د اسم فاعل چه دا د فعل مضارع معلو نه مشتق وی. او په دریم فصل سره چه دا قول دہ لمن قام به الفعل. دَ تعریف دَ اسم فاعل نه اسم تفضیل خارج شو، ځکه چه مراد له من قام به الفعل نه دا دہ چه دا اسم فاعل دیته وائي چه وضع به وی لپاره دَ هغه ذات چه تر هغه پورې فعل قائم وی فقط او له دینه زیات دَ بل شي دپاره به نۀ وی وضع او اسم تفضیل خو وضع وی هم لپاره د ذات د هغه شي چه تر هغه پورې فعل قائم وی او هم لپاره د زیادت نو فرق په مابین د اسم فاعل او د اسم تفضیل کښې دا دہ، چه اسم تفضیل وضع وی لپاره د مجموعه ذات، چه تر هغه ذات پورې فعل قائم وی، او لپاره دَ زیادت نو دا ذات او زیادت دواړه مجموعه معنی موضوع له د اسم تفضیل وی. په خلاف د اسم فاعل ځکه چه د اسم فاعل معنی موضوع له ذات مذکوره وی فقط او زیات نۀ وی. او د لمن قام به الفعل معنی دا دہ چه اسم فاعل به وضع وی لپاره دَ ذات فقط. نو په دې دریم فصل سره د تعریف د اسم فاعل نه اسم تفضیل خارج شو او په دې څلورم فصل سره چه دا قول دہ بمعنی الحدوث د تعریف د اسم فاعل نه صفت مشبه خارج شوه، ځکه چه صفت مشبه وضع وی د هغه څا دپاره چه تر

چاپورے فعل قائم وی نو لکن بمعنی الثبوت والدوام لکه "حسن" نو د اصفت مشبه ده
او د اتوم ده د هغه چا لپاره چه د احسن ترچاپورے قائم وی همیشه، د اسے نه چه نوے
به پیدا شوے وی. په خلاف د اسم فاعل نه، چه د او ضع ده له هغه ذات د پاره چه تر
هغه پورے فعل قائم وی خو لکن بمعنی الحدوث یعنی د افعل به نوے راپیدا شوے وی
لکه ضارب، نو ضارب هغه چاته وائی چه ترچا پورے ضرب قائم شوے وی نوے او دیم
نه ده چه ضارب هغه کس ته وائی ترچا پورے چه ضرب قائم وی په طریقے د دوام او
ثبوت سره. او اسم زمان او اسم مکان او اسم آله خارج دی له تعریف د اسم فاعل نه ځکه
چه اسم فاعل هغه اسم ده چه مشتق وی له فعل مضارع معلوم نه خو لکن وضع به
وی د هغه چا د پاره چه ترچا پورے د افعل قائم وی. او اسم آله او اسم زمان او اسم
مکان اگرچه دوئ هم اسم دی او مشتق دی د فعل مضارع معلوم نه خو لکن د دوئ
وضع د هغه چا د پاره چه تر هغه پورے فعل قائم وی، بلکه اسم آله وضع ده د هغه
شی لپاره چه په هغه باندے د افعل راموجود ولے شی، او اسم زمان وضع ده لپاره د
هغه زمانه چه په هغے کښے د افعل واقع شوے وی. او اسم مکان وضع ده لپاره هغه
مکان چه په کوم کښے د افعل واقع شوے وی. نو ځکه دغه دے امور ثلاثه هم مستثنی
ده دریم فصل ته چه لمن قام به الفعل ده. نو دا درے واړه له تعریف د اسم فاعل نه
خارجیږی په دے دریم فصل سره چه په تعریف د اسم فاعل کښے ذکر ده او د المن
قام به الفعل ده.

فائده:۔ زده کړه د اخبره چه اسم مفعول لکه څنګه چه دویم فصل سره چه
هغه د اقول ده چه من الفعل المضارع المعلوم ده خارجیږی د تعریف د اسم فاعل
نه نو همدا رنګ په دے دریم فصل سره چه لمن قام به الفعل ده هم خارجیږی د
تعریف د اسم فاعل نه، ځکه چه اسم مفعول وضع ده لپاره د من وقع علیه الفعل
نه لپاره د من قام به الفعل. نو هرکله چه اسم مفعول په دویم فصل او دریم فصل
دواړو سره خارجیږی. نو په دے باندے معترض اعتراض کوی. حاصل د اعتراض دا
ده چه هرکله اسم مفعول په دویم فصل سره له تعریف د اسم فاعل نه خارج شو نو
بیا د دهٔ خارجول په دریم فصل سره نه ده مګر اخراج د خارج ده او دا باطل ده، ځکه
چه اخراج د خارج نه ده مګر تحصیل د حاصل ده او تحصیل د حاصل باطل ده بداهة
نو له دے اعتراض نه جواب دا ده چه د اخراج په دوه قسمه ده. یو اخراج د خارج ده

اوبل اخراج د مخرج ده. اخراج د خارج عبارت ده له دینه چه یو شئ په نفس الامر کښې، خارج شوے وی بغیر له اعتبار د اخراج زمونږ نه. یعنی مونږ خروج نهٔ وی معتبر کړے، او بیا مو وسته مونږ اعتبار د خروج د دهٔ وکړو او خارج یې کړو. نو دا روسته اخراج زمونږ نهٔ ده مګر اخراج د خارج ده او دا اخراج د خارج تحصیل دَ حاصل نهٔ ده ځکه چه په دے اخراج د خارج کښې حاصل خروج نفس الامری وی چه د هغهٔ سره زمونږ اعتبار نهٔ وی او دا تحصیل د هغه خروج وی چه هغه زمونږ په اعتبار سره وی نو په دے اخراج د خارج کښې حاصل جد اشئ وی چه هغه خروج نفس الامری ده او تحصیل دَ جد اشئ وی چه هغه خروج اعتباری ده او قصدی ده. نو هر کله چه اخراج د خارج تحصیل د حاصل نهٔ ده نو دا باطل هم نهٔ ده بلکه جائز ده بلکه شائع او ذائع ده په تعریفاتو کښې. او اخراج د مخرج عبارت له دینه ده چه یو ځل یو شئ خارج شوے وی، په یو قید سره او مونږ قصد کړے هم وی او بیا وسته له دینه په دے قید سره مونږ هم غه شئ خارج کړو او مونږ اعتبار وکړو د خروج د دغه شئ په دویم قید سره او دا اخراج د مخرج تحصیل د حاصل ده ځکه چه دا حاصل هم هغه خروج ده چه په قصد او اعتبار د معتبر سره شوے وی. او دا تحصیل د همٔ غه خروج ده چه مخکښې یو ځل حاصل شوی ده. نو حصول او تحصیل د یو شئ راځی په دے اخراج د مخرج کښې او دا باطل ده، بلکه یو دایم امر هم شته او په تعریفاتو کښې متحقق کیږی چه هغه خروج د مخرج ده او دا عبارت ده له دینه چه شئ یو ځل خارج کړے شی په یو قید سره او دا خروج معتبر او قصد کړے شی او بیا وسته دا شئ په دویم قید سره بیا خارج شی خو لکن بغیر د قصد او اعتبار نه، نو په دے خروج د مخرج کښې دا اول خروج اعتباری او قصدی وی او دا دویم خروج نفس الامری وی، او په دیکښې هم تحصیل د حاصل نشته ځکه چه اول خروج اعتباری او قصدی وی او دویم خروج نفس الامری وی. نو مونږ معترض ته وایو چه دا اسم مفعول اګرچه په دویم فصل سره هم خارج شویدهٔ چه هغه د اقول من الفعل المضارع المعلوم ده. او همٔ ارنګ په دریم فصل سره هم خارج شویدهٔ چه هغه د اقول ده لمن قام به الفعل. خو لکن دا به تحصیل د حاصل په هغه وقت کښې جوړیږی وکهٔ چرته مونږ یو ځل د دے اسم مفعول خروج قصد کړے وے په دویم فصل سره او بیا مونږ د دهٔ خروج قصد کړے وے په دریم فصل سره نو بیا به دا اخراج دَ مخرج وهٔ او لازم شوے به وهٔ تحصیل دَ حاصل بلکه مونږ دَ دے اسم مفعول خروج

قصد کوؤ په دریم فصل سره په نفس الامر کښې د اسم مفعول خارج شوی ده. نو د اخراج د مخرج نهٔ ده چه تحصیل د حاصل راشی بلکه خروج د مخرج ده او یکښې تحصیل د حاصل نشته او دا جائز ده باطل نهٔ ده. او یا مونږ د اسم مفعول د اخروج په دریم فصل سره قصد کوو او په دې فصل سره د اسم مفعول خروج نه قصد کوو. بلکه په دې دویم فصل سره به د اخروج شوې وی خو لکن په نفس الامر کښې او مونږ به نهٔ وی قصد کړې، نو د اخراج د خارج ده او دا هم تحصیل د حاصل نهٔ ده نو دا نهٔ ده باطل. بلکه جائز ده. نو خلاصه د جواب دا ده چه خروج د اسم مفعول په دویم فصل او دریم فصل سره اخراجُ مخرج نهٔ ده چه لازم شی تحصیل د حاصل بلکه یا دا خروج د مخرج ده او یا دا اخراج د خارج ده او دا دواړه جائز دی. نو اعتراض دفع شو. او همدارنګ د اصفت مشبه د تعریف د اسم فاعل نه په دریم فصل سره هم خارج شوې ده چه هغه دا قول ده چه لمن قام به الفعل او څلورم فصل سره هم خارج شوې ده چه هغه دا قول ده چه بمعنی الحدوث په دې دریم فصل سره د اصفت مشبه څکه د تعریف د اسم فاعل نه خارج ده څکه چه د دریم فصل معنی دا ده چه اسم فاعل وضع وی لپاره د هغه ذات چه تر هغه پورې به فعل قائم وی مطلقا بغیر د قید د دوام او ثبوت نه. او صفت مشبه خو وضع وی لپاره د هغه ذات چه فعل ورپورې قائم وی خو لکن مطلقاً نهٔ بلکه ثبوت او دوام به کړې فعل سره وی، او همدارنګ په څلورم فصل سره څکه د اصفت مشبه خارج شوې ده د تعریف د اسم فاعل نه څکه چه په صفت مشبه کښې ثبوت او دوام وی، او په اسم فاعل کښې حدوث وی. نو هرکله چه صفت مشبه د تعریف د اسم فاعل نه خارج شوه په دوه فصلونو سره. نو په دې بانې هم معترض اعتراض کوی په شان د هغه اعتراض چه معترض کړې وه په خروج د اسم مفعول بانې. او له دینه جواب هم په هغه طریقه سره ده چه په کومه طریقه مونږ جواب له هغه اعتراض نه ورکړې وه. چه کوم اعتراض، په خروج د اسم مفعول بانې وارد شوې وه.

وعمله الرفع والنصب على الفاعلية والمفعولية ان كان من الفعل المتعدى نحو زيد ضارب ابوه عمرا الخ: غرض د شارح په دې عبارت څخه کښې بیان د عمل د اسم فاعل ده نو نا ده کړه دا خبره چه اسم فاعل عمل کوونکی په دوه قسمه ده یو قسم هغه اسم فاعل ده چه مشتق شوې وی د فعل متعدی نه مثال لکه "ضارب" نو دا اسم فاعل ده او مشتق ده د فعل متعدی نه چه هغه یضرب ده. او دویم قسم هغه

۴ په دریم فصل سره فقط او

فاعل دکا چه هغه مشتق شوے وی د فعل لازمی نه لکه قائم. چه دا اسم فاعل دے
مشتق دے د یقوم نه او دا فعل لازمی دے. او بیا اسم فاعل په خپل کوم کښې په دریم قسمه
دے اول قسم هغه اسم فاعل متعدی دے چه مشتق وی د هغه فعل نه چه هغه متعدی
وی یو مفعول ته لکه ضارب نو دا اسم اسم فاعل متعدی دے چه دا مشتق دے د یضرب
نه او یضرب متعدی دے یو مفعول ته. او دویم قسم هغه اسم فاعل متعدی دے، چه
هغه مشتق وی د هغه فعل نه، چه هغه متعدی وی دوه مفعولینو ته لکه عالم نو دا
اسم فاعل مشتق دے د یعلم نه او یعلم فعل دے د افعالِ قلوبو نه او متعدی دے دوه
مفعولینو ته. او دریم قسم هغه اسم فاعل دے چه مشتق وی د هغه فعل نه چه هغه
متعدی وی درے یو مفعولونو ته لکه منبئ، نو دا منبئ صیغه د اسم دے او مشتق دے د
انباء نه او دا متعدی دے درے یو مفعولونو ته. نو اسم فاعل په تعدیت کښې پشان د خپل
فعل دے، چه د کوم فعل نه دا اسم فاعل را مشتق شوے وی. نو چه فعل متعدی وی
یو مفعول ته نو اسم فاعل به هم متعدی وی یو مفعول ته مثال لکه یضرب زید عمرًا.
نو یضرب یو مفعول ته متعدی دے چه عمرًا دے نو دَدے اسم فاعل چه ضارب دے هغه
به هم یو مفعول ته متعدی وی مثال لکه زید ضارب ابوه عمرًا. نو ضارب یو مفعول ته
متعدی شوید ه چه عمرًا دے. او چه فعل متعدی وی دوه مفعولینو ته نو اسم فاعل
دَدے فعل به هم متعدی وی دوه مفعولینو ته مثال لکه یعلم زید عمرًا فاضلاً نو
دا یعلم فعل متعدی دے دوه مفعولینو ته چه یو عمرًا او بل فاضلاً دے. نو دَدے اسم
فاعل عالِم دے هغه هم ورته متعدی کیږی دوه مفعولینو ته مثال لکه زید عالم ابوه
عمرًا فاضلاً. نو عالم اسم فاعل دے او دوه مفعولینو ته متعدی شوید ه اول مفعول عمرًا
دے او دویم فاضلاً. او چه فعل درے یو مفعولونو ته متعدی وی نو دَدے اسم فاعل به
هم درے یو مفعولونو ته متعدی وی مثال لکه ینبئ زید عمرًا بکرًا فاضلاً. نو ینبئ فعل
متعدی دے درے یو مفعولونو ته چه یو عمرًا. او بل بکرًا. او بل فاضلاً دے. نو دَدے اسم
فاعل چه منبئ دے هغه به هم متعدی وی درے یو مفعولونو ته مثال لکه زید منبئ
ابوه عمرًا بکرًا فاضلاً. نو دا منبئ اسم فاعل متعدی دے درے یو مفعولونو ته چه عمرًا
بکرًا. فاضلاً دی. او دا اسم فاعل پشان د فعل خپل دے په عمل کولو کښې. نو که څنګه
کَدے اسم فاعل فعل عمل کولو په فاعل او په یو مفعول کښې مثال لکه ضرب زید عمرًا
نو ضرب عمل کړید ه په فاعل کښې چه زید دے او ورته رفع یے ورکړید ه. او عمل یے کړے په عمرًا

کښې او نصب یې ورته ورکړیده نو ددې فعل اسم فاعل چه ضارب دې هغه به هم عمل کوي په فاعل کښې او په یو مفعول کښې مثال لکه زید ضارب ابوه عمرًا. نو ضارب اسم فاعل دې او عمل یې کړیده په فاعل کښې چه ابوه دې د رفع او رفع د ابوه په واو سره دې او په عمرًا کښې د نصب. او کله چه ته فعل عمل کولو په فاعل کښې فقط، په مفعول کښې یې عمل نکولو. نو اسم فاعل ددې فعل به هم عمل کوي په فاعل کښې فقط، په مفعول کښې به عمل نکوي مثال لکه یقوم زید. نو یقوم فعل لازمي دې عمل کوي په فاعل کښې فقط، چه زید دې نو د یقوم اسم فاعل چه قائم دې دا به هم عمل کوي په فاعل کښې فقط مثال لکه زید قائم ابوه. او شارح ددې دواړو اقسامو د اسم فاعل مثالونه ذکر کړیدي. چه د اول مثال زید ضارب ابوه عمرًا دې. او د دویم مثال زید قائم ابوه دې. او چه فعل عمل کوي په فاعل او دوه مفعولینو کښې مثال لکه علمت زیدًا فاضلاً. نو د اسم فاعل به هم عمل کوي په فاعل او دوه مفعولینو کښې مثال لکه زید عالم ابوه عمرًا فاضلاً. نو عالم چه اسم فاعل دې عمل کړے په فاعل کښې چه ابوه دې او په دوه مفعولینو کښې چه عمرًا او فاضلاً دې. او کله فعل عمل کولو په فاعل او درې مفعولونو کښې لکه اعلمت زیدًا عمرًا فاضلاً. نو اسم فاعل به هم عمل کوي په فاعل کښې او په درې مفعولونو کښې مثال لکه زید معلم ابوه عمرًا بکرًا فاضلاً. نو معلم عمل کړیده په فاعل کښې چه ابوه دې او په درې مفعولونو کښې چه عمرًا. بکرًا. او فاضلاً دې. نو عمل د اسم فاعل رفع او نصب دې. چه رفع فاعل ته ورکوي او نصب مفعول ته ورکوي. نو کله نصب یو مفعول ته ورکوي او کله دوه او کله درې ته، نو اسم فاعل چه مشتق وي د فعل لازمي نه نو عمل د دۀ رفع دې. فقط چه فاعل ته یې ورکوي، او کله مشتق وي د فعل متعدي نه، نو بیا یې عمل رفع د فاعل ته او نصب دې مفعول ته.

فاعلم: ان اسم الفاعل لا یعمل عمل الرفع والنصب الا اذا کان بمعنی الحال او الاستقبال وایضا معتمد اباحد الاشیاء الستة المذکورة الخ: غرض د شارح په دې عبارت نخبل کښې بیان د شرائطو د اسم فاعل دې. نو اسم فاعل په دوه قسم دې. اول هغه چه په هغې الف لام موصوله داخل وي مثال لکه الضارب، نو په دې اسم فاعل باندې چه کوم الف لام داخل شویدي، دا الف لام موصوله دي په معنی د الذي سره دي. نو معنی د الضارب الذي ضرب دې. نو دې اسم فاعل همیشه لپاره اعتماد کړے وي په دې الف لام موصوله باندې او عمل کوي برابره خبره ده که په معنی د حال سره وي او که د استقبال سره

وي او که د ماضي سره وي مثال لکه الضارب عمرًا الآن او الامس او غدًا هو زيدٌ. نو لته
دے ضارب عمل کړيدے په عمرًا کښې د نصب برابره خبره ده که دا ضارب په معنی د حال سره
شي و یا سره الآن قید ولګولے شي یا په معنی د استقبال سره شي و یا سره قید د غدًا ولګولے
شي یا په معنی د ماضي سره شي او دو یا سره قید د امس ولګولے شي. او په دے مثال کښې اسم
فاعل اعتماد کړيدے په الف لام موصول باندې. نو د دے اسم فاعل سره د اعتماد چه الف لام
موصوله باندې اعتماد لازم دے نو د اسم فاعل عمل کوي بغیر د څه شرط نه ځکه چه د اسم
فاعل په حقیقت کښې فعل دے، خو لکن په فعل باندې الف لام داخلول منع دي نو ځکه له دے
فعل نه عدول شویدے اسم ته ځکه چه الف لام په اسم باندې داخلیږي او په فعل باندې
دخول د الف لام باطل دے نو هر کله چه د اسم فاعل په حقیقت کښې فعل دے او صورةً
اسم دے او فعل خو عمل کوي بغیر د څه شرط نه ځکه چه فعل وضع دے د پاره د عمل. نو د
اسم فاعل هم بغیر د څه شرط نه عمل کوي. د لته معترض اعتراض کوي هغه دا چه تاسو
وایئ چه هغه اسم فاعل چه ورباندې الف لام داخل شوي وي په حقیقت کښې فعل دی
خو لکن الف لام داخلیدل په فعل باندې باطل دے. نو له دے صورت د فعل نه عدول
شوے وي صورت د اسم ته، د پاره د دے چه الف لام ورباندې داخل شي ځکه چه په فعل
باندې الف لام نشي داخلیدلے، نو معترض وائي چه الف لام چه اسم فاعل باندې داخل
وي دا الف لام اسمي دی او الف لام اسمي په فعل باندې داخلیدے شي ځکه چه په فعل
باندې هغه الف لام داخلیدل منع دي چه د پاره د تعریف وي، ځکه چه دخول د الف لام
تعریف خاصه د اسم ده. او الف لام موصوله د پاره د تعریف نه دي، نو په دخول د الف
لام اسمي کښې هیڅ حاجت نشته عدول ته د صورت د فعل نه صورت د اسم ته! جواب
دا دے چه د الف لام چه په اسم فاعل باندې داخلیږي اګرچه اسمي دي او د پاره د تعریف
نه دي، خو لکن د الف لام مشابه دي د الف لام د تعریف سره په صورت کښې، نو له
دے وجه نه د دے الف لام دخول په فعل باندې منع دے. نو دا چه کله په فعل باندې داخلوله
شي نو عدول به کولے شي د صورت د فعل نه صورت د اسم ته! او دوئیم قسم هغه اسم
فاعل دے، چه په هغه باندې الف لام نه وي داخل شوی مثال لکه ضارب نو دا ضارب
داسے اسم فاعل دے چه ورباندې الف لام نه دے داخل. نو د اسم فاعل چه عمل کوي، نو
د دے عمل د پاره دوه شرطونه دي. اول شرط دا دے چه د اسم فاعل به په معنی د حال
سره وي. او یا به په معنی د استقبال سره وي. او دویم شرط دا دے چه دے اسم

فاعل به اعتماد کړے وي په یو د اشیاءِ سته بانې، چه عبارت دي له: مبتداء. موصوف. موصول. ذو الحال. حرف نفي. او له هغه لفظ نه چه دلالت کوي په استفهام بانې. نو چه کله په اسم فاعل کښې دا دوه شرطونه راشي، نو بیا دا عمل کولے شي. او چه کله دواړه شرطونه او یا یو شرط منتفي شي په دے اسم فاعل کښې، نو بیا دا عمل هم نشي کولے. او وجه لپاره د اول شرط دا ده، چه اسم فاعل چه عمل کوي نو له وجه د مشابهت د فعل نه عمل کوي. چه هغه فعل مضارع ده. او اسم فاعل د مضارع سره مشابه دے په اعتبار د لفظ سره په حرکاتو او سکناتو کښې چه په اسم فاعل کښې هم درے حرکتونه او یو سکون ده. لکه چه په یضرب مضارع کښې درے حرکتونه او یو سکون ده. نو چه اسم فاعل په معنیٰ د حال یا استقبال سره شي، نو د مضارع سره به یے په اعتبار د معنیٰ سره هم مشابهت شي ځکه چه مضارع هم کله لپاره د حال او کله د استقبال وي، نو هر کله چه اسم فاعل د مضارع سره مشابه شي هم په اعتبار د لفظ سره. او هم په اعتبار د معنیٰ سره، نو مشابهت به کامل شي د مضارع سره او چه مشابهت کامل شي نو له وجه د دے مشابهت نه به دا اسم فاعل بیا عمل د رفع او د نصب کوي. لکه څنګه یے چه مضارع کوي. او وجه لپاره د دوېم شرط دا ده چه په دے اسم فاعل کښې مونږ ځکه اعتماد شرط کړے دے په یو د اشیاءِ سته بانې. ځکه چه فعل اصل ده په عمل کښې ځکه وضع ده لپاره د عمل. او اسم فاعل فرع ده په عمل کولو کښې ځکه چه دا اسم فاعل چه عمل کوي نو له وجه د مشابهت د فعل نه کوي او دے فعل اعتماد کړے وي په خپل فاعل بانې. نو که چرته اسم فاعل اعتماد ونکړي، او بغیر د اعتماد نه عمل وکړي، نو لازم به شي زیادت د فرع په اصل بانې. په دے شان چه دے اصل چه فعل ده اعتماد کړیده. او دے فرع چه اسم فاعل ده اعتماد به نه وي کړے او بغیر له اعتماد نه به یے عمل کړے وي. او زیادت د فرع په اصل بانې باطل ده. نو چه اسم فاعل بغیر د اعتماد نه عمل وکړي نو دا هم باطل ده. او حق دا ده چه دا اسم فاعل به په هغه وقت کښې عمل کوي، چه اعتماد یے کړے وي. او مراد له اعتماد نه په مبتداء بانې دا ده، چه دا اسم فاعل به خبر واقع شوے وي لپاره د مبتداء مثال لکه زید ضارب ابوه عمرا. نو دا ضارب اسم فاعل ده عمل یے کړے په فاعل کښې چه ابوه ده د رفع ځکه دا ابوه مرفوع ده او حالت رفعي په واو سره ده. او عمل د نصب یے کړے په عمرًا کښې، چه دا ورته مفعول به ده. او دے ضارب اعتماد کړیده په مبتداء بانې چه زید ده ځکه، چه دا ضارب خبر دے لپاره د زید. او مراد له اعتماد نه په موصوف بانې دا ده، چه ما قبل د

دِے اسم فاعل نه به موصوف واقع وی او دا اسم فاعل به صفت وی لپاره دَدِے موصوف
مثال لکه جاء فی رجل ضارب ابوه عمرًا۔ نو دا ضارب اسم فاعل ده او عمل یے کړے په فاعل
کښِ چه ابوه ده د رفع۔ او په مفعول کښِ چه عمرًا ده د نصب۔ او اعتماد یے کړیده په موصوف
بانِ۔ ځکه چه دا رجل موصوف ده او دا واقع ده مخکښِ له ضارب نه۔ او دا ضارب ورته
صفت ده۔ او مراد له اعتماد نه په ذوالحال بانِ دا ده، چه مخکښِ له دِے اسم فاعل نه
به ذوالحال واقع وی، او دا اسم فاعل به ورته حال وی۔ مثال لکه جاء زید راکبا فرسه،
نو دا راکبا اسم فاعل ده۔ او عمل د رفع محلی کړیده په فاعل کښِ چه ضمیرِ مستتره ده په
اسم فاعل کښِ۔ او عمل د نصب یے کړیده په مفعول کښِ چه فرسه ده۔ او اعتماد یے کړے
ده په ذوالحال بانِ۔ ځکه چه ماقبل له دِے راکبا نه ذوالحال واقع ده چه زید ده۔ او دا
راکبا ورته حال ده۔ او مراد له اعتماد نه په موصول بانِ دا ده، چه دُدِے اسم فاعل نه به
ماقبل موصول واقع وی او دا به ورته صله وی مثال لکه جاء الضارب ابوه عمرًا۔ نو
ضارب اسم فاعل ده او عمل یے کړے په فاعل کښِ د رفع چه ابوه ده۔ او په مفعول کښِ دَ
نصب چه عمرًا ده۔ او دا ضارب واقع شویده ورسته له موصول نه، ځکه چه دا الف لام
چه په موصول بانِ داخل دی، الف لام موصوله دی، او ضارب ورته صله واقع شویده
او مراد له اعتماد نه په حرف نفی بانِ دا ده چه، دا اسم فاعل نه به ماقبل نفی واقع شوے
وی، او دا نفی به متوجه وی دِے اسم فاعل ته مثال لکه "ما قائم ابوه" نو قائم اسم فاعل
ده او عمل یے کړیده په فاعل کښِ چه ابوه ده د رفع او اعتماد یے کړے په حرف نفی بانِ
چه ما ده، او دا نفی دِے قائم ته متوجه ده۔ او مراد له اعتماد نه په استفهام بانِ دا ده چه
ماقبل دا اسم فاعل نه به کلمه د استفهام واقع شوے وی او دا استفهام به دِے اسم فاعل ته
متوجه وی۔ مثال لکه "أقائم ابوه" نو قائم صیغه د اسم فاعل ده۔ او عمل یے کړے په ابوه
کښِ د رفع او اعتماد یے کړیده په استفهام بانِ چه ماقبل ورته کلمه د استفهام واقع ده
او دا استفهام متوجه ده دِے قائم ته۔ نو په دِے عبارت دَ شارح کښِ شپږ مثالونه ذکر
دی۔ اول مثال د هغه اسم فاعل ده، چه اعتماد یے کړے وی په مبتدا بانِ۔ او دویم
د هغه اسم فاعل چه اعتماد یے کړے وی په موصوف بانِ۔ او دریم د هغه اسم فاعل چه
اعتماد یے کړے وی په ذوالحال بانِ۔ او څلورم د هغه اسم فاعل چه اعتماد یے کړے وی
په موصول بانِ۔ او پنځم د هغه اسم فاعل، چه اعتماد یے کړے وی په حرفِ نفی بانِ۔ او شپږم
د هغه اسم فاعل، چه اعتماد یے کړے وی په استفهام بانِ۔

ترکیب: د دے اول مثال داسے ده، چه زید مبتدا ده. او ضارب اسم فاعل او اب مضاف او "ه" ضمیر ورته مضاف الیه او مضاف سره د مضاف الیه نخپل نه فاعل شوه لپاره د اسم فاعل. او عمرًا ورته مفعول به ده. او اسم فاعل سره د فاعل او د مفعول به نخپل نه شبه جمله خبر ده لپاره د مبتدا. مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه مثال شوه لپاره د ممثل. او د دوېم مثال ترکیب داسے ده. چه جاء فعل او رجل موصوف او ضارب اسم فاعل او لفظ د اب مضاف او "ه" ضمیر ورته مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نخپل نه فاعل شوه لپاره د اسم فاعل. او عمرًا ورته مفعول به شوه. اسم فاعل سره د فاعل او سره د مفعول به نخپل نه شبه جمله صفت شوه لپاره د موصوف، موصوف سره د صفت نخپل نه فاعل ده لپاره د جاء. فعل سره د فاعل نخپل نه جمله فعلیه خبریه مثال شوه لپاره د ممثل. او د دریم مثال ترکیب داسے ده: چه جاء فعل او زید ذو الحال او راکبا صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښی مستتر ده چه "هو" ده هغه ورته فاعل ده. او لفظ د فرس مضاف او "ه" ضمیر ورته مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نخپل نه مفعول به شوه لپاره د راکبًا. او راکبا اسم فاعل سره د فاعل او د مفعول به نخپل نه شبه جمله حال شوه لپاره د ذو الحال. ذو الحال سره د حال نخپل نه فاعل شوه لپاره د جاء فعل. او فعل سره د فاعل نخپل نه جمله فعلیه خبریه مثال شوه لپاره د ممثل. او ترکیب د څلورم مثال داسے ده. چه جاء فعل او الف لام په الضارب کښی په معنی د الذی سره اسم موصول او ضارب صیغه د اسم فاعل او لفظ د اب مضاف او "ه" ضمیر ورته مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نخپل نه فاعل ده لپاره د اسم فاعل چه ضارب ده. او عمرًا ورته مفعول ده. اسم فاعل سره د فاعل او سره د مفعول به نخپل نه شبه جمله صله شوه لپاره د موصول. موصول سره د صله نخپل نه فاعل شوه لپاره د جاء فعل. فعل سره د فاعل نخپل نه جمله فعلیه مثال شوه لپاره د ممثل. او ترکیب د پنځم مثال داسے ده چه ما حرف نفی ده او قائم صیغه د اسم فاعل ده. قسم ثانی د مبتدا ده. او لفظ د اب مضاف ده او "ه" ضمیر ورته مضاف الیه ده. مضاف سره د مضاف الیه نه خبر شوه. مبتدا سره د خبر نخپل نه جمله اسمیه خبریه مثال شوه لپاره د ممثل. او ترکیب د شپږم مثال داسے ده. چه همزه لپاره د استفهام ده. او قائم صیغه د اسم فاعل ده، قسم ثانی د مبتدا شوه. او لفظ د اب مضاف او "ه" ضمیر ورته مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نخپل نه خبر شوه. مبتدا سره د خبر نخپل نه جمله اسمیه انشائیه مثال شوه

لپاره د ممثل

قوله: مصدر است: هو فی اللغة جائی صدور ای الخروج والرجوع ومنه طواف الصدر ای الرجوع الی الاهل والوطن و فی الاصطلاح اسم حدث اشتق منه الافعال

دشارح په دې عبارت خپل کښې بیان دَمعنی لغوی او اصطلاحی دَمصدر دَه. نو شارح غرض وائی چه مصدر په لغت کښې جائې او مکان دَ صدور ته وائی یعنی مکان دَ خروج او رجوع ته وائی ځکه چه صدور په معنیٰ دخروج او رجوع سره ده. نو دا مصدر صیغه دظرف ده په وزن دَمفعل سره ده. میم پکښې زائد ده. او صاد او دال او راء پکښې حروف اصلیه دی. او مصدر ته ځکه مصدر وائی. چه لَه دۀ نه هم افعال مشتق کیږی. نو مصدر جائی دخروج دافعالو ده، ځکه چه افعال لَه دۀ نه خارجیږی. او هم ارنګ ځائی د رجوع افعالو ده، ځکه چه افعال په اشتقاق کښې مصدر ته رجوع کوی. او لَه همدغه قبیلے نه طواف صدر ده، په دې شان چه صدور وائی رجوع ته، نو طواف صدر ته هم ځکه طواف صدر وائی چه دا هم طواف درجوع وی خپل اهل او وطن ته، یعنی چه کله ارکان دَحج ادا کړے شی، او بیا انسان اراده درجوع وکړی وطن ته، نو بیا به دا طواف صدر وکړی، دَهغه نه پس به بیا وطن ته روان شی. او مصدر په اصطلاح کښې عبارت ده لَه دې نه چه اسم حدث اشتق منه الافعال. یعنی مصدر اسم ده پیاره دَ هغه حدث چه لَه هغه نه به افعال رامشتق کیږی. او معنی دَحدث دا ده چه حدث هغه معنی ته وائی، چه قائمه وی ترغیر پورې، مثال لکه ضَرْب. نو ضرب یو حدث ده او لَه دینه افعال رامشتق کیږی، بعضِ افعال ورنه بالذات مشتق کیږی لکه ماضی. او بعضِ افعال ورنه بالواسطه مشتق کیږی لکه مضارع. ځکه چه مضارع مشتق ده دَماضی نه او ماضی مشتق ده دَمصدر نه. نو په واسطه دَماضی سره مضارع هم مشتق دَه دَ مصدر نه او بیا په دې حدث کښې چه افعال ورنه مشتق کیږی عموم ده، په دې شان چه برابره خبره ده که دا حدث صادر وی دهغه کس نه، چه ترې پورې قائم ده لکه ضرب، چه دا ضرب ترې پورې قائم وی نو دهغه کس نه را صادر شوے هم وی. او که نۀ وی، صادر دَهغه کس نه چه ترې پورې قائم ده. لکه طول او قصر. نو دا طول او قصر چه ترې پورې قائم وی، دَهغهٔ نه صادر نۀ وی. او په تعریف دَمصدر کښې شارح لفظ داسم زیات کړو، دا سے یې وویل چه اسمُ حدثٍ اشتق منه الافعال. دا ځکه چه که دا لفظ داسم نۀ وے زیات کړے. نو بیا به دا تعریف دمصدر مات شوے وه جمعًا هم او منعًا هم، په دې شان چه دا سے یې ویلی وے چه المصدر حدث اشتق منه الافعال. نو بیا

به له دې تعريف نه دا مصدر ــــ خارج شوي وه، نو دا تعريف به جامع نه وه ځکه چې ډیر خیلو

افرادو ته او دا مدلول د مصدر به داخل شوي وه په تعريف د مصدر کښې، نو دا تعریف

به په دې وخت کښې مانع نه وه چه پرشوي له دخول د غيرنه، نو دا مصدر به ځکه له دې تعریف

نه خارج شوي وه، چه مصدر خو بخپله حدث نه ده بلکه اسم ده لپاره د حدث او مدلول

د مصدر چه حدث ده دا به ځکه داخل شوي وه په تعريف د مصدر کښې ځکه چه مدلول د

مصدر مثال لکه ضرب هم حدث ده او افعال ورنه مشتق کيږي. او هرکله چې چه اسم

لفظ په دې تعريف کښې زيات کړو او داسې يې ووئيل چه اسم حدث اشتق منه الافعال

نو دا تعريف وي جامع شو مصدر ته ځکه چه مصدر هم اسم ده لپاره د هغه حدث چه افعال

ورنه مشتق کيږي، نو دا تعريف جامع شو خپلو افرادو ته، او تعريف اوس ځکه مانع شوله

دخول د غيرنه، چه هرکله دا ووئيل شوه چه مصدر اسم ده لپاره د هغه حدث چه افعال

ورنه مشتق کيږي، نو مدلول د مصدر چه حدث ده لکه ضرب ځکه خارج شو، چه دا اسم

نه ده لپاره د هغه حدث چه افعال ورنه مشتق کيږي، بلکه دا بعينه هغه حدث ده،

چه له دې نه افعال مشتق کيږي.

قوله وانما قلنا اشتق منه الافعال ليخرج منه اسم المصدر الذي يدل على الحدث، و

لم يشتق منه الافعال نحو دکا و دها الخ: غرض د شارح په دې عبارت خپل کښې بيان د

فائده د دې قيد ده چه اشتق منه الافعال، چه دا قيد شارح ذکر کړيده په تعريف د

مصدر کښې، نو شارح وائي چه د دې اشتق قيد فائده دا ده چه په دې قيد سره د تعريف

د مصدر نه اسم مصدر خارج شو، ځکه چه اسم مصدر اسم وي لپاره د حدث خو لکن

د هغې نه افعال نه وي مشتق مثال لکه دکا و دها. نو دا دواړه له قبيله د اسم مصدر

نه دي، ځکه چه له دې دواړو نه افعال نه دي مشتق اګرچه دا دواړه حدث دي. او مصنف

خو دېته وائي چه اسم به وي لپاره د هغې حدث چه د هغې نه به افعال رامشتق شوي

نو فرق په مابين د مصدر او اسم مصدر کښې دا ده، چه مصدر اسم وي لپاره د هغه

حدث چه له هغې نه به افعال رامشتق وي، مثال لکه ضرب، نو مصدر د دې ضرب د پاره

اسم ده، ځکه چه دا ضرب حدث ده، او له دېنه افعال رامشتق کيږي. او اسم مصدر

اسم وي لپاره د هغې حدث، چه له هغې نه به افعال نه وي مشتق شوي مثال لکه:

دکا و دها. نو دا دواړه حدث دي خو لکن د دوئ نه افعال نه مشتق کيږي، نو دوئ

ته مصدر نشي وئيلے بلکه دې دواړو ته اسم مصدر وئيلې شي. نو اسم مصدر د دا

حدث نوم دے چه له هغه نه به افعال نه مشتق کیږي، نو هغه حدث ته چه افعال ورنه مشتق کیږي مصدر وایي او هغه حدث ته چه افعال ورنه نه مشتق کیږي اسم مصدر وایي. او دَدې مصدر او اسم مصدر فرق داسې دے لکه هغه فرق چه په مابین د جمع او د اسم جمع کښې موجود دے په دې شان چه جمع هغه لفظ ته وایي چه دلالت به کوي په افراد متعدد باندې چه هغه افراد به زیات وي له دوه نه، او دَدې د پاره به مفرد وي. او اسم جمع هغه لفظ ته وایي چه دلالت به کوي په افراد و متعدد باندې، چه هغه افراد به زیات وي له دوه نه خو لیکن دَدې لفظ د پاره به مفرد نه وي.

وعمله الرفع والنصب ان كان متعديا والرفع فقط ان كان لازما نحو اعجبني ضرب زيد عمرا الخ: غرض د شارح په دې عبارت خپل کښې بیان دَ عمل د مصدر دے. نو پوه دے که دا خبره چه مصدر په دوه قسمه دے. اول قسم مصدر متعدي دے. او مصدر متعدي عبارت دے دَ هغه مصدر نه چه دا مصدر د فعل متعدي مصدر وي مثال لکه ضرب. نو دا مصدر متعدي دے، ځکه چه دَدې مصدر فعل چه ضرب یضرب دے متعدي دے. او دویم قسم مصدر لازمي دے او مصدر لازمي دیته وایي چه دا مصدر دَ هغه فعل مصدر وي، چه هغه فعل لازمي وي. نو مصدر به په تعدیت کښې تابع دے دَ خپل فعل په دې شان چه کله فعل متعدي وه نو دا مصدر دَدې فعل به هم متعدي وي. او که فعل لازمي وه، نو مصدر به یې هم لازمي وي مثال دَ مصدر لازمي لکه قیام. نو دا مصدر دَ قام یقوم دے او قام یقوم افعال لازمي دي. نو دا مصدر هم لازمي دے. نو هر کله چه دا مصدر په لزوم او تعدیت کښې تابع دے دَ فعل خپل. نو کله دا فعل متعدي وه یو مفعول ته لکه ضرب، نو مصدر دَدې فعل به هم متعدي وي یو مفعول ته چه هغه ضرب دے دَ فعل مثال لکه ضرب زید عمرًا. او د مصدر مثال لکه اعجبني ضرب زیدٌ عمرًا. او که چرته دا فعل متعدي وه دوه مفعولینو ته لکه اعلمت زیدًا فاضلًا. نو دَدې مصدر به هم متعدي وي دوه مفعولینو ته مثال لکه اعجبني علمُ زیدٌ عمرًا فاضلًا نو دا علم مصدر دے او متعدي دے دوه مفعولینو ته. چه عمرو. او فاضلا دے. او که چرته دا فعل متعدي وه دریو مفعولونو ته لکه اعلمت زیدًا عمرًا فاضلًا. نو مصدر به یې هم متعدي وي دریو مفعولونو ته لکه اعجبني اعلام زید عمرًا بکرًا فاضلًا. نو دا اعلام مصدر دے او متعدي شوې دے دریو مفعولونو ته چه عمرو. بکرا او فاضلا دي. او دا مصدر په عمل کولو کښې هم تابع دے دَ فعل خپل، په دې شان چه فعل متعدي

عمل دَ رفع او دَ نصب دواړه کوی چه فاعل ته رفع ورکوی او مفعول ته نصب ورکوی نو دا مصدر د فعل متعدی هم عمل دَ رفع او نصب دواړه کوی، په دې شان چه فاعل ته رفع ورکوی او مفعول ته نصب ورکوی۔ او بیا که دې فعل یو مفعول ته نصب ورکولو نو مصدر به هم یو مفعول ته نصب ورکوی، او دَ دې مثال شارح ذکر کړیدَه لکه اعجبنی ضربُ زیدٌ عمرًا۔ نو دا ضرب مصدر دَه، زید ورته فاعل دَه نو دې فاعل ته رفع ورکړیدَه او دا عمرًا ورته مفعول به دَه، او دې مفعول به ته یې نصب ورکړیدَه۔ او که چرته فعل نصب ورکړے وه دوؤه مفعولینو ته لکه علمت نو مصدر به یې هم دوؤه مفعولینو ته نصب ورکوی لکه "علم"۔ او که چرته فعل دَرېو مفعولونو ته نصب ورکړے وه۔ نو مصدر به یې هم درېو مفعولونو ته نصب ورکړی وی۔ لکه "اعلمت" نو دا فعل درېو مفعولونو ته نصب ورکوی، نو دَ دې مصدر چه اعلام دَه هغه هم درېو مفعولونو ته نصب ورکوی۔ او که چرته دې فعل عمل دَ رفع کولو په فاعل کښې فقط، او نصب یې نه ورکولو مفعول به ته لکه یقومُ چه دا فاعل ته رفع ورکوی فقط، ځکه چه فعل لازمی دَه، نو دَ دې مصدر به هم رفع ورکوی فاعل ته فقط او مفعول به ته به نصب نهٔ ورکوی۔ او دَ دې مثال شارح ذکر کړیدَه چه هغه اعجبنی قیامُ زیدٌ۔ نو دا قیام مصدر دَه او دا زید ورته فاعل دَه، او دې قیام، زید ته رفع ورکړیدَه۔ نو په عبارت د شارح کښې دوؤه مثالونه ذکر دی۔ اول مثال اعجبنی ضربُ زیدٌ عمرًا دَه۔ او دویم مثال اعجبنی قیامُ زیدٍ دَه۔ نو ترکیب دَ دې اول مثال دا سې دَه چه اعجب فعل دَه او نون وقایه دَه، او دا یاء ضمیر بارز د واحد متکلم دَه دا مفعول به دَه لپاره دا اعجبنی۔ او لفظ د ضرب مصدر دَه او زید ورته فاعل او عمرًا ورته مفعول به دَه۔ او دا مصدر سره دَ فاعل او سره دَ مفعول به خپل نه جمله فعلیه خبریه مثال شوه لپاره دَ ممثل۔

او دویم مثال ترکیب دا سې دَه، چه اعجبنی فعل دَه او نون وقایه دَه او دا یاء ضمیر بارز دَ واحد متکلم دَه دا ورته مفعول به دَه۔ او دا قیام مصدر دَه او زید یې فاعل دَه او مصدر سره دَ فاعل خپل نه شبه جمله فاعل شوه لپاره دَ اعجبنی فعل او دا فعل سره د فاعل خپل نه جمله فعلیه مثال شوه لپاره دَ ممثل۔

فائده۔ زده کړه دا خبره چه عمل دَ مصدر مشروط نهٔ دَه په شرط باندې بلکه مصدر بغیر د ځه شرط نه عمل دَ رفع او دَ نصب کوی په خپل معمول کښې، ځکه چه دَ مصدر مشابهت معنوی دَه دَ فعل سره، په دې خبره کښې چه دا معنٰی دَ مصدر رچه حدث

ده جزء ده لپاره دَ معنٰی د فعل، ځکه چه معنی د فعل مرکبه ده له امورو ثلاثه نه، چه
اول امر مصدر ده، او دویم امر نسبت ده زمانه ته، او دریم امر نسبت ده فاعل ته. نو هغه
کله چه معنی دَ مصدر جزء شوه لپاره دَ معنٰی د فعل. نو دَ دے مصدر مشابهت کامله
راغلو دَ فعل سره. نو ځکه دا مصدر عمل کوی بغیر د اشتراط دَ څهٔ شرط نه. ځکه شرط
نو لپاره دَ دے معتبر وَلے شی، چه مشابهت د فعل سره راشی. او دَ دے مصدر مشابهت
د فعل سره راغلی ده بغیر د څهٔ شرط نه، نو هیڅ حاجت نشته اعتبار د څهٔ شرط ته
نو لکن دَ دے مصدر دَ پاره درے احوال دی، یو حالت دا ده، چه دا مصدر مفعول
مطلق واقع شوے وی مثال لکه ضربت زیدا ضربًا. نو دا ضربًا مصدر ده خو لکن مفعول
مطلق واقع شوی ده لپاره د ما قبل فعل چه ضربت ده. او دویم حالت دا ده چه
دے مصدر فعل حذف شوے وی، او دا مصدر به مفعول مطلق او نائب وی په ځائ
د فعل خپل بانی. مثال لکه ـــ شکرا له او حمدا له او سقیا له. نو په دے اول مثال
کښ دا شکرًا مصدر ده او مفعول مطلق واقع شوی ده، او قائم ده په ځائ دَ فعل
خپل بانی. او فعل د دهٔ حذف ده چه هغه شکرت ده. او په دویم مثال کښ د احمدًا
مصدر ده. او مفعول مطلق واقع شوی ده او فعل یے حذف شوی ده چه حمدت ده او
دا مفعول مطلق په ځائ د فعل خپل بانی قائم ده. او په دریم مثال کښ دا سقیا
مصدر ده او مفعول مطلق واقع شوی ده او فعل یے حذف ده. او دا مفعول مطلق
په ځائ د فعل خپل بانی قائم ده او هغه فعل محذوفه سقیت ده. او دریم حالت
د مصدر دا ده چه دا نهٔ مفعول مطلق واقع وی د خپل فعل دپاره چه ورسره ذکر
وی، او نهٔ داسے وی چه قائم وی په ځائ د فعلِ محذوفه خپل بانی. بلکه دا مصدر
به ذکر وی په کلام کښ. او دا فعل به ورسره نهٔ وی ذکر او نهٔ به دا مصدر په ځائ
د خپل فعل بانی قائم وی، مثال لکه اعجبنی ضربُ زیدٍ عمرًا. نو دا ضرب مصدر د
ده او نهٔ مفعول مطلق ده او نهٔ قائم ده په ځائ د فعل خپل بانی. نو په اول
حالت کښ دا مصدر دَ عمل نشی کولے، بلکه عمل به لپاره دَ هغه فعل وی، چه دا مصدر
دکوم فعل دپاره مفعول مطلق واقع شوی ده. ځکه چه فعل اصل ده په عمل
کښ، ځکه چه وضع ده لپاره دَ عمل. او دا مصدر فرع ده په عمل کښ. ځکه چه دا
مصدر چه عمل کوی. نو دا له وجه دَ مشابهت د فعل نه عمل کوی. او په وقت د وجود
د اصل کښ هیڅ حاجت نشته فرع ته. او په دویم حالت کښ دوه وجه جائز دی

دا هم جائز دی چه عمل هغه فعل محذوفه وکړی له وجه د اصالت نه، او دا هم جائز دی چه عمل مصدر وکړی له وجه د نیابت نه، او په دریم حالت کښی مصدر عمل کوی ځکه چه فعل نه وي بلکه په لفظ کښی ذکر ده او نه حذف ده، چه دا دهغه په ځائ نائب قائم وی. نو هیڅ لاره نشته جواز د عمل د فعل ته چه موندی فعل ته عمل ورکړو، نو ضرور به دا مصدر عمل کوی.

واعلم ان عمل المصدر فیما بعده علی نوعین منون نحو اعجبنی ضربٌ زیدٌ عمرًا وغیر منون بالاضافة الخ: غرض د شارح په دې عبارت کښی تقسیم د مصدر دے چه عمل د مصدر په خپل کوي کښی په دوه قسمه ده اول قسم هغه عمل د مصدر ده چه مصدر منون وی یعنی تنوین ورباندی وی او مضاف نه وی مابعد ته نو په دے وقت کښی دا مصدر مابعد خپل عمل د رفع او د نصب کوی. که مصدر متعدی وه، فاعل ته رفع او مفعول ته نصب ورکوی. او د دے دپاره شارح مثال ذکر کړے دے چه هغه دا قول ده چه اعجبنی ضربٌ زیدٌ عمرًا. نو ضرب مصدر ده او منون ده یعنی تنوین ورباندی ده او عمل یې کړیدے په مابعد کښی چه زید ده نو دا ورته فاعل ده، د څه ته یې رفع ورکړے ده. او عمل د نصب یې کړیدے په عمرًا کښی او دا ورته مفعول به ده. او که چرته دا مصدر منون، لازمی وه، نو بیا به مابعد کښی عمل د رافع کوی. یعنی مابعد اسم ته به رافع ورکوی او هغه به ورته فاعل وی، او د دے دپاره مثال دا ده چه اعجبنی قیامٌ زیدٌ. نو دا قیام مصدر ده او منون ده مضاف نه ده مابعد ته خو لکن مصدر لازمی ده نو عمل یې کړے په مابعد خپل کښی چه زید ده د رفع چه رافع ورته ورکړے نو دا زید ورته فاعل ده. او دوئم قسم هغه عمل د مصدر ده چه دا غیر منون وی، یعنی تنوین ورنه ساقط شوے وی له وجه د اضافت نه چه دا مصدر به مضاف وی مابعد ته، نو که چرته دا مصدر متعدی وی نو که مضاف شوے وه فاعل ته نو بیا دا مصدر مضاف عمل کوی په فاعل کښی د جر او مفعول به ته نصب ورکوی مثال لکه اعجبنی ضربُ زیدٍ عمرًا. نو دا ضرب غیر منون ده. او مضاف ده فاعل خپل ته چه زید ده، نو دے زید ته یې جر ورکړے، ځکه چه زید ورته مضاف الیه ده. او عمرًا ته دے مصدر نصب ورکړیدے او دا ورته مفعول به ده. او که چرته دا مصدر مضاف شوے وه مفعول خپل ته نو بیا به فاعل خپل ته رافع ورکوی. او دے مفعول به خپل ته به جر ورکوی، مثال لکه اعجبنی ضربُ عمرٍو زیدٌ. نو زید مرفوع او فاعل ده دپاره د ضرب. او ضرب ورته رفع ورکړیده

او عمرًا مفعول ده ورته او جريے ورکړے شوے ده ځکه چه ورته مضاف ده. اوکۀ چرته دا فعل لازمي وي، نو هغه بيا عمل د جر کوي فقط په فاعل کښې مثال لکه اعجبني قيامُ زيدٍ. نو قيام مضاف ده او زيد ورته فاعل ده او مضاف اليه ده. او قيام ورته جرورکړے شوے ده. نو اوّل قسم د عمل چه هغه عمل د مصدر ده چه دا مصدر منون وي غو او مختار ده په نيز د جمهورو بانډې. ځکه چه دا مصدر چه عمل کوي نو له وجه د مشابهت د فعل نه کوي او کله چه دا مصدر منون وي. نو نکره وي، نو مشابهت يې د فعل سره قوي وي ځکه چه فعل هم نکره وي. او شائع او مشهور دا دوئيم قسم د عمل ده د مصدر ځکه چه هر کله مصدر مضاف شي نيل مابعد ته نو په اضافت سره يکښې تخفيف حاصليږي نو ځکه دا قسم د عمل مشهور او شائع ده. او په نيز د علامه رضي بانډې دا دوئيم قسم د عمل غوره ده. ځکه چه هر کله دا مصدر مضاف شي نيل فاعل ته، نو په دے وقت کښې مشابهت د مصدر قوي وي د فعل سره، ځکه چه دا فاعل دا سے شي لکه جزء ليارده د مصدر، ځکه چه په مابين د مضاف او مضاف اليه کښې شدت امتزاج وي لکه فاعل چه څنګه دا سے وي لکه جزء د فعل. نو هر کله چه بناء په دے تقدير بانډې دا مشابهت د مصدر قوي کيږي د فعل سره نو ځکه غوره دا ده په نيز د رضي بانډې. چه دا مصدر به غير منون وي او مضاف به وي مابعد نيل ته.

تنبيه:- زده کړه دا خبره چه مصدر مضاف کيدے شي فاعل نيل ته، نو هم ارنګ مضاف کيدے شي مفعول ته هم، لکه څنګښې يې مونږ مثالونه ذکر کړه، خو لکن مراد د مفعول نه دا مفعول به نۀ ده فقط، بلکه مراد له مفعول نه عام ده، برابره خبره ده، کۀ مفعول به وي او کۀ مفعول له وي او کۀ مفعول مطلق وي، او کۀ مفعول فيه وي، نو دے ټولو ته اضافت د مصدر صحيح ده.

قوله اسم المفعول: هو في اللغة کارکرده شده وفي الاصطلاح اسم مشتق من الفعل المضارع المجهول لمن وقع عليه الفعل الخ: غرض د شارح په دے عبارت نيل کښې بيان د معنی لغوي او اصطلاحي دا اسم مفعول ده. نو شارح وائي چه اسم مفعول په لغت کښې کارکرده شده ته وائي. نو لکن په دے بيان د معنی لغوي کښې د شارح نه تسامح شوے ده. ځکه چه دا کار کرده شده دا اسم مفعول معنی لغوي نۀ ده ځکه چه په اسم مفعول کښې دوه شيان دي يو مضاف چه لفظ دا اسم ده او دوئيم مضاف اليه چه لفظ د مفعول ده. او کارکرده شده معنی د مضاف اليه ده چه مفعول ده. ځکه چه مفعول کارکرده شده ته وائي. او هر چه دا

مضاف دہ چہ لفظ د اسم دہ نو دَدِے معنی لغوی نام دہ نو د مجموعہ اسم مفعول معنیٰ دہ
نام کارکردہ شدہ۔ او اسم مفعول پہ اصطلاح کښې عبارت لہ دینہ دہ چہ اسم مشتق من
الفعل المضارع المجهول لمن وقع علیه الفعل یعنی هغه اسم دہ چہ مشتق شوے وی فعل
مضارع مجهول نہ او وضع به وی دَ هغہ ذات دپارہ چہ پہ کوم ذات بانې فعل واقع شوے
وی. مثال لکہ "مضروب" نو دا اسم مفعول دہ ځکہ چہ دا یو اسم دہ چہ مشتق دہ د فعل
مضارع مجهول نہ چہ هغہ یُضرَب دہ. او دا مضروب وضع دہ لپارہ د هغہ ذات چہ هغہ
بانې فعل واقع شوے وی، ځکہ چہ مضروب هغہ ته وائی، چہ پہ هغہ بانې ضرب واقع
شوے وی. پہ تعریف د اسم مفعول کښې لفظ د اسم، جنس دہ. وہ شامل دہ هم اسماء جامدہ
تہ او هم مصدر تہ او هم اسماء مشتقہ تہ، ځکہ چہ دا ټول لہ قبیلے د اسم نہ دی. او مشتق
پہ تعریف کښې اوّل فصل دہ. او من الفعل المضارع المجهول دوّیم فصل دہ. او لمن وقع
علیه الفعل درّیم فصل دہ. نو پہ اول فصل مشتق سرہ د تعریف د اسم مفعول نہ،
اسماء جامدہ خارج شول. ځکہ چہ دوئ نہ دی مشتق لہ چانہ، او مصدر هم خارج شو
ځکہ چہ لہ مصدر نہ اگرچہ نور شیان مشتق وی، خو لکن دا مصدر پخپلہ د بل شی نہ نہ
وی مشتق. او پہ دوّیم فصل من الفعل المضارع المجهول سرہ د تعریف دَ اسم مفعول
نہ اسم فاعل او صفت مشبہ او هغہ اسم تفضیل چہ لپارہ د تفضیل د فاعل وی خارج
شول. ځکہ چہ دا امور ثلاثہ د مضارع مجهول نہ، نہ وی مشتق بلکہ دَ مضارع معلوم نہ
مشتق وی. خو لکن هغہ اسم تفضیل چہ لپارہ د تفضیل د مفعول وی هغہ پہ دوّیم
فصل سرہ نہ خارجیږی، ځکہ چہ هغہ هم مشتق وی د فعل مضارع مجهول نہ، نو دا
قسم د اسم تفضیل د تعریف د اسم مفعول نہ، نہ خارجیږی پہ درّیم فصل لمن وقع
علیه الفعل سرہ. ځکہ چہ دَدِے قول معنی دا دہ چہ اسم مفعول هغہ اسم دہ چہ هغہ
وضع لپارہ د هغہ ذات وی چہ فعل وہ بانې وہ واقع وی فقط، او اسم تفضیل خو
وضع وی لپارہ د مجموعہ چہ ذات مذکورہ دہ سرہ د زیادت نہ، نو پہ دِے درّیم فصل
سرہ چہ اسم تفضیل راغلے وی لپارہ د تفضیل دَ مفعول، خارج شو د تعریف د اسم
مفعول نہ. نو د اسم مفعول دا تعریف مذکورہ جامع هم دہ د خپلو افرادو تہ او مانع هم
دہ لہ دُخول دَ غیرونہ.

وهو یعمل عمل الرفع فقط بشرط معنی الحال والاستقبال والاشتراط کما ذکر الخ
غرض د شارح پہ دِے عبارت خپل کښې بیان د عمل د اسم مفعول دہ، نو شارح وائی چہ

دا اسم مفعول عمل د رفع کوي فقط، یعني اسم مفعول خپل مدخول ته رفع ورکوي، بنا پر دې
بانې چه دا به ورته مفعول مالم یسم فاعله جوړیږي، خو لکن کهٔ اسم مفعول د هغه فعل وو
چه هغه متعدي وي یو مفعول ته، نو بیا دا اسم مفعول یو مفعول ته رفع ورکوي فقط او
هغه به ورته نائب فاعل وي، مثال لکه زید مضروب غلامه، نو په دې مثال کښې مضروب
اسم مفعول عمل کړیدی په یو مفعول کښې چه غلام دی. او ورته یې رفع ورکړیدی نو دا
نائب فاعل دی لپاره د مضروب، ځکه چه مضروب اسم مفعول دی د ضرب یضرب او ضرب
یضرب متعدي دی یو مفعول ته. او کهٔ چرته دا اسم مفعول د هغه فعل وو چه متعدي
وي دوو مفعولینو ته، نو بیا دا اسم مفعول یو مفعول ته رفع ورکوي، هغه به ورته
نائب فاعل وي، او بل مفعول ته نصب ورکوي، هغه به ورته مفعول به وي مثال لکه
زید معطی غلامه درهماً. نو دا معطی اسم مفعول دی او دا اسم مفعول د اعطی یعطی
دی. او د اباب افعال دی متعدي دی دوو مفعولینو ته، نو دا معطی هم په دې مخکښې
مثال کښې عمل کوي په دوو مفعولینو کښې چه اول مفعول غلام دی، نو دې ته یې رفع ورکړیده
او دا نائب فاعل دی لپاره دا اسم مفعول. او دویم مفعول ته چه درهماً دی، دې ته یې نصب
ورکړیدی چه دا مفعول ثاني دی لپاره د معطی. او کهٔ چرته دا اسم مفعول د هغه فعل وو
چه هغه متعدي وي درې مفعولونو ته، نو بیا به دا اسم مفعول په درې مفعولونو کښې
عمل کوي، چه اول مفعول ته به رفع ورکوي، او هغه به نائب فاعل شي د اسم مفعول، او دویم
مفعول او درېیم مفعول د واړو ته به نصب ورکوي او دا دواړه به مفعولینو وي لپاره د اسم
مفعول مثال لکه مُعلَم په ضمه د میم کسره او په فتحه د لام سره دا اسم مفعول دی د اعلمت
فعل او دا اعلمت فعل متعدي دی درې مفعولونو ته نو دا معلم به هم په درې مفعولونو
کښې عمل کوي لکه زید معلم ابوه عمراً فاضلاً. نو معلم په درې مفعولونو کښې عمل کړیدی
چه اول مفعول ابوه دی او دې ته یې رفع ورکړیده، دا ورته نائب فاعل دی او دویم
مفعول ته یې نصب ورکړیدی چه عمراً دی او درېیم ته یې هم نصب ورکړیدی چه فاضلاً دی
نو شارح چه دا ویلي دي چه عمل د اسم مفعول دا دی چه دا به رفع ورکوي فقط نو مراد
یې دا دی چه دا اسم مفعول متعدي وي یو مفعول ته نو دا به رفع ورکوي فقط او مراد
یې دا نهٔ دی، چه دا اسم مفعول به مطلقاً رفع ورکوي فقط، او نصب به نهٔ ورکوي.
او دا اسم مفعول په اشتراط کښې لپاره د عمل په شان د اسم فاعل دی، په دې شان چه
دا اسم مفعول خالي وي د الف لام نه، نو بیا د دې اسم مفعول د عمل د پاره دوه شرطه

دی اول شرط دا دہ چہ اسم مفعول بہ پہ معنیٰ د حال یا استقبال سرہ وی او وجہ ئی دا دہ چہ دا اسم مفعول چہ عمل کوی نو لہ وجہ د مشابہت د دۂ نہ د فعل سرہ او دَ دے اسم مفعول د فعل مضارع مجہول سرہ اگرچہ لفظاً مشابہت شتہ پہ حرکاتو او سکناتو کښی خو لکن چہ دا اسم مفعول پہ معنیٰ دَ ماضی سَرہ وی بیا د فعل سرہ پہ اعتبار د معنیٰ سرہ مشابہت نشتہ ځکہ چہ مضارع کلہ پہ لپارہ د حال وی او کلہ لپارہ د استقبال وی، نو هر کلہ چہ معنیٰ مشابہت د اسم مفعول د مضارع سرہ را تغلو نو دا اسم مفعول هم عمل نشی کولے، ځکہ چہ مشابہت نۂ دہ کامل دَ فعل سرہ او چہ کلہ دا اسم مفعول پہ معنیٰ د حال یا استقبال سرہ شی نو بیا مشابہت د فعل سرہ پہ اعتبار د معنیٰ سرہ هم حاصلیږی، نو دا مشابہت دَ دے فعل سرہ کاملیږی او چہ کلہ مشابہت کامل شیٔ نو بیا عمل هم کولے شی، ځکہ دا شرط لګولے شوے دہ چہ دا اسم مفعول بہ پہ معنیٰ د حال، یا استقبال سرہ وی۔ او دوَیم شرط دا دہ لپارہ د عمل کولو د اسم مفعول، چہ دے اسم مفعول بہ اعتماد کړے وی پہ یو د شپږو شیانو باندې، چہ هغہ شپږ شیان: مبتداء۔ موصوف۔ ذوالحال۔ موصول۔ حرف نفی او استفہام۔ دی۔ او مراد لہ اعتماد نہ پہ مبتداء باندې دا دہ چہ ما قبل بہ وی تہ مبتداء واقع وی، او دا اسم مفعول بہ دَ دے مبتداء د پارہ خبر وی، مثال لکہ زید مضروب ابوہ۔ او مراد لہ اعتماد نہ پہ موصوف باندې دا دہ، چہ ما قبل لہ دے اسم مفعول نہ بہ موصوف واقع وی او دا اسم مفعول بہ وی تہ صفت وی مثال لکہ جاء رجل مضروب غلامہ، او مراد لہ اعتماد نہ پہ ذوالحال باندې دا دہ چہ ما قبل لہ اسم مفعول نہ بہ ذوالحال واقع وی، او دے اسم مفعول بہ اعتماد کړے وی پہ ذوالحال باندې۔ مثال لکہ جاء زید مضروبًا غلامہ۔ او مراد لہ اعتماد نہ پہ موصول باندې دا دہ چہ ما قبل لہ دے اسم مفعول نہ بہ موصول واقع وی او اسم مفعول بہ وی تہ صلہ وی لکہ جاء المضروب غلامہ۔ نو پہ المضروب کښی الف لام اسمی دی نو د اسم موصول دہ، او مضروب اسم مفعول وی تہ صلہ دہ۔ او مراد لہ اعتماد نہ پہ حرف نفی باندې دا دہ۔ چہ ما قبل لہ اسم مفعول نہ بہ حرف نفی واقع وی، او دا نفی بہ متوجہ وی اسم مفعول تہ مثال لکہ ما مضروب غلامہ۔ نو دا مضروب اسم مفعول دہ او ما قبل وی نہ حرف نفی واقع شوے دہ۔ او مراد لہ اعتماد نہ پہ استفہام باندې دا دہ۔ چہ ما قبل د اسم مفعول نہ بہ کلمہ د استفہام واقع وی۔ او دا استفہام بہ متوجہ وی اسم مفعول تہ مثال لکہ أمضروب غلامہ۔ او دَ دے شرط لپارہ وجہ دا دہ۔ چہ دا اعتماد پہ یو دَ

دَ داشياءِ ستة بانديِ ځکه شرط دے، چه را اسم مفعول فرع دے دَ خپل فعل او فعل اعتماد کړے وي په فاعل باندې، نو که چرته اسم مفعول اعتماد ونکړي په دے مذکوره شيانو باندې او بغیر له اعتماده عمل وکړي نو لازم به شي مزيت دَ فرع چه اسم مفعول دے په اصل چه فعل دے، او دا باطل دے.

ترکيب:- زَ دَه کړه دا خبره چه په عبارت دَ شارح کښې دوه مثالونه ذکر دي اول مثال داسم مفعول دے، چه دَ هغه ذکر دلته مقصود دے او هغه مثال دا قول دے چه: زيد مضروب غلامه، نو دا مضروب اسم مفعول دے او عمل يې کړے په غلام کښې دَ رفع او دا وَرته نائب فاعل دے. او دويم مثال دَ فعل مجهول دے، او دا مثال يې لپاره دَ دے ذکر کړے چه تشبيه دَ اسم مفعول ورکوي دَ دے فعل مجهول سره په عمل کښې، يعنې دا اسم مفعول په خپل مدخول کښې عمل دَ رفع کوي لکه فعل مجهول چه په خپل مدخول کښې عمل دَ رفع کوي. او دَ فعل مجهول مثال دا قول دے چه زيد يضرب غلامه، نو دَ اول مثال ترکيب دا سے دے. چه زيد مبتداء او مضروب صيغه دَ اسم مفعول دے او لفظ دَ غلام مضاف دے او "ه" ضمير وَرته مضاف اليه دے. مضاف سره دَ مضاف اليه خپل نه نائب فاعل شوه لپاره دَ اسم مفعول. اسم مفعول سره دَ نائب فاعل خپل نه شبه جمله خبر شوه لپاره دَ مبتداء او مبتداء سره دَ خبر خپل نه جمله اسميه خبريه مثال شوه لپاره دَ ممثل چه اسم مفعول دے. او دَ دويم مثال ترکيب دا سے دے، چه زيد مبتداء دے او يضرب فعل مجهول دے او لفظ دَ غلام مضاف دے او "ه" ضمير وَرته مضاف اليه دے. او مضاف سره دَ مضاف اليه خپل نه نائب فاعل شوه لپاره دَ فعل مجهول، او فعل مجهول سره دَ نائب فاعل خپل نه جمله فعليه خبريه خبر شوه لپاره دَ مبتداء چه زيد دے. او مبتداء سره دَ خبر خپل نه جمله اسميه خبريه مثال شوه لپاره دَ ممثل، چه هغه فعل مجهول دے.

قوله مضاف هو صيغة اسم مفعول من باب اضاف يضيف اضافة اى من باب الافعال هو في اللغة منسوب کرده شده بديگري، وفي الاصطلاح كل اسم اضيف الى اسم اخر بتقدير حرف الجر الخ: غرض دَ شارح په دے عبارت خپل کښې بيان دَ صيغه دَ مضاف دے او بيان دَ معنى لغوي او معنى اصطلاحي دَ مضاف دے. نو شارح وائي چه مضاف صيغه دَ اسم مفعول دے دَ باب افعال نه، مضاف يې اَضَافَ او مضارع يې يضيف راځي، او مصدر يې اضافة راځي، او اسم فاعل وَرته مُضِيفًا او اسم مفعول وَرته مضافًا راځي او معنى لغوي دَ مضاف دا ده چه مضاف منسوب کرده شده ته وائي، يعنې مضاف

هغه شی ته وائی چه د هغه نسبت شوے وی بل شئ ته. او مضاف په اصطلاح کښ دیته وائی چه کل اسم اضیف الی اسم اٰخر بتقدیر حرف الجر یعنی هر هغه اسم دے چه هغه اضافت شوے وی بل اسم ته په واسطه د حرف جاره سره، خو لکن هغه حرف جاره به مقدر وی مثال لکه غلام زیدٍ. نو په دے ترکیب کښ لفظ د غلام مضاف دے ځکه چه دا اسم دے او اضافت او نسبت یے شوی دے بل شئ ته چه هغه زید دے په واسطه د حرف جاره سره چه هغه لام دے او په لفظ کښ نه دے ذکر بلکه مقدر دے.

تشریح:- زده کړه دا خبره چه یو مطلق مضاف دے او یو هغه مضاف دے چه اسم وی نو دا تعریف چه شارح کړیدے دا لپاره د دے خاص مضاف دے چه اسم وی او تعریف د مطلق مضاف دا دے چه مطلق مضاف هغه کلمے ته وائی چه د هغے نسبت شوے وی بلے کلمے ته په واسطه د حرف جاره سره برابره خبره ده که دا حرف جاره په لفظ کښ موجود وی او که مقدر وی نو دا مضاف به شامل دے اسم ته هم او فعل ته هم مثال د فعل چه مضاف وی لکه مررتُ بزیدٍ. نو دا مررت فعل دے او مضاف دے زید ته په واسطه د حرف جاره سره چه هغه باء دے. او هم دارنګ دا تعریف به شامل دے هغه مضاف ته چه مضاف اسم وی او اضافت یے شوے وی په واسطه د حرف جاره سره او حرف جاره په لفظ کښ موجود وی مثال لکه غلام لزیدٍ. نو دا لفظ د غلام مضاف دے او دا زید به ته مضاف الیه دے او دا اضافت د غلام چه زید ته شویدے، دا په واسطه د حرف جاره سره شویدے، چه هغه لام دے. او هم دارنګ دا تعریف به شامل دے هغه مضاف ته چه هغه اسم وی او مضاف شوے وی بل شئ ته په واسطه د حرف جاره سره چه هغه حرف جاره به مقدر وی او په لفظ کښ به نه وی موجود مثال لکه غلام زیدٍ. نو دا غلام مضاف دے او زید به ته مضاف الیه دے. او دا اضافت په واسطه د حرف جاره سره شویدے، او هغه حرف جاره لام دے او مقدر دے. نو مضاف په نفس الامر کښ او په اعتبار د لغت سره به شامل دے هم اسم ته برابره خبره ده که حرف جاره په لفظ کښ وی او که مقدر وی. او هم فعل ته. خو لکن په اصطلاح د نحاتو کښ د دے مضاف تخصیص راغلے دے تر هغه مضاف پورے، چه هغه به اسم وی او حرف جر به پکښ مقدر وی، او په لفظ کښ به نه وی موجود. او هر چه هغه اضافت دے په هغه مضاف کښ فعل وی، او یا مضاف اسم وی خو لکن حرف جر پکښ موجود وی، نو دیته په اصطلاح د نحاتو کښ مضاف نه وائی، بلکه دیته جار مجرور او ظرف وائی.

ثم اعلم ان عمل المضاف فیما بعده الجر فقط کما هو مذهب الجمهور واما علی مذهب سیبویه فالمضاف لیس بعامل الخ: غرض د شارح په دې عبارت څخه بیان د اختلاف ده د جمهورو او سیبویه ترمینځه چه واقع شوې ده په عامل د مضاف الیه کښې چه اېا عمل د جر په مضاف الیه کښې دا مضاف کوي او که حرف جاره مقدره یې کوي، نو د جمهورو مذهب دا دې چه عامل په مضاف الیه کښې مضاف دې، نو په غلام زیدٍ کښې دې مضاف الیه ته چه زید دې جر مضاف ورکړې ده چه غلام دې. او دا حرف جاره عامل نه دې بلکه دا نفس واسطه ده په دې اضافت کښې. او د سیبویه مذهب دا دې، چه مضاف عامل نه دې په مضاف الیه کښې بلکه عامل په مضاف الیه کښې حرفا جاره دې چه مقدر وي په مابین د مضاف او مضاف الیه کښې. چه هغه حرف جاره به په بعضو مواضعو کښې لام وي لکه په غلام زیدٍ کښې. نو د مضاف او مضاف الیه ترمینځ دلته چه کوم حرف جاره مقدر دې هغه لام دې. نو د سیبویه په مذهب باندې لام جر ورکړې دې زید ته، او په بعضو مواضعو کښې به دا حرف جاره مِن وي مثال لکه خاتم فضةٍ. نو دلته د مضاف او مضاف الیه ترمینځ مِن مقدر دې او هغې جر ورکړې دې مضاف الیه ته په مذهب دَ سیبویه باندې او په بعضو مواضعو کښې به دا حرف جاره چه مقدر دې فی وي، مثال لکه صلوٰة اللیل، نو دلته فی حرف جاره مقدر دې، تقدیر د عبارت دا سې دې چه صلوٰة فی اللیل. نو، دَ سیبویه په مذهب باندې جر مضاف الیه ته دې فی ورکړې دې.

واعلم ان الاضافة لها قواعد اولها ان المضاف الخ: غرض د شارح په دې عبارت څخه بیان د څلورو قواعدو د اضافت دې. چه د اضافت دپاره څلور قواعد دي، اوله قاعده دا ده، چه یو څل یو شئ مضاف شئ یو شئ ته نو دویم ځل نشي مضاف کیدې مثال لکه غلام زیدٍ. نو دا غلام مضاف دې زید ته نو دوباره بل شئ ته نشي مضاف کیدې، ځکه چه د یو شئ اضافت دوه شیانو ته په یو حالت کښې باطل دې. او دویمه قاعده دا ده، چه یو شئ نشي مضاف کیدې خپل مثل ته یعني چه دوه لفظونه وي او دواړه برابر او مساوي وي په عموم او خصوص کښې، ځکه چه دواړه به یو معنی وي نو دا یو نشي مضاف کیدې بل لفظ ته، ځکه چه دا اضافت خالي وي د فائدې نه، ځکه چه کومه معنی په اضافت سره اداکیږي، نو هغه بغیر د اضافت نه هم اداکیږي نو دا سې نشي ویلې چه غیث مطرٍ، ځکه چه د غیث او دَ مطر یوه معنی ده او دواړه برابر دي په عموم او خصوص کښې، او همدا رنګ دا سې هم نشي ویلې چه لیث اسدٍ.

چه لیث مضاف شي اسد ته، ځکه چه د لیث او اسد یوه معنیٰ ده نو په دې اضافت دیوکښې بل ته هیڅ فائده نشته.

ای مساویه فی العموم والخصوص الخ: غرض د شارح په دې عبارت نقل کښې جواب ورکول دی دیو اعتراض ته، حاصل د اعتراض دادې چه معترض وائي چه مثل د شئ، خو عبارت ده له هغه نه چه د دې شئ او د هغه په مابین کښې مماثلت موجود وی، او مماثلت عبارت ده له اشتراک فی النوع نه، یعنی شرکت په نوع او ماهیت کښې معنی د مماثلت ده نو چه تاسو دا وایئ چه شئ نشی مضاف کیدې خپل مثل ته، نو باید چه اضافت د غلام هم نشی صحیح زیږ ته ځکه چه دا غلام مثل ده پیاره د زید، ځکه چه دواړه شریک دی په ماهیت نوعی کښې، ځکه چه د دواړو نوع او ماهیت حیوان ناطق ده. او حال دا ده چه دا ترکیب جائز ده په اتفاق د نحاتو سره. نو حاصل د جواب دا ده، چه شارح وائي، چه د مماثلت نه مراد دلته هغه پخپله معنی نهٔ ده چه اشتراک ده په ماهیت نوعی کښې، بلکه مراد له مماثلت نه مساوات ده او مراد د مثل نه مساوی ده په عموم او خصوص کښې مثال لکه غیث چه مساوی ده د مطر سره او لیث، چه مساوی ده د اسد سره، او غلام نهٔ ده مساوی د زید سره، ځکه چه د دې دواړو په مابین کښې مباینت موجود ده. خو لکن په دې بانې بیا معترض اعتراض کوی حاصل د اعتراض دا ده چه دا قاعده ستا چه شئ نهٔ مضاف کیږی مثل خپل ته، منقوضه ده په کل الدراهم سره او په عین الشئ سره، چه په اول مثال کښې دا کل مضاف ده او دراهم ورته مضاف الیه ده. او دا کل او دراهم دواړه پخپل کوا کښې متساویان دی ځکه چه د کل نه هم دا دراهم مراد دی. او په دوئیم مثال کښې دا عین مضاف ده شئ ته او دا دواړه متساویان دی، ځکه چه عین د شئ متحد وی د شئ سره. او همدارنګ دا قاعده ستا منقوضه ده په سعید کرز بانې، ځکه چه سعید او کرز دواړه دیو کس نومونه دی، نو دواړه متساویان دی، او بیا هم دا سعید مضاف شوید ده کرز ته! نو له دې اعتراض نه جواب دا ده، چه مونږ وا ته وایو چه په کل الدراهم کښې دا کل نهٔ ده مساوی د دراهم سره بلکه کل اعم ده په هر شئ بانې یې اطلاق کیږی، او دا دراهم اخص دی، نو دا اضافت د عام ده خاص ته. او همدارنګ په عین الشئ کښې دا عین عام ده او دا شئ خاص ده، نو دا هم اضافت د عام ده خاص ته، او له دې سعید کرز ته جواب دا ده چه دا مؤول ده په دې طریقې سره، چه مراد له سعید نه

مدلول دسعید دہ او مراد لہ کرہ نہ لفظ دالہ دہ پہ دے مدلول بانی، نو دجاء سعید کرہ معنی دا دہ چہ جاء مدلول هذا اللفظ، نو هرکلہ چہ دسعید نہ مراد مدلول شو، نو دا نسعید عام دہ او دا کرہ خاص دہ، نو دا هم اضافت دعام دہ خاص تہ)۔ نو اعتراض دفع شو۔ او درٓیمہ قاعدہ دا دہ، چہ جائزنۂ دہ فصل پہ مابین دمضاف او مضاف الیہ کښں مگر پہ حرف زائد سرہ او پہ تاکید سرہ، یعنی دا جائزنۂ دہ چہ دَ مضاف او مضاف الیہ پہ مابین کښں بل شئ فاصل راوړے شی، ځکہ چہ دمضاف او مضاف الیہ پہ مابین کښں شدت امتزاج او اتصال وی۔ نو ځکہ ددوئ ترمینځہ فصل پہ شئ اٰخر سرہ باطل دہ۔ خو لکن فصل پہ مابین دَدوئ کښں پہ حرف زائد سرہ او پہ تاکید سرہ جائز دہ۔ نو دا جائز دہ چہ پہ مابین دمضاف او مضاف الیہ کښں حرف زائد فاصل راوړے شی لکہ چہ دا راغلیدہ پہ دِے قول دشاعرکښں۔

شعر ـــ فی بئر لا حور سری وماشعر!

بافکہ حتی اذا الصبح جشر!

نو پہ دِے شعرکښں دا لفظ د بئر مضاف دہ او دا لفظ دحور ورتہ مضاف الیہ دہ، او پہ مابین کښں فصل راغلیدہ پہ حرف زائد سرہ چہ لا دہ۔ او معنی دَ دِے شعر دا دہ چہ دا شاعر دیوکس دم بیانوی وائی چہ دا کس پہ کوهی د هلاکت کښں ننوتلو او بوہ نشو پہ دِے خبرہ بانی چہ ننوتلم پہ کوهی د هلاکت کښں لہ وجہ ددہ وغوتہ تر دے پورے چہ صبا راوخوت یعنی چہ دۂ تہ علم حاصل شو چہ زۂ پہ کوهی د هلاکت کښں پریوتے یم۔ او هم دا رنگ دمضاف او مضاف الیہ پہ مابین کښں فصل کول پہ تاکید سرہ هم جائز دہ چہ دا تاکید بہ دمضاف وی یعنی دا جائز دہ چہ دمضاف او مضاف الیہ پہ مابین کښں یو لفظ داخل شی چہ هغہ لفظ بہ تاکید وی پہ بارہ دمضاف لکہ دا واقع دہ پہ دِے قول کښں چہ یا تیم تیم عدی۔ نو اول تیم مضاف دہ او عدی ورتہ مضاف الیہ دہ او دا دویم تیم تاکید دہ پہ بارہ داول۔ او فاصل راغلیدہ پہ مابین دمضاف کښں چہ اول تیم دہ او دمضاف الیہ کښں چہ عدی دہ۔ او معنی دتیم قبیلہ دہ او عدی نوم دہ لپارہ دیوکس نو معنی دا دہ یا قبیلۂ قبیلۂ عدی۔

او څلورمہ قاعدہ لہ هغہ څلورو قواعدو نہ دا دہ، چہ هغہ اسم چہ معرفہ وی پہ الف لام سرہ هغہ نشی مضاف کیدے بل شئ تہ نو پہ وقت داضافت ددے اسم کښں لابدی دہ لہ تجرید او خالی کولو ددے اسم نہ لہ تعریف نہ، یعنی پہ وقت داضافت

کښې دا ضروري ده چه یو ځل به دا اسم خالي کولے شي له تعریف نه یعنې الف لام د تعریف به ورانه سا قطولے شي او د هغې نه بعد به بیا مضاف کولے شي، ځکه کۀ چرته دا اسم چه معرفه وي په الف لام سره مضاف شي هغې اسم ته چه هغه هم معرفه وي نو لازم به شي جمع د دوه تعریفونو۔ او هم ارنګ لازمیږي دوه آلے د تعریف چه یو به اضافت وي او بل به الف لام وي او دا باطل ده او کۀ چرته دا اسم چه معرفه ده په الف لام سره مضاف شي نکره ته، نو جمع به شي په مضاف کښې تعریف هم او تخصیص عارضي هم ځکه چه د اتعریف به لوجه د الف لام نه راشي، او تخصیص به لوجه د اضافت نه راشي او په وقت د وجود د تعریف کښې هیڅ حاجت نشته تخصیص ته، چه په اضافت سره حاصلیږي نو لکن دا خلور مه قاعده خاصه ده تر اضافت معنوي پورے، یعنې چه کوم اسم مضاف کولے شي په اضافت معنوي سره، نو په هغۀ کښې دا ضروري ده چه خالي به وي د الف لام د تعریف نه، او هر چه اضافت لفظي ده نو په هغۀ کښې دا قاعده نۀ جاري کیږي بلکه په اضافت لفظي کښې چه په یو اسم باندې الف لام ورداخل وي نو بیا هم د هغۀ مضاف کول جائز دي مثال لکه الضاربا زید۔ نو الضاربا په اصل کښې الضاربان صیغه د تثنیه وه او نون ورانه لوجه د اضافت نه ساقط شو، نو په دے ترکیب کښې اګرچه په مضاف باندې الف لام داخل ده خو بیا هم اضافت زید ته جائز ده، ځکه چه په اضافت لفظي کښې مضاف صفت وي لکه چه په مخکښې ترکیب کښې مضاف صیغه د اسم فاعل ده او په صفت باندې چه کوم الف لام داخل وي هغه الف لام د تعریفا نۀ وي، ځکه چه هغه الف لام چه په صفت باندې داخل وي الف لام اسمي وي، او په معنٰی د الذی او التی سره وي او د الیاره د تعریف نۀ وي۔ او هم ارنګ اضافت لفظي مفید د تخفیف وي په لفظ کښې او مفید د تعریف نۀ وي۔ نو په اضافت لفظي کښې چه په مضاف باندې الف لام داخل وي نو نه لازمیږي جمع په مابین د دوه تعریفونو کښې۔ او هم ارنګ نۀ لازمیږي جمع د دوه آلو د تعریف، نو ځکه په اضافت لفظي کښې کۀ په مضاف باندې الف لام داخل وي بیا هم جائز ده اضافت د دغه۔ دلته معترض اعتراض کوي په دے قول د شارح باندې چه فلا بد من التجرید۔ حاصل د اعتراض دا ده چه لکه ځنګه چه هغه اسم چه معرفه وي په الف لام سره په وقت د اضافت کښې تجرید شرط ده او ضروري ده د الف لام نه نو هم ارنګ چه علم کله مضاف شي، نو دَ دے علم تجرید او خلو هم ضروري ده د علمیت نه، نو اولٰی دا ده چه شارح دا سے ویلي وے چه فلا بد من التجرید عن التعریف

چه ورسره شامل شوے وه دا عبارت دشارح ړے علم ته هم! اوجواب له دینه دا ده چه هرکله چه شارح دا ووئیل چه هغه اسم چه ورباندې الف داخل وی د دهٔ تجرید او خلو ضروری ده دالف لام نه، نوله دینه ښکاره به طریقے دالتزام سره دا معلومیږی چه داعلم چه هم کله مضاف شی، نوضروری ده تجرید ددهٔ دتعریف نه یعنې دعلمیت نه، نوهرکله چه په طریقے دالتزام سره معلومیږی نو هیڅ حاجت نشته تصریح ته!!

واعلم ان الاضافة علی قسمین لفظية ومعنوية فاللفظية هي مايكون المضاف اسم صفة الخ: غرض دشارح په دے عبارت کښې بیان دتقسیم دا ضافت ده نوحاصل دَ دے تقسیم دا ده چه اول دا اضافت په دوه قسمه ده اول قسم اضافت لفظی ده او دوئیم قسم اضافت معنوی ده. اضافت لفظی دیته وائی، چه مضاف به په هغه حالت اسم صفتی وی، او مضاف به وی خپل معمول ته او مراد له اسم صفتی نه اسم فاعل او اسم مفعول او صفت مشبه او اسم تفضیل ده، نو چه کله مضاف یو امر وی له دے امورِ واربعه نه وی او مضاف شوے وی خپل معمول ته نو دا اضافت لفظی ده مثال لکه ضارب زیدٍ او لکه حسن الوجه. نو په اول مثال کښې دا مضاف ضارب ده او صیغه د اسم فاعل ده او مضاف ده خپل معمول ته چه زید ده او دا ورته مفعول به ده. نو دا هم مثال د اضافت لفظی ده، ځکه دا هم اضافت د اسم صفتی ده خپل معمول ته. او په دوئیم مثال کښې مضاف حسن ده او صیغه دَ صفت مشبه ده او مضاف ده خپل معمول ته چه الوجه ده. او دا ورته معمول ده ځکه، چه دا ورته فاعل ده نو دا هم مثال ده لپاره د اضافت لفظی، ځکه چه دا هم اضافت د صفت ده خپل معمول ته. او اضافت معنوی عبارت ده له دینه چه مضاف به په هغه اضافت کښې صفت نهٔ وی. چه مضاف وی خپل معمول ته بلکه مضاف به یا بالکل صفت نهٔ نهٔ وی مثال لکه غلام زیدٍ. او یا به صفت وی خو مضاف به نهٔ وی معمول ته مثال لکه مصارع مصرٍ او کریم البلد. نو په غلام زیدٍ کښې غلام مضاف ده او دا صفت نهٔ ده بلکه اسم جامد ده. نو دا اضافت هم معنوی ده، ځکه چه مضاف صفت نهٔ ده چه مضاف وی خپل معمول ته. او په مصارع مصرٍ کښې اګرچه مصارع صفت ده، ځکه چه مصارع جمع د صارع ده او د صارع معنی ده پهلوان او دا صیغه د اسم فاعل ده خو لکن، مصارع چه مضاف ده مصر ته، دا مصر ورته معمول نهٔ ده، ځکه چه مصر نهٔ فاعل ده د لپاره د مصارع او نهٔ ورته مفعول ده. نو دا هم اضافت معنوی ده او په دوئیم

مثال کښې چه کریم البلد ده کریم مضاف ده او البلد ورته مضاف الیه ده او دا مضاف،
اګرچه صفت ده ځکه چه کریم صیغه د صفت مشبه ده، خو لکن مضاف نۀ ده معمول ته ځکه
چه البلد معمول نۀ ده لپاره د کریم ځکه چه بلد نۀ مفعول ده لپاره د کریم او نۀ ورته فاعل
ده نو دا هم اضافت معنوی ده. او فائده د اضافت لفظي تخفیف ده په لفظ کښې نو
دا تخفیف به یا په لفظ د مضاف کښې پیدا کوی فقط، په دے شان چه د مضاف نه به په واسطه
د اضافت سره تنوین ساقطیږی، او یا به ورانه نون د تثنیه ساقطیږی او یا به ورانه
نون د جمع ساقطیږی مثال لکه ضاربُ زیدٍ. او ضاربا زیدٍ. او ضاربو زیدٍ. نو په اول مثال
کښې چه ضاربُ ده د دۀ نه چه مضاف ده تنوین ساقط شوی ده له وجه د اضافت نه او په دویم
مثال کښې د مضاف نه نون د تثنیه له وجه د اضافت نه ساقط شوی ده ځکه چه ضاربا
زیدٍ په اصل کښې ضاربان وه صیغه د تثنیه ده او د اضافت د وجه نه ورانه نون ساقط
شوی ده. او په دریم مثال کښې له مضاف نه په واسطه د اضافت سره نون د جمع ساقط
شوی ده ځکه د ا ضاربو زیدٍ په اصل کښې ضاربون وه او بیا د اضافت د وجه نه ورنه نون
ساقط شوی ده نو ورانه ضاربو زیدٍ جوړ شو، او یا به په دے اضافت لفظي کښې تخفیف
په لفظ د مضاف الیه کښې راغلے وی فقط، په دے شان چه د مضاف الیه نه به د اضافت
په وجه ضمیر حذف شوے وی او مستتر شوے به وی په دے صفتِ مضافه کښې مثال لکه
القائم الغلام. نو القائم مضاف ده او له وجه د اضافت نه په دے القائم کښې څۀ
تخفیف نۀ ده راغلے ځکه چه تنوین د القائم نه له وجه د الف لام نه ساقط شوی ده، نو
په اضافت سره په القائم کښې چه مضاف ده څۀ تخفیف نۀ ده راغلے. او دا الغلام مضاف
الیه ده او په اضافت سره په الغلام مضاف الیه کښې تخفیف راغلی ده، په دے شان چه
مخکښې له اضافت نه دَ دے غلام سره ضمیر وه په دے شان چه غلامه وه نو د اضافت
په وجه باندې ورانه دا ضمیر حذف شو او په صفت کښې چه القائم ده مستتر شو، نو ورنه
القائم الغلام جوړ شو. او یا به په اضافت سره په مضاف او مضاف الیه دواړو کښې تخفیف
راغلے وی، مثال لکه زید قائم الغلام. نو دا لفظ د قائم مضاف ده نو په دے اضافت
سره په مضاف کښې هم تخفیف راغلے ده، ځکه چه په قائم باندې مخکښې له اضافت نه تنوین
وه او هغه له وجه د اضافت نه ساقط شو. او دا لفظ د الغلام مضاف الیه ده او په
اضافت سره په مضاف الیه کښې هم تخفیف راغلے ده په دے شان چه دَ دے غلام سره
ضمیر ملحق وه، نو د اضافت په وجه باندې هغه حذف شو، او مستتر شو په قائم کښې ځکه

چه په اصل کښې زیدٌ قائمٌ غلامه وه نو بیا له وجه د اضافت نه ضمیر حذف شو او مستتر شو په قائم کښې. نو د اضافت لفظي فائده مقصوره ده تر لفظ پورې په دې شان، چه په دې سره تخفیف حاصلیږي په لفظ د مضاف کښې او یا په لفظ د مضاف الیه کښې او یا په لفظ د دواړو کښې، او د اضافت لفظي فائده سرایت نکوي معنی ته، په دې شان چه معنی کښې څه ورانه پیدا شي لکه تعریف او یا تخصیص او له همدغه وجه نه وئیلې شي اضافت لفظي والې، چه فائده د دې مقصوره او بنده ده تر لفظ پورې او سرایت نکوي معنی ته: او فائده د اضافت معنوي تعریف د مضاف ده په هغه وقت کښې چه مضاف الیه معرفه وي، او تخصیص دَ مضاف ده په هغه وقت کښې چه مضاف الیه نکره وي. نو چه مضاف الیه معرفه وي نو د اضافت په وجه باندې تعریف حاصلیږي په مضاف کښې په دې شان چه په اضافت سره د مضاف معرفه کیږي مثال لکه غلام زیدٍ. نو دا غلام مضاف ده. او زید ورته مضاف الیه ده او دا زید معرفه ده، نو د اضافت په وجه دا غلام چه مضاف ده هم معرفه شوېده. او که مضاف الیه نکره وي، نو بیا په اضافت سره په مضاف کښې تخصیص راځي، په دې شان چه په مضاف کښې به تقلیل د شرکاء راځي مثال لکه غلام رجلٍ. نو دا غلام مضاف ده او رجل ورته مضاف الیه ده او رجل نکره ده نو د اضافت په وجه په غلام کښې تقلیل د شرکاء راغلې ده، ځکه چه مخکښې له اضافت نه په غلام کښې، غلام د سړي او غلام دَ ښځې دواړه په شریک وه. او چه کله اضافت وشو رجل ته نو د ښځې غلام ورانه خارج شو، نو په غلام کښې تقلیل د شرکاء راغلو، او تقلیل د شرکاء نشته ده مګر تخصیص ده. نو چه مضاف الیه نکره وي نو په اضافت معنوي سره په مضاف کښې تخصیص حاصلیږي. او اضافت معنوي ته ځکه معنوي والې، چه دا هم په مضاف کښې چه هغه معنی به یا تعریف وي او یا به تخصیص وي. یوه معنی پیدا کوي په مضاف کښې

او بیا دا اضافت معنوي په خپل کورا کښې په څلورو قسمه ده. اول قسم اضافت جنسي ده دویم قسم اضافت استغراقي ده او دریم قسم اضافت عهدِ خارجي ده. او څلورم قسم اضافت عهدِ ذهني ده. اضافت جنسي عبارت ده له دینه چه دا مضاف، مضاف شوې وي جنس ته، یعني چه مضاف الیه په جنس باندې دلالت کوي، نو دې اضافت ته جنسي والې مثال لکه غلام رجلٍ. نو دا لفظ د غلام مضاف ده جنس ته چه هغه رجل ده، ځکه مراد له رجل نه جنس دَ رجل ده. مراد ورانه ټول افراد او یا یو فرد معین او یا غیر معین ورانه نشته ده. او اضافت استغراقي عبارت ده له دینه چه مضاف به مضاف

شوې وي دا سې اسم ته چه دلالت کوي په استغراق او شمول باندې. مثال لکه غلام کل رجلٍ. نو دا غلام مضاف ده کل رجل ته. او دا کل په استغراق د افرادو باندې دلالت کوي نو معنی د دې ترکیب دا ده چه غلام د هر فرد د افرادو د رجل. او اضافت عهد خارجي دیته وائي چه دا مضاف به مضاف شوې وي یو فرد معین ته مثال لکه غلام الرجل، نو دا غلام مضاف شوی دی الرجل ته او د الرجل نه یو فرد معین مراد دی ځکه چه الف لام په الرجل کښې لپاره د عهدِ خارجي دی، مراد ورنه معهود رجل ده. او اضافت عهد ذهني دیته وائي، چه مضاف به مضاف شوې وي فرد غیر معین ته په دې شان چه دا مضاف الیه به مبهم وي مثال لکه لله دره فارسًا. نو دلته دا در لفظ مضاف ده ﻩ ضمیر ته او مراد له دې ضمیر نه فرد مبهم ده، او دا ور وسته فارسًا تمیز ده نو معنی دا ده دره معنی رشی

قوله فعل باشد مطلقا ای سواء کان متعدیا اولازما مجردا کان او مزیدا. ماضیا کان او مضارعا الی غیر ذلک. فعمل الفعل الرفع فقط ان کان لازما الخ: یعنی بل قسم په دې عواملو قیاسیه کښې فعل ده، نو دا په تماموا حوالوکښې عامل ده برابره خبره ده که دا فعل متعدی وي او که لازمي. مجرد وي او که مزید. ماضي وي او که مضارع ثلاثي وي او که رباعي. او دا فعل که لازمي وه نو بیا عمل د ده دا ده چه رفع ورکوي فقط فاعل خپل ته مثال لکه قام زید. نو قام فعل لازمي ده نو دا رفع ورکوي فاعل ته، او نصب نه ورکوي، ځکه چه د فعل لازمي د پاره مفعول نه وي. نو دا زید ورته فاعل ده او دې قام ورته رفع ورکړیده. او که دا فعل متعدی وه، نو بیا عمل د ده هم دا رفع ده او هم نصب ده، چه دا به رفع ورکوي فاعل ته او نصب به ورکوي مفعول ته. نو که متعدی وه یو مفعول ته، نو بیا به یو مفعول ته نصب ورکوي، مثال لکه ضرب زید عمرًا. نو دا ضرب فعل ده او دا متعدی ده یو مفعول ته، نو دې ضرب فاعل ته رفع ورکړیده چه زید ده. او مفعول ته یې نصب ورکړیده، چه عمرو ده. او که دا فعل متعدی وه دوه مفعولینو ته نو بیا دا دوه مفعولینو ته نصب ورکوي. مثال لکه اعطیت زیدًا درهمًا. نو دا اعطیت فعل متعدی ده دوه مفعولینو ته، چه اول زید ده او دویم درهمًا ده. او اعطیت دواړو ته نصب ورکړیده. او که چرته دا فعل متعدی وه درېو مفعولونو ته نو بیا دا فعل درې مفعولونو ته نصب ورکوي مثال لکه اعلمت زیدًا عمرًا فاضلًا. نو دا اعلمت فعل ده. او دا متعدی ده درې مفعولونو ته چه اول زید ده. او دویم عمرو ده. او دریم فاضلًا ده. او دې اعطیت درې واړه مفعولونو ته نصب ورکړیده، نو دا ئي

چه عمل د رفع کوی چه لازمی وی. او عمل د رفع او نصب دواړه کوی چه متعدی وی. نو د اعمل قیاسی ده، ځکه چه فعل وضع ده لپاره د عمل، او سماعی نه ده چه موقوف وی تر سماع پورې.

تنبیه:- زده کړه دا خبره چه مونږ چه دا خبره وکړه چه فعل لازمی رفع ورکوی فاعل ته او نصب نه ورکوی مفعول ته، نو مراد له مفعول نه مفعول به ده، یعنی فعل لازمی مفعول به ته نصب نه ورکوی، ځکه چه فعل لازمی مفعول به نه غواړی. او مراد، له مفعول نه مطلق مفعول نه ده. ځکه چه فعل لازمی مفعول مطلق ته نصب ورکوی مثال لکه قمت قیامًا. او همدا رنګ مفعول له ته هم نصب ورکوی لکه قمت تعظیمًا لزید، او همدا رنګ مفعول فیه ته هم نصب ورکوی لکه قمت یوم الجمعة. نو د فعل لازمی او د فعل متعدی په مینځ مابین کښ صرف په دې خبره کښ فرق ده، چه فعل لازمی عمل نکوی په مفعول به کښ د نصب، او فعل متعدی په مفعول به کښ عمل کوی د نصب.

فان قیل اذا کان الفعل مطلقا عاملا قیاسیا فیدخل الخ: زده کړه دا خبره چه دا- اعتراض د معترض وارد ده په شمارلو د افعالِ ناقصه او د افعال مقاربه د عواملو سماعیه نه، او همدا رنګ په شمارلو د افعال مدح او ذم باندې د عواملِ سماعیه نه، حاصل د اعتراض دا ده چه هر کله مطلق فعل عامل قیاسی شو، نو بیا خو په مطلق فعل کښ افعال ناقصه او افعال مقاربه او افعال مدح او ذم هم داخل دی، ځکه چه هغوی هم له افراد د فعل نه دی، نو بیا خو د هغوی عمل هم قیاسی ده نو د هغوی داخلول په عوامل سماعیه کښ باطل ده، او حال دا ده چه تاسو هغوی داخل کړیدی په عواملو سماعیه کښ ځکه چه تاسو د هغوی ذکر کړیده په انواع د عواملو سماعیه کښ، او د هغوی عمل تاسو سماعی بللے ده. او له دې اعتراض نه شارح جواب ورکړیده په دې عبارت خپل سره چه:

قلنا فیه جهتان جهة العمل وجهة الدخول الخ: حاصل د جواب دا ده چه په فعل کښ دوه جهته دی یو جهت د عمل د فعل ده. او بل جهت د مدخول د فعل ده. نو فعل په جهت د عمل سره قیاسی ده او په اعتبار د مدخول سره بیا د اسماعی ده یعنی مدخول د فعل سماعی ده موقوف ده تر سماع د عربو پورې، په دې شان چه عربو دا فعل په کوم مدخول باندې داخل کړے وی نو دا فعل به په هغه باندې داخلیږی فقط، نو مدخول د افعال ناقصه او د افعال مقاربه جمله اسمیه ده فقط او مدخول د افعال مدح او ذم اسم جنس ده چه معرف وی په الف لام سره او یا مضاف وی معرف باللام ته، او بل شے د دې مدخول نشی جوړیدے ځکه چه د عربو نه سماع د دې مدخول شوېده نو دا افعال مقاربه او افعال ناقصه او

افعال المدح والذم چه شمارشویدی په عواملوسماعیه کښی، داله دے وجه نه چه ددوی عمل سماعی ده، اودا مطلق فعل چه شمارشویده په دے ورته عوامل قیاسیه کښی نو داله دے وجه نه ده چه عمل دفعل قیاسی ده.

قوله: پس صفت باشد که مانند اسم فاعل است وهی فی اللغة مشابهت کرده شده وفی الاصطلاح هو اسم مشتق من الفعل اللازم لمن قام به الفعل الخ: غرض دشارح په دے عبارت خپل کښی بیان دمعنی لغوی او اصطلاحی دَ صفت مشبه ده، چه صفت مشبه په لغت کښی مشابهت کرده شده ته وائی، یعنی صفت مشبه هغه معنی ته وائی چه دهغې به مشابهت شوے وی دبل شی سره. اودا صفت مشبه په اصطلاح کښی عبارت ده له دینه، چه هو اسم مشتق من الفعل اللازم لمن قام به الفعل بمعنی الثبوت یعنی هغه اسم ده چه مشتق وی دفعل لازمی نه او وضع وی لپاره دهغه ذات چه ترهغه پورے فعل قائم وی په معنی دثبوت سره لکه "حسن" نو داحسن صفت مشبه ده ځکه چه دا یواسم ده چه مشتق شویده دفعل لازمی نه چه حسن یحسن ده. اودا حسن وضع ده لپاره دهغه ذات چه ترهغه پورے دافعل قائم وی چه دکوم فعل نه داصفت مشبه مشتق ده چه هغه فعل حَسُنَ ده خولکن په معنی دثبوت سره. یعنی صفت مشبه په ثبوت باندې دلالت کوی نو حسن به هغه کس ته وئیلی شی چه ترکوم کښ پورے داحسن په طریقه ددوام سره قائم وی. او حسن هغه چا ته نشی وئیلی چه په هغه کښی اوس حسن پیدا شوے وی. نو په تعریف دصفت مشبه کښی لفظ داسم جنس ده. هم دا شامل ده اسماءِ جامده ته اوهم اسماءِ مشتقه ته، اوهم مصدر ته او دالفظ دمشتق اول فصل ده او لفظ دمن الفعل اللازم دوئیم فصل ده او لمن قام به الفعل دریم فصل ده او بمعنی الثبوت څلورم فصل ده. نو په اول فصل سره چه مشتق ده د تعریف دصفت مشبه نه اسماءِ جامده او مصدر خارج شول ځکه چه دا اسماءِ جامده دچانه مشتق نهٔ وی، او مصدر هم دچانه نهٔ وی مشتق اګرچه له دهٔ نه نور شیان مشتق وی. او په دوئیم فصل، من الفعل اللازم سره له تعریف د صفت مشبه نه هغه اسم فاعل خارج شو، چه هغه مشتق وی دفعل متعدی نه لکه ضارب او دا نه اسم مفعول خارج شو ځکه چه اسم مفعول دفعل لازمی نه نهٔ مشتق کیږی بلکه همیشه دفعل متعدی نه مشتق وی. او همدارنګ هغه اسم تفضیل دا نه خارج شو چه هغه مشتق وی د فعل متعدی نه او په دریم فصل سره چه لمن قام به الفعل ده، دتعریف دَ صفت مشبه نه هغه اسم تفضیل خارج شو، چه مشتق وی دفعل لازم نه ځکه چه دلمن قام به الفعل معنی دا ده چه

چه صفت مشبه هغه اسم ته وايي چه وضع به وي لپاره د ذات فقط او اسم تفضيل نه وي، وضع صرف لپاره د ذات بلکه وضع وي لپاره د ذات سره د صفت نه دا مجموعه معنیٰ ممنوع له د اسم تفضيل ده. او په ثلوړم فصل سره چه بمعنی الثبوت ده د تعريفا د صفت مشبه نه هغه اسم فاعل خارج شو، چه هغه مشتق وي د فعل لازمي نه ځکه چه اسم فاعل وضع وي لپاره د هغه ذات چه تر هغه پورې فعل قائم وي خولکن بمعنی الثبوت نه بلکه بمعنی الحدوث او صفت مشبه نو وضع وي لپاره د هغه ذات چه تر هغه پورې فعل قائم وي بمعنی الثبوت

په دې تعريف د صفت مشبه باندې دوه اعتراضه واردیږي اول اعتراض په دې قيد د تعريف باندې چه، من الفعل اللازم. حاصل د دې اعتراض دا ده چه تعريف د صفت مشبه جامع نه ده خپلو افرا دو لره ځکه چه له دې تعريف نه رحيم خارج شو، په دې شان چه دا رحيم صفت مشبه ده او تعريفا د صفت مشبه ورباندې نه صادقیږي ځکه چه صفت مشبه تاسو وايئ چه دا هغه اسم ده چه مشتق به وي د فعل لازمي نه او رحيم خو نه ده مشتق د فعل لازمي ځکه چه دا رحيم مشتق ده د رحِم يرحَم نه او دا د علم يعلم باب ده او متعدي ده لکه چه ويلي شي رحم الله زيدًا. نو دا رحم متعدي شو يعني مفعول به ته چه زيد ده بغير د واسطې د حرف بچاره نه! او جواب له دې اعتراض نه دا ده چه مراد زمونږ له فعل لازمي نه عام ده که ابتداءً لازمي وي او که په وقت د اشتقاق کښې لازمي وي. نو دا رحم فعل اګرچه ابتداءً د باب د علم يعلم نه ده او ابتداءً متعدي ده خو لکن په وقت د اشتقاق کښې لازمي ده ځکه چه کله مونږ دا رحيم ورانه را مشتق کړلو نو دا رحيم مونږ رانقل کړه د باب د علم يعلم نه باب د کرم يکرم ته او چه کله د باب د کرم نه شو نو لازمي شو ځکه چه د کرم باب لازمي ده، متعدي نه ده. نو دا رحيم داخل ده په تعريف د صفت مشبه کښې، په دې شان چه دا رحيم هم مشتق ده د فعل لازمي نه. او دويم اعتراض چه په تعريف د صفت مشبه باندې وارد ده هغه وارد ده په دې قيد باندې چه بمعنی الثبوت، چه دا تعريف د صفت مشبه مانع نه ده له دخول د غيرنه په ديکښې بعضې صيغې د اسم فاعل داخليږي چه هغه ضامر او طالق دي په دې شان چه دا ضامر صيغه د اسم فاعل ده او معنیٰ يې ده هغه شخص چه هميشه لاغر (نرې، وچ کلک) وي. او تعريف ورباندې د صفت مشبه صادق ده ځکه چه دا ضامر اسم ده او مشتق ده د فعل لازمي نه او وضع ده لپاره د هغه ذات چه تر هغه پورې دا فعل قائم وي چه ضمور ده په معنیٰ د ثبوت سره ځکه چه ضامر هغه کس ته نه وايي، چه نو دې لاغري پکښې راغلې وي. بلکه هغه کس ته وايي چه هميشه لاغر

وي او دا طالق هم صيغه د اسم فاعل ده او معنی يې دا ده چې طالق هغه زنانه ته وائي چې زړه شي بغير د نکاح د وجې نه يعنې چې ټوله زمانه ورسره زوج نه وي بلکه بغير د نکاح نه پاتې شوې وي، نو دا طالق صيغه د اسم فاعل ده او تعريف ورباندې د صفت مشبهې صادق ده ځکه چې طالق هم يو اسم ده چې مشتق ده د فعل لازمي نه او وضع ده د پاره د هغه ذات چې تر هغې پورې فعل قائم وي چې طلاق ده په معنی د ثبوت او د دوام سره نو دا تعريف د صفت مشبهه مانع نشوله د دخول د غير نه بلکه ضامر او طالق پکښې داخل شول او په دې ضامر او طالق سره لکه څنګه چې اعتراض وارد شو په تعريف د صفت مشبهه باندې نو دغه شان کړې دواړو په وجه اعتراض وارد ده په تعريف د اسم فاعل باندې. چې تعريف د اسم فاعل جامع نشو خپلو افرادو ته، ځکه چې ورته ضامر او طالق خارج شول، ځکه چې په اسم فاعل کښې حدوث وي او دوام نه وي. او په ضامر او طالق کښې دوام او ثبوت ده! نو جواب له دې اعتراض نه دا ده چې په تعريف د صفت مشبهه کښې چې قيد لګيدلې ده د ثبوت، نو مراد ورنه دا ده چې په دې صفت مشبهه کښې به ثبوت وي خو لکن په اعتبار د اصل وضع سره او په ضامر او طالق کښې په اعتبار د اصل وضع سره ثبوت او دوام نشته بلکه دا ثبوت او دوام پکښې عارض ده ورسته د وضع نه ورته عارض شوې ده نو تعريف د صفت مشبهه مانع شوله د دخول د غير نه. او دغه شان تعريف د اسم فاعل جامع شو ضامر او طالق ته، ځکه چې اسم فاعل دې ته وائي چې په هغه کښې په اعتبار د اصل وضع سره حدوث وي او په ضامر او طالق کښې هم په اعتبار د اصل وضع سره حدوث ده ځکه چې ضامر وضع ده په اصل کښې د پاره د هغه کس چې نوې پکښې دا فعل چې لاغري ده پيدا شوې وي. او طالق وضع ده د پاره د هغه زنانه چې د هغې نوې مباينت راغلې وي د زوج نه او بيا ورسته په دې ضامر او طالق کښې ثبوت او دوام راغليدلې ده. او عمل کړې صفت مشبهه رفع ورکول دي مثال لکه حسن زيد. نو دا حسن صفت مشبهه ده او زيد ورته فاعل ده او حسن ورته رفع ورکړې ده او صفت مشبهه عمل د نصب نشي کولې په مفعول کښې ځکه چې صفت مشبهه د پاره مفعول نشته، د دې وجه نه چې دا مشتق وي د فعل لازمي نه او د فعل لازمي د پاره مفعول نه وي نو هر کله چې د اصل د پاره مفعول نشته چې هغه فعل لازمي ده چې د اصل ده د پاره د صفت مشبهه ځکه چې صفت مشبهه ورنه مشتق ده، نو د دې فرع د پاره چې صفت مشبهه ده هم مفعول به نه وي. نو هر کله چې د صفت مشبهه د پاره مفعول نشته نو صفت مشبهه عمل د نصب نشي کولې.

وانما سميت بالصفة المشبهة لانها مشابهة باسم الفاعل فى التصريف الخ: غرض د شارح
په دې عبارت څخه کښې بيان د وجه د تسميه د صفت مشبه ده نو شارح واي چه صفت مشبه
ته ځکه صفت مشبه وائي چه دا مشابه ده د اسم فاعل سره په دوه شيانو کښې اول شئ،
تصريف ده، چه لکه څنګه چه اسم فاعل کښې تصريف راځي ديو حال نه بل حال ته نو دغه
شان په صفت مشبه کښې هم تصريف راځي ديو حال نه بل حال ته' نو اسم فاعل چه مفرد
وي په ديکښې تصريف' او ړول راځي له حالت د افراد نه تثنيه توب او جمع توب حالت ته
لکه ضارب. نو دا اسم فاعل ده او مفرد ده نو له دينه تثنيه جوړولے شي او ضاربان ويئلي
شي او کله ئې نه جمع جوړولے شي او ضاربون ويئلي شي او کله اسم فاعل مذکر وي لکه ضارب
نو له دې حالت د تذکير نه اړولے شي حالت د تانيث ته او ويئلي شي ضاربة. نو لکه چه ا
اسم فاعل له يو حالت نه ګرځولے شي بل حالت ته نو په دې تصريف او ګرځولو کښې ورسره
صفت مشبه مشابه ده، چه دا هم له حالت د افراد نه تثنيه توب او جمع توب ته ګرځولے شي
لکه حسن نو دا صفت مشبه ده او مفرد ده نو د افراد د حالت نه کله تثنيه توب ته ګرځولے
شي او حسنان ويئلي شي او کله د جمع توب حالت ته ګرځولے شي نو حسنون او حسانٌ
ويئلي شي، او دغه شان د حالت د تذکير نه حالت د تانيث ته ګرځولے شي لکه حسن مذکر
ده نو له دينه مؤنث جوړولے شي او ويئلي شي حسنة، او دوئيم امر چه په هغې کښې صفت
مشبه مشابه ده د اسم فاعل سره هغه دا خبره ده چه دا هم واحد دلالت کوي په ذات
مع الوصف بانى. نو اسم فاعل هم په ذات مع الوصف بانى دلالت کوي او صفت مشبه هم
په ذات مع الوصف بانى دلالت کوي مثال لکه ضارب نو دا اسم فاعل ده او معنىٰ يې
ذات من له الضرب ده او حسن صفت مشبه ده او معنىٰ يې ذات من له الحسن ده، نو
هر کله چه صفت مشبه په دې دوه شيانو کښې مشابه ده د اسم فاعل سره نو ځکه ورته
صفت مشبه وائي.

وفيها تفصيل طويل لايليق بهذه الرسالة فليطلب فى المطولات الخ: ذده کړه دا
خبره چه "ها" ضمير مؤنث چه په فيها کښې موجود ده صفت مشبه ته راجع ده نو معنىٰ د
کلام د شارح دا ده چه په صفت مشبه کښې اوږد تفصيل ده، چه هغه لائق نه ده زمونږ
دې رسالې سره چه دا شرح ده. نو هغه تفصيل عبارت ده له تقسيم د صفت مشبه
نه، نو صفت مشبه څخه کوم کښې په دوه قسمه ده. اول قسم هغه ده چه مجرد وي له
الف لام نه لکه حسن او دوئيم قسم هغه ده، چه وي بانى الف لام داخل وي لکه الحسن

او دَدِے معمول پخپل کوړ کښې په درے قسمه دے اول قسم هغه دے چه ورباندې الف لام داخل وی فقط لکه الوجه او دویم قسم هغه دے چه اضافت ئے شوے وی فقط لکه وجهه، نو دا وجه معمول دے او اضافت ئے شوے دے ضمیرته او دریم قسم هغه دے چه دا معمول مجرد وی له الف لام او اضافت دواړو نه لکه وجه، نو دا وجه خالی دے الف لام او له اضافت دواړو نه، نو هر کله چه په صفت مشبه کښې دوه اقسام جوړشو، او په معمول د صفت مشبه کښې درے اقسام جوړشو، نو دوه ته شپږ اقسام جوړیږی او مثالونه دَدِے اقسامو دادی حسن الوجه، حسن وجهه، حسن وجه. نو دارے مثالونه درے دی چه صفت مشبه چه حسن دے مجرد دے له الف لام نه، او بیاً په دِے اول مثال کښې دا معمول معرفه دے په الف لام سره او په دویم مثال کښې معمول مضاف دے ضمیر ته او په دریم مثال کښې معمول خالی دے هم له الف لام نه او هم له اضافت نه، نو دارے مثالونه لپاره ددے درے اقسامو شو، او باقی درے نور مثالونه دادی: الحسن الوجه، الحسن وجهه، الحسن وجه. او دا درے ددے مثالونه دی چه په صفت مشبه باندې الف لام داخل وی. او بیا په اول مثال کښې معمول معرفه دے په الف لام سره او په دویم مثال کښې معمول معرفه دے په اضافت سره ضمیرته او په دریم مثال کښې معمول مجرد دے له الف لام او د اضافت دواړو نه. او بیا په اعراب دَدِے معمول کښې درے احتماله دی اول احتمال دا دے چه مرفوع شی، او دویم احتمال دا دے چه منصوب شی او دریم احتمال دا دے چه دا معمول مجرور شی. نو چه دا معمول مرفوع شی نو رفع به بناء په دِے باندې وی چه دا معمول به فاعل وی لپاره د صفت مشبه، او چه معمول منصوب شی نو نصب به بناء په دِے باندې وی چه دا معمول مشابه دے د مفعول به سره او عین مفعول به به ځکه نه وی چه دَ صفت مشبه د پاره مفعول نهٔ وی. او چه معمول مجرور شی نو جر به بناء په دِے باندې وی چه معمول به مضاف الیه وی لپاره د صفت مشبه، نو چه دِے درېو اقسامو ته ضرب ورکړے شی په شپږ واقسامو کښې نو ورته اتلس اقسام حاصلیږی. چه درے اقسام دا دی چه حسن الوجهُ، او درے نور اقسام دادی حسن وجههُ او نور درے اقسام دادی چه حسن وجهٌ. او درے نور اقسام دادی چه الحسن الوجهُ. او درے نور اقسام دادی چه الحسن وجههُ. او درے نور اقسام دادی چه الحسن وجهٌ. نو دا شپږ درے کوټه چه سره جمع شی، نو ورته اتلس اقسام جوړیږی او بیا دا اتلس اقسام په خپل کوړ کښې په پنځو اقسامو باندې تقسیم شوی دی. اول

قسم په دویکښې هغه اقسام دي چه ممتنع وي او دویم هغه اقسام چه اختلاف وي پکښې او دریم قسم هغه چه احسن وي. او څلورم هغه چه حسن وي. او پنځم هغه چه قبیح وي نو دوه اقسام په دې اتلسو اقسامو کښې ممتنع دي اول قسم الحسن وجهه ده چه الحسن مضاف ده وجه ته او وجه مضاف ده ضمیر ته او دویم قسم الحسن وجه ده. نو د الحسن مضاف ده وجه ته. نو اول قسم ځکه ممتنع ده ځکه چه د الحسن اضافت وجه ته اضافت لفظي ده او فائده په اضافت لفظي کښې یا تخفیف را وستل وي په لفظ د مضاف کښې او یا تخفیف را وستل وي په لفظ د مضاف الیه کښې او په الحسن وجهه کښې په اضافت سره تخفیف په لفظ د مضاف کښې هم نۀ ده راغلې ځکه چه تنوین چه له الحسن نه حذف شوید ه نو له وجه د الف لام نه حذف شوی ده، له وجه د اضافت نه، نۀ ده حذف شوې. او په لفظ د مضاف الیه کښې هم په اضافت سره تخفیف نۀ ده راغلې ځکه چه په اضافت لفظي سره په لفظ د مضاف الیه کښې تخفیف په دې شان باندې راځي چه د لفظ د مضاف الیه نه تنوین حذف شي او مستتر شي په مضاف کښې او په الحسن وجهه کښې تنوین د مضاف الیه نۀ ده حذف شوې بلکه پکښې موجود ده او وجه لپاره د امتناع د الحسن وجه دا ده چه الحسن منحول ده لپاره د لام او وجه نکره ده او اضافت د هغه کلمې چه منحول وي لپاره د لام باطل ده هغه کلمې ته چه هغه نکره وي اګر چه د لام چه په الحسن کښې ده لام تعریف نۀ ده بلکه لام اسمي ده په معنٰی د الذي سره ده. خو لکن صورت د دې لام صورت د لام تعریف ده نو له دې وجه نه د الحسن اضافت وجه ته باطل ده. او په دې اتلسو اقسامو کښې په یو قسم کښې اختلاف واقع شوید ه چه هغه حسن وجهه ده په اضافت د حسن سره وجه ته نو په دې کښې دوه مذهبه دي اول مذهب دا ده چه دا نۀ ده صحیح ځکه چه په دې کښې اضافت د شئ راغلید ه خپل نفس ته او اضافت د شئ خپل نفس ته باطل ده او دا اضافت د شئ خپل نفس ته ځکه په دې کښې راغلیده چه د احسن بعینه وجه ده نو هر کله اضافت د شئ خپل نفس ته او وجه د دواړه متحد شول نو د حسن اضافت وجه ته دا اضافت د شئ ده خپل نفس ته، او اضافت د شئ خپل نفس ته ځکه باطل ده، چه اضافت یو نسبت ده، دا تقاضا د تغایر کوي په مابین د منتسبینو کښې. او دویم مذهب دا ده چه دا صحیح ده، ځکه چه د احسن عام ده او دا وجه خاص ده نو اضافت د حسن وجه ته دا اضافت د عام ده خاص ته او اضافت د شئ نۀ ده خپل نفس ته او اضافت د عام خاص ته جائز ده. او احسن په دې اتلسو اقسامو کښې هغه اقسام دي نو د احسن وجهه هم جائز ده.

چه په هغوئ کښې يو ضمير وي چه هغه يا په صفت کښې موجود وي لکه زيدٌ حسن الوجه نو دلته يو ضمير دی چه په حسن کښې مستتر دی او راجع دی موصوف ته چه زيد دی او په معمول کښې چه وجه دی ضمير نشته. او يا چه هغه ضمير په معمول کښې موجود وي لکه د دې وويل شي چه زيدٌ حسنٌ وجهه نو ديکښې هم يو ضمير دی چه په معمول کښې دی او مضاف اليه واقع شوی دی لپاره د معمول او په حسن کښې ضمير نشته، او دا اقسام چه يو ضمير پکښې وي ځکه احسن دي چه دا اقسام مشتمل دي په هغه شي باندې، چه کوم شي ته احتياج دی ځکه چه په صفت مشبه کښې احتياج دی ضمير ته چه هغه دَ دې صفت ربط قائم کړي د موصوف سره، بيا برابره خبره ده که دا ضمير په نفس صفت مشبه کښې وي او که په معمول د دې کښې دی، او په دې اقسامو کښې زيادت نشته په قدر د احتياج باندې ځکه احتياج يو ضمير ته دی نو په دې باندې زيادت نشته د دويم ضمير. او حسن هغه اقسام دي په اتلس اقسامو کښې چه په هغوئ کښې دوه ضميرونه وي يو په صفت مشبه کښې وي او بل په معمول کښې وي لکه زيدٌ حسنٌ وجهه، نو چه په دې مثال کښې يو ضمير په حسن کښې مستتر شي او ئايد ته راجع شي او دويم ضمير په وجهه کښې بارز شي چه مضاف اليه واقع شوی دی لپاره د وجه او راجع دی موصوف ته، نو دا اقسام چه دوه ضميرونه پکښې وي ځکه حسن دي چه دا مشتمل دي په هغه شي باندې چه کوم شي ته احتياج دی چه هغه ضمير د موصوف دی، او احسن ځکه نه دي ځکه چه مشتمل دي په زيادت باندې له هغه قدر او اندازې نه چه کوم قدر او اندازه ته احتياج دی ځکه چه دا دويم ضمير زيات دی دَ حاجت نه، ځکه چه د ربط قائمولو دپاره يو ضمير کافي دی او دويم ضمير ته هيڅ حاجت نشته، او قبيح هغه اقسام دي په دې اتلس اقسامو کښې چه په هغوئ کښې په حسن کښې ضمير نه وي موجود مثال لکه حسن الوجهُ په رفع د وجه باندې، نو په دې صورت کښې په حسن کښې ضمير نشته ځکه هرکله چه دا وجه مرفوع شو او فاعل شو لپاره د حسن نو بيا په حسن کښې ضمير نه وي، نو دا اقسام چه ضمير پکښې نه وي جائز دي خو لکن سره د قبح نه په دې شان چه قبح پکښې موجود دی.

تنبيه :- زده کړه دا خبره چه دا حسن وجهه په هغه وقت کښې حسن او يا احسن دی، چه حسن صفت مشبه پکښې نه وي مضاف بلکه وجه مرفوع وي او يا مجرور وي ځکه چه دا وجه مجرور شي په اضافت سره نو بيا دا مختلف فيه دی يعني اختلاف پکښې واقع شوی دی چه صحيح دی او که نه دی صحيح.

قوله هفتم اسم تام باشد ناصب تمیز را وهو فی اللغة تام کرده شده وفی الاصطلاح کل اسم تم بالتنوین اومایقوم مقامه من نونی التثنیة والجمع الخ: غرض د شارح په دې عبارت خیل کښې بیان د معنی لغوی او اصطلاحی د اسم تام دے، چه اسم تام هم یو عامل دے له عواملو قیاسیه نه، نو شارح وائي چه اسم تام په لغت کښې تمام کرده شده ته وائي یعني هغه اسم ته وائي چه پوره کړے شوے وي. او په اصطلاح کښې عبارت دے له کل اسم تم بالتنوین اومایقوم مقامه من نونی التثنیة والجمع اویکون فی آخره مضاف الیه "نه"، یعنی هر هغه اسم دے چه تام شوے وي په تنوین سره یا په قائم مقام د تنوین سره چه هغه عبارت دے له دوه نونونو نه اول نون د تثنیه دے او دویم نون د جمع دے. او یا به په آخر د دے اسم کښې مضاف الیه وي. نو اسم چه تامیږي دا په یو د څلورو امورو سره تامیږي اول امر تنوین دے. دویم امر تثنیه دے. دریم امر نون د جمع دے او بیا د انون د جمع عام دے که دا په هغه اسم کښې وي چه هغه اسم معنیً جمع وي لکه مسلمون او که صورةً جمع وي لکه عشرون. نو دا مسلمون حقیقةً جمع دے ځکه چه مفرد لري چه مسلم دے او عشرون صورةً جمع دے او په حقیقت کښې جمع نه دے ځکه چه عشرون مفرد نلري ځکه دا عشرون جمع د عشرة نه دے چه دا عشرة وي ته مفرد شي. او څلورم امر مضاف الیه دے چه اسم ورباندې تامیږي. او په دې امورو سره اسم ځکه تامیږي، چه تام کیدل د اسم عبارت دي له دینه چه اسم وګرځي وي په داسې حالت باندې چه اضافت د ده د دې حالت سره محال وي نو چه په کوم اسم باندې تنوین وي نو هغه سره د دې تنوین نه نشي مضاف کیدلے ځکه چه په اضافت کښې دا شرط دے چه مضاف به مجرد او خالی وي له تنوین نه، ځکه چه تنوین، په انفصال باندې دلالت کوي او اضافت په اتصال باندې دلالت کوي او په مابین د اتصال، او انفصال کښې منافات دے نو چه په کوم اسم باندې تنوین وي، نو هغه نشي مضاف کیدے. او په نون د تثنیه او نون د جمع سره ځکه اسم تامیږي، چه په کوم اسم کښې نون د تثنیه او یا نون د جمع موجود وي، هغه نشي مضاف کیدلے، ځکه چه په مضاف کښې دا شرط دے چه مجرد او خالی به وي له نون د تثنیه او نون د جمع نه، او په اضافت سره ځکه اسم تامیږي، ځکه چه اضافت شي، نو دوباره نشي مضاف کیدلے بل شئ ته، ځکه چه اضافت چه یو اسم یو ځل مضاف شي، نو دوباره نشي مضاف کیدلے بل شئ ته، ځکه چه اضافت د یو شئ د دوه شیانو ته په طریقه د استقلال سره په یو حالت کښې باطل دے. نو لکن په دې باندې یو اعتراض وارد یږي، حاصل د اعتراض دا دے چه د ماته به وښایئ، چه یو شئ به وي او مضاف شوے به وي د دوه شیانو ته په یو حالت کښې په جدا جدا اضافتو سره

مثال لکه کل فردٍ فردٍ، نو اول فردٍ هم مجرور دے له دے وجه نه چه مضاف الیه واقع شوی دے لپاره دکل لفظ او دا دویم فرد هم مجرور دے له دے وجه نه چه دا هم مضاف الیه واقع شوی دے لپاره دَکل نو دا یو کل په یو حالت کښې په دوه اضافتو نو سره مضاف شوی دے ځکه چه دا کل فرد ته مضاف نه وایے لکه چه اول فرد ته مضاف دے نو بایده چه دا دویم فرد نه وے مجرور، ځکه چه په دے مقام کښې د جرد پاره دا اضافت نه بغیر بل څه وجه نشته او جواب له دے اعتراض نه دا دے چه په کل فردٍ فردٍ کښې دا کل اول فرد ته مضاف دے نو دَدے اول فرد جر له وجه د اضافت نه دے او دویم فردٍ ته دا کل نه دے مضاف او دا جر دَدے دویم فردٍ ته چه حاصل دے دا له وجه دَدے نه ورته حاصل دے چه دا دویم فرد معطوف دے په اوّل فردٍ باندے، او حرف عاطف چه واؤ دے مقدر دے نو تقدیر دعبارت دا دے چه کل فردٍ وفردٍ، او هر کله چه دا دویم فرد معطوف شو په اوّل فردٍ باندے، نو دا به ضرور مجرور وی، ځکه چه معطوف په اعراب کښې تابع د معطوف علیه وی

وعمله النصب علی التمیز ومدخوله النکرة فقط الخ: غرض د شارح په دے عبارت کښې بیان دَعمل دَاسم تام دے، نو شارح وائی، چه عمل د اسم تام دا دے چه دا نصب ورکوی خپل مدخول ته او مدخول دَدے اسم به نکره وی، نو په دے اسم تام کښې هم په اعتبار د عمل سره اختصاص دے، په دے شان چه عمل دَدے اسم تام نصب دے فقط او رفع او جر نه دے. او هم په دے اسم تام کښې په اعتبار د مدخول سره اختصاص دے په دے شان چه مدخول دَدے اسم تام نکره دے فقط او په نکره باندے داخلیږی او په معرفه باندے نه داخلیږی او نصب چه خپل مدخول ته ورکوی نو دا نصب به بناء بر تمیز وی یعنی دا تمیز به منصوب وی بناء په دے چه دا به تمیز وی لپاره دَدے اسم تام. مثال لکه عندی رطل زیتا نو دا رطل اسم تام دے او تام شوی دے په تنوین باندے او دے زیتا ته یے نصب ورکړے دے. او دا تمیز دے لپاره د رطل. او په دے باندے هغه نون اسماء تامه وو قیاس دی، چه هغوی یا تام شوی وی په نون د تثنیه باندے لکه منوان سمنا او یا تام شوی وی په نون د جمع باندے لکه عشرون درهما. او یا تام شوی وی په اضافت سره لکه علی التمرة مثلها زبدا. نو په اول مثال کښې دا منوان اسم تام دے په نون د تثنیه سره نو نصب یے ورکړے دے سمنا ته او دا ورته تمیز دے او منوان ورته نصب ورکړے دے. او په دوّیم مثال کښې عشرون اسم تام دے په نون د جمع سره او درهما ورته تمیز دے او عشرون ورته نصب ورکړے دے او په دریم مثال کښې مثل لفظ اسم تام دے او تام شوی دے په اضافت سره، چه د مثل اضافت شوی دے ها ته

او نصب یې ورکړیده زیداً ته او داوړه ته تمیز ده. په دې عمل د اسم تام باندې معترض اعتراض کوي

حاصل د اعتراض دا دی، چه عامل خو یا هغه شئ وي، چه فعل وي یا مشابه وي د فعل سره لکه اسم فاعل او دا اسم تام نهٔ فعل دی او نهٔ مشابه دی د فعل سره نو د ده عمل کول باطل دی نو په څهٔ وجه اسم تام ته تاسو عامل وایئ او عمل ورته ثابتوئ! او جواب دا دی چه دا تام اګرچه فعل نهٔ دی خو لکن مشابه دی د فعل سره په دې خبره کښې چه لکه څنګه چه فعل تامیږي په فاعل سره، نو د غه شان اسم تام هم تامیږي په دې امورو اربعه سره چه تنوین او نون د تثنیه او نون د جمع او اضافت دي. نو هر کله چه دا اسم تام مشابه شو د فعل سره نو ده ته عامل ویل هم صحیح دي او ده ته عمل ثابتول هم صحیح دي.

فانقیل کثیر من الاسماءِ تتم بتنوینٍ نحو رجل و فرس ولم یسم بالاسم التام وایضاً لایکون ناصباً الخ: حاصل د دې اعتراض دا دی چه ډیر اسماءُ نهٔ تامیږي په تنوین سره لکه رجل او فرس. نو دا دواړه تامیږي په تنوین سره، ځکه چه په دوئ باندې کله تنوین راشي، نو بیا د دوئ اضافت په حالت د تنوین کښې نشي کیدلے او حال دا دی چه دې دواړو ته اسم تام هم نشي ویلی او د دوئ نصب هم نهٔ ورکوي تمیز ته! نو جواب دا دی چه شارح ورکړیدہ په دې عبارت خپل سره چه:

قلنا الاسم التام هو الذی یتم بتنوین اوما یقوم مقامه الخ: حاصل د جواب دا دی چه اسم تام دیته وائي چه هغه به تام شوے وي په تنوین سره او یا په نون د تثنیه سره او یا په نون د جمع سره او یا په اضافت سره. خو لکن دا قید په دې اسم تام کښې هم معتبر دی چه دا اسم تام چه په کوم جنس باندې دلالت کوي نو هغه جنس به مبهم وي او تعین به پکښې نهٔ وي لکه رطل نو دا تام دی په تنوین سره خو لکن دا چه په کوم جنس باندې دلالت کوي هغه جنس مبهم دی، ځکه چه د رطل معنی ده نیم سیر، او دا نهٔ ده معلومه چه د څهٔ شئ نیم سیر. او دا ابهام ورانه وسته په تمیز سره دفع کیږي چه زیتاً دی. ځکه چه زیتاً دلالت کوي په دې خبره باندې چه دا نیم د تیلو دی ځکه چه زیت تیلو ته وائي نو هر کله چه په اسم تام کښې دا قید من کوړه معتبر شو نو رجل او فرس خارج شول د تعریف د اسم تام نه، ځکه چه دا دواړه چه په کوم جنس باندې دلالت کوي، هغه جنس مبهم نهٔ وي نو دې دواړو ته ځکه اسم تام نشي ویلی. او همدا رنګ دوی نصب نهٔ ورکوي.

.....((شعر)).....

عامل فعل مضارع معنوی باشد بدان !
هم چنین معنوی بود عامل یقین در مبتداء !
دولت و اقبال و جاه شاهزاده برکمال !
در تضاعف باد دا ئم ختم کردم بر دعا !

هر کله چه مصنف فارغ شو د بیان د عواملو لفظیه نه، نو شروع یے وکړه په بیان د عوامل معنویه کښ. او په سر ډیے کتاب کښ عوامل تقسیم شوی وه دوه اقسامو ته اول قسم عوامل لفظیه وه او دویم قسم عوامل معنویه وه. او بیا دا عوامل لفظیه تقسیم شوی وه دوه اقسامو ته اول قسم عوامل لفظی سماعی وه. او دویم قسم عوامل لفظی قیاسیه وه. او بیا دا عوامل لفظی سماعی یو دیاسه نوی عوامل وه. او عوامل لفظی قیاسی اوه عوامل وه او عوامل معنویه دوه عوامل وه نو غونډ سل عوامل وه نو اول ناظم بیان د عوامل لفظیه سماعیه وکړو په دیارلس انواعو کښ او بیا روسته یے بیان د عواملو لفظیه قیاسیه وکړو، او هر کله چه د دوی د بیان نه ناظم فارغ شو، نو شروع یے وکړه په بیان د عواملو معنویه کښ، نو عوامل معنویه دوه دی اول عامل معنوی د مضارع ده او دویم عامل معنوی د مبتداء خبر ده. نو عامل معنوی په ډیے دوه مواضعو کښ موجود ده چه اول موضع مضارع ده او دویم موضع مبتداء او خبر ده. نو معنی او ترجمه ډیے اشعارو دا ده چه ناظم وائی، چه عامل د فعل مضارع معنوی ده ځان وله باندې پوهه کړه. او هم دارنګ په مبتداء کښ هم عامل معنوی ده. او حکومت او بخت او مرتبه د شاهزاده د همیشه د پاره باقی وی په طریقه د کمال سره، او ما دا اشعار چه دا عوامل پکښ راجمع کړیدی ختم کړه په دعا سره پیاره د شاهزاده. او مراد له شاهزاده نه یا بادشاه ده او یا ځوئی د بادشاه ده چه ناظم دا عوامل پیاره د ځوئی د دهٔ راجمع کړی دی په ډیے اشعارو کښ.

تنبیه:- زده کړه دا خبره چه عامل د مبتداء او خبر کښ اختلاف واقع شویده په ډیے شان چه په عامل د دوی کښ دریے مذهبه دی. اول مذهب دا ده چه مبتداء او خبر دواړو عامل لفظی ده، په ډیے شان چه مبتداء عامل ده په خبر کښ او خبر عامل ده په مبتداء کښ. نو د مبتداء عامل هم لفظی شو ځکه چه عامل خبر ده او خبر لفظ ده او د خبر عامل هم لفظی شو، ځکه چه د خبر عامل مبتداء ده او مبتداء لفظ ده. او دویم مذهب دا ده چه د مبتداء او خبر دواړو عامل معنوی ده، چه هغه ابتداء

ده نو دا یو عامل معنوی چه ابتداء دے هم عمل کوی په مبتدا کښې او هم عمل کوی په خبر کښې او د ناظم کلام په ظاهر کښې دلالت کوی په دے خبره باندې چه ناظم د لته دا دویم مذهب غوره کړے دے چه هغه دا دے چه د مبتداء عامل معنوی دے چه ابتداء ده او د خبر عامل لفظی دے چه مبتداء ده ځکه چه مبتداء عامل دے په خبر کښې او مبتداء لفظ دے او کلام د ناظم ځکه دلالت کوی په دے خبره باندې چه دوئ دا دویم مذهب غوره کړے دے ځکه چه په بیان د عوامل معنویه کښې ناظم ذکر د مبتداء کړے دے او د خبر ذکر ئے نه دے کړے ځکه ناظم دا ئے وئیلی دی چه "همچنین معنوی بود عامل یقین در مبتدا" نو د مبتداء ذکر ناظم په دے نظم کښې کړے دے او د خبر ذکر ئے نه دے کړے، نو له دینه په اعتبار د ظاهر سره دا معلومیږی چه د مبتداء عامل معنوی دے فقط او د خبر نه دے، خو لکن په کلام سابقه د ناظم کښې چه تامل صحیح وکړے شی، نو دا واضحه معلومیږی چه د ناظم په نیز د باندې دا دریم مذهب غوره دے او دریم مذهب ئے مختار کړے دے. ځکه چه که د دوئ په نیز باندې دا خبره ثابته وے چه د مبتداء عامل معنوی دے او د خبر عامل لفظی دے چه دا مبتداء ده، نو ناظم چه باید د مبتداء ذکر کړے وے په عوامل لفظیه کښې او حال دا دے چه ناظم د مبتداء ذکر په عوامل لفظیه کښې نه دے کړے. او هم ارنګ که چرته دا مبتداء عامل شی لپاره د خبر نو بیا خو عوامل یو د پاسه تسل جوړیږی. او حال دا دے چه عوامل په نیز د ناظم باندې تسل دی نو معلومه شوه چه په نیز د ناظم باندې د مبتداء او د خبر د دواړو عامل معنوی دے او په دے شعر کښې ناظم د مبتداء ذکر کړے دے او د خبر ذکر نه دے کړے، ځکه چه خبر د مبتداء نه را ځمیږی ځکه چه د مبتداء او د خبر په مابین کښې تلازم دے یعنی دوئ دواړه د یو بل سره لازم دی.

فانقیل هذا مناقض لما سبق من ان الحروف النواصب والجوازم ایضا عوامل لفظیة

دا اعتراض وارد دے په دے خبره باندې چه د مبتداء او خبر عامل معنوی دے حاصل د دے اعتراض دا دے چه معترض وائی چه دا خبره ستاسو چه عامل د مبتداء او د خبر معنوی دے مناقضه ده د هغه خبرے او کلام ستاسو سره چه هغه مخکښې تیر شویدی چه هغه دا دے چه حروف نواصب او حروف جوازم عوامل دی لپاره د مبتداء نو هر کله چه حروف نواصب او حروف جوازم عوامل شوه لپاره د مضارع. نو له دینه دا معلومیږی چه عوامل د مضارع لفظی دی ځکه چه حروف نواصب او حروف جوازم الفاظ دی او دے موجود دے کلام ستاسو نه معلومیږی، چه عامل د مضارع معنوی دے نو دا نه دے،

مگر تناقض ده ستا سو د کلامینو په مابین کښې، لهٰذا شارح جواب په دې عبارت سره ورکړو.

قلنا المراد من العامل المعنوی للمضارع عامل الرفع لا مطلقا الخ: حاصل د جواب دا دې، چه مراد له عامل معنوی نه چه موږ په دې مقام کښې ذکر کړې ده هغه عامل د رفع ده یعنی هغه عامل چه رفع ورکوی مضارع ته هغه معنوی ده او په کلام سابقه کښې چه موږ داوئیلی دی چه حروف نواصب او حروف جوازم عوامل دی لپاره د مضارع نو مراد د حروفو نواصبو عوامل د نصب د مضارع دی چه دا حروف ناصبه مضارع ته نصب ورکوی او مراد له حروفو جازمه نه عوامل د جزم د مضارع دی. نو دا معنوی چه ده دا عامل د رفع د مضارع ده او دا لفظی چه دی دا عوامل د نصب او د جزم دی نو په کلامینو د موږ کښې هیڅ تناقض نشته، نو اعتراض دفع شو.

وفيه خلاف فعند البصريين العامل هو وقوعه موقع اسم الفاعل وعند الكوفيين تجرده عن الناصب والجازم الخ: غرض د شارح بیان د هغه اختلاف ده چه واقع ده په مابین د بصریانو او کوفیانو کښې په عامل معنوی د مضارع کښې، نو د دوئ په دې خبره کښې اتفاق ده چه عامل د رفع د مضارع معنوی ده، یعنی هغه عامل چه مضارع ته رفع ورکوی هغه معنوی ده نو لکن د دوئ په مابین کښې اختلاف په تعین د عامل معنوی کښې واقع شوې ده، نو بصریان وائی چه عامل معنوی د مضارع عبارت ده له وقوع د مضارع نه په ځائ د اسم فاعل باندې. یعنی وقوع د مضارع په ځائ د اسم فاعل باندې دا عامل معنوی ده لپاره د مضارع او مضارع ته رفع ورکوی مثال لکه جاء نی رجل یضرب نو په دې مثال کښې دا یضرب واقع ده په ځائ د اسم فاعل باندې، چه هغه ضارب ده ځکه چه وئیلی شی چه جاء نی رجل ضارب. او کوفیان وائی، چه عامل معنوی د فعل مضارع دا تجرد د فعل مضارع ده د عامل ناصبه او عامل جازمه نه یعنی چه مضارع خالی شی د عامل ناصبه او د ناصبه او د عامل جازمه نه مثال لکه یضرب. نو دا یضرب فعل مضارع ده او مجرد او خالی ده د عامل ناصبه او د عامل جازمه نه، نو دا خالی والې د مضارع عامل معنوی ده لپاره د دې مضارع او رفع ورکوی فعل مضارع ته، نو دا یضرب چه مجرد ده د عامل ناصبه او جازمه نه او همدغه تجرد ورته رفع ورکړې ده. او په مذهب د بصریانو باندې د دې اعتراضونه واردیږی. د اول اعتراض حاصل دا ده چه تاسو بصریان دا وایئ، چه وقوع د مضارع په ځائ د اسم فاعل باندې عامل معنوی ده، او مضارع ته رفع ورکوی، دا ته به وښایم چه ډیر ځله به مضارع واقع نه وی په ځائ د اسم فاعل باندې او مرفوع به وی مثال لکه

الذی یضرب. اویقوم الزیدان. نو په اول مثال کښې یضرب فعل مضارع ده او واقع نه ده په ځای داسم فاعل باندې او مرفوع ده. او په دویم مثال کښې یقوم مضارع ده او واقع نه ده په ځای داسم فاعل باندې او مرفوع ده. نو کله چې نه وقوع د مضارع په ځای داسم فاعل باندې عامل معنوي وې لپاره د فعل مضارع او فعل مضارع ته یې رفع ور کولې نو باید چې په الذی یضرب اویقوم الزیدان کښې دا مضارع نه وې مرفوع ځکه چې په دې دوه مثالونو کښې دا وقوع نشته، او حال دا ده چې دا مضارع مرفوع ده په دې دواړو مثالونو کښې! او جواب له دې اعتراض نه دا ده چې مونږ دا خبره چې په دې مذکورو دوه مثالونو کښې مضارع نه ده واقع په ځای داسم فاعل باندې بلکه دا مضارع واقع ده په ځای داسم فاعل باندې. ځکه چې الذی یضرب په اصل کښې الذی ضارب ؤ او بیا د ضارب په ځای باندې فعل مضارع واقع شوی ده چې یضرب ده. اویقوم الزیدان په اصل کښې قائمان الزیدان وه او دا قائمان صیغه داسم فاعل ده نو په دې دواړو مثالونو کښې دا مضارع واقع ده په ځای داسم فاعل باندې. نو هر کله چې په دې دواړو مثالونو کښې دا وقوع شته نو دې مضارع ته رافع وا کول صحیح دی ځکه چې عامل موجود ده. دویم اعتراض دا ده چې نه مونږ دا خبره چې یقوم په یقوم الزیدان کښې واقع ده په ځای د قائمان باندې، ځکه چې قائمان معرب ده په اعراب بالحرف باندې چې الف ده ځکه چې قائمان تثنیه ده او د تثنیه حالتِ رفعی په الف سره وی او دا یقوم معرب ده په اعراب بالحرکة سره چې ضمه ده، نو د دې دواړو ترمینځه اتحاد فی الاعراب نشته. نو دا یو چې یقوم ده نشي قائم کیدلې په ځای د بل باندې چې قائمان ده. او جواب له دینه دا ده، چې وقوع د یو شي په ځای د بل شي باندې تقاضا د اتحاد فی الاعراب نکوی یعنی دا شرط نه ده په وقوع د یو شي کښې په ځای د بل شي باندې چې دواړه دې متحد وی په اعراب کښې بلکه دا جائزه ده چې یو شي دې قائم شي په ځای د بل شي باندې اگرچه اتحاد به نه وی په اعراب کښې، نو دلته هم دا یقوم قائم او واقع ده په ځای دقائمان باندې اگرچه که دې دواړو په مابین کښې اتحاد فی الاعراب نشته، نو چې کله تقدیر د اسم وکړې شي او قائمان الزیدان دویل شي، نو بیا اعراب بالحرکت موجود وی. دریم اعتراض دا ده چې د رته به وښایو چې وقوع د مضارع په محال وی، په مقام داسم فاعل باندې. او بیا به هم دا مضارع مرفوع وی مثال لکه "سیقوم زید" او "سوف یقوم زید" نو په دې دوه مثالونو کښې دا مضارع یقوم ده په اول مثال

کبنې ورې بانې سین داخل شوید ه او په دویم مثال کبنې ورې بانې سوف داخل شوید ه او د امضارع نهٔ ده واقع په ځائې د اسم فاعل بانې، ځکه چه د امضارع مدخول د سین او د سوف ده او په اسم فاعل بانې سین او سوف نهٔ داخلیږی نو په دے دوه مثالونو کښې وقوع نشته او حال داده چه رفع موجود ده نو کله چې رته دا وقوع عامل معنوی و لپاره د رفع د مضارع نو بایې چه د امضارع نهٔ وے مرفوع او حال داده چه دا مرفوع ده! او جواب داده چه مضارع په دے مثال کبنې چه زید یضرب واقع ده په ځائې د ضارب بانې ځکه چه په اصل کبنې زید ضارب وه نو هر کله چه په دے ماده کبنې دا وقوع متحققه ده او رفع ورې ته ورکړے شوید ه، نو نورې مواضع اگرچه په هغوئ کبنې به دا وقوع نهٔ وی و بانې حمل دی په دے مواضعو بانې لپاره د دے چه اطراد راشی په دے باب کبنې نو دا سیقوم او سوف یقوم حمل دی په دے ضارب بانې نو ځکه سیقوم او سوف یقوم ته رفع ورکړے شوید ه اگرچه په دے دواړو کبنې دا وقوع هم نهٔ ده متحققه. او په مذهب د کوفیانو بانې یو اعتراض واردیږی هغه دا چه دا تجرد د عامل بلل لپاره د فعل مضارع په حالت رفعی کبنې باطل ده، ځکه چه عامل مؤثر وی په ورې کولو د اعراب کبنې او د ا تجرد او خلو د عامل ناصبه او جازمه نه امر عدمی ده او امر عدمی مؤثر نشی جوړیدلے نو دا تجرد او خلو عامل نشی کیدلے لپاره د رفع د مضارع. او جواب داده چه دا عوامل په کلام د عربو کبنې علامات دی او مؤثرات نهٔ دی، ځکه چه مؤثر په رفع او نصب او جر کبنې متکلم ده او عامل نهٔ ده او امر عدمی چه خاص وی علامه جوړیدے شی، نو د لته هم دا تجرد او خلو اگرچه امر عدمی ده عامل جوړیدے شی لپاره د رفع د مضارع، نو اعتراض دفع شو!

وبهذا تم بيان العوامل اللفظية والمعنوية ثم الحق بها بعض الطلبة غير ناظم عدة ابيات والالحاق وان لم يكن من المصنف لكن فيه فائدة كثيرة الخ: زده کړه دا خبره چه د ناظم مصنف اشعار په دے شعر بانې ختم شول چه "عامل فعل مضارع معنوی باشد بدان الى آخره. او په دے اشعارو او بیتونو د ناظم کبنې بیان د ټولو عوامل لفظیه او معنویه شوید ه. او له دے اشعارو نه ورې وسته چه کوم اشعار راروان دی نو دا له طرفه د ناظم نه نهٔ دی، بلکه بعض طالبانو ورې سره نښلولی دی او د ناظم د اشعارو سره یے ملحق کړیدی. او په اشعارو د بعض طالبانو کبنې بیان د عواملو نهٔ ده شوے بلکه بیان د حروف عاطفه ده چه هغوئ عوامل نهٔ دی بلکه حروف غیر عامله دی او په کبنې بیان د فرق شوید ه په مابین د إن مكسوره او د أن مفتوحه کبنې. نو دا الحاق

د طرفه د مصنفانو نهٔ دهٔ شوے بلکه د طرفه د بعضِ طالبانو نه شویدهٔ خو لکن په دے
کښ زیاته فائده ده.

شعر

گر حروفِ عطف خواهی بے خلل !

یاد گیر این نظم بیخوان در محل !

واو فا و ثُمَّ حتّٰی نیز اَوْ !

یا اَمْ واِمّا ولٰکِنْ لَا وبَلْ !

ترجمه: کهٔ چرته غواړے چه زده کړے حروف عطف بغیر د څهٔ خلل نه، نو یاد کړه دا نظم
او دا نظم او وایه په محل د استعمال کښ چه هغه نظم دا دهٔ چه حروف عطف یکښ،
ذکر دی واو فا وثم ترا آخره پورے.

وانما سمیت هذه الحروف عاطفةً لان العطف فی اللغة الامالة الخ: غرض د شارح
په دے عبارت سره بیان د وجه د تسمیه د حروف عطف ده په عاطفه سره نو حاصل د
وجه د تسمیه دا ده چه دوئ ته ځکه عاطفه وائی، چه عاطفه مشتق ده د عطف نه او
عطف په لغت کښ اماله ته وائی، یعنی یو شیٔ را مائل کول طرف د بل شیٔ ته او دا حروف
هم معطوف مائل کوی طرف د معطوف علیه ته، نو دا حروف سبب دی لپاره د عطف،
چه د عطف معنی ده اماله. نو دے حروفو ته عاطفه وئیل له قبیلے د تسمیه د سبب نه ده
په اسم مشتقه من المسبب سره ځکه چه دا حروف عاطفه سبب دی لپاره د عطف او
دا عاطفه اسم ده او مشتق ده له دے عطف نه نو دے حروفو ته عاطفه وئیل تسمیه د
سبب ده په اسم مشتقه سره چه عاطفه ده چه دا مشتق ده د مسبب نه چه عطف ده.

وهی عند الجمهور عشرة کما صرح به الناظم فی البیت واما عند البعض فاربعة فقط الخ
غرض د شارح په دے عبارت سره بیان د اختلاف ده په مابین د جمهور او بعضو نحاتو
کښ په عدد او شمار د حروف عاطفه کښ. نو د جمهور ومذهب دا ده چه حروف عاطفه
لس دی. لکه په دے مذکښ بیت کښ وړ بانی تصریح کړیده بعضِ طلبه وُ. او شارح چه
وئیلی دی کما صرح به الناظم نو مراد له ناظم نه بعضِ طلبه دی. ځکه چه دا مذکښ تصریح
چه په حروفِ عاطفه بانی شویده د ناظم بیت نهٔ ده بلکه د بعضِ طلبه بیت ده او کټ
هم په نکته کښ وئیلی دی، چه مراد له ناظم نه بعضِ طلبه دی. او دا نکته په شرح کښ
په سر د لفظ د ناظم بانی موجوده ده. او د بعضِ علماء مذهب دا ده چه حروف عاطفه
څلور دی فقط، چه اول واو ده او دویم فا ده او دریم ثم ده او څلورم حتّٰی ده او غوره

مذهب د جمهورو دی او اکثرو کتابونو د علم نحو هم دا مذهب د جمهورو غوره کړیدی.

تشریح:- زده کړه دا خبره چه اول حرف په دې حروفو عاطفه کښې واو دی او دا راځي لپاره د مطلق جمع بغیر د مقید کولو د دې جمع نه په ترتیب او تراخي باندې او په قِران او په تدریج باندې. مثال لکه جاءني زید وعمرو. نو دلته دا واو حرف عاطف دی او دا زید ورته معطوف علیه دی او عمرو ورباندې معطوف دی. او دا واو دلالت کوي په مطلق جمع والی د معطوف او د معطوف علیه کښې په حکم کښې. یعني واو په دې خبره باندې دلالت کوي، چه دا معطوف چه عمرو دی جمع دی د زید سره په حکم کښې چه مجیئت دی یعني دا مجیئت زید ته هم ثابت دی او عمرو ته هم ثابت دی او دا جمعیت مطلق دی په دې شان چه برابره خبره ده چه که د زید راتلل مخکښې وي او که د عمرو راتلل مخکښې وي. او برابره خبره ده که د دواړو په مابین کښې قِران یعني یو استوالی وي او که نه وي په را اتلو کښې. او برابره خبره ده که د دواړو راتلل په یو وقت کښې له د واړو نه صادر وي او که د دواړو په مابین کښې تدریج وي، چه د دواړو راتلل په یو ځای نه وي بلکه یو راغلی وي روسته د بل نه، نو معنی د واو مطلق جمعیت دی برابره خبره ده چه تراخي او قِران او ترتیب او تدریج ورسره وي او که نه وي. او دویم حرف د حروف عاطفه نه فا ده او دا راځي لپاره د جمعیت خو لکن دا جمعیت به مقید وي په ترتیب سره او په ترتیب کښې به تراخي او مهلت نه وي مثال لکه قام زید فعمرو. نو دلته دا فا حرف عاطف ده او زید ورته معطوف علیه دی او عمرو ورباندې معطوف دی. او فا دلالت کوي په جمعیت باندې په مابین د زید او د عمرو کښې، چه دا زید او عمرو جمع شویدي په فعل کښې چه قیام دی، خو لکن دا جمعیت مقید دی په ترتیب باندې، چه دا قیام دوی دواړو ته حاصل دی په ترتیب سره په دې شان چه قیام د زید مقدم دی د قیام د عمرو نه خو لکن په دې ترتیب کښې مهلت نشته یعني زید مقدم دی په قیام کښې د عمرو نه بغیر د تراخي نه، بلکه د دې دواړو د قیام په مابین کښې څه مهلت نشته، بلکه د عمرو قیام متصل دی تر قیام د زید پورې. او دریم حرف عاطف ثم دی او دا راځي لپاره د جمعیت خو لکن دا جمعیت به مقید وي په ترتیب باندې او په ترتیب کښې به مهلت او تراخي وي، مثال لکه دخل زید ثم عمرو، نو ثم حرف عاطف دی او زید ورته معطوف علیه دی او عمرو ورباندې معطوف دی. او ثم لپاره د جمعیت دی دلالت کوي په دې خبره باندې چه زید او عمرو په خپل کور کښې سره جمع دي په دې فعل کښې چه دخول دی یعني دا دخول د دواړو نه صادر دی، خو لکن په دې جمعیت کښې ترتیب شته

چه هغه داده چه دخول د زید نه مخکښې صادر دے او دعمرو نه روستو صادر دے او تراخي او مهلت پکښې شته، چه د زید دخول په مقدم دے په دخول د عمرو باندې، چه په مابین د دخول د زید او د دخول د عمرو کښې اتصال نشته، او شلورم حرف عاطف حتیٰ دے او دا په شان د ثم دے په جمعیت او ترتیب او مهلت کښې په دې شان چه په جاء زید حتی عمرو کښې حتی حرف عاطف دے او دلالت کوی په دې خبره باندې چه عمرو جمع دے د زید سره په مجیئت کښې او په مابین د دې دواړو کښې ترتیب شته، چه د زید مجیئت مقدم دے له مجیئت د عمرو نه او تراخي او مهلت هم پکښې شته په دې شان چه د عمرو مجیئت متصل نه دے تر مجیئت د زید پورې بلکه په دواړو مجیئتونو کښې مهلت موجود دے، خولکن دغه مهلت چه په حتی کښې وی دا مهلت به کم وی له هغه مهلت نه چه په ثم کښې موجود وی. نو فرق په مابین د حتی او ثم کښې په دې خبره کښې موجود دے چه مهلت د ثم زیات دے او مهلت د حتی کم دے نو دا حتی واسطه دے په مابین د فا کښې چه په هغې کښې مهلت نشته بلکه اتصال دے او په مابین د ثم کښې چه په دې کښې مهلت زیات دے. او حتی چه کله لپاره د عطف وی نو د (پکښې واجب دے چه معطوف به یې جزء وی لپاره د معطوف علیه برابره خبره ده که جزء قوی وی مثال لکه مات الناس حتی الانبیاء نو دا حتی لپاره د عطف ده او الناس معطوف علیه دے او الانبیاء وباندې وی عطف دے او انبیاء جزء دے لپاره د الناس خولکن دا جزء قوی د الناس دے. او که دا معطوف جزء ضعیف وی لپاره د معطوف علیه مثال لکه قدم الحاج حتی المشاة. نو دلته حتی لپاره د عطف دے او الحاج معطوف علیه دے (یعنی حاجیان) او مشاة وباندې عطف دے. او مشاة جمع د ماشی دے پیدل سفر کونکوته وائی. او مشاة جزء دے لپاره د الحاج، ځکه چه د مشاة نه مطلق مشاة نه دی مراد بلکه هغه حاجیان مراد دی چه هغوی پیدل راتګ کوی له سفر د حج نه او دا مشاة جزء ضعیف دے لپاره د الحاج. او پنځم حرف عاطف او دے او شپږم حرف عاطف اما دے او ووم حرف عاطف ام دے. دا درې واړه راځی لپاره د احد الامرین، یعنی دوی دلالت کوی په ثبوت د حکم باندې چه دا حکم ثابت دے په دوه امرونو کښې چه یو امر به معطوف علیه وی او بل امر به معطوف وی او هغه امر به مبهم وی او معین به نه وی مثال لکه جاءنی زید او عمرو، نو دلته دا او حرف عاطف دے او زید معطوف علیه دے او او دلالت کوی په دې خبره باندې چه دا حکم چه مجیئت دے ثابت دے یا زید ته یا عمرو ته خولکن تعین پکښې نشته بلکه ابهام دے پکښې. او بل مثال لکه مررت برجلٍ او امرأةٍ

په دے او بانډې اما او ام وړ قیاس دی چه دا دواړه هم دلالت کوی په ثبوت دَحکم بانډې
چه دا حکم ثابت دے یو د دوؤ امرینو ته خو لکن اما په هغه وقت کښې لپاره دعطف راځی
چه کله مخکښې له دینه بل اما ذکروی مثال لکه العدد اما زوج واما فرد نو دا دویم اما
لپاره دعطف دے ځکه چه مخکښې له دینه اما موجود دے په العدد اما زوج کښې او چه کله
وړاندې مخکښې بل اما نۀ وی موجود، نو بیا دا اما لپاره دعطف نۀ راځی. او "اَم" په خپل
کورکښې په دوؤ قسمه دے اول قسم ام متصله دے او دویم قسم ام منقطعه دے. ام
متصله عبارت دے له هغه اَمْ نه چه په دے سره به سائل سوال کوی لۀ تعین دا حد
الامرینو نه، چه سائل ته به علم حاصل وی په دے خبره بانډې چه دا حکم یو امر ته ثابت
دے خو لکن دا امر به مبهم وی، او سائل به په دے اَمْ سره سوال دتعین نه کوی نو له
دے وجه نه به په جواب کښې وړاته نعم نشی ویلی، ځکه چه نعم خو دلالت کوی په دے خبره
بانډې چه دا حکم یو امر ته ثابت دے او دا خبره خو سائل ته معلومه ده نو په دے جواب
کښې هیڅ فائده نشته بلکه جواب به وړاته په تعین سره وی کولے شی په دے شان،
چه سائل ووائی، چه قام زید ام عمرو نو په جواب کښې به وی ته زید او یا عمرو ویلے
شی. په خلاف د او. او د اما نه، په دے دواړو سره چه سائل سوال کړے وی نو هغۀ ته
علم نۀ وی حاصل په ثبوت دحکم لپاره د احد الامرین نۀ په طریقے د تعین سره او نۀ
په طریقے دابهام سره مثال لکه أجائک زید او عمرو. اما زید جائک واما عمرو. نو
په اول مثال کښې او لپاره دَعطف دے. او په دویم مثال کښې اما لپاره دَعطف دے او په
دوئ سره چه سوال شوے وی د مجیئت نو په دوئ کښې دا خبره نشته چه د متکلم علم دے
په ثبوت د حکم لپاره دَاحد الامرین، بلکه دَسائل په نفس حکم بانډې علم نشته، نو جواب
په نعم سره وړکول هم صحیح دی او په تعین سره وړکول هم صحیح دی. او اَمْ منقطعه عبارت
دے له هغه ام نه چه په معنی دَ"بل" سره وی، چه د بل معنی اعراض دے، ځکه چه دا حرف
دبل وضع دے لپاره دا اعراض نو په اَمْ سره به هم اعراض کولے شی دا وړلے خبرے نه ودے
خبرے ته مثال لکه تۀ وګورے یو شبح دلرے نه او دا علم د وړ بانډې راشی چه دا ابل دے،
او دا سے او وائے چه انها لابل، او بیا روسته درته شک عارض شی په دے مخکښې کلام کښې
چه انها لابل دے او بیا و وائے چه ام هی شاة، نو دا ام په معنی د حرف "بل" سره دے او
معنی دا ده چه نه، دا شبح ابل نۀ دے بلکه شاة دے. نو دا ام په دے مثال کښې په معنی د
حرف بل سره دے لپاره دا اعراض دے، په دے شان، چه په دے اَمْ سره اعراض شوے

داول خبرنه چه داقول ده انهالابل دویم قول ته چه هی شاته ده. او اتم حرف عاطف لا ده او نهم حرف عاطف لفظ د بل ده او لسم حرف عاطف لکنْ ده په تخفیف سره نو دا درې واړه حروف عاطفه لپاره د ثبوت د حکم دي لپاره د احد الامرین یعني د وی دلالت کوي چه دا حکم ثابت ده لپاره د احد الامرین خو لکن هغه احد الامرین چه حکم ورته ثابت وي هغه به معین وي او متکلم ته به معلوم وي او مبهم به نه وي نو د الا نفي کوي هغه حکم چه ثابت وي معطوف علیه ته د معطوف نه مثال لکه جاء في زید لا عمرو، نو دلته لا حرف عاطف ده او دلالت کوي په دې خبره باندې چه دا حکم چه مجیئت ده ثابت ده لپاره د زید چه معطوف علیه ده دا نفي ده د عمرو نه او عمرو ته نه ده ثابت نو په لاکښې شرط دا ده چه دا حکم به مثبت وي او منفي به نه وي. او حرف د بل راځي لپاره د اعراض چه دلالت به کوي په اعراض د متکلم باندې له اول خبرنه دویم خبرته او مراد له اول خبرنه ثبوت د حکم ده لپاره د معطوف علیه او مراد له دویم خبرنه ثبوت د حکم ده لپاره د معطوف نو حاصل د معنی دا ده چه بل حرف راځي لپاره د اعراض چه متکلم اعراض وکړو له هغه حکم نه چه معطوف علیه ته ثابت ده، طرف د هغه حکم ته چه هغه به معطوف ته ثابت وي برابره خبره ده چه دا حکم چه د اول نه نفي شوې ده او دویم ته ثابت شوې ده که حکم مثبت وي او که حکم منفي وي مثال لکه جاء في زید بل عمرو. نو دلته د ابل دلالت کوي په دې خبره باندې چه متکلم اعراض کړې ده له دې حکم نه چه زید ته ثابت ده چه هغه مجیئت ده طرف د اثبات د دې مجیئت ته چه دا ثابتوي عمرو ته. او په دې مثال کښې دا حکم مثبت ده نو معنی د جاء في زید بل عمرو، بس داکوئے شي چه بل جاء في عمرو. او مثال د هغه چه حکم منفي وي لکه ما جاء بکر بل خالد نو دلته هم اعراض کوئے شي د اول نه چه بکر ده طرف د اثبات د دې حکم منفي ته چه دا ثابتوي خالد ته. او معنی د ما جاء بکر بل خالد دا ده چه بل خالد ما جاء. او لکن راځي لپاره د استدراک، او معنی د استدراک دا ده چه د مخکښې کلام نه یو توهم راپیدا شوې وي او هغه په لکن سره دفع کړې شي، او د لکن سره نفي لازمه ده چه مخکښې د لکن نه به نفي موجود ده وي مثال لکه ما جاء في زید لکن عمرو جاء. نو دلته د الکن لپاره د عطف ده او لپاره د استدراک ده ځکه چه له دې ما جاء في زید کلام نه توهم راپیدا کیږي هغه دا چه متوهم توهم کوي چه هر کله چه زید نه ده راغلے نو معلومیږي چه عمرو به هم نه وي راغلے ځکه چه د زید او د عمرو په مابین کښې ملګرتیا ده. نو په دې

لکن سره متکلم داتوهم دفع کوی چه لکن عمرو جاء یعنی عمرو راغلیده اګرچه زید نه دی راغلی اوپه دې مثال مذکوره کښې له دې لکن نه مخکښې نفی هم موجوده ده۔

شعر ان را در چار جا مکسور خوان !
ابتداء وبعد قول وقسم دان !
چون در آید در خبراو لام نیز !
دائما مکسور خوانی اے عزیز !

معنی اوترجمه ددې اشعارو داده چه دا بعض طلبه وائی چه ان حرف په څلورو ځایونو کښې مکسوره وایه یعنی په کسره د همزه سره یې وایه۔ اوله ځایے ابتداء د کلام ده یعنی چه دا ان په ابتداء د کلام کښې راشي نو بیا به دا مکسور ویلې شي۔ اودویم ځائ داده، چه ان روسته د قول نه راشي نو بیا به مکسوره ویلی شي۔ اودریم ځائ داده چه ان روسته د قسم نه راشي نو بیابه مکسوره ویلې شي۔ اوڅلورم ځائ داده، چه دا ان به په هغه جمله کښې مکسوره ویلي شي، چه په هغه جمله کښې په خبر بانې لام د تاکید داخل شوے وی۔

یعنی ان کلمة اِن واَن لما کانتا متسایتین فی الکتابة متحدین فی الصورة اراد الناظم الخ: زده کړه داخبره چه ان په تشدید د نون سره اوپه فتحه د همزه سره۔ او ان په تشدید د نون اوپه کسره د همزه سره متحدین دی په اعتبار د صورت سره او متغایرین دی، په اعتبار د تاثیر سره په دې شان چه صورت د دواړو واحد ده په کتابت کښې اګرچه فرق شته په اعتبار د تلفظ سره۔ نو ددې اول چه وی ته ان مفتوحه وائی۔ او د دویم چه ورته ان مکسوره وائی اتحاد ده په اعتبار د صورت سره په کتابت کښې یعنی دواړه په یو صورت بانې لیکلې شي او فرق په مابین دد وئ کښې په اعتبار د تاثیر سره ده، چه دا ان مفتوحه چه په کومه جمله بانې داخل شي نوله دې جمله نه مفرد جوړوی، او ان مکسوره چه په کومه جمله بانې داخل شي، نو دا، معنی د جمله مضبوطوی او ورنه مفرد نه جوړوی نو هرکله چه د دوئ په مابین کښې په اعتبار د صورت په کتابت کښې اتحاد وه نوناظم ددې دواړو په مابین کښې فرق بیان کړیده په دې شان چه په څلورو مواضعو کښې به ان مکسوره راځی اوان مفتوحه به نه راځی۔ اول موضع ابتداء ده یعنی په ابتداء اوپه سر د کلام کښې به ان مکسوره راځی اوان مفتوحه به نه راځی، ځکه چه ان مفتوحه په معنی ددې جملې اوکلام کښې تغیر راولی په دې شان چه دا ان مفتوحه مصدریه ده۔ نو د جمله اوکلام نه مفرد جوړوی یعنی دا جمله مؤله کوی په تاویل د مفرد بانې نوکه ان مفتوحه راوړو په اول

د کلام کښې نو مقصود دَ متکلم فوت کیږي ځکه چه مقصود د متکلم کلام او جمله وي نو له دې وجه نه به ان مکسوره راځي چه په معنی د جمله او د کلام کښې څه تغیر رانشي او بدل حالت بانې پاتې شي. او دویم موضع هغه قول ده، یعنې د روسته د قول نه به ان مکسوره راځي او ان مفتوحه به نۀ راځي. مثال لکه قلت ان زیدًا قائم. نو دا قلت قول ده او روسته ورنه چه ان راغلې ده، دا ان مکسوره ده او دَ دې وجه دا ده چه باب د قال یقول مقوله غواړي او مقوله د قول نۀ وي مګر جمله به وي نو چه د روسته ورنه ان مکسوره راشي نو دا به په جمله تو ب بانې پاتې شي. او که د روسته ورنه ان مفتوحه راشي نو له دې جمله نه به مفرد جوړ شي او مفرد مقوله نشي کیدې، ځکه چه مقوله نۀ وي مګر جمله وي. د لته معترض اعتراض کوي چه لکه څنګه چه د روسته د قول نه به ان مکسوره راځي نو دغه شان د روسته د قال او د یقول نه هم ان مکسوره راځي نو څۀ وجه ده لپاره د تخصیص شارح قول لره په ذکر سره چه د قول ذکر یې وکړو او د قال او اقول ذکر یې ونکړو! او جواب له دینه دا ده چه مراد د شارح له قول نه صرف قول نۀ ده، بلکه مراد د قول نه دا قول هم ده او هغه افعال هم دي چه له قول نه مشتق وي لکه قال او یقول وغیره. خو لکن چونکه دا قول اصل ده او دا افعال له دۀ نه مشتق دي او دا فرع دي لپاره د قول نو ځکه یې قول ذکر کړو، او نور افعال یې ذکر نکړل.

فائده:. ز دکړه دا خبره چه په دې عبارت د شارح کښې چه و مقولة القول لا تكون الا جملة اشاره ده دینه چه د قول نه به د روسته په هغه وخت کښې ان مکسوره راځي چه دا روسته جمله مقوله واقع وي لپاره د قول چه په کومه جمله بانې دا ان داخل وي، ځکه چه کوم شئ مقوله وي نو هغه به جمله وي او دا سې نۀ ده چه کوم شئ روسته د قول نه واقع وي نو هغه دِ جمله وي نو چه کله دا روسته جمله مقوله وي لپاره د قول نو بیا به ان مکسوره راځي، او چه کله هغه جمله چه روسته له قول نه واقع وي او مقوله نۀ وي نو بیا دا ضرور نۀ ده چه هغه ان چه د روسته بانې داخل وي هغه دِ مکسوره وي بلکه جائزه ده چه دا ان دِ ان مفتوحه وي مثال لکه اخصك بالقول انك فاضل نو د لته دا انك فاضل جمله مقوله نۀ ده لپاره د قول بلکه دا واقع شوې ده لپاره دَ تعلیل د اخصك بالقول. نو معنی د کلام دا ده چه زۀ تا خاص کوم په قول سره له وجه دَ دې علت نه چه ته فاضل یې. نو دا ان چه په انك فاضل جمله کښې موجود ده ان مفتوحه ده او ان مکسوره نۀ ده. او دریم موضع قسم ده. نو د روسته د قسم نه به ان مکسوره راځي او ان مفتوحه به نۀ راځي. او وجه دَ دې لپاره دا ده

چه د قسم نه وسته چه کومه جمله واقع وی هغه جواب وی لپاره د قسم او جواب د قسم نه وی مګر جمله نو چه ان مکسوره راشی نو دا جمله به په جمله توب باندې پاتې شی او که ان مفتوحه وي نو وسته راشی نو بیا له دے جمله نه مفرد جوړیږی او مفرد جواب نشی کیدے لپاره د قسم. او څلورم موضع دا ده چه په خبر د ان باندې لام تاکید داخل شی نو ان مکسوره به راځی مثال لکه ان زیدا لقائم. نو دلته زید اسم دے د ان او قائم ئے خبر دے او په باندې لام د تاکید داخل شوی دے. او په دے څلورم موضع کښې به ځکه ان مکسوره راځی چه لام تاکید لپاره د تاکید د جمله وی یعنی دا لام چه په خبر باندې داخل وی تاکید د جمله کوی نو دا ان به مکسوره راځی ځکه چه د دے ان موافقت دے د لام سره په دیکښې چه دواړه لپاره د جمله راځی په خلاف د ان مفتوحه چه هغه لپاره د جمله نه وی بلکه لپاره د مفرد وی ځکه چه له جمله نه مفرد جوړوی. نو د ان مکسوره موافقت دے د لام تاکید سره ځکه په وقت د وجود د لام کښې د ان مکسوره راځی، او د ان مفتوحه ورسره مخالفت دے نو ځکه په وقت د وجود د لام تاکید کښې د ان مفتوحه نشی راتلے.

فان قیل ان اللام لا تکون علامة المکسورة لان الکسرة یعلم من ابتدائیتها واللام تکون فی الاخر الخ: دا اعتراض وارد دے په دے خبره باندې چه دا موضع د لام تاکید چه اشمار شوے دے دا اول موضع نه او په اول موضع کښې نه دے داخل شوے. حاصل د اعتراض دا دے چه لام د تاکید چه کله داخل شی په خبر باندې نو دا علامه د دے نه ده چه دا ان به مکسوره وی بلکه د کسره د ان فهمیږی له ابتداء د کلام نه یعنی ان ځکه مکسوره راځی چه دا واقع ده په ابتداء د کلام کښې او له دے وجه نه مکسوره نه ده راغلے چه په خبر باندې لام تاکید داخل دے نو دا موضع مستقل موضع نه ده بلکه داخل ده په اول موضع کښې. او له دے نه شارح جواب ورکړیدے په طریقے د تسلیم سره په دے عبارت نچل سره چه:

قلنا الامر کذلک الا ان اللام تؤکد الکسرة الخ: حاصل د جواب دا دے چه دا لام د تاکید علامه نه ده په کسره د ان باندې، ځکه چه کسره د ان فهمیږی د ابتداء د کلام نه او لام د تاکید په آخر د کلام کښې موجود وی نو دا علامه نشی کیدے په کسره د ان باندې بلکه د کسره د ان په دے وجه وی چه دا ان په ابتداء د کلام کښې راغلے دے، خو لکن دا مونږ جدا موضع ځکه شمار کړیدے اګرچه په اول موضع کښې داخل دے ځکه چه دا لام تاکید کوی د کسره د ان په دے شان چه لکه څنګه چه دا ان راځی لپاره د تاکید د جمله بغیر له تغیر نه په معنی د جمله کښې نو هم دارنګ دا لام هم راځی لپاره د تاکید د جمله بغیر له تغیر نه په معنی د جمله کښې.

نو هر کله چه دا لام تاکید کوی دَ دِے خبرے چه په دِے ان باندِ دِ کسره وی نو ځکه دا یو جدا او مستقل موضع شمار کړے شو.

ترکیب:- په عبارت د شارح کښ دَرے مثالونه ذکردی د اوّل مثال ترکیب داسے دے چه دا لفظ د نحو مضاف دے او قلت فعل دے او ت ضمیر بارز وی ته فاعل دے. فعل سره د فاعل نه خپل نه جمله فعلیه قول شوه. او ان حرف د حروف مشبه بالفعل نه اسم منصوب خبر مرفوع غواړی زیداً وی ته اسم دے او قائم وی ته خبر دے. نو ان سره د اسم او خبر خپل نه جمله اسمیه خبریه مقوله شوه د قول. قول سره د مقوله خپل نه مضاف الیه شوه لپاره د مضاف چه نحو دے. مضاف سره د مضاف الیه خپل نه خبر د مبتدا محذوف شو چه مثاله دے په مثاله کښ مثال مضاف دے او ه ضمیر وی ته مضاف الیه دے. مضاف سره د مضاف الیه خپل نه مبتداء شوه دَ دِے خبر مبتداء سره د خبر خپل نه جمله اسمیه خبریه شوه او مثال شوه لپاره دَ ممثل چه واقع کیدل د ان دی روستو دَ قول نه. او د دویم مثال ترکیب داسے دے چه دا واو په والله انک قائم کښ لپاره د قسم دے او جاره دے او لفظ د الله وی ته مجرور دے او جار سره د مجرور خپل نه ظرف مستقر تعلق نیسی ترا قسم مقدر ویوی ے او اقسم صیغه د واحد متکلم فعل مضارع معلوم دے ضمیر پکښ مستتر دے چه انا دے هغه ورته فاعل، فعل سره د فاعل خپل نه او سره د متعلق خپل نه جمله فعلیه انشائیه قسم شوا و ان حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه او کاف ضمیر بارز ورته اسم دے او قائم ورته خبر دے ان سره د اسم او خبر خپل نه جمله اسمیه خبریه جواب د قسم شو، قسم سره دَ جواب خپل نه جمله فعلیه انشائیه مضاف الیه شوه لپاره د مضاف چه لفظ د نحو دے مضاف سره د مضاف الیه خپل نه خبر د مبتداء شو چه مثاله دے. دا مثال مضاف دے او ه ورته مضاف الیه دے. مضاف سره د مضاف الیه خپل نه مبتداء شوه. مبتداء سره د خبر خپل نه جمله اسمیه خبریه مثال شو لپاره د ممثل چه هغه وقوع د ان دے روستو له قسم نه، او ترکیب د دریم مثال چه ان زیداً القائم دے داسے دے چه نحو چه مخکښ له مثال نه ذکر دے مضاف دے او ان حرف دے د حروف مشبه بالفعل نه، زید اسم دے لپاره د ان او لام په لقائم کښ لپاره د تاکید دے او قائم خبر دے لپاره د ان نو ان سره د اسم او د خبر خپل نه جمله اسمیه خبریه مضاف الیه شوه لپاره د مضاف چه نحو دے. مضاف سره د مضاف الیه نه خبر د مبتدا شو چه مثاله دے. لفظ د مثال مضاف او ه ورته مضاف الیه دے. مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء شوه. او مبتداء سره د خبر خپل جمله اسمیه خبریه مثال شو لپاره د ممثل چه هغه

دخول دلام دابتداء ده په خبرد ان باندې.

(شعر)

ان را در پنج جا مفتوح خوان ؛ بعد علم و بعد ظن و در میان !

بعد لولا بعد لو تحقیق دان ؛ تا نیفتی هیچ جا در شک آن !

په دې اشعارو کښې بعضې طلبه هغه مواضع بیانوي چه پکښې ان مفتوحه راځي او ان مکسوره نشي راتلې نو داغونه پنځه مواضع دی. اول موضع دا ده چه ان روسته دعلم نه راشي. او دوئیم دا چه ان روسته د ظن نه راشي. او دریم دا چه ان په وسط د کلام کښې راشي، او څلورم دا چه ان روسته دلولا نه راشي. او پنځم موضع دا ده چه ان روسته د لو نه راشي او ترجمه داشعارو دا ده چه بعضې طلبه وائي چه ان به په څلورو ځایونو کښې مفتوح وایه اول ځائ دا دی چه ان واقع شي پس دعلم نه او دوئیم دا چه ان واقع شي پس دظن نه او دریم دا چه په مابین دکلام کښې واقع شي. او څلورم دا چه روسته دلولا نه واقع شي او پنځم دا چه روسته دلو نه واقع شي. نو دا پنځه مواضع او بیا نه مخاطبه چه په هیڅ ځائ کښې په شک کښې واقع نشي.

لانهما يقتضيان المفعولين والمفعول لايكون الا مفرد الخ: غرض دشارح بیان د وجه ده، د پاره د دې چه دا ان واقع شي روسته دعلم او ظن نه نو بیا به مفتوح وي حاصل د وجه دا ده چه دا علم او ظن د دوه مفعوله غواړي مثال لکه علمت زیدا فاضلا او ظننت زیدا فاضلا نو په اول مثال کښې زید مفعول اول ده دعلمت او فاضلا مفعول ثاني. او په دوئیم مثال کښې زید مفعول اول ده دظننت او فاضلاً مفعول ثاني. نو په ظاهر کښې دعلم او ظن د پاره د دوه مفعول دی خولکن په حقیقت کښې دا د دوه مفعوله دعلمت یو مفعول ده او د ظننت هم دا د دې دوه مفعولونو ده چه هغه فضیلة زیدٍ ده نو د علمت مفعول د علمت او مفعول د ظننت مضمون د ظننت مفعول هم فضیلة زیدٍ ده. نو هر کله چه علم او ظن د دوه دوه مفعوله غواړي، په ظاهر کښې او په حقیقت کښې دا د دوه مفعوله یو مفعول وي او مفعول نه وي مګر مفرد وي یا حقیقة او یا مؤول وي په مفرد سره نو چه کله روسته دعلم او ظن نه جمله راشي او هغه ظن او مفعول نه وي مګر مفرد وي نو دا ان به ان مفتوحه وي چه له دې جمله نه مفرد جوړه کړي مثال لکه علمت انک تقوم او ظننت انک ذاهب، نو په دې دواړو مثالونو کښې دا ان مفتوحه ده نو چه په کومه جمله باندې دا ان وړه داخل شوې وي او هغه جمله مفعول به

واقع وي يا ليا ره د علم او يا ليا ره د ظن نو دا ان به مفتوح وي چه له دې جمله نه مفرد جوړ کړي نو په علت اِنک تقوم کښې ان د جمله نه مفرد جوړ په ظننت اِنک ذاهب کښې هم ان د جمله نه مفرد جوړ کړيده چه هغه تحقق قيامک دے او د شارح کښې چه علم او ظن ذکر دے مراد وړ نه هغه افعال دي چه علم باندې دلالت کوي لکه علمت او يا په ظن باندې دلالت کوي لکه ظننت. او په دې عبارت د شارح باندې چه المفعول لايکون الامفرداً ده يو اعتراض وارديږي هغه دا چه دا قاعده ستا چه مفعول نه وي مګر مفرد منقوض ده په دې قول سره چه قال زيد ضربت عمرًا. نو دلته عمرا مفعول ده د ضربت او مفرد ده نو موږ ته د دا اعتراض نه ده نو لکن ضربت عمرًا مکمله جمله مفعول ده د قال فعل. او ضربت عمرًا نه حقيقةً اسم ده او د اظاهره ده او نه حکماً اسم ده ځکه چه باندې دا سے حرف نه ده داخل چه هغه په کښې تاويل وکړي او مفرد وړ نه جوړ کړي نو دا جمله ده او مفعول واقع شوي ده نو له دې اعتراض نه د دوه جوابه وړ کړے شويدي اول جواب دا ده چه قال زيد ضربت عمرًا ترکيب غير صحيح ده او صحيح ترکيب دا ده چه قال زيد اِنّ ضربت عمرًا. نو دلته په جمله باندې ان داخل شوي ده نو دا جمله په واسطه د ان سره حکماً اسم ده ځکه چه ان په کښې په تاويل سره مفرد جوړوي او چه هر کله ورنه مفرد جوړ شي په تاويل سره نو بيا دا جمله حکماً اسم جوړيږي او چه اسم شوه نو مفرد شوه نو قاعده زموږ صحيح شوه چه مفعول نه وي مګر مفرد وي. او دوېم جواب دا ده چه نه منو دا خبره چه په قال زيد ضربت عمرًا کښې دا ضربت عمرًا مفعول ده د قال بلکه مفعول د قال حذف ده چه لفظ د هکذا ده او لفظ د هکذا مفرد ده نو زموږ قاعده صحيح شوه چه مفعول نه وي مګر مفرد وي.

وکذلک يفتح ان في الوسط لان الوسط يقتضي الارتباط بما قبلها وهو لا يحصل الا بتاويل المفرد الخ: غرض د شارح بيان د وجه د فتحې د ان ده چه کله ان واقع شي په وسط د کلام کښې يعنې چه ان واقع شي په مابين د دوه کلمو کښې چه هغه دوه کلمې د يو کلام وي او د دواړو په خپل مينځ کښې تعلق وي نو ان به مفتوح وي او شارح چه کومه وجه ليا ره د دې فتحه ذکر کړيده هغې دا ده چه دا ان به ځکه مفتوح وي چه مابعد تقاضا کوي د ربط د ماقبل سره په دې شان چه وړ وسته لفظ چه ذکر ده دا نه مرتبط به وي د ماقبل لفظ سره، او چه کله وړ وسته د ان نه جمله راغلې وي نو د دې ربط نشي قائم کيدے د ماقبل سره ځکه چه جمله من حيث هي هي مستقله وي تقاضا د ربط نکوي نو د دې جمله ربط به د ماقبل سره په هغه وقت کښې قائميږي چه له دې جمله نه مفرد جوړ شي او مفرد به وړ نه هله جوړيږي

چه ان مفتوحه شي چه داوړه مفرد جوړ کړي مثال لکه زید ان اباه قائم. نو دلته دوه کلې دي اوله کلمه او لفظ مبتداء ده چه هغه په صورت د مفرد کښې ذکر ده او دوېمه کلمه او لفظ خبر ده چه هغه په صورت د جمله کښې ذکر ده چه ان اباه قائم ده او دا دوېمه کلمه تقاضا ربط کوي دا اولي کلې سره ځکه چه خبر مرتبط وي د مبتداء سره او خبر په دې مثال کښې جمله ده او جمله مستقله وي د دې ربط نشي قائم کیدې د ماقبل سره بغیر له تاویل د دینه په مفرد سره. نو دا ان چه په دې جمله باندې داخل ده نو دا به ضرور ان مفتوحه وي چه د دې جمله ربط قائم کړي د ماقبل سره نو ان به ګرځي وي اباه قائم جمله لره په تاویل د قائم الاب سره. او قائم الاب مفرد ده ځکه چه مراد له مفرد نه دلته مقابل د جمله ده چه جمله نه وي بیا که مفرد وي او که مرکب ناقص وي.

ترکیب :- په عبارت د شارح کښې درې مثالونه ذکر دي اول مثال دا قول ده چه علمت انک تقوم ای علمت تحقق قیامک نو دا علمت فعل ده او ت ضمیر ورته فاعل ده او ان حرف مشبه بالفعل ده او کاف ضمیر بارز ورته اسم ده او تقوم فعل ده ضمیر د انت په کښې مستتر ده هغه ورته فاعل ده. فعل سره د فاعل خپل نه جمله فعلیه خبر شو د تقوم او تقوم فعل سره د فاعل خپل نه خبر شو د ان. ان سره د اسم او خبر خپل نه جمله اسمیه قائم شوه په مقام د دوه مفعولونو د علمت باندې. او علمت فعل سره د فاعل او سره د قائم مقام مفعولینو نه جمله فعلیه خبریه مفسر شو. او ای حرف تفسیر ده او علمت فعل ده او ت ضمیر ورته فاعل ده او لفظ د تحقق مضاف ده او قیام مضاف ده کاف ضمیر د مخاطبه د امضاف چه قیام ده سره د مضاف الیه خپل نه مضاف الیه شو لپاره د مضاف چه تحقق ده او دا مضاف سره د مضاف الیه نه مضمون ده لپاره د دوه مفعولینو د علمت او مفعول حقیقي ده لپاره د علمت. او دا علمت فعل سره د فاعل او د مفعول حقیقي خپل نه جمله فعلیه تفسیر شو لپاره د مفسر او مفسر سره د تفسیر خپل نه مضاف الیه شو لپاره د مضاف چه نحو ده او دا مضاف سره د مضاف الیه خپل نه خبر ده لپاره د مبتداء چه مثاله ده او دا مبتداء سره د خبر خپل نه جمله اسمیه مثال شو لپاره د مثل چه وقوع د ان مفتوحه ده ورسته د علم نه او ترکیب د دوېم مثال چه هغه دا قول ده چه ظننت انک ذاهب ای ظننت تحقق د هابک وړ قیاس ده په ترکیب د دې اول مثال باندې ځکه چه د دواړو ترمینځ شان ترکیب ده او څه فرق په مابین کښې نشته او ترکیب د دریم مثال چه هغه دا قول ده چه زید ان اباه قائم تقدیره زید قائم الاب دا سې ده چه زید مبتداء ده او ان حرف د حروف مشبه بالفعلونه ده او

لفظ د ابا مضاف ده او هٔ ضمیر ورته مضاف الیه ده. مضاف سره د مضاف الیه نه دان او قائم ورته خبر ده. ان سره د اسم او د خبر څخه جمله اسمیه په تاویل مفرد کړی خبر ده لپاره د مبتداء چه زید ده. مبتداء سره د خبر څخه جمله اسمیه په تاویل دان سره شوه. او لفظ د تقدیر مضاف او هٔ ضمیر وړ ته مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه څخه جمله اسمیه مبتداء نه مبتداء شوه. او زید مبتداء ده او قائم مضاف او الاب ورته مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه څخه مضاف الیه څخه نه خبر ده لپاره د مبتداء چه نهاید ده او دا مبتداء سره د خبر څخه نه جمله اسمیه خبر شو لپاره د مبتداء چه تقدیره ده او دا مبتداء سره د خبر څخه نه جمله اسمیه خبر ده لپاره د مبتداء چه زید ان اباه قائم ده او دا مبتداء سره د خبر څخه نه جمله اسمیه خبر مضاف الیه ده لپاره د مضاف چه دلته لفظ د نحو ده او دا مضاف سره د مضاف الیه نه خبر ده لپاره د مبتداء محذوفه چه مثاله ده او دا مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه مثال ده لپاره د ممثل چه وقوع دان ده په وسط د کلام کښ.

وكذا بعد لو لان بعد لو موقع الفعل المقدر فالجملة التي وقعت بعدها بتاويل المفرد الخ،

غرض د شارح بیان د وجه ده لپاره د فتحه دان چه واقع شی پس د لونه نو حاصل د وجه دا ده چه هغه ان چه پس د لونه واقع شی دا به څکه مفتوح وی چه لو حرف شرط ده لره دے نو روسته فعل مقدر وی نو هغه جمله چه ان وړ بانی داخل وی هغه فاعل وی لپاره د دے فعل مقدره او فاعل د فعل مفرد وی نو جمله به هغه وخت کښ فاعل جوړیدے شی چه په کښ تاویل وشی او مفرد ورنه جوړ شی او مفرد به هغه وقت کښ له دے جمله نه جوړیږی چه دا ان چه وړ بانی داخل وی دا ان مفتوحه شی چه جمله په تاویل د مفرد سره وګرځی وی، مثال لکه لو انک قائم نو دلته دا لو حرف شرط ده او حرف شرط تقاضا کوی د فعل شرط، او فعل شرط دلته په لفظ کښ نشته نو هغه به مقدر وی او هغه به وجد وی نو تقدیر د کلام به دا سے وی لو وجد انک قائم لکان کذا نو دا روسته جمله چه انک قائم ده فاعل ده لپاره د دے فعل مقدر چه وجد ده او فاعل مفرد وی نو په دے جمله بانی چه ان داخل ده دا به ان مفتوحه وی لپاره د دے چه د دے جمله نه په واسطه دان سره مفرد جوړ شی، چه فاعل تو ب صحیح شی لپاره د فعل مقدره. او که چرته دا ان مکسوره شی نو بیا له دے جملے مفرد نشی جوړیدے نو بیا دا جمله فاعل هم نشی جوړیدے د فعل مقدر لپاره.

ترکیب: د دے مثال دا سے ده چه "لو انک قائم لکان کذا" کښ دا لو حرف شرط ده او دا ان حرف مشبه بالفعل ده او کاف ضمیر بارز وړ ته اسم ده او قائم ورته خبر ده. ان سره د

اسم او د خبر خپل نه جمله اسمیه په تاویل دَ مفرد سره فاعل ده لپاره د فعل مقدره چه جد ده نو لو حرف شرط سره د فعل شرط نه او سره د فاعل نه جمله فعلیه شرط ده او لام په لکان کښې لپاره د تاکید ده او کان فعل ده د افعال ناقصه نه اسم مرفوع خبر منصوب غواړی اسم یې مقدر دے چه لفظ د الامر ده او کن اخبر ده د کان نو تقدیر د عبارت داسے ده چه لکان الامر کن ا. او دا کان سره د اسم او د خبر نه جمله اسمیه خبریه جواب ده لپاره د شرط او شرط سره دَ جواب خپل نه جمله فعلیه شرطیه خبریه مضاف الیه ده لپاره د مضاف چه دلته لفظ د نحو دے او دا مضاف سره د مضاف الیه نه خبر شو لپاره د مبتداءِ محذوف چه مثاله ده او دا مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه مثال ده لپاره د ممثل چه هغه وقوع د ان ده روسته دَ لو نه.

وکن ابعد لولا لان ما بعد لولا لایکون الا مبتداء غالبا الخ: غرض د شارح دلته بیان د وجه ده د فتحه د ان چه واقع شی پس دَ لولا نه او حاصل دَ وجه دا ده چه په غالبو اوقاتو کښې پس دَ لولا نه مبتداء وی او مبتداء نه وی مگر مفرد وی نو چه د لولا نه پس جمله راشی او ورباندې ان داخل وی نو دا جمله به مبتداء وی او دا جمله هله مبتداء جوړیدے شی چه مؤول شی په تاویل دَ مفرد سره او مؤول به په تاویل دَ مفرد سره هله وی چه دا ان چه ورباندې داخل ده مفتوح شی، نو معلوم شوه چه د لولا نه پس چه ان راشی نو دا به مفتوح وی مثال لکه لولا انک قائم لکان کذا. نو دلته چه د لولا نه پس جمله واقع شوې ده چه هغه انک قائم ده مبتداء ده او خبر یې حذف ده چه موجود ده او مبتداء نه وی مگر مفرد وی نو دا جمله به هله مبتداء جوړیږی چه دا جمله مفرده شی یعنی مؤول شی په تاویل دَ مفرد سره او مؤول په تاویل دَ مفرد سره هله وی چه دا ان چه په سر کښې موجود ده ان مفتوحه شی نو چه کله په دے جمله کښې تاویل وشی نو تقدیر د عبارت به داسے شی چه لولا قیامک موجود لکان کذا نو له انک قائم جمله قیامک جوړ شو او دا موجود خبر ده چه په لولا انک قائم کلام کښې مقدر ده. او دے لولا ته امتناعیه وائی ځکه چه دا دلالت کوی په منع او عدم وجود دَ یو شئ له وجه د وجود د هغه بل شئ نه مثال لکه لولا علی لهلک عمر نو دلته اول شئ وجود د علی ده او دویم شئ هلاکت د عمر ده او لولا دلالت کوی په عدم د دویم شئ چه هلاکت د عمر ده له وجه د وجود د اول شئ چه هغه وجود د علی ده.

ففی الجملة تکون الهمزة مکسورة فی موضع الجملة سواء کان من هذه الامور المذکورة او غیرها ومفتوحة فی موضع المفرد الخ: غرض د شارح بیان د یوے قاعدے کلیه ده لپاره دَ ځاؤ په دان مکسوره او دان مفتوحه، نو حاصل د هغه قاعدے دا ده چه خلاصه او نچوړ

د کلام د اده چه هرهغه موضع چه هغه موضع د جمله وی مثال لکه جواب قسم یا مقوله اول نوی نو په هغه موضع کښې به ان مکسوره راځی۔ او هرهغه موضع چه هغه د مفرد وی لکه مفعول یا فاعل یا مبتداء نو په هغه موضع کښې به ان مفتوحه راځی. نو له دے وجه نه تماتو مواضع دان مکسوره او دان مفتوحه په دے مذکوره مواضعو کښې نه دی منحصر کړی بلکه داخلور مواضع چه دان دپاره ذکردی دا بعض مواضع دان مکسوره دی. او دا شپږ مواضع چه د ان مفتوحه دپاره ذکردی دا بعض مواضع دان مفتوحه دی.

اقول کما انه لابد من الفرق بین اِن واَن المکسورة والمفتوحة المشددتین لابد منه بین المخففتین الخ: غرض د شارح له اقول نه واخله تر اخره پورے بیان د فرق دے په مابین دان مکسوره او ان مفتوحه کښې چه د دواړه مخفف وی نو شارح وائی لکه څنګه چه لابدی وه د فرق نه په مابین دان مکسوره او ان مفتوحه کښې چه دواړه مشددتین وی نو هم دارنګ لابدی ده د فرق کولو نه په مابین دان او ان کښې چه دواړه مخففتین وی څکه چه د مخففتینو په مابین کښې هم اتحاد دے په اعتبار د صورت سره اګرچه په اعتبار د معنٰی سره تغایر دے نو شارح د دے دواړو په مابین کښې دا سے فرق بیان کړیدے چه ان مخفف مکسوره هم څلور اقسامو ته تقسیم کړیدے چه اول قسم نافیه دے. دوېم قسم شرطیه دے. دریم قسم مخفف من المثقل دے او څلورم قسم زائده دے. او ان مخفف مفتوحه یې هم څلور اقساموته تقسیم کړے چه اول قسم مخفف من المثقل دے. او دوېم قسم هغه ان دے چه ناصبه دے. فعل مضارع ته نصب ورکوی. او دریم قسم زائده دے. او څلورم قسم تفسیریه دے. او دا اقسام اربعه دان مکسوره مخففه شارح بیان کړے په دے عبارت نیل سره چه:

واعلم ان اِن بکسرة الهمزة علی اربعة اقسام الخ: حاصل د دے تقسیم دا دے چه اِن مخففه مکسوره په نیل کوره کښې په څلوره قسمه دے اول ان نافیه دے او دا هغه دے چه معنٰی د نفی پیدا کوی او چه په کوم شئ بانذ وردا خل شی هغه به منفی کوی او مدخول او موضع د دے ان نافیه جمله اسمیه ده مثال لکه ان زیدٌ قائم. نو دا ان مخفف دے او مکسوره دے او نافیه دے معنٰی د نفی پیدا کوی او په دے سره قیام نفی شویدے د زید نه معنٰی یې دا ده مازید قائمٌ او دوېم قسم د دے ان مخفف مکسوره ان شرطیه دے او ان شرطیه هغه دے چه دلالت کوی په سببیت د یوشئ لپاره د بل شئ او د دے ان سره د فعل وجود لازم دے چه ان به ضرور په فعل داخل وی لکه ان ضربت ضربت دلته ان شرطیه دے څکه چه دلالت کوی چه د یوشئ چه ضرب د مخاطب دے سبب دے لپاره د بل شئ چه هغه ضرب د متکلم دے. او وجود د فعل د ان

شرطیه سره ځکه ضروري ده چه دا ان چه هرکله لپاره د شرط شو نو شرط نه وي مگر فعل
کښې وي ځکه چه دَ شرط معنی دا ده چه یو شئ سبب جوړ شي او سبب نه وي مگر فعل ځکه
چه اسم د چا د پاره سبب نشي جوړیدے. او دریم قسم دان مخففه مکسوره هغه ان ده چه
مخفف شوے وي دان مکسوره مثقله نه او مراد له مثقله نه ان مشدده ده نو دا ان مکسوره چه
مشدده دوي بیا هم د حروف مشبه بالفعل نه ده او چه کله دا ان مخفف کړے شي له مشدده نه یعنې
د مثقله نه نو بیا هم دا ان د حروف مشبه بالفعل نه ده خو لکن دَ مشدده عمل کول واجب دي
چه دا به ضروري عمل کوي په خپل مدخول کښې په اتفاق دَ نحاتو سره او هر چه ان مخففه من
المثقله ده نو په دیکښې بیا دوه احتماله جائز دي. اول دا چه دا عمل ونکړي او دا عدم عمل
غالب ده په اعتبار د استعمال سره. او دویم دا چه عمل وکړي او دا احتمال قلیل ده په اعتبار دَ
استعمال سره نو وجه لپاره د عدم عمل دان دا ده چه عمل دَان له وجه د مشابهت د فعل نه وه
چه دا مشابه وه د فعل سره په دوه شیانو کښې. اول دا چه لکه ځنګه چه فعل ثلاثي راځي نو
دغه شان دا ان هم ثلاثي ده چه کله مشدد وي. او دویم دا چه لکه ځنګه چه آخر د فعل مفتوح
وي نو دغه شان آخر دان هم مفتوح وي په حالت د تشدید کښې نو چه کله ان مشدد او مثقل
وي نو دا دوه مشابهتونه پکښې موجود وي او چه کله مخفف شي نو بیا دا دواړه مشابهتونه
پکښې مفقود وي ځکه چه په حالت د تخفیف کښې ان په دوه حرفونو بانډې وي. او دغه شان
مفتوح نه وي بلکه ساکن وي. نو هرکله چه مشابهت دان د فعل سره فوت شو نو عمل به هم
دا ان نه وي ځکه چه دَ عمل د پاره علت او سبب مشابهت وه چه هغه فوت شو نو دا عمل به هم
فوت وي. او وجه لپاره د دویم احتمال چه عمل کول دي دان په حالت د تخفیف کښې دا ده،
چه دا ان د عواملو نه ده او اصل په عواملو کښې اعمال وي نه ابطال نو هرکله چه اعمال پکښې
اصل ده نو ځکه به دا عمل کوي. او دان مخففه من المثقله مدخول هم جمله اسمیه ده لکه چه
دان نافیه مدخول جمله اسمیه ده خو لکن په ان مخففه من المثقله کښې دا لازم ده چه په خبر
بانډې به لام داخل وي لپاره دَ دې چه التباس رانشي دان مخففه من المثقله دان نافیه سره،
خو لکن په راوړلو د لام کښې په خبر دان مخففه من المثقله درې مذهبه دي یو مذهب جمهورو
ده. دویم دابن مالک ده او دریم د بعضې نحاتو ده. نو د بعضې نحاتو مذهب دا ده چه دان
مخفف په خبر کښې لام راوړل لازم دي برابره خبره ده که دا ان مخففه من المثقله عامل
وي او که نه وي. نو په صورت د عمل نکولو کښې ځکه دا لام راوړل ضروري دي چه کله ان
مخففه من المثقله عمل ونکړي نو بیا دَان او دان نافیه په مابین کښې التباس وي ځکه چه

په دې وقت کښې له دې دواړو نه پس چه کوم دوه شیان ذکروی هغه دواړه مرفوع وی اول
مبتدا وی او دویم خبر وی نو لپاره د رفع د دې التباس به په خبر د ان مخففه من المثقله کښې
لام راځي او داسې به ویلې شي په ان مخففه من المثقله کښې چه ان زید لقائم او په ان نافیه
کښې به داسې ویلې شي ان زید قائم. او په صورت د عمل کولو کښې اګرچه التباس نه راځي ځکه
چه په دې صورت کښې چه ان مخففه من المثقله عمل وکړي پس له دې ان نه چه کوم دوه
شیان ذکروی د اول منصوب وی ځکه چه هغه اسم وی لپاره د ان او د دویم مرفوع
وی او د ان نافیه نه پس چه کوم دوه شیان ذکروی نو هغه دواړه مرفوع وی او مبتدا
وی او هغه بل ورته خبر وی خو لکن بیا هم لام راوړل په خبر د ان مخففه من المثقله کښې
ضروری دی له وجه د اطراد او موافقت د هغه صورت سره چه په هغه کښې ان مخففه
من المثقله عمل نه وی کړې او شارح هم د دې بعضو نحاتو مذهب غوره کړیده چه راوړل
د لام لازم دی مطلقا نو ځکه شارح د الزوم مطلق ذکر کړیده. او جمهور وائي چه راوړل
د لام په صورت د عدم عمل کښې لازم ده لپاره د دفع د التباس او په صورت د عمل کښې نه ده
لازم ځکه چه په صورت د عمل کښې التباس په دې عمل سره دفع کیږي. او د ابن مالک مذهب
دا ده چه د لام راوړل لازم دی په خبر د ان مخففه من المثقله کښې په وقت د عدم اعمال
کښې مطلقا او په وقت د اعمال کښې چه خوف د التباس نه وی نو راوړل نه دی لازم او
چه کله خوف د التباس وی نو بیا په وقت د اعمال کښې هم راوړل ضروری او لازم دی او
په وقت د اعمال کښې التباس په هغه ماده کښې راځي چه اسم د ان یا مبني وی لکه ان هذا
لقائم او یا اسم مقصور وی لکه ان موسی لقائم نو په دې دوه مادو کښې اګرچه ان عمل
کړیده خو لکن په دې اسم باندې په لفظ کښې اعراب نشته نو که چرته لام رانه وړې شي
نو التباس راځي د دې ان او د ان نافیه په مابین کښې نو د دې دریواړو مذهبونو فرق
دا شو چه بعض نحات وائي چه راوړل د لام په خبر د ان مخففه من المثقله کښې هم په وقت
د اعمال کښې مطلقا لازم ده او هم په وقت د عدم اعمال کښې مطلقا لازم ده او جمهور وائي
چه په وقت د عدم اعمال کښې مطلقا لازم ده او په وقت د اعمال کښې مطلقا نه ده لازم
او ابن مالک وائي چه په وقت د عدم اعمال کښې مطلقا لازم ده او په وقت د اعمال کښې
چه خوف د التباس وی لازم ده او چه خوف د التباس نه وی نو نه ده لازم. او څلورم
قسم د ان مکسوره مخففه ان فارقه ده او دا هغه ان ده چه په سقوط د هغه سره
خلل نه راځي په اصل معنی کښې مثال لکه لما ان جلست جلست نو دلته د لما نه پس چه

(تنبیه): حرف زائد دیته نهٔ وائی چه په هغه کښې بالکلیه کوم ان واقع دی دا ان زائده ده۔ فائده نهٔ وی بلکه مراد وړ نه دا ده چه په سقوط دده سره به خلل نهٔ راځی په اصل معنی مراده دَ متکلم کښې اګرچه په دهٔ کښې به فائده موجوده وی ځکه کهٔ چرته حرف زائده عبارت شی نو دیته چه په هغهٔ کښې به بالکلیه فائده نهٔ وی نو بیا خو ذکر ددهٔ عبث کیږی او کلام د فصحاء خالی وی د عبث نه او حال دا ده چه په دے حرف زائده باندې کلام د فصحاء مشتمل وی نو په حرف زائدهٔ کښې فائده وی هم معنًی او هم لفظًا۔ فائده معنوی د حرف زائده دا ده چه په دے سره تاکید پیدا کیږی په کلام کښې لکه من استغراقیه په دے قول کښې لکه ما جاء نی من احدٍ۔ نو دا من استغراقیه ده او په دے سره تاکید راغلے ده په نفی کښې او بل مثال لکه باء زائده چه راوړے شی په خبرد لیس کښې مثال لکه لیس زید بقائم۔ او یا باء راوړے شی په خبرد ما کښې لکه ما زید بقائم نو په دواړو مثالونو کښې باء زائده ده او تاکید پیدا کوی۔ او فائده لفظی په حرف زائده کښې دا ده چه په بعض حالاتو کښې په راوړلو د حرف زائده سره وزن د شعر مستقیم کیږی او کله دده په واسطه سره په کلام کښې سجع حاصلیږی۔ **(ترکیب)**: په دے ځکښې عبارت د شارح کښې دریے مثالونه ذکر دی اول مثال د ان نافیه ده چه هغه دا قول ده چه ان زید قائم معنی ما زید قائم او ددے مثال ترکیب دا سے ده چه ان نافیه ده او زید مبتداء ده او قائم وړ ته خبر ده۔ مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه ذو الحال شو او دا باء په معنی کښې حرف جاره ده او لفظ د معنی مضاف ده او ما نافیه ده او زید مبتداء ده او قائم وړ ته خبر ده، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه مضاف الیه شو د مضاف چه معنی ده۔ مضاف سره د مضاف الیه نه مجرور شو لپاره د جار چه باء ده او جار سره د مجرور نه خپل نه متعلق ده لپاره د کائنًا او کائنًا صیغه د اسم فاعل ده ضمیر د هو پکښې مستتر ده او راجع ده ځکښې کلام ته چه ذو الحال ده چه ان زید قائم ده او دا ضمیر فاعل ده د اسم فاعل اسم فاعل سره د فاعل خپل نه او سره د متعلق خپل نه شبه جمله حال شوه لپاره د ذو الحال او ذو الحال سره د حال خپل نه مضاف الیه شو لپاره د مضاف چه هغه د لته لفظ د نحو ده او دا مضاف سره د مضاف الیه نه خبر شو لپاره د مبتداء محذوفه چه مثاله ده او دا مبتداء سره د خبر خپل نه جمله اسمیه مثال شو لپاره د ممثل چه ان نافیه ده۔ او دوئیم مثال شارح ذکر کړے ده لپاره د ان شرطیه چه هغه دا قول ده چه ان ضربت ضربت او ددے مثال ترکیب دا سے ده چه ان حرف شرط ده او ضربت فعل ده او تُ ضمیر وړ ته فاعل ده او دا فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه شرط شو او دا ضربت صیغه د واحد متکلم ده فعل ده او تُ ضمیر وړ ته فاعل ده فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه جزاء او جواب ده لپاره د شرط، شرط سره د جواب خپل نه

جمله فعلیه مضاف الیه شو د مضاف چه نحو ده. مضاف سره د مضاف الیه نه خپل نه خبر شو د مبتداء
نحن وقعه چه مثاله ده مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه مثال شو پیاره د مثل چه ان شرطیه
ده او دریم مثال شارح لپاره دان زائده ذکر کړے چه د اقول ده لما ان جلست جلست او ترکیب
یے داسے ده چه لما حرف شرط ده او ان حرف زائد ده او جلست صیغه د مخاطب ده فعل ده
او ت ضمیر ورته فاعل ده. فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه شرط شو او جلستُ صیغه د متکلم ده
فعل ده او ت ضمیر ورته فاعل ده. فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه جزاء او جواب ده لپاره
د شرط. او شرط سره د جواب نه جمله فعلیه مضاف الیه ده لپاره د مضاف چه نحو ده او مضاف
سره د مضاف الیه نه خبر ده لپاره د مبتداء نحن وقعه چه مثاله ده او د امبتداء سره د خبر څخه
جمله اسمیه مثال شو لپاره د مثل چه ان زائده ده.

وان المخففة المفتوحة ایضا علی اربعة اقسام احدها المخففة من المثقلة ومابعدها احد

الحروف الاربعة الخ: غرض د شارح تقسیم دان مفتوحه مخففه ده نو حاصل دے د تقسیم دا ده
چه ان مفتوحه چه مخففه وی دا هم په څلور قسمه ده اوّل قسم مخففه من المثقله ده یعنی اوّل
قسم هغه ان ده چه هغه مخفف شوے وی د هغه ان نه چه هغه مشدد وی نو دا ان مشدد د لما
حروف مشبه بالفعل نه ده او دا ان مخففه من المثقله به هم د حروف مشبه بالفعل نه وی او دا
ان مخففه من المثقله چه په کوم ځائے کښې مستعمل شوے وی نو له د ده نه په روسته یو له د څلورو
حرفونو نه واقع وی چه هغه حروف سین. سوف. قد او لا نفی دی مثال د سین لکه د اقول د
الله تعالیٰ علم ان سیکون منکم مرضی. او مثال د سوف لکه د اقول د شاعر ـه ان سوف یأتی کل
ما قدر. او مثال د قد لکه د اقول د الله تعالیٰ ان قد ابلغوا. او مثال د لا لکه د اقول د الله تعم
او لا یرون ان لا یرجع الیهم. نو په اوّل مثال کښې روسته دان نه سین واقع ده او په دوئم کښې
روسته دان نه سوف واقع ده او په دریم کښې قد او په څلورم کښې لا نفی واقع ده. څو لکن
دان سره چه د اخلور حروف لازم دی دا په هغه وخت کښې ورسره لازم دی چه ان داخل
شوے وی په فعل متصرف باندې او چه ان لکه داخل شی په فعل غیر متصرف باندې نو بیا ورسره وجود
د دے څلورو حرفونو ضروری نه ده. مثال لکه د اقول د الله تعم چه ان لیس للانسان الا ماسعیٰ
نو په دے ایت کښې دا ان داخل شوے ده په لیس باندې او لیس فعل غیر متصرف ده ځکه چه د ده
د پاره مضارع او امر نشته نو له دے ان نه روسته حرف له دے حروفا اربعه نه نشته ده و اقع،
او بل مثال لکه د اقول د الله تعم چه ان عسیٰ ان یکون قد اقترب اجلهم. نو دلته دا ان چه په
عسیٰ باندې ور داخل ده ان مخفف من المثقل ده او ورسته له دے ان نه یو له دے څلورو

خلو د حرفو نو نه نۀ ده واقع ځکه چه عسیٰ فعل غیر متصرف ده. او دوّیم قسم ان ناصبه ده یعنی هغه ان ده چه نصب ورکوی فعل مضارع ته. او هغه ان سره چه ان مخففه من المثقله وی ځکه دا شرط کړے شو چه روسته به لۀ دۀ نه یو حرف له دے حروفو نه واقع وی لپاره د دے چه د ان مخففه من المثقله التباس رانشی د ان ناصبه سره ځکه چه د ان ناصبه نه به روسته د احروف نۀ وی واقع او د ان مخففه من المثقله نه پس به یو د دے حروفو نه واقع وی. او ان مخففه من المثقله عمل کوی په ضمیر شان کښی. او دریم قسم د ان مخففه مفتوحه ان زائده ده یعنی هغه ان چه په سقوط د دۀ سره به خۀ خلل نۀ راځی په اصل معنیٰ مراده کښی او د ان زائده د اخلیږی روسته د لمانه فقط مګکښی به ورنه لما ذکر دی او له دینه پس به ان موجود وی لکه د اقول د الله تعالیٰ فلمّا ان جاء البشیر نو دلته د ان چه پس د لمانه واقع شوی ده زائده ده په سقوط د دۀ سره خۀ خلل نۀ راځی په اصل معنیٰ مراده کښی او څلورم قسم ان مخففه مفتوحه ان تفسیریه ده او د اعبارت ده د هغه ان نه چه مابعد د هغې به تفسیروی لپاره د ماقبل خو لکن هغه ماقبل چه مفسر وی په هغه کښی د اشرط ده چه هغه به مقدر وی او مفعول به دی د هغه فعل چه په معنیٰ د قول سره وی لکه د اقول د الله تعالیٰ وناديناه ان يا ابراهيم نو دلته ان تفسیریه ده او مفسر یې په ماقبل کښی مقدر ده چه بلفظ ده نو تقدیر د عبارت دا سے ده ونادیناه بلفظ هو ان یا ابراهیم نو دلته د ابلفظ مفسر ده او ان تفسیریه ده او یا ابراهیم تفسیر ده لپاره د بلفظ او د ا نادینه په معنیٰ د قول سره ده ځکه چه مراد وړ نه قلنا ده: (تشریح) ـ شارح په ان مفتوحه کښی چه مخفف من المثقل وی دا شرط کړیده چه د دے ان نه به روسته یو د خلو د حروفو نه واقع وی چه سین، سوف قد او حرف نفی ده. او د دے اشتراط د پاره یې وجه په دے قول سره بیان کړیده چه لئلا یلتبس بان الناصبة حاصل د دے وجه دا ده چه په دے ان مفتوحه چه مخفف من المثقل وی ځکه دا شرط کړے شو چه د دۀ نه پس به یو د خلو د حروفو نه واقع وی، ځکه چه لازم نشی التباس د دے ان ان ناصبه سره نو لپاره د دفع د التباس د احروف زیاتو لے شی پس د ان مفتوحه نه چه مخفف من المثقل وی نو چه د احروف نۀ وی نو التباس ځکه راځی چه ان مخفف من المثقل او د ان ناصبه په مابین کښی اتحاد ده او مشابهت ده هم په اعتبار د صورت سره او هم په اعتبار د معنیٰ سره هر چه مشابهت ده په اعتبار د صورت سره نو دا ظاهر ده ځکه چه دا دواړه متحد دی په اعتبار د صورت سره او مشابهت په اعتبار د معنیٰ سره له دے وجه نه ده چه ان مخفف من المثقل هم مدخول په تاویل د مصدر سره کړی دی لکه ان ناصبه چه مدخول خپل په تاویل د مصدر سره کړی دی نو په مصدریت کښی دواړه سره شریک دی نو هر کله چه په دواړو ترمینځه هم صورة مشابهت ده او هم معنیٰ مشابهت ده نو ضرور د دواړو لپاره فارق ضرورت ده چه هغه د دواړو ترمینځه فرق راولی او هغه فارق د اخلو د حرف دی نو د ظاهر کلام د

مصنف ته دا معلومیږي چه د اخلو دواړه حرف فارق دی په مابین دے د ان او د ان ناصبه کښې خو لکن په
حقیقت او نفس الامر کښې دا دریے حروف فارق دی او هر چه خلو ام حرف ده نو دا صرف لپاره د عوض
ده د نون مخذوفه نه نو دا سین او سوف څکه فرق راولي د دوئ ترمینځه چه ان ناصبه چه په کوم مضارع باندې
داخل شي نو هغه خاصه وي تر استقبال پورے او سین او سوف هم چه په کوم مضارع باندې داخل شي
نو هغه خاصه وي تر استقبال پورے نو که چرته سین او سوف پس د ان ناصبه نه راشي نو لازم به شي
استدراک ځکه چه کومه معنی سین او سوف ادا کوئ هم هغه معنی ان ناصبه هم ادا کوي نو معلومه
شوه چه د دوئ ذکر پس د ان ناصبه نه نشي کولے او پس د ان مخففه من المثقل نه به کولے شي. نو چه کوم ان
نه پس سین او سوف ذکر وه، هغه به ان مخففه من المثقل وي او چه کوم نه پس نه وه ذکر هغه به ان
ناصبه وي. نو دا سین او سوف هم فارق دی او هم عوض دی له هغه نون مخذوفه نه چه حذف ده په ان
مخفف من المثقل کښې له وجه د تخفیف نه او قد ځکه فارق ده د ان مخفف من المثقل او د ان ناصبه ترمینځ
ځکه چه ان ناصبه خاص کوي مضارع تر استقبال پورے او قد په هغه مضارع باندې داخلیږي چه مختص
شوی وي تر استقبال پورے نو په کوم ځائ کښې چه پس د ان نه قد وي هغه به ان مخفف من المثقل وي او
په کوم کښې چه تر نه پس قد نه وي نو هغه به ان ناصبه وي نو قد هم فارق ده او هم عوض ده د هغه نون
نه چه حذف ده له ان مخفف من المثقل نه په واسطه د تخفیف سره. او هر چه حرف نفي دی نو فارق نه دی د ان
مخفف من المثقل او د ان ناصبه ترمینځ ځکه حرف نفي لکه څنګه چه د ان مخفف من المثقل نه پس واقع کیږي
نو هم دارنګ د ان ناصبه نه پس هم واقع کیږي نو دوئ لپاره د عوض دی فقط او لپاره د فرق نه دی:

فاحفظ هذه المقدمة فانها نافعة الخ: زده کړه دا خبره چه مراد د شارح د مقدمه نه غوټئ کتاب ده
او مراد د شارح له مقدمه دا فرق نه ده په مابین د اَن او د اِن مخففین کښې لکه د دے توهم د ظاهر کیږي
او شارح د دے کتاب ته په دے وجه مقدمه ویلي ده چه د دے کتاب مناسبت ده د مقدمه کتاب سره په دے شان چه
مقدمة الکتاب دیته وائي چه هي طائفة من الکلام قدمت امام المقصود لارتباط المقصود بها ونفعها فيه
یعني عبارت ده د هغه حصے د کلام نه چه مقدمه کړے شوي وي د مقصودي مسائلو د کتاب لپاره د دے
چه دا مقصودي مسائل په ربط لري د دے طائفه سره او دا طائفه په دے مقصودي مسائلو ته نفع رسوي
په دے معنی سره چه په دے طائفه باندې علم راشي نو بیا د اکس، چه طلب د مقصودي مسائلو کوي
علی بصیرة به وي. او د دے کتاب مناسبت د مقدمه سره په دیکښې ده چه دا کتاب هم ابتدائي کتاب ده نو دا
مقدمه ده نورو کتابونو ته لکه مقدمه چه مقدمه وي مقصود نه نو له وجه د وجود د دے مناسبت نه شارح د دے نحل کتاب
ته مقدمه وویله او په دے عبارت مذکوره کښې یے وصیت کړے مبتدي طالب علم ته د حفظ د دے رساله
چه دا کتاب ده. تمت بالخیر ۱۳۱۸ھ ربیع الاول-